# بربري ګربت



ليکوال: عنايت الله - التمش

ژباړن: عبدالواسع - صابر

مولوی: عزیز الرحمن حسینی

# د بربري گوربت

حکمرانان . Ketabton : @Azizafghn

**لیکوال : عنایت الله التمش**

**ژباړن : عبدالواسع " صابر "**

## فلورنډا

موسی بن نصیر د شمالي افریقا په طنجه ښار کې اوسېده ، یوه ورځ هغه ته خبر ورکړل شو چې د سیوسته والي او ګورنر جولین د هغه سره لیدل غواړي .

موسی بن نصیر وویل : جولین راغلی دي ؟ هغه عیسايي والي زما سره د څه لپاره ګوري ، هغه څه غواړي ؟

خبر راوړونکي وویل : یوازې ندي بلکې څو ملګري ورسره نور هم شته ، هغوې ټول د بادشاهی کورنۍ غړي ښکاري او ډالۍ يې هم راوړېدي .

موسی بن نصیر وویل : په الله قسم ! زما خو باور او یقین نه راځي ، ایا پدې خبره څوک باور کولای شي د چا سره چې زمونږ څو جګړې راغلې او زمونږ ورسره دښمني ده هغه دي په یوه ځل زمونږ دوست او ملګري شي ؟ داسي نشې کېدای . هغه به د سولې د خبرو لپاره راغلي وي ، زه د هغه وړاندیز نشم منلای .

یو چارواکي وویل : ښاغلي امیر ! هغه د ډېر لرې ځاي څخه راغلی دي ، هغه ته د لیدلو وخت ورکړې . سیوسته د یو لوی ښار پشان د جبل الطارق ابنا مخامخ د افریقا په ساحل باندي پروت وو ، هغه د اروپا دروازه بلل کېده ، د جبل الطارق او سیوسته ترمنځ چې د مدیترانې کومې اوبه او سمندر پروت وو د هغې پلن والي دولس میله وه ، هغه ښار د اندلس د بادشاه راډک ترلاس لاندي او والي يې جولین نومېده ، بادشاه هغه ته څه پوځ ورکړې وو او خپله سیوسته هم پوځ درلوده .

څرنګه چې جولین د یو ځواکمن هیواد ملاتړ درلوده نو هغه په خپل شا او خوا سیمو باندي پوځي یرغلونه کول او د هغو د نیولو کوښښ يې کاوه ، د افریقا امیر موسی بن نصیر دهغه د ټکولو لپاره څو ځلې پوځونه لیږلې وه چې پدې توګه د دواړو ترمنځ ډېرې جګړې شوې وې .

موسی بن نصیر دوه ، درې ځلې په سیوسته باندي منظم بریدونه هم وکړل خو پوځې کلا بې ډېره کلکه او سخته وه چې نیول يې امکان نه درلوده .

موسی بن نصیر د جولین د پوځ د بېکاره کولو لپاره بربري لښکر د کلا په شا او خوا کې ځای پر ځای کړې وو او په راتلوونکې وخت کې یې د هغه ځای د نیولو لپاره پلان هم جوړولو ، ترڅو د محاصرې څخه خلک په تنګ شي او ځانونه تسلیم کړي خو پدي کې دا خطر موجود وه چې کېدای شي د اندلس د بادشاه راډرک دوه لکه پوځ د هغه ملاتړ ته راشي .

موسی بن نصیر دوه ځلې جولین ته پیغام استولې وه چې ځان تسلیم کړي د حملو او بریدونو څخه لاس واخلي کنه ډېره خطرناکه جزا به وګوري . جولین چې د دواړو پیغامونو ځواب په کوم ډول ورکړې وو په هغې کې کبر او بې پروایي څرګندیدله .

جولین د دواړو پیغامونو په ځواب کې لیکلي وه : د اسلامي هېواد امیر ته ! د سبوسته له محاصرې او کلا بندۍ څخه مخکې د اندلس د پوځ حساب معلوم کړه چې بیا وروسته په خپل کار پښېمانه نشې ، اوس همدا سر غړونکې او بې واکې واکمن جولین د موسی بن نصیر سره د لېدلو لپاره راغلې وو ، موسی بن نصیر خپل ساتوونکې ته اشاره وکړه چې هغوی راولي .

جولین په بادشاهی جامو او لباس کې په شاهانه توګه را روان هغې خونې ته راننوت په کومه کې چې موسی بن نصیر د خپلو دوه ، درې سلا کارانو او پوځي قوماندانان سره ناست وو ، موسی چې جولین ولېده نو ور پورته شو ، هغه په مسکا خپل دواړه لاسونه د هرکلي لپاره غوړولي وه ، جولین پخپله ژبه څه ویل او د جولین ژباړوونکې به بربري ژبه وژباړل د سبوسته والي شهزاده جولین داسې فرمایي : زه د امنیت او کلارۍ لپاره راغلې یم ، په امنیت او کلارۍ بېرته تلل غواړم ، د دوستۍ پیغام مې راوړیدي ، د دوستۍ زېرې له ځان سره وړل غواړم .

موسی بن نصیر ځواب ورکړ : زمونږ کور ته چې تر ټولو سخت او کلک دښمن هم راشي مونږ هغه دوست ګڼو ، که ستا په زړه کې هر څومره بد نیت ـې خو بیا هم مونږ تا خپل دوست بولو "

بیا موسی هغه په خپل غېږ کې ونیولو او یوی څوکۍ ته یې بوتللو او هلته یې کېنولو .

د جولین سره دوه ساتوونکې وه چې ځلېدونکې جامې یې اغوستې او برچې یې په لاسونو کې نیولې منظم او تیارسۍ ولاړ وه ، هغوې دواړه د بتانو په شان د خونې د دروازې دننې لورې په دواړو طرفونو کې ولاړ وه ، جولین هغوې ته په سر اشاره وکړه ، هغوې دواړه د ماشینې انسانانو په شان لومړې ښکته بیا پورته او وروسته همداسې په شا ولاړل ، دروازه یې بنده نکړه او خلاصه یې پرېښوده .

د خلاصې دروازې څخه دوه تور پوستکې غلامان چې سپینې خولۍ یې په سر کړې وی او تر ملا یې ځلېدونکې ملا بندونه تړلې وه یو لوی صندوق د ښې او چپ لورې نیولې دننه رانںوتل ، صندوق یې د موسی بن نصیر په وړاندې کېښوده او د هغې کونډه یې خلاصه کړه ، دواړه تور پوستکې د موسی په وړاندې ښکته شول او په سجده پرېوتل ، بیا د سجدې څخه راپورته او همداسې پشا ولاړل ، ددې سره سمدستې دوه نور تور پوستکې غلامان راښکاره شول چې هماغسې صندوق یې په لاسونو کې نیولې او خونې ته رانںوتل .

موسی بن نصیر جولین ته وویل : د سیوسته والې! خپلو کسانو ته ووایه چې ماته سجده ونه کړې او نه راته ښکته شې .

جولین ځواب ورکړ : د اسلامې هېواد ښاغلې امیر ! دا غلامان دې ، د باچاپې کورنۍ غړې ندې ، هغوې د سجدې کولو څخه مه منع کوه .

موسی په ځواب کې ورته وویل : مونږ ټول غلامان یو ، مونږ ټول د یو بادشاه په وړاندې سجده کوو .

موسی بن نصیر د اسمان په لورې اشاره وکړه او وی وېل : هغه بادشاه الله تعالی دې ، ددې دربارې آدابو پابندې تاسې پخپل دربار کې کوۍ ، تاسې اوس د مسلمان په دربار کې ناست یاست ، ایا تا کله مسلمانان د نمانځه په حالت کې ندې لېدلې ؟

لېدلي مې دي د افريقا اميره ! جولين وويل " کله چې تاسي سبوسته محاصره کړې وه يو ماښام ما د ديوال له سره ستاسي پوځيان د يو سړي تر شا صف صف ولاړ ولېدل .

موسى بن نصير ورځخه وپوښتل : تا په هغه وخت کې څه احساس کړل ؟ سالار او سپايان ، لوړ او ټيټ ، تور او سپين ، حاکم او محکوم ټول يو ځاي او په يو صف کې سره ولاړ وه ، هلته هيڅ داسي بنديز نه وو چې چارواکې دي مخکي او عام خلک دي شاته ودرېږي ، په اسلام کې د بادار او غلام هيڅ توپير نشته ، د الله تعالى په وړاندي ټول يو شانته د غلامانو پشان ودرېږي ، د انسان په وړاندي د انسان ښکته کېدل او سجده کول ګناه ده .

پرله پسى دري صندوقان دننه راوړل شول ، د موسى بن نصير د منع کولو سره سره د صندوقونو راوړونکي ښکته کېدل او سجده يې کوله چې پدي کار سره به جولين خندل او خوشحاله کېده .

دا ډېري ارزښناکي او قيمتي ډالۍ وې چې جولين د ځان سره راوړي وې .

بيا جولين وويل : ما د افريقا د امير موسى بن نصير لپاره يو آس هم راوستي دى ، هغه د باندي ولاړ دي ، هغه د اندلسي نسل جنګي آس دي ، منډه نه وهي بلکي الوزي ، يوازي جنګيالي سپور پخپله شا باندي مني ، په کوم ځاي کي چې د هغي واګي راکش کړي په هماغه ګام باندي ودرېږي ځو ډګرونه يې وهلي دي ، د بادشاهي طبيلي سردار دي "

موسى بن نصير وويل : زه د خپل ځان او د مسلمانانو لخوا څخه ستاسي مننه کوم ! ايا اوس تاسي خپل هدف او مقصد راته بيانولي شي ؟

دري تاريخ ليکوونکو ستينلي لين پول ، پروفېسر ډوزي او ستر لنګ مېکسويل د موسى بن نصير او جولين د لېدني پېښه په پوره تفصيل سره بيان او ليکلي ده .

جولين وويل : د مصر او افريقا اميره ! ما تاسي ته يوه بله ډالۍ هم راوړېده خو هغه به تاسي پخپله لاس ته راوړى او د هغي پسي به ورځى ، زه به د هغي په لاس ته راوړلو کي هم درسره ملګري ووم ، د هغي په لاره

کې تور سمندر پروت دي ، زه به ستاسې سره خپلې کښتۍ او لارښوونکي ولېږم .

موسی بن نصیر وویل : یوازې الله تعالی د زړونو په راز ښه پوهېږي ، ستاسې راتلل هم زما له پوهې څخه پورته دي او د کومې ډالۍ چې تاسې یادونه کوی په هغې هم زه نه پوهېږم ، ایا تاسې خپل مقصد پداسې کلماتو نشې بیانولې چې زما پشان ناپوهه هم په هغې پوه شي ؟

جولین وویل : د هغې ډالۍ نوم اندلس دي ! اندلس یو هېواد دي چې تاسې د هغې څخه ناخبره نه یاستی ، تاسې دا هیواد پخپله امپراطورۍ کې داخلولې شې ، د هغې څخه مخکی فرانسه ده ، کله چې تاسې اندلس ونیسې نو بیا فرانسه هم خپلولې شې .

موسی بن نصیر وپوښتل : د اسلامې امپراطورۍ سره ستا څه اړیکې دي ؟ د خپل بادشاه راډرک او خپل مذهبې مشرانوسره دې څه دښمني ده ؟

جولین ځواب ورکړ : ایا تاسې پدې خبر نه یاستی چې زه راډرک ته باج او مالیات ورکوم ؟ هغه زه ستاسې په لاره کې خنډ ګرځولې یم ، هغه پدې وېرېږي چې مسلمانان دومره لوی ځواک شویدي چې رومیان او فارسیان يې په ګونډو کړل او اوس تر شمالي افریقا پورې هم راورسېدل .

بربری قومونه يې په اسلام کی داخل او د هغوی څخه يې منظم پوځ او لښکر جوړ کړ، راډرک ویریږی چې اوس هغوی د اندلس له لاری اروپا ته داخل نشی .

موسی بن نصیر ورڅخه وپوښتل : ایا ته زمونږ او راډرک تر منځ بې پرې او بې طرفه پاتی کیدل غواړې ؟

جولین وویل : دا وروستی خبری دی ، لومړی زما پوره خبره واوره او زما د یوی پوښتنی ځواب راکړه : ایا تا پدی کله فکر کړی چې د اندلس پشان ښکلی او ښایسته خاوره او هیواد ونیسی او هلته د اسلام دین خپور کړی .

موسی بن نصیر ځواب ورکړ : نه ! زما سره دومره پوځ نشته نه ماته دومره کومک او مرسته راکول کیږی چې د اندلس د دومره لوی پوځ سره جګړه وکړم

موسی بن نصیر ورته د زړه خبره ونه کړه څکه چې هغه څو څلې دا پلان جوړ کړی وو چې د سمندر څخه بلې خواته هم خپل هیواد پراخه کړي ، هغه د خپلو سالارانو او پوخې مشرانو سره هم سلا مشوری کړی وی ، هغه په دمشق کې د مسلمانانو عمومي امیر ته هم خبر ورکړی وو چې اجازه ورڅخه ترلاسه کړي، پدې وخت کې د مسلمانانو عمومي آمیر ولید بن عبدالملک وو کوم چې هر وخت د فتوحاتو او پرمختګ پلوی کوونکی او مرسته کوونکی وو.

محمد بن قاسم د همده لخوا هندوستان نیولو ته استول شوی وو، موسی بن نصیر یوه کمزوری لرله هغه دا چې مسلمانانو تراوسه پوری لا قوی او څواکمنه بحری او سمندری قوه نه درلوده او نه هغوی پدې برخه کې پوره تجربه کړې وه ، څرنګه چې د افریقا او اندلس تر منځ سمندر او بحر پروت وو نو د هغې لپاره بحری څواک او د بحری جګړې تجربه پکار وه او د جګړې په وخت کې دی دواړو ته اړتیا لیدل کیده او موسی بن نصیر په همدی سبب مخکې وروسته کیده .

موسی بن نصیر جولین ته څکه حقیقت څرګند نکړ چې په هغه یې شک پیدا شو چې کېدای شي هغه به د راز معلوملو لپاره راغلي وي چې ایا مسلمانان خو د اندلس په هکله څه پلان نلري ، بله دا چې که مسلمانان همداسې بې کاره ناست وي نو په هغوي برید وکړي او له منځه یې یوسي .

جولین وویل : تاسې ته به شاید څرګنده نه وي چې اندلس د طبعیت نمونې او مثالي هېواد دي ، هر لوري ته شنه زرغون بوټي ، وابنه ، ګلان او ونې دي که مړي هم هغه وګوري نو ژوندي به شي . اندلس د اوبو ، سیندونو او نهرونو هېواد دي ، هغه د شنو ، زرغونو او ځنګل لرونکو غرونو او درو هېواد دي ،د هغې څمکه سره او سپین زر راتوکوي ، په هغې څمکې کې خزانې او کانونه ښخ دي ، که تاسې یو ځل هغه لوري ته ولاړ شي بیا به افریقا او عربې دښتو او بیابانونو ته سترګې هم را وانه ړوي ، د هغې خاوري اوسېدونکې حسین او ښکلې دي ، د هغې حسینې انجونې او مېرمنې د جادو په شان اغېزه کوونکې دي ، تاسې د جنت کېسې

اوریدلې دي چې د مرګ څخه وروسته څېره ده ، چاته به ورکول کېږي او چاته به نه ورکول کېږي ، که تاسې اندلس ته ولاړ شې نو خپله به ووایې چې همدا جنت دي ، ای د افریقا امیره ! تاسې څه فکر کوی ، د هغې دروازه زما په لاس کې ده ، زه هغه درته خلاصوم .

تاریخ لیکوونکو لیکلي چې کله جولین د اندلس حالات بیانول نو په موسی بن نصیر باندي بې خودی راتلله خو هغه د پاخه عمر او زیاتې تجربې خاوند انسان وو ، هغه د یهودیانو او عیسایانو د چادوګرۍ ، دسیسو او دوکو څخه ښه خبر وو ، هغه اشاره وکړه نو د هغه خپل او جولین تاست سرې له هغه ځایه پورته شول او ولاړل ، په خونه کې یوازې موسی بن نصیر ، جولین او ژباړونکې پاتې شول .

موسی بن نصیر وویل : جولین ! ته زما لپاره ډېر ښکلې جال غوړوې ، ایا ته دومره بې عقله او لیونې شوې یې چې پدې هم نه پوهېږې چې په چا چې ته سحر او جادو کوې هغه د ډېرو میدانونو او ډګرونو لوبغاړې دي او د هغه سترګې او نظر د ځمکې لاندي هم کار کوې ؟

جولین ځواب ورکړ : بېشکه آمیر موسی ! ما پدې ټولو شیانو فکر کړیدي او بیا دلته راغلې یم ، او زه پدې ډېر خوشحاله یم چې تاسې زه خپل کشر وګڼلم او ماته مو تا وویل .

اوس اجازه راکړه چې زه درته څه نور شیان هم ووایم .

جولین دواړه لاسونه موسی بن نصیر ته ور وړاندي کړل او بیا یې ورته وویل : زما د زړه دوستې ومنه او زما په زړه کې چې څه پټ دي هغه واوره !

موسی بن نصیر د هغه دواړه لاسونه په خپلو لاسونو کې ونیول ، لږ څنډ وروسته جولین خپل لاسونه ورڅخه لرې کړل او بیا یو دم ودرېده ، د سترګو په رپ کې یې خپله توره له تیکې څخه راوویستله خو موسی بن نصیر هم خپلې تورې ته لاس کړ چې د هغه د څوکۍ سره اینښې وه ، جولین بیا توره په دواړو لاسونو کې ونیوله

جولین دوه ، دري ګامه د موسی بن نصیر څخه وړاندي ودرېده بیا ښکته شو او توره یې د هغه په پښو کې کېښوده ، وروسته راپورته شو او یو ګام شاته ولاړ .

جولین په احساساتي آواز سره وویل : امیر موسی ! دا هغه توره ده چې هېڅ وخت ښکته شوی نه ده ، هغې د دښمنانو کبرجنې غاړې او څټونه غوڅ کړیدي ، دا سپین سترګې مه بوله آمیر موسی ! دا کبر او غرور مه بوله ، دا هغه توره ده چې تا هم ښکته نشوه کړای ، ستا بربري پوځ هم ددي توري خلېدل لېدلي او د سپوسته څخه پښا شوي خو اوس همدا توره ستا په پښو کې پرته ده ، هېڅ بادشاه او هیڅ سالار خپله توره په دومره آسانی سره د خپل دښمن په پښو کې نه ږدي خو اوس ته زما دښمن نه بلکې زما دوست یې .

نن یو ورور او دوست د خپل زړه درد او حال خپل ورور ته ویل غواړې ایا دا قبلوې ؟

موسی بن نصیر ښکته شو، توره یې راپورته کړه او په دواړو لاسونو یې جولین ته وړاندې کړه ، او بیا یې جولین ته وویل : زه پدي ډېر خوښ یم چې تا ماته دوست وویلو ، زه ستا د تورې قدر او عزت کوم " .

بیا موسی بن نصیر پخپل لاس د هغه توره په تیکې کې ومنډله او وې ویل : ایا اوس زما دوست ماته خپل د زړه حال او خبره کولای شې ؟

جولین ځواب ورکړ : هو ! د کومې خبرې د کولو لپاره چې زه راغلې یم هغه درته وایم ، که څوک د موسی بن نصیر کومه لور بې پته کړي نو هغه به څه سزا ورکوې ؟

موسی بن نصیر وویل : که جرم او ګناه پرې ثابته شي نو هغه باید په کاڼو وویشتل شي .

جولین بیا وپوښتل : که دا ګناه او جرم د کوم هېواد بادشاه کړې وي ؟

موسی بن نصیر وویل : موسی به د هغه بادشاهی تباه او برباد کړي ، او د هغه بادشاه د کورنۍ ټولی ښځې او مېرمنې به وینځې او خدمت کوونکې وګرزوی .

جولین بیا وپوښتل : که هغه مظلومه لور ستا د دښمن لور وي ؟ .

موسی بن نصير ځواب ورکړ : که هغه لور او پلار شکايت کوونکې راشي نو موسی د هغوی انتقام او غچ هم اخلې خو دا به ګورې چې د خپل هيواد خلک يې په کومه کنده کې نه لوېږي .

جولين ځواب ورکړ : نه ! ستاسې هېواد او امپراطورۍ ته هېڅ ډول خطر نشته بلکې ستاسې هېواد به نور هم پراخه شي ، اوس نو واوره موسی ! هغه مظلوم پلار زه يم ، بې پته شوې لور زما ده .

موسی ورڅخه وپوښتل : بيا نو ستا ځلېدونکې توره ولې په تيکې کې پرته ده ؟ ستا توره ولې زما په پښو کې پريوتله ؟

جولين ځواب ورکړ : ځکه چې ګناهګار او مجرم زما څخه ډېر ځواکمن او قوي دي ، هغه د اندلس بادشاه راډرک دي .

موسی بن نصير ورڅخه وپوښتل : راډرک بادشاه ستا لور ته څرنګه را ورسېدلو ؟

جولين ووېل : امير موسی ! سره ددې چې زه راډرک بادشاه ته ماليات او باج ورکوم خو زه د اندلس د بادشاهی کورنۍ غړی او شهزاده يم ، يو وخت زما سېوسته آزاد هېواد وو ، وروسته بيا د اندلس بادشاه د سېوسته دفاع او ساتنه پخپله غاړه واخيستله او پدې توګه هغه د اندلس يوه برخه او ولايت وګرځېده ، زه د واکمن او تولوواک څخه والي او ګورنر شوم .

د اندلس په هيواد کې دا دود او رواج دي چې د کوم بادشاه چارواکې لور پيغله شي هغه بايد د خو کالونو لپاره بادشاهی ماڼۍ او قصر ته واستول شي چې هلته بادشاهې اداب ، طريقه او سليقه زده کړي او د همدې لپاره تول اړوند چارواکي خپلې لورګانې هلته خامخا استوی .

ما د همدې دود او رواج په بنسټ خپله لور فلورنډا د راډرک ماڼۍ او قصر ته واستوله ، د هغې عمر اوولس کاله کېده ، څرنګه چې انجونو ته د ادابو او اخلاقو روزنه ورکول کېده نو هغوی تولې د مېرمنو او ښځينه ښوونکو تر څارنې او روزنې لاندې وې ، د هغوی سره د نارينه هېڅ اړيکې نه وې او نه هلته نارينه ورتلای شي خو زما لور ماته احوال رالېږلې چې راډرک زما عفت او عصمت لوټ کړ .

موسی بن نصير ورڅخه وپوښتل : ستا لور اوس چېرې ده ؟

جولين ځواب ورکړ : ما هغه له طليطله څخه سبوسته ته راوستې ده ، طليطله د اندلس پلازمينه ده ، که ته غواړې نو د هغې څخه څه پوښتنې کولای شې هغه به دلته زه را وغواړم ، امير موسى ! زه د راډرک څخه د خپل عزت او پت ماتولو غچ اخيستل غواړم ، د هغې يوه لاره دا ده چې هغه زه ووژنم خو دا امکان نلري ځکه هغه دباندي ډېر کم ګرځي چې بيا هم د هغه سره ډېر ساتوونکې وي .

ما بله طريقه او لاره سنجولې ده او د هماغې د عملي کولو لپاره تاسې ته راغلې يم ، هغه دا چې تاسې په اندلس باندي بريد وکړې ، زما ټوله مرسته به ستاسې سره وي خو زه مخامخ نشم ورتللي ، بېشکه چې د اندلس پوځ ډېر زيات دي چې د شمېر او تعداد په لحاظ هغې ته تاسې ماتې نشې ورکولای خو کوم نظم ، احساسات او جوش چې ستاسې په پوځ کې شته هغه د راډرک په پوځ او لښکر کې نشته ، زه په پوره باور او يقين سره وايم چې ستاسې پوځ د هغوې لښکر ته ماتې ورکولای شي ، زه يوازې د راډرک وژل نه غواړم بلکې د هغه بادشاهي ختمول زما مطلب دي ، زما دا خوښه او اراده يوازې تاسې پوره کولای شې چې پدې کې به پوره فايده او ګټه ستاسې هم وي .

زه يوازې دومره غواړم چې سبوسته به آزاد حيثيت لري .

دا يوه مشهوره تاريخي پېښه ده چې ډېرو زياتو تاريخونو ليکلې ، د هغې پېښې په هکله ډرامې جوړې شوې او ناولونه هم پرې ليکلي شوېدي .

د جولين دوه لورګانې وې ، د يوې نوم فلورنډا او د دويمې نوم مېرې وو ، فلورنډا چې څومره غټېده په هماغه کچه يې ښکلا او حسن هم راځرګنديده ، د هغې مور به وويل چې زما لور دومره ښکلې او ښاېسته ده چې هغې ته به جوړه يا ملګري په ګرانه سره پېدا شي .

د هغې مور پدې نه وه پوه چې د هغې شهزادګی د خپل خان لپاره يو ځوان د خپل عمر په ځوارلسم کال باندي غوره کړيدي پداسې حال کې چې هغه شهزاده نه بلکې عادي ځوان وو ، هغه ځوان د بادشاهي طبيلې د مشر ساتوونکې زوی وو .

د طبيلې ساتوونکې به د بادشاهي کورنۍ ټولو غړو، چارواکو او خوانانو ته د آس سپرلي او روزنه ورکوله .

د همدې بادشاهي طبيلې د ساتوونکې يو ځوان زوی هنري نومېده . کله چې د فلورنډا عمر د ديارلس څوارلس کلنو شو نو هنري هغه وخت د اتلس کالونو وو ، خپل پلار هغه ډېر تکړه آسپ سپور او نېزه استعمالوونکې روزلې وو ، کله چې فلورنډا د څوارلس کلنو شوه نو جولين د هنري پلار ته وويل چې فلورنډا ته د آسپ ځغلولو او نېزې چلولو روزنه ورکړې چې پدې توګه هغه سهار او مازديګر د هنري پلار ته ورتلله .

جولين د هنري پلار ته وويل : زما لور به انجلۍ نه بولې ځکه ته پوهېږې چې زه زوی نلرم ، ځکه نو دا بايد د زوی په شان ورزول شي ، هغه به زما لپاره د زوی حيثيت ولري ، هغه بايد د نارينه په شان ورزول شي .

هغې ته د آس ځغلول ، نېزه چلول ، غشي او ليندی ، توري ډال استعمال هم بايد زده وي .

په دوه ، درې مياشتو کې فلورنډا دومره تکړه اس ځغلوونکې شوه چې د کندو او لوړو خنډونو څخه به پرته له کومې وېرې تېرېدله ، د هنري پلار هغه يوازې لرې تللو ته نه پرېښودله خو هغه شهزادګۍ وه او پخپل سر به يې آس ځغلولو ، د هنري په پلار پدې ويره کې وو چې په کوم لرې ځاې کې هغه له آس څخه راګذار نشي چې په هغې سره به د استاذ خير هم نه وي نو د ځان سره يې هوډ وکړ چې پس لدې به چې کله هغه پخپل سر آس ځغلوي نو هنري بايد ورسره ملګري کړې چې د خطر په وخت کې ورسره مرسته وکړي .

فلورنډا چې کله هنري د خپل ځان سره ولېدلو نو هېڅ يې ونه ويل چې دا ولې زما سره ملګرتيا کوي ، يوه ورځ فلورنډا په ځنګل کې خپل آس راتم کړ چې تر شا يې هنري هم خپل آس ودراوه ، فلورنډا هنري ته په ډکو سترګو وکتل او په مسکا شوه ، هنري ډېر ښکلې ، حسين او د نارينې حسن نمونه وه ، هغه د جګړې د مېدان زلمې او تورزن انسان ښکارېده ،

په هغه کې داسې صفات وه چې د جګړې په ډګر کې خپل دښمن راوپرزوي او د ښځو په غونډو کې پیغلې په ځان پسې لیونې کړي .

فلورنډا په ځنګل کې هنري ته وویل : هنري ! ما له آس څخه ښکته کړه ، زه دومره ستړې شوې یم چې خپله نشم ښکته کېداې .

دا د شهزادګۍ حکم وو نو هنري د سترګو په رپ کې له خپل آس څخه راټوپ کړل او د فلورنډا د آس رکاب یې ونیولو ترڅو هغه راښکته شي خو فلورنډا خپله غېږه هنري ته خلاصه کړه او دواړه سره غېږ په غېږ شول ، کله چې شهزادګۍ ځمکې ته راښکته شوه او هنري هغه په ځمکه ودروله نو خپله پښا ولاړ خو فلورنډا هغه پخپله غېږ کې کلک ونیوه او شا تللو ته یې پرې نښوده .

فلورنډا وویل : هنري ! د خلاصېدو کوښښ مه کوه ...

هنري په ځواب کې وویل : شهزادګۍ ! زه ستاسې د یو غلام زوی یم ، که ستاسې پلار جولین ته دا خبره رسوا شوه نو بیا به ....

فلورنډا وویل : غلط فکر مه کوه هنرۍ ! زه خو په حقیقت کې انجلۍ یم خو صفات مې د ښځو او پیغلو په شان ندي ، زه ستا د بدن او جسم سره کار نلرم ، ایا ته په هغه مینه نه پوهېږې چې د زړه څخه راپورته کېږي او روح ته ننوځي ؟

هنري وویل :: زه پوه نشوم شهزادګۍ !

فلورنډا وویل : نور ماته شهزادګۍ مه وایه ، ماته پخپل نامه فلورنډا آواز کوه .

هنري پس لدي هغې ته فلورا ویل ، شهزادګۍ د بادشاهی چوترې څخه راښکته شوه ، هنري د نورو په وړاندي د هغې نوکر او غلام وو خو د هغه ځاې څخه لرې په ځنګل کې د فلورا محبوب او معشوق .

فلورنډا چې هغه ته په لومړي ورځ ویلې وه چې زه ستا له بدن سره کار نلرم ، هغې خپله دا خبره رېښتیا کړه چې مینه او محبت یې د زړه څخه راپورته او روح ته ننوت .

هنري هغې ته د آس ځغلول ، نېزې چلول او توره استعمالول ښه پوره ورزده کړل ، جولین او د فلورنډا مور ته لږ شانته شک هم پیدا نشو چې ګوندې د هغوی لور د خپل ځان لپاره د ژوند ملګرې پېدا او غوره کړېدې .

فلورنډا او هنري هېڅ وخت پدې خبره فکر نه وو کړی چې د هغوی دواړو نکاح او واده نشي کېدای ځکه چې جولین په ورېښمو کې د پوزې پېوند لګولو ته چمتو نه وو ، هغې دواړو د مینې او محبت په نښه کې نه یوازې خپل ځانونه بلکې ټوله نړۍ له یاده وېستلې وه .

وخت په تېزۍ سره تېرېدلو او دوه کاله تېر شول ، یوه ورځ فلورنډا ته خپلې مور وویل چې هغه خپل پلار د اندلس پلازمیني طلیطلې ته له ځان سره بیایې ، چې هلته به یو کال په بادشاهی روزنتون کې د بادشاهی آدابو او درناوې مراسم یادوی .

فلورا وویل : ولې او د څه لپاره به زه هلته ځم او روزنه به ګورم ؟

مور یې ورته وویل : ایا ته پدې هم نه پوهېږې چې ولې به ځې ؟ د بادشاهی کورنۍ انجونې د بادشاهی آدابو ، اخلاقو ، ناستې ولاړې او نورو مراسمو د یادولو لپاره روزل کېږي .

فلورا ځواب ورکړ : ایا زه څه ځنګلې او وحشي پیغله یم ؟ ایا زه د بادشاهی آدابو او مراسمو څخه ناخبره یم ؟ په ما کې تاسې کوم کمې ګورئ؟ زه هېڅکله هلته تلل نه غواړم ، ما د بادشاهی مانیو ډېرې بدې کېسې اورېدلې دي .

مور هغې ته ډېرې خبرې او نصیحتونه وکړل خو فلورا یوه خبره هم نه اورېدله ، هغې بس همدا خبره تکراروله چې ددې بادشاهانو سره هېڅ اخلاق نشته او د هغوی خیر هیله کول نه دي پکار، خو کله چې پلار جولین هغې ته د حکم په ژبه وویل نو چوپ شوه او هیڅ ځواب یې ورنکړ ځکه هغه پدې پوهېده چې پلار یې څومره دیکتا تور او خپل سرې انسان دی .

جولین ، فلورنډا او مور یې درې واړه د اندلس پلازمیني طیطلې ( تولیدو ) ته ولاړل او هلته یې فلورا په بادشاهی مانۍ کې پرېښودله ، هغوی یو ځل خپله لور فلورا رادرک بادشاه ته هم وښودله او بیا ورڅخه راغلل .

رادرک چې کله د فلورا ښکلا او حسن ولیده نو بې اختیاره یې وویل اوه ! دومره ښکلا او ښایست ؟

د کوم نش په نامه شهزاده سره ددې نکاح ونکړې چې دا ګل ورخخه ضایع نشي .

جولین وویل : دا انجلۍ نه بلکې زما زوی دي .

کله چې د فلورا مور او پلار له هغه ځای څخه روانېدل نو دوارو د خپلې لور پسې ژړل .

اته . لس ورځې وروسته د هنري پلار جولین ته وویل : زوی مې ورک دي نو هغه هر لوري ته خپل کسان واستول خو هېچرې هم د هنرې درک معلوم نشو . که ځنګل او دښتې هم وایې نو را پیدا شوې به وو .

هنرې له سمندر څخه بلې خواته تللې او د څو ورځو سفر څخه وروسته طلیطله ته ورسېده .

هنرې د فلورا څخه لرې والې نشو زغملې . هغه نیغ بادشاهی طبیلې ته ولاړ . هلته یې د طبیلې د مشر چارواکې سره ولېدل چې ځانته کار پیدا کړې .

د طبیلې چارواکې د هغه د امتحان اخیستلو په خاطر یو ډېر شوخ او خپل سرې آس ته اشاره وکړه چې پدې سپور شه . خپل مهارت او کمال راته څرګند کړه .

دا آس ډېرو کمو کسانو کنترولولاې شو . هنرې په آس زین واچولو او بیا پرې سپور شو . د طبیلې ټول کار کوونکې د هنرې د غورځېدلو په خاطر د باندې راټول شول . آس خپله شوخې او خپل سرې پیل کړه . د خپل سپاره هیڅ پروا یې نه ساتله خو هنرې په ډېر لږ وخت کې هغه راکنټرول او قابو کړ . هغه یې ښه په چار ګام وځغلاوه . هر ډول چلونه یې پرې وکړل . د ځغاستې په میدان کې یې ډېر خندونه پرې پاس او ټول کار کوونکې یې ځانته ګوته په غاښ کړل .

د آسپ ځغاست څخه یې وروسته د نېزې ننداره هم وړاندې کړه چې پدې توګه ورته ښه نوکرې او رتبه په لاس ورغله . هنرې نوکرې او وظیفه نه

غوښتله بلکې هغه د فلورندا سره لېدل ، خو ورځې وروسته هغه ته د فلورندا ځای څرګند شو چې په فلانۍ برخه کې اوسېږي .

د قسمت خبره وه چې هنري ته د کوښښ کولو ارتیا پیدا نشوه ځکه څلور ، پنځه شهزادګیانې یوه ورځ د آس سپرلۍ لپاره هلته راغلې چې فلورا هم پکې وه ، دا ټولې د مختلفو ښارونو څخه د روزنې لپاره راغلې پیغلې شهزادګیانې وې ځکه نو هغوی د آسونو څغلول یادول .

فلورا چې کله هنري ولیده نو ډېره حېرانه شوه ، هغه خو شهزادګۍ وه د هر نوکر او کار کوونکي سره یې آزادانه خبرې کولای شوې ، هغه نېغه هنري ته ورغله او په لوړ آواز یې ورسره خبرې پیل کړې چې چاته شک پېدا نشي .

فلورا د هنري څخه وپوښتل : ستا نوم څه دي ؟ .

هنري ځواب ورکړ : اګستس !

هنري خپل نوم نورو ته همدا ښودلی وو نو ځکه یې فلورا ته هم همدا نوم وښودلو چې رسوا نشي .

فلورا وپوښتل : ماته مخکې هم چېرې لېدلی یې ! .

هنري ځواب ورکړ : کېدای شي ځکه چې ما په ډېرو ځایونو کې کار کړیدي .

نورې شهزادګیانې هم هلته راټولې شوې ځکه چې هغوی د لوبو لپاره راوتلې وې .

فلورا له هنري څخه وپوښتل : په طبیله کې ته څه کار کوې ؟ .

د طبیلې مشر چارواکې وویل : دا ډېر تکړه سپور دي شهزادګۍ !

فلورا مشر چارواکي ته وویل : نن همدا زمونږ سره واستاوه چې زه د هغه کمال وګورم .

مشر چارواکي هنري د شهزادګیانو سره واستولو ، کله چې د کلا څخه ووتل نو فلورا خپلو همزولو انجونو ته وویل چې زه ددي نوي سپور سره آس څغلوم چې دده امتحان واخلم چې ایا رښتیا هم پده کې څه کمال شته .

لږ څند وروسته د فلورا او هنري آسونه څنګ په څنګ څغلېدل ، هغوی دواړه د تکو شنو غونډیو شاته ولاړل او هلته یې د خپلو زړونو براس

وویست او بیا بېرته راتاو شول ، په لاره کې هنري فلورا ته وویل چې زه د سپوسته څخه په پټه ستا د لېدلو لپاره راغلی یم .

فلورا ورته وویل : سمدستي بېرته ولاړ شه ! که زما پلار ته څرګنده شوه چې ته دلته راغلی یې نو هغه به شک کوي ، چې زما پرته ته د بل چا لپاره دلته راغلی نه یې .

هنري فلورا ته په عذر سره وویل : څو ورځې نور هم صبر وکړه ، یو یا دوه نورې لېدنې به سره وکړو بیا به درڅخه ځم ، زه به خپل پلار ته ووایم چې په سپوسته کې مې زړه تنګ شوې وو نو د چکر لپاره نورو ښارونو ته ولاړم .

د بادشاهی ماڼۍ شا او خوا لوی لوی باغونه ، چمنونه ، ګلان ، ونې او ګڼ بوټې وه ، فلورا هنري ته پدي باغونو کې یو پټ ځای په ګوته کړ او لاره یې هم ورته وښودله چې پدي لاره هنري هلته ځان رسولی شي خو ته به د نیمې شپې څخه وروسته هلته راځې داسې نه چې ونیول شو .

هنري خطر په غاړه واخیست او دوه ځلې یې په هغه تیاره ګوښه کې د فلورا سره ولیدل ، فلورا هم خطر په غاړه اخیستې وو ځکهُ چې په بادشاهی ماڼۍ کې د بېرون څخه د راغلې پیغلو او شهزادګیانو ډېره کلکه څارنه کېدله خو بیا هم فلورا دواړه شپې په لوڅو پو.ـو د غلو په شان راووتله او باغ ته راغله ، فلورا په دویمه لېدنه کې هنري ته وویل چې بیا به په دریمه شپه سره همدلته ګورو .

په کومه شپه چې هنري او فلورا سره د لېدلو وخت ټاکلی وه په همدي ورځ راډرک بادشاه د څو ورځو سفر څخه بېرته ماڼۍ ته راستون شو ځکه چې هغه د اندلس یوې لرې سیمې ته د باغیانو او سر غړونکو د ماتوولو لپاره تللی وو او هلته یې د باغیانو د درې سردارانو سرونه قلم کړي وه ، راډرک ماښام خپلې ماڼۍ ته راورسیده ، هغه سره ددي چې ستړی او ستومانه وو خو ډېر خوښ او خوشحاله هم وو ځکه چې سر غړونکي یې ځپلې او وژلی وه .

رادرک غسل وکړ او بیا د شراب څښلو لپاره کېناسته . د هغه د حالت څخه داسې معلومېده چې د خوشحالۍ او مستۍ څخه چاودېږي . هغه ته دا نه معلومېده چې خپل برې او کامیابې په څه ډول سره ولمانځي .

د بادشاهانو سره د زړه خوشحالولو او وخت تېرولو دوه لارې او طریقې وې ، ښځه او شراب ، د رادرک سره ددې دواړو شیانو کمبوت نه وو . د هغه سره په خوا کې دوه ، درې درباریان هم ناست وه چې شراب یې ورسره څښل .

رادرک وپوښتل : ایا کوم نوې ګل شته ؟ بیا یې هغه انجلۍ ته وکتل چې دوې ته یې شراب ورکول ، هغه ښکلې او حسینه وه خو رادرک په بوخه خوله وویل : دا نه ، داسې شې زما پکار ندي .... نوې غوړېدلې ګل .

یو درباري د غلامانو په شان وویل : هو ! هغه ګل شته چې د ټولواک په بستره باندې خوشبوې خپرولایې شي .

رادرک په مسته ژبه وویل : نه ! بلکې نوی غوړېدلې ګل ... ها ها ! فلورنډا د جولین لور!

د بادشاه یو سلا کار وویل : اعلیحضرت ! د بهر څخه راغلې شهزادګیانې زمونږ سره امانت دي ، هغوې د آدابو او اخلاقو زده کولو لپاره دلته راغلې دي ، تر اوسه پورې د داسې راتلوونکو سره چا بد اخلاقه خبره هم نده کړې ، دا رواج او رسم باید خراب نشي.

رادرک وویل : مونږ هغه د اندلس ملکه جوړول غواړو ، تاسې ټول نور ددې ځاې څخه ولاړ شئ او فلورانډا راته دلته راولېږئ .

سلا کار وویل : اعلیحضرته ! د خطرونو او ستونزو څخه خبرول زما دنده او مسئولیت دي ، سره لدې که زما سره هم پدې لاره کې ځې ، که ستا د قهر توره زما سر له تنې څخه جلا هم کړې ، خو زما روح به ډاډه وې چې ما خپل مسئولیت پوره کړیدي .

رادرک وپوښتل : څه خطر او څه ویره ؟ د جولین څخه ماته څه خطر پېدا کېداې شي ؟ د هغه لور به زما سره یو ځاې کېدل لوې ویاړ او افتخار وګڼي ، که هغه زما خبره ونه منې او خپل پلار ته ووایي نو جولین زما څه

کولای شي ؟ د دوه انچه څمکې خاوند جولين زمونږ د شل سپرو مقابله هم نشي کولای . د هغه زور او څواک خو زه يم او په ما باندي خپل ځان ساتي . که هغه عربان او بربريان په سهوسته کې منع کړي نو دا د هغه کمال او زور ندي بلکې زمونږ په زور او څواک سره هغه کار کوي . که له هغه ښځه مونږ خپل لاس راکش کړ نو يوه ورځ هم ورته نشي تم کېداى او دواړه لونې به يې وينځې ونيول شي . که چېرې د هغه لور زما سره لږ وخت تېر کړي نو بايد هغه پرې خوشحاله شي . زه غواړم د هغې ښځه ملکه جوړه کړم .

سلا کار وويل : اعليحضرته ! زه يوازې دومره وايم چې مونږ ته د دوستانو ارتيا ده نه دا چې خپل دوستان دښمنان کړو .

راډرک د امپراطور په څير وويل : ته په څه پوهېږې ! ولاړ شه او هغه ماته راولېږه ! د بادشاهۍ د نېشې سره د شرابو نېشې د هغه په عقل باندي پرده واچوله .

لږ څند وروسته فلورا په ډېره خوښۍ او خوشحالۍ سره د راډرک خونې ته داسې راغله لکه چې لور د خپل پلار په آواز راځي . هغې د بادشاه بلنه د ځان لپاره وياړ او افتخار بللو خو راډرک هغه په خونه کې په خپله غېږ کې راټينګه کړه .

فلوونډا يوې او بلې خواته ډېر زور وکړ . په ژړا شوه . عذر يې وکړ خو هغه د يو څواکمن په څنځېرونو کې بنده شوه . راډرک هېڅ فکر نه کولو چې د اندلس کومه پيغله دي خپل ځان هغه ته په خوشحالۍ سره تسليم نکړي . هغه د فلورا ښځه دا هيله نه لرله چې د بادشاه خبره او خواهش دي ونه منې . راډرک هغې ته دا طمع او اميد هم ورکړ چې له هغې ښځه به ملکه جوړه کړي خو فلورا په هېڅ صورت چمتو نشوه بيا راډرک فلورا ته يې ګوټ څنډنه وکړه چې زه به په سهوسته باندي لښکرې ورخوشې کړم او ستاسې توله کورنۍ به د ذلت کندې ته وغورځوم خو فلورا ونه منل .

نود خپل زور او څواک په نېشه کې هغه بې پته او بد لمنه کړه . تول تاريخونه پدې سره هم غږې دي چې فلورا راډرک ته ډېر عذر او زارۍ وکړې چې د هغې د پاک لمنۍ خيال وساتي او هغه بې پته نکړي خو هغه يوه خبره

هم ونه منله او د شرابو په مستۍ کې یې هغه بې پته کړه ، دا د شپې لومړنۍ برخه وه .

د نیمې شپې څخه وروسته هنري د تاکلې شوې ځای څخه باغ ته ننوت او کړوپ کړوپ د ونو په منځ کې هغه ځای ته ولاړ چې دوه ځلې ورسره فلورا لیدلې وه ، هغه لا نه وه راغلې ، لږ ځنډ وروسته یو سورې د هغه.په لورې را روان شو چې رانژدې کېده ، کله چې دا نژدې شو د ښځې شکل یې غوره کړ ، هنري په ډېره مینه او شوق هغې ته دوه ، درې ګامونه ور وړاندې شو خو د فلورا لخوا څخه هېڅ ډول خوښې ښکاره نشوه ، هنري د مخکنې ملاقاتونو په څېر دا ځلې بیا دواړه لاسونه ورته پرانستل خو فلورا د هغه لاسونه یو لورې ته ټېل وهل او په وښو باندې داسې کېناستله لکه چې غورځېدلې وي .

هنري په وېرېدلې غږ وویل : څه درباندې شوې فلورا ؟

فلورا ځواب ورکړ : زما څخه لرې شه هنري ، زما ناپاک بدن ته رانژدې نشې ، زه نور ستا وړ نه یم ، زه خپل غېرتې پلار ته هم خپل خان نشم ښودلې ، زه پخپل ځان هم لعنت وایم .

هنري په ورخطایې سره وویل : لږ څه خو ووایه څه شویدي ؟ .

فلورا ورته د راډرک تولد کیسه وکړه ، بیا یې وویل : زما پېغلتوب زما مال او دولت وو ، ما هېڅکله هم خپل خان شهزادګۍ نه ګڼلو ، که ما د ملکه توب شوق لرلې نو د خپل پلار د یو نوکر د زوی سره به مې مینه او محبت نه کولو .

هنري راپورته شو او د جامو لاندې خنجر یې راوویست او بیا یې وویل : زه ددې بدمعاش بادشاه څخه غچ اخلم ، زه به هغه وژنم او بیا به لدې ځایه وځم ، که ژوندې ونیول شم هم څه باک نلري ، زه ستا په عزت او ابرو باندې ځان قربانوم .

فلورا په عذر سره هغه ته وویل : داسې مه کوه هنري ! ته هغه ته نشې رسېدای او مخکې له مخکې به ونیول شې ، زه تا بې هدف مرګ باندې نه مړ کوم ، خو ته یو کار زما لپاره وکړه ، سهار چې کله د ښار دروازې

پرانستل شي بس له ښار څخه ووځه ، په څه پلمه ښه او څوره آس له خان سره واخله ، څومره چې ژر کېدای شي سهوسته ته ځان ورسوه او هلته زما پلار ته ټوله پېښه بيان کړه

هغه ته ووايه چې په څه پلمه دلته راشي او ما له ځان سره بوځي ، بادشاه بايد پدې پوه نه کړي چې زه پدې پېښه خبر شوې يم ، که هغه ظالم بادشاه ته لږ شانته شخصه هم وکړه نو پلار به مې وژني او ما به د تل لپاره پدې ماڼۍ کې بندي کړي ، رادرګ ماته ډېرې سختې ګوت څنډنې کړېدي

زما پلار ښه په خبره پوه کړه کنه سهوسته به يې له لاسه ووځي او زمونږ ټوله کورنۍ به خواره او ذليله شي .

سهار وختي هنري په هغه شوخ آس باندي زين واچولو په کوم چې دده څخه پرې امتحان اخيستل شوي وو ، هنري د چکر په پلمه دباندي روان شو ، د کلا دروازې پرانستل شوې وې ، کله چې له دروازې څخه ووت نو آس يې چار ګام کړ ، آس د هوا سره خبرې پيل کړي ، هنري د طليطلې ( مادريد ) څخه تر جبل الطارق پورې تللو چې پنځه سوه ميله واټن لري ، هنري د ځان ساتلو په خاطر لومړې آس په پوره څغاست سره څغلولو چې څوک يې ونه نيسي خو ټوله لاره يې داسې په منډه کله وهلې شوه ، کله چې د خطر له سيمې څخه لرې شو نو د يوې ويالې په غاړه يې آس ودراوه ، اوبه يې ورکړې ، د لږ آرام څخه وروسته يې آس په عادي ډول روان کړ ، هغه به د شپې هم سفر کولو خو لږ لږ دمه يې هم کوله ، هغه په څلورو ورځو کې پنځه سوه ميله لاره ووهله .

د سهوسته او جبل الطارق په منځ کې سمندر پروت وو ، هلته هيڅ کښتۍ تياره نه وه ، تر دوه ، درې ورځو پورې بله کښتۍ هم نه پيدا کېدله ، يوې بادي کښتۍ هغه ته په يوازې تللو باندې دومره زياته کرايه وښودله چې هنري هغه نشوه پوره کولای

هنري کښتۍ وان ته وويل : زما آس ستاسې له ټولې کښتۍ څخه قيمتي دی ، دا تاسې واخلې او ما سهوسته ته ورسوې .

کبنتی وان وویل : مونږ کبنتی وانان یو، په آس به څه وکړو ، مونږ یوازی د خپل ځان او کوچنیانو ګیډه مړول غواړو ، آس ته به له کومه خوراک پیدا کوو.

هنری ورته وویل : هغه وپلوری او خپل قیمت پری پوره کړی .

کبنتی وان وویل : مونږ د آسونو په سوداګری نه پوهیږو .

هنری ورته وویل : بیا نو په ما باور وکړی ، هغی لوری ته ما ورسوی هلته به کرایه هم درکړم او انعام هم .

کبنتی وانانو چې د هغه جامو ، قواری ، شکل او آس ته وکتل نو باور یې پری وکړ، هغه یې سره له آس په کبنتۍ کی سپاره کړل او بیا یې حرکت وکړ، سمندری لاره یوازی دولس میله وه، هغه د لمر پریوتو څخه مخکی د سیوسته ساحل ته ورسیده، هنری کبنتی وانان د ځان سره ملګری کړل او نیغ د جولین مانۍ ته ولاړ.

په مانۍ کښی یې ساتوونکو ته وویل چی اعلی حضرت جولین ته خبر ورکړی چی ما د طلیطلی څخه د شهزادګۍ ډیر ضروری پیغام راوړیدی.

جولین سمدستی هغه خپل ځان ته وبللو ځکه چی هغه د خپلی لور پیغام ته ناکراره وو .

***

جولین چې کله هنری ولیده نو وی پوښتل : ایا ته د فریدرک زوی هنری نه یې ؟

هنری ځواب ورکړ : هو اعلیحضرت.

جولین ورڅخه وپوښتل : ایا ته له طلیطلی څخه راغلی یې ، د پلار څخه پټ تللی وی ؟

هنری وویل ، هو ، اعلیحضرته ! دلته می زړه تنګ شو نو د اندلس د لیدلو لپاره ووتلم، خو ښاغلی اعلیحضرته ! زما تلل او راتلل څه اهمیت نلری ، هغه پیغام اهمیت لری چې ما له ځان سره تاسی ته راوړیدی خو ددی څخه مخکی زما یو وړاندیز دی هغه دا چی ما د کبنتۍ کرایه نشوه پری کولای خو زه ورسره راغلم نو که هغه ورکړی ، جولین سمدستی د کرایه ورکولو حکم وکړ بیا یې هنری ته وویل چی زما د لور پیغام څه شی دی ؟

کله چې هنري د فلورا ټول پیغام جولین ته واوراوه نو هغه ودریده ، داسې معلومیده چې د هغه د ټول بدن وینه مخ او سترګو ته راټوله شوې او بدن یې له قهر او غوصې څخه رپیده ، په خوله کښې په ګرځیدو شو .

هنري ووېل : زه د شهزادګۍ سره ناڅاپي مخامخ شوم، او هغې راته ټوله کیسه وکړه . ما غوښتل چې پادشاه ووژنم او بیا ولاړ شم خو شهزادګۍ ووېل : هغه ته رسیدل امکان نلري ، پوازې زما پلار ته پیغام ورسوه ، ما د پادشاهي طیلې څخه تکړه آس راغلا کړ او ځان مې تاسې ته راورساوه .

جولین ووېل : شهزادګۍ سم ویلي دي ، هغه ته رسیدل امکان نلري ، زه به د هغه څخه غچ اخلم او زه به یې ووژنم ، ته ولاړ شه .

جولین ددې سیمې پادشاه او واکمن وو ، سره ددې چې سیمه کوچنۍ او لږه وه ، هغه د راډرک پادشاه تر لاس لاندې وه خو دلته د یو پادشاه په شان اوسېده ، هغه ته غوښتل د خپل یو نوکر سره پداسې مهمه مسئله کې خبرې وکړې ، هغه هنري ته انعام ورانډې کړ .

هنري ځواب ورکړ : ته اعلیحضرت ! ماته انعام د څه شي راکوې ، ماته اجازه راکړه چې راډرک پادشاه ووژنم او ستاسې د عزت غچ او انتقام ورځخه واخلم ، زموږ کورنۍ ستاسې د احسان لاندې ده زه د هغې احسان بدله پوره کول غواړم ، ستاسې ابرو او عزت زموږ عزت او ابرو ده .

جولین ووېل : ته ولاړ شه هنري ! لومړې ما څه کولو ته پریږده ، ته د فکر او زما له اجازې پرته څه ونکړې .

تاریخ لیکې چې د جولین په شان سردارانو او واکمنانو به د راډرک په شان خواکمنو پادشاهانو ته خپلې لورګانې په ډالۍ کې ورکولې خو جولین غیرتي سړی وو ، هغه د خپلې لور بې عزتي او بې پرده ګي نشوه زغملې ، هغه سمدستي د طلیطې څخه د خپلې لور د راوستلو پریکړه وکړه .

طلیطې ته د جولین تلل او د راډرک سره د لېدو پېښه نامتو تاریخ لیکوونکې لین پول د درې نورو پخوانیو تاریخونو په حواله سره لیکلې او په پوره تفصیل سره یې بیان کړېده .

ددي تاريخي ليکنو سره سم جولين دېرې تحفې او ډالۍ د ځان سره واخيستې او د بادشاه راډرک سره پداسې اخلاص ، مينه او خوښۍ مخامخ شو چې ګوندي د اصلي پېښې څخه هېڅ خبر هم ندي ، هغه داسې څرګندوله چې ګوندي د خپل اطاعت اضهار کولو لپاره د بادشاه حضور ته راغلې دي .

راډرک چې کله ولېدل جولين د هېڅ شي څخه هم خبر ندي نو هغه ته يې له پخوا څخه زيات عزت او درناوي وکړ او د نورو سردارانو څخه يې د هغه زيات عزت او مېلمستيا وکړه ، هغه د جولين په درناوي او احترام کې يوه لويه بادشاهي مېلمستيا وکړه چې په هغې کې ګډا او نڅا هم وه ، پدي مېلمستيا کې فلورا د خپل پلار سره کېناستله او هغه ته يې هرڅه تکی په تکی بيان کړ .

جولين فلورا ته وويل : لورې ! هنرې ماته ستا ټول احوال بيان کړيدي ، د بادشاه په وړاندي ما ځان هسې ناخبره ښودلې دي ، زه ستا پسې راغلې يم ، زه چې کله تا خپل ځاي ته ورسوم نو بيا به داسې غچ ورڅخه اخلم چې د هغه بادشاهی د خاورو سره برابره شي .

راتلوونکې ورځ راډرک جولين خپل دربار ته په ځانګړو مراسمو کې وغوښت او هلته يې ورسره د سېوسته د حالاتو او دفاع په هکله خبرې اترې وکړې .

راډرک له جولين څخه وپوښتل : ايا عربانو او مسلمانانو خو به په سېوسته باندي بيا د بريد سپين سترګي نه وي کړې ؟

جولين ځواب ورکړ : نه اعليحضرت ! د سېوسته د قوي ديوالونو سره هغوې خپل سرونه وجنګول او ټول مات شول ، هغوي اوس پدي پوه شول چې د سېوسته په سر باندي د اعليحضرت راډرک د ځواک سيورې پروت دي ، اوس هغوي د سېوسته په لورې د کتلو څخه هم ډډه کوي .

راډرک وويل : ستا لور فلورنډا نه يوازې دا چې ښکلې او حسينه ده بلکې زړه وره او هوښياره هم ده ، هغه کوم عادي انسان ته ورنکړې ، زه د هغې په روزنه کې هم برخه اخلم .

جولین د غلامانو په شان وویل : دا زما لپاره لوی ویاړ او افتخار دي اعلیحضرته .

زه غواړم چې هغه د څو ورځو لپاره سهوسته ته بوځم .

رادرک وویل : که دا کار ونه کړی نو ښه به وي .

جولین وویل : د هغې مور سخته ناروغه ده ، هغې ددی هیله منده وه چې خپل لور وګوری .

نو د هغې هیله پوره کول غواړم ، بس څو ورځې وروسته یې زه پخپله رارسوم .

رادرک وویل : که بېرته یې زر رالېږې نو بیا یې له ځان سره بوځه ، څه پروا نشته .

جولین وویل : اعلیحضرت ! خپله فلورنډا دا غواړي چې زر تر زره بېرته دلته راشي خپلو ملګرو سره انس پیدا کړی .

رادرک په خوښی سره وویل : بېشکه ستاسې لور بېرته راتلل خوښوي .

خینې تاریخونو د رادرک او جولین ترمنځ په خبرو کې دا هم لیکلې .

رادرک وویل : جولین ! ستاسې په سیمه کې ښه ښکلې ګریت پېدا کېږي ، ماته د ښکار لپاره ګریتان پکار دي .

جولین وویل : هو کې اعلیحضرت ! زه به تاسې ته داسې ګریت راولېږم چې مخکې مو هېڅ نه وي لېدلې ، په ښکار داسې حمله کوي چې د خلاصون امکان پکې نه وی .

تاریخونه لیکې چې جولین همدا فکر کړې وو چې په رادرک باندې د مسلمانانو په مرسته حمله او برید وکړي څکه یې نو داسې خبره رادرک ته وکړه .

جولین خپله لور فلورنډا د ځان سره سهوسته ته راوستله او په سبا ورځ د قېروان په لوري د خپلې لور سره روان شو چې د موسی بن نصیر سره وګوري .

موسی بن نصیر احتیاط اړین بللو څکه هغه پدې باور نه درلوده چې یو عېسایې واکمن دې په بل عېسایې واکمن بلندې د مسلمانانو په پلوې برید وکړي دا کېدای شول چې کوم چل او جال وي څکه تردې وخته پورې جولین هغه ته کوم داسې دلیل وړاندې نشو کړای .

جولین وویل : که ستاسې باور او یقین نه راځي نو زه خپله لور فلورا دلته راغواړم تاسې له هغې ځخه پوښتنه وکړئ.

موسی بن نصیر ورته وویل : زه د هنري سره خبرې کول غواړم ، هغه به زه راوغواړم ، تاسې تر هغې وخته پورې ټول زما مېلمانه یاستئ .

په همدې وخت کې یو استازې سپوسته ته واستول شو چې هنري راوغواړي ، پدې څنډ کې جولین موسی بن نصیر ته د اندلس او راډرک په هکله زیات معلومات ورکړل چې په تاریخونو کې هغه خوندي ساتل شویدي .

جولین وویل : موسی ! د راډرک سره زما دښمنې اوس نده پیدا شوې ، دا دښمني ډېره پخوانۍ او زړه ده ، تاته به څرګنده وې چې په اندلس کې د ګوت قوم واکمن وه ، راډرک د اندلس په پوځ کې جنرال وو ، وټېزا نومې د اندلس بادشاه وو چې ډېر نرم او ښه خوې یې درلوده ، عیسایې پادریانو او روحانیونو د دین په نامه ډېر مال او دولت راټول کړې وو ، هغوې د عیش او عشرت ژوند تېرولو او کلیساوې د ګناهونو اډې او مرکزونه ګرځېدلې وه ، هلته د پاپ حکم چلېدلو او پادریانو د خپلې خوښې قانون او اصول چلول ، څرنګه چې هغوې روحاني مشران وه نو هر بادشاه یې درناوې او عزت کاوه ، بادشاهان هم ورځخه وېرېدل ، ټولنیز حالت دې درجې ته رسېدلې وو چې بې وځلې او غریبان نور هم ذلیل او خوارېدل ، عوام د بادشاه غلامان ګڼل کېدل ، عوامو خلکو ته لږه مزدورې یا ورځخه د بېګار کار اخیستل کېده ، د ولسې خلکو لپاره سختې او بې ځایه سزاګانې ټاکل شوې وې چې په عادي خبرو به ورکول کېدې ، په ولس باندې داسې مالیات لګول شوې وه چې د هغوې ګېډه مړېدلو هم امکان نه درلوده خو د بادشاه خزانه به یې ډکوله .

د همدې خزانې ځخه به بادشاهی کورنۍ د مزو چړو لپاره کار اخیستلو. وټېزا د ولس او دین دواړو سره مینه او محبت درلوده ، هغه چې په تخت کېناسته نو د کلیساوو په لور یې پام وګرځولو او هغه یې د ګناهونو ځخه

پاکې کړې ، بیا یې شتمنو او مالدارانو ته پام وګرځولو کومو چې ولس وږې او لوڅ لغړ ساتلې وو .

وتېزا د ولسې خلکو څخه مالیات اخیستل بند کړل او په شتمنو خلکو یې مالیات ولګول ، په ځمکو یې هم مالیات او ټیکس ولګولو چې پدې سره ولسې خلک یو ځل بیا را ژوندي شول او د مالدارانو د شر څخه خلاص شول .

دیني ټیکه دارانو ، شتمنو ، اربابانو ، نوابانو ، سوداګرو او د ولس وینه زبېښونکو دا حالت چېرې زغملې شو چې ولس دې د دوې سره په یو قطار او صف کې ودرېږي او د مال راټولولو لارې چارې دې پرې بندې شي .

پادریانو او پیرانو د خپل دیني او مذهبي اثر او رسوخ څخه کار واخیستلو او پوځ یې د بادشاه په خلاف راوپارولو چې بادشاه غواړې دیني مشران خپل غلامان او د دین او مذهب سپکاوې وکړي ، پوځ د بادشاه په خلاف پاڅون وکړ چې رادرک یې مشرې کوله ، د بادشاه سره ډېر کم پوځ پاتې شو چې د رادرک سره یې مقابله ونشوه کړای .

پاڅون کوونکو رادرک خپل مشر او بادشاه وټاکلو ، هغه لومړې فرمان دا جارې کړ چې وتېزا دې ووژل شي ، ددې حکم او فرمان سره سم وتېزا ووژل شو .

ددې بدلون سره جوخت یو ځل بیا مذهبي مشران ، شتمن ، اربابان او مالداران په عیش او عشرت کې ډوب شول .

ای موسی ! که ته په اندلس باندې برید وکړې نو ولس به د خپلو عیاشو واکمنانو څخه لاس په سر شي ، کېدای شي چې پوځ هم د رادرک څخه لاس واخلې ، که ستاسې پوځ په جوش او جذبه سره وجنګېږي نو د اندلس پوځ به ډېر زر میدان خوشې کړي .

سره ددې هم موسی بن نصیر هغه ته غوږ خبره ونکړه .

څلور ، پنځه ورځې وروسته هنري د موسی بن نصیر د استازې سره یو ځای راورسېده ، د هغه هم د نورو درنو میلمنو په شان درناوي ، قدر او عزت وشو ، هنري خو جولین ته دا خبره نه وه کړي چې هغه د فلورا سره د لیونیانو پشان مینه او محبت لري او د هغې سره په پټه پټه ګوري ، هغه د

فلورا ښځه لرې والې نشو زغملې او د سپوسته ښځه طلیطلې ته ورپسې ولاړه ، هنرې د پلمې په توګه جولین ته وویل چې زما زړه په سپوسته کې تنګ شوې وو نو د اندلس د ګکر لپاره ولاړم.

هنرې خپل ټول شیان موسی بن نصیر ته څرګند کړل او دا یې ورته وویل چې زه د فلورا سره یې کچه مینه او محبت لرم او د همدې محبت ښځه د مجبوریت په اساس طلیطلې ته تللې وم چې هلته د راډرک مسئله را وړاندې شوه او ما د شهزادګۍ پیغام جولین ته را ورسولو ، موسی بن نصیر د هنرې ښځه ډېرې پوښتنې وکړې او هغه د هرې پوښتنې ځواب ورکولو ، پدې توګه موسی بن نصیر خپل شک ختم کړ . هغه هنرې خپل مېلمستون ته واستولو او جولین یې ځان ته راوبللو .

موسی بن نصیر وویل : جولین ! ما ستا په دوستۍ او نورو وړاندیزونو غور او فکر وکړ ، د خپلو چارواکو ، سلا کاروانو او سالارانو سره مې هم سلا مشورې وکړې ، زه اوس په تا باندې باور کوم خو په پرېکړه کولو کې زه ازاد نه یم ځکه اندلس کوم کوچنې هېواد ندې او نه د هغې پوځ کمزورې دې ، زه به د امیر المؤمنین ولید بن عبدالملک ځنځه ددې لپاره اجازه غواړم ، همدا نن به د امیر المؤمنین په نامه پیغام او استازی واستوم ، تاسې به د ځواب لپاره سترګې په لاره اوسی . استازې به ډېر تېز وي خو بیا هم یوه میاشت وخت نیسې ، تاسې خپل ځای ته ولاړ شې شل ، پنځه ویشت ورځې وروسته راشې یا دا چې زه به احوال درکړم .

موسی بن نصیر چې کله جولین رخصت کړنو سمدستې یې منشي راوغوښت او د امیر المؤمنین ولید بن عبدالملک په نامه یې یو لوې پیغام دمشق ته ولیکلو ، په هغې کې یې د جولین ټوله کیسه ولیکله .

پدې وخت کې د مسلمانانو واکمن ولید بن عبدالملک وو چې ډېر تکړه باتور مجاهد وه ، هغه د اسلام د خپرولو جوش او جذبه په زړه کې لرله . همده د هند په لورې محمد بن قاسم لیږلې وه او د چین د فتح لپاره یې قتیبه بن مسلم باهلې ټاکلې وه ، موسی بن نصیر د لیک په آخر کې دا رنګه ولیکل :

دا هسې ناخاپي چانس دي چې جولين د يوې غټې ونې څخه د يو شاخ او څانګې په شکل راجلا شوې او زمونږ په لمن کې رالويدلې دي ، زما سترګې له ډېرې مودې څخه په اندلس لګېدلې وې ځکه چې د اسلام رڼا د افريقا او مصر په ساحل کې ولاړه ده ، ما څو ځلې د طنجه په ساحل باندې اندلس ته کتلې وه او د سمندر د سينې څېرولو پلانونه مې جوړول .

اوس چې يو عېسايي واکمن د مرستې غوښتنه کړېده او ما د هغې په هر اړخ باندې پوره غور او فکر کړې نو ستاسې له حضور څخه د اجازې غوښتوونکې يم ، بله خبره دا چې زما سره کوم پوځ او لښکر شته هغه ټول بربريان دي چې اسلام يې منلې دي ، هغوې ډېر جنګې او باتور خلک دي خو خپل سرې او بې نظمه پاتې شوې ، پرته له جګړې څخه هغوې کرار نشې پاتې کېدای ، ما اوس د يو لښکر او پوځ په شکل منظم کړې خو جګړه د هغوې د فطرت برخه ګرځېدلې ، په عادي او نورمال حالاتو کې د هغوې منظم ساتل ګران کار دي ، که هغوې همداسې بې کاره وساتل شې يا په خپلو کې سره نښلې يا دا چې ګډوډې او بې نظمې راپېدا کوې ، کېدای شې دا حالت هغوې له اسلام څخه هم باغيان کړې .

ښاغلې امير المؤمنين ! زه هغوې تل د سېوسته په جګړه او محاصره کې بوخت ساتم خو د څه وخت راهېسې دا لړۍ هم بنده شوېده ، اوس دي ته اړتيا ده چې دا خپل سرې قوم په کوم دښمن باندې ور واچول شې چې د خپل فطرت غوښتنه پوره کړې ، بله دا چې هغوې بايد د جهاد په جذبه او جوش کې وساتل شې او ددې کار لپاره اندلس يو غوره ځاې دي ، هلته کفر او بې ديني ده ، هلته د اسلام رڼا رسول زمونږ مسئوليت او دنده ده ، پدې کار به پدې دواړو قومونو کې اسلام زور اثر وکړې او د دين له روښنائي څخه به برخمن شې .

استازي پس له ډېرو ورځو د امير المؤمنين وليد بن عبدالملک د پېغام راوړ ، ځواب ډېر خوښوونکې وه خو هغه دا ليکلې وه چې احتياط ډېر اړين دي ، هغه کسان چې د اسلام له داېرې څخه بهر وې په هغه باور او اعتماد کول د خطر څخه خالې نه وې ، نو تاسې بايد جولين يو ځل امتحان کړی ،

که چېرې د سپوسته والې جولين په ځپل امتحان کې کامياب شې نو بيا ماته احوال راکړه چې تاسې له کومک او نور ارين شيان در واستوم .

موسی بن نصير ځپل ټول چارواکي راوغوښتل او د هغوې په وړاندې يې د امير المؤمنين وليد بن عبدالملک پيغام ولوستلو او د هغوې څخه يې سلا مشوره وغوښتله ، عربانو په ذکاوت او ذهنيت کې نوم درلوده . هغوې ټولو د جولين د ازميلو لپاره ځو طريقې او لارې وړاندې کړې . بيا يې جولين ته احوال واستاوه چې دلته راشې .

جولين د همدې پيغام او ځواب لپاره سترګې په لاره وو او د خبرېدو سره سم تللو ته چمتو شو . هغه د مخکنې پادشاه وتېزا ورور او پاس هم د ځان سره ملګرې کړ کوم چې دده سره په سپوسته کې اوسېدلو . د جولين سره د پوځ يو لوړ پوړې چارواکې او سل سپاره ساتوونکې هم ملګرې شول .

کله چې دا بادشاهي کاروان د لارې وهلو څخه وروسته قيروان ته ورسېده نو جولين پرته له دمې او آرام موسی بن نصير ته ورغې چې ورسره د وتېزا ورور او پاس او لوړ پوړې پوځې چارواکې هم وه ، دا يو تاريخي لېدنه وه چې همدې د مسلمانانو لپاره د اندلس لاره پرانستله .

موسی بن نصير ووېل : جولين ! د دمشق څخه د اجازې پيغام راغلې خو په هغې کې دا شرط اېښودل شوې چې تاسې بايد دا ثابته کړئ چې که حالات هر ډول لوړ وځوړ شي ستاسې او راډرک دښمنې په دوستۍ بدله نشي .

جولين ځواب ورکړ : ددې ثبوت وړاندې کولو لپاره تاسې لاره او طريقه ماته په ګوته کړې ، زه ددې وخت لپاره دقيقې شمارم چې کله د هغه ظالم او ځونړې انسان څخه د ځپل عزت غچ واخلم .

او پاس وپوښتل : ښاغلې آمير ! زما د ورور روح ما ځوب ته نه پرېږدي کوم چې د ظالم راډرک لخوا څخه په ناروا سره ووژل شو او ځپله په تخت کېناسته . اوس هغه زمونږ په کورنۍ باندې يو بل سپک ګذار هم وکړ ، که تاسې زمونږ پر ځاې وايې نو د غچ لپاره به مو يوه ورځ هم ځند نه وايې کړې ، که زمونږ سره ستاسې په شان پوځ واې نو مونږ د بل چا په دروازه کې د کومک او مرستې غوښتنه نه کوله .

موسی بن نصير ووېل : جولين ! اوس د انتظار وخت ختم شوي ، ته داسې وکړه چې د شپې په تياره کې له سمندر څخه بلې خواته واوړه او د اندلس په کوم ساحلي سيمه باندي بريد وکړه ، مخکې لدې چې د اندلس پوځ ستاسې پسې راشي ته خپل پوځ بېرته سېوسته ته را ورسوه ، دا به ددي خبرې ثبوت شي چې ته د بادشاه راډرک سره دښمني کوې ، زه ستا د غچ کچه او اندازه معلومول غواړم .

جولين وپوښتل : که زمونږ پوځ هلته په څه دليل ونښلې نو بيا ؟ او که زمونږ څخه د هغوې پوځ زيات وې بيا به زمونږ پای څه کېږي ؟ .

موسی بن نصير ووېل : زما پوځي ګروپونه به د سمندر په غاړه چمتو ولاړ وي ، زه د پېغام رسولو داسې پلان جوړوم چې سمدستي ماته احوال راشي او ستاسې مرستې ته ځان در ورسوم .

جولين او او پاس سمدستي تيار شول او د موسی بن نصير سره يې د اندلس يوه ساحلي سيمه غوره کړه ، د بريد پلان يې جوړ کړ او بيا د سېوسته په لورې وخوځېدل .

موسی بن نصير د خپل پوځ ځينې ګروپونه د يو سالار ابو زرعه طريف بن مالک المعافري په مشرۍ سېوسته ته واستول ترڅو هلته خيمې ووهې او د جولين د مرستې لپاره تيار او چمتو وي .

کله چې د طريف ګروپونه سېوسته ته ورسېدل نو جولين د هغوې ډېر تود او دروند هرکلي وکړ او بيا يې طريف ته ووېل چې په بادشاهی مانۍ کې واوسېږي .

طريف بن مالک ووېل : جولين ! زمونږ په منځ کې سالار او پوځي ټول يو شانته ژوند کوي او يو پر بل پورته والي نه خوښوي ، د جګړې په ډګر کې هم دواړه يو ځاې جنګېږي او د اسلام دين دا پورته والي او ښکته والي نه مني ، کله چې ته زمونږ لمونځ وګورې نو هلته به په صفونو او ليکو کې دا معلوم نکړې چې مشر او کشر څوک دي بلکې ټول په يو صف کې سره ولاړ وي ، کله داسې هم کېږي چې چارواکې شاته او نوکران مخکې ولاړ وي يوازې مشر سالار دا دنده لري چې امامت وکړي .

جولين په احساساتي توګه وويل : تاسي اندلس فتح کولای شی، همدا د اسلام ځواک دي کوم چې تاسې بيان کړ ، زمونږ سالاران خو عام پوځيان خپل شخصي غلامان بولي ، سره ددي هم زما د ماڼۍ دروازي تل ستاسې پرمخ خلاصي دي .

بيا هغه شپه را ورسېدله چې کله د جولين ګروپونه په بادي کښتيو کې کېناستل او د طريف ګروپونه ورته د سمندر په غاړه تيار او چمتو ودرېدل چې کله مرستې ته اړتيا پېښه شي نو زر تر زره يې ورسره وکړي .

د اوبو لاره يوازې دولس مېله وه او د جولين کښتي وانان ښه تجربه لرونکې وه ، سمندر غلې او آرام وو ، هوا موافقه او تېزه وه ، کښتې وانانو له ټاکلې وخت څخه مخکې د جولين پوځې ګروپونه د اندلس غاړې ته ورسول ، ددي ګروپونو مشرې د اوپاس په لاس کې وه .

جولين دي غاړې ته د خپلې مېرمنې او دواړو لورګانو سره ولاړ وو ، د ګروپونو تر تللو پورې فلورا د پلار لپاره يوه ستونزه پېدا کړې وه هغه دا چې زه به د نرانو جامې په تن کوم او د خپل پوځ سره به يو ځاې اندلس ته ځم ، هغې د خپل پلار جنګې جامې هم را اخيستې وې ، توره او ډال يې هم راوړې وه جولين او مور يې هغې ته هېڅ اجازه نه ورکوله .

فلورنډا په چيغو سره وويل : ايا زه تکړه سپره نه يم ، ايا زه برچه او توره نشم استعمالولې ؟ ايا زما له لېندي څخه وتلې غشې هسې بې ځايه ځي ؟

مور او پلار هغې ته وويل چې ستا ټولې خبرې سمې دي خو کله چې دښمن مېدان ته د تورو او برچو سره را وړاندي شې نو بيا د تورې او برچې سمبالول ګران شي ، بيا د لېندي څخه وتلې غشې په هوا کې بې ځايه ځي ، جنګ جګړه د نرانو لوبه او کار دي .

فلورنډا وويل : بې پته او بې آبرو خو زه شوې يم ، په اندلس باندي په لومړنې بريد کې بايد زه حتما برخه واخلم .

پلار هغه پدي ژمنه قانع کړه چې کله مسلمانان اندلسې پوځ ته ماتې ورکړي او بادشاه رادرک ونيول شي نو هغه به موسى بن نصير ته ووايې چې بادشاه ژوندي فلورا ته په لاس ورکړي ترڅو هغه ورڅخه غچ او انتقام واخلي .

فلورنډا پدي خبره او ژمنه داده شوه او د پوځي ګروپونو د رخصتولو لپاره د خپل پلار سره ساحل ته ولاړه ، هلته هغې د مسلمانانو سالار ابو زرعه طريف هم ولېدلو او پلار يې د هغه سره معرفي کړه ، فلورنډا د طريف پسې شوه چې د پلار څخه ورته د تللو اجازه واخلي .

طريف بن مالک وويل : فلورنډا ! پلار شايد تاته اجازه درکړي خو زه په هېڅ صورت هم اجازه نه درکوم ، مونږ چې د ښځو په ابرو او عزت باندي ځانونه قربانوو څرنګه ښځو ته اجازه ورکړو چې د جګړې ډګر ته ولاړې شي .

***

د نيمې شپې څخه وروسته د اندلس د جنوبي ساحل په مېډن سپانو کلي کې اوسېدونکې په درانه خوب وېده وه ، د ساحل په غاړه پوځي څوکۍ او پوستې هم وې چې پوځيان پکې اوسېدل ، هغوې هم په درانه خوب وېده شوې وه ، کوم پوځيان چې د پېرې لپاره ټاکل شوي وه هغوي هم داده وه او په خپلو خپلو ځايونو کې پرې خوب راغلې وه ځکه چې هغوي د هېڅ خطر غم او فکر نه درلوده ، هغوې پدي پوهېدل چې سېوسته د اندلس دروازه ده او په هغې دروازه کې قوي پوځي کلا او د جولين پوځ پروت دي .

خطر د مسلمانانو څخه وو ، هغوې د سېوسته څخه پرته په بله لاره هم راتللي شول خو د هغوي په هکله دا خبره مشهوره شوې وه چې مسلمانان کښتۍ نلري او په هغې باندي نه پوهېږي .

هغوي په سمندري جګړه کې تجربه نلری، دا خبره سمه هم وه ځکه چې تردي وخته پورې پرته له دوه ، درې سمندري جګړو څخه مسلمانانو په بحري جګړه کې ګډون نه وو کړي او نه ورته داسې وخت په لاس ورغلې وه، يوازې په قبرص کې هغوې سمندري جګړه کړې وه .

د اندلس ساحل ساتوونکې پوځيان بې غمه او داده وه ، د جولين کښتۍ د مېډن سپانو له کلي څخه لږ لرې په ساحل کې ودرېدي ، پوځيان په کراره کراره ورڅخه ښکته شول ، د هغوي سالار اوپاس پدي پوهېدلو چې پوځي څوکۍ او پوستې چېرې چېرې دي ، هغه ټول پوځيان د پوستو په شمير په بنسټ ووېشل او بيا يې د تېزې اوسختې حملې حکم ورکړ .

ساحل ساتوونکو پخپل لورې باندې راتلوونکې سورې ولېدل خو مخکې لدې چې پوه شې دا سورې څه شې دي په هغوې باندې قیامت راغې ، په پوستو کې پراته پوځیانو ته وخت په لاس ورنغې چې راپورته شې بلکې په خوب کې ووژل شول ، د سهار کېدو څخه مخکې ټولې ساحلې پوستې پاکې شوې او هېڅوک ورڅخه ژوندي خلاص نشول چې نژدې کوم ښار ته خبر ورکړې چې پر مونږ حمله وشوه او ټول ختم شو .

سهار وختې د جولین د حکم سره سم پوځیان درې ، څلور کلو ته ننوتل او هلته یې په چور او تالان پیل وکړ رسره کلېساګانې وسوځولې او ځینې یې ورانې کړې .

تر ماښام پورې د سېوسته پوځ د چور او تالان بازار ګرم کړې وو ، ښکلې او پیغلې انجونې یې هم له ځان سره ژوندي راوستې ، بیا د شپې په تیاره کې په لویو کښتیو کې سپاره شول او سېوسته ته راغلل .

جولین دا حکم هم کړې وو چې هلته اعلانونه وکړې چې دا کار مونږ د سېوسته پوځیانو کوو .

کله چې پوځیان بېرته سېوسته ته راورسېدل نو جولین له سالار ابو زرعه طریف څخه وپوښتل : ایا اوس ستاسې باور راغې چې رادرک زمونږ دښمن دې .

ایا ما ځانته دا خطر پېدا نکړ چې اوس به بادشاه رادرک په سېوسته باندې څوابې برید کوې ؟

سالار طریف وویل : حتما باید حمله وکړې ، هغه څرنګه دا زغملې شې چې د هغه تر لاس لاندې یو واکمن دې د هغه په هېواد کې د هغه په پوځ او کلو باندې برید وکړې خو جولین ! مونږ اوس تا یوازې نه پرېږدو ، اوس به زما دا ګروپونه همدلته وې او په ساحل باندې به پېره کوې ، اوس تاسې زمونږ مشر موسی بن نصیر ته ورشئ او د نو حالاتو څخه خبر کړی .

موسی بن نصیر پدې داده شو چې جولین چل او دوکه نه کوې ، خو بیا هم هغه دا خبره دادمنه کوله چې بیا په راتلوونکې کې ورڅخه څه راپېدا نشې .

موسی بن نصیر د نور امتحان لپاره د اندلس په ساحل کې یو ټاپو ایکېسې راس غور کړ او په هغې یې د حملې پلان جوړ کړ چې پدې پلان

کې به د مسلمانانو او جولين پوځونه برخه اخلې ، ددي څخه مطلب دوه خبرې وې يو دا چې د جولين د پوځ حالات معلوم کړې او بل دا چې د اندلسي پوځ ورتيا او د هغوې د لاربښوونکو حقيقت ورته ځرګند شي.

موسى بن نصير ددي ګډ پوځ مشرې ابو زرعه طريف بن مالک ته وسپارله.

موسى مالک ته وويل : ابو زرعه ! ته خپله او نورو ملګرو ته ووايه چې د جولين پوځيان تر ځارنې لاندې ونيسې چې هغوې څو چل او دوکه نکوې ، دې ته بايد هم پام وکړې چې هغوې په جګړه کې څه ډول دې زړور که بې زړې ؟

جولين خپلو قوماندانانو ته وويل : زه يو ځل بيا تاسې ته وايم چې مسلمانانو ته دا وخت ورنکړې چې هغوې تاسې بې زړه وبولې ، او داسې هېڅ حرکت ونه کړې چې هغوې ته شک پېدا شي چې ګوندې دوې مونږ ته دوکه راکوې ، د مسلمانانو د امېر باور پر مونږ باندې ندې راغلې ، په ياد ولرئ ! په خپل عزت او حثيت باندې ځان قربانوونکې چاته دوکه نه ورکوې ، تاسې خپله د يو دوکه ورکوونکې څخه غچ اخلئ ، هغه دوکه ورکوونکې د اندلس بادشاه راډرک دې رئاسې ته مخکې هم ويل شوې وه چې زمونږ اصلې دښمن راډرک دې ، تاسې پر هغه يو ځل ګذار کړيدې ، زه بيا دا خبره تکراروم چې مسلمانانو ته دا موقع ورنکړې چې هغوې تاسې بې زړه او دوکه ورکوونکې وګڼې.

دا د جولائي ۷۱۰ مېلادي کال يو سهار وو چې د جولين او موسى بن نصير پوځونه په لويو کښتيو کې کېناستل ، هېڅ تاريخ د جولين د پوځيانو شمېر ندې ليکلې خو د مسلمانانو شمېر تول پنځه سوه وه چې څلور سوه پياده او سل پکې سپاره وه.

ايګېسې راس نه ډېر لوی تاپو وو او نه ډېر کوچنې ، معلومات مخکې تر مخکې اخيستل شوې وو چې هلته په تاپو کې څومره اندلسې پوځيان ځاې پر ځاې دې او کوم ځاې د کښتيو لپاره مناسب دې چې مخکې رسوا نشي.

له هغه څوره شوې ځاې څخه څو د طريف او جولين پوځيان ته ښکاره‌دل څکه چې هلته ونې او بوټې ډېر زيات وه څو د هغوې پټېدلو هم امکان نه درلوده څکه چې کله د سهوسته کښتيو حرکت وکړ او د اندلس په

لورې وخوځېدل نو د ساحل خلکو کښتۍ ولېدې چې د دوی په لورې را روانې دي .

کښتۍ په غاره باندې ودرېدلې ، د هغې څخه لومړۍ آسونه ښکته شول بیا پوځیان ښکته شول ، سپاره لا پخپلو آسونو نه وه سپاره شوي او پیاده هم منظم شوي نه وه چې د غونډیو څخه پرې د غشو باران پیل شو ، غشي وېشتونکي د ونو ، بوټو او وښو شاته پټ شوي وه څکه چې ددې څخه مخکې د اندلس په ساحلې کلو باندې جولین برید کړې وو او خبره رسوا شوې وه ، په همدې خاطر ساحلي ساتوونکي بېدار او وېښ وه . سمدستي سالار طریف بن مالک سپرو ته حکم وکړ چې له لرې خاې څخه ټولې غونډۍ محاصره کړي او خانونه د غشو څخه لرې وساتي ، پیاده پوځیان هم یوې او بلې خواته شوي وه ، ځینې غاړې ته ولاړل او ځینې په کښتیو کې پورته شول یوازې زخمیان په مېدان پاتې شول .

د جولین د پوځیانو قوماندې د اوپاس په لاس کې وه هغه په منډه سره خپل پوځیان راټول کړل او بیا یې ورته حکم وکړ چې د شا له لورې غونډیو ته راپورته شي ، غشي وېشتونکو خو مخامخ غشي وېشتل . د اوپاس پوځیان د ښې ، چپ او شا له لورې په غونډیو ورپورته شول او خانونه یې د بوټو او ونو شاته پټول ، پدې توګه د غشي وېشتونکو لورې بدل شو او دواړو لورو ته ووېشل شول ، اوپاس خپلو پوځیانو ته چیغې وهلې چې زر تر زره په غونډیو ورپورته شي ، پوځیان هم په پوره زړورتیا سره پورته ختل .

کله چې طریف بن مالک د جولین د پوځیانو زړورتیا ولېده نو خپلو غشو وېشتونکو ته یې حکم وکړ چې د غونډیو شا او خوا ونو ته پورته شي او د دښمن پوځیان په نښه کړي .

کله چې مسلمانان غشي وېشتونکي په ونو پورته کېدل د دښمن لخوا څخه زخمي کېدل او لاندې راغورځېدل بیا په ونو پورته شول او د دښمن پوځیان یې تر باران لاندې ونیول .

پدي سره د دښمن غشي وپشتونکي وتښتېدل خو غونډۍ سپرو محاصره کړې وې ، د تېښتې لاره يې بنده کړې وه ، ټول له منځه ولاړل او هېڅوک ورڅخه ژوندي خلاص نشو .

ددي څخه لږ وړاندي د ټاپو پوځ د بريد او جګړې لپاره چمتو ولاړ وو ، طريف خپل سپاره د غونډيو شاته پټ کړل او هغوې ته يې پټې اشارې او لارښوونې وکړې .

بيا د ټاپو او طريف پوځونه سره ونښتل خو اندلسي پوځيانو تښته پيل کړه ، طريف خپلو سپرو ته اشاره وکړه او هغوې خپل آسونه په منډه کړل او د دښمن شاته يې ځانونه ورسول ، دښمن ددي څخه ناخبره وو ، سپرو سخته حمله وکړه او د ټاپو پوځ يې د ګازرو او موليو په شان پرې کولو ، جګړه ډېر زر ختمه شوه ، بيا يې د جزېرې نوم بدل کړ او شين ټاپو يا جزېره الخضراء يې ورباندي کېښوده .

طريف چې کله بېرته راغې نو موسى بن نصير ته يې وويل چې جولين دوکه نه ورکوې او پوځيان يې په پوره زړورتيا سره جګړه کوې ، بلکه دا چې د اندلس په پوځ کې د جګړې شوق او ذوق نشته ، د هغوې مشران هم داسې تکړه ندي چې مونږ ورڅخه انديښنه وکړو .

ددي څخه وروسته موسى بن نصير په اندلس باندي د حملې او بريد پلان جوړ کړ .

جولين يو نوې مسلمان شوې سړې معيث الرومې له ځان سره راوستلو ، هغه د اندلس د ګوت قبيلې څخه وو چې په اندلس باندي د مسلمانانو سره د بريد لپاره راغلې وه ، جولين غوښتل مغيث رومى له ځان سره ملګري کړي خو موسى بن نصير نه غوښتل .

جولين په خفګان او غصه سره وويل : موسى ! ايا اوس هم ته په ما باندي باور نه لرې ؟ .

ماته هم شک ...دا شوې وو ، د همدي شک لرې کولو لپاره ما له ځان سره ثبوت راوړيدي .

جولین دباندې ووتلو ، د هغه سره د سپوسته څخه لوی کاروان راغلی وو ، د هغه سره پوځیان ، نوکران ، غلامان او سلا کاران ملګري وه ، ښځې او مېرمنې هم ورسره وې .

جولین چې کله د موسی بن نصیر خونې ته رانتوت نو دوه د پرې ښکلې او حسینې پېغلې ورسره هم وې ، د هغوی حسن او ښکلا د جادو په شان اغېزه لرونکې او راښکوونکې وه .

جولین وویل : دا زما لورګانې دي ، دا فلورنډا او دا بله یې کشره خور مېرې ده ، زه دا دواړه د یرغمل او بونګې په توګه ستاسې سره پرېږدم ، دا زما عزت او آبرو دي .

فلورنډا زما هغه لور ده چې د هغې په خاطر ما خپل پخوانې دوست دښمن او پخوانې دښمن دوست وګرځولو ، تا ولېدل چې ما د خپل عزت په خاطر د لوی دښمن سره لاس واچولو د هغه په خاوره مې حمله وکړه او ستاسې سره یو ځای مې تاپو هم لاندې کړ .

ای موسی ! نن زه همدا غېرت تاسې ته سپارم ، که چېرې ما یا مغیث الرومي کوم داسې کار وکړ چې تاسې هغه خوښ نه ګڼئ نو زما دا دوه لورګانې تاسې وینځې کړې یا یې وحشې بربریانو ته وسپارئ .

هیڅ تاریخ دا ندي لیکلې چې موسی بن نصیر د جولین دا وړاندیز ومنلو او کنه خو امکان لرې چې هغه نه وې منلی .

جولین دویم وړاندیز دا وکړ چې خپل ټول پوځ هغوی ته سپارې ترڅو د اندلس په عملیاتو کې برخه واخلي ، خو موسی بن نصیر دا وړاندیز بالکل ونه منلو یوازې دومره یې ومنل چې سپوسته د اسلامې غازیانو لپاره د مرکز او اوسېدلو ځای کېدای شي او له هغه ځای څخه به د یوې قرارګاه په حېث کار اخلې ، بله دا چې جولین به د غازیانو د پورې وتلو لپاره لوی کښتی برابروي .

جولین د هر ډول مرستې ژمنه وکړه او دا یې وویل چې زمونږ پوځ به تل چمتو او تیارسی ولاړ وي .

موسی بن نصیر په همدې ورځ دمشق ته پېغام واستولو ترڅو د امیر المؤمنین څخه مرسته او کومک او هم د راتلوونکې لوی عملیاتو اجازه واخلې .

موسی بن نصیر ډېر تجربه لرونکې سپه سالار وو ، امیر المؤمنین ولید بن عبدالملک ته داسې ولیکل :

په اندلس باندې حملې او برید شاید حالات بدل کړې وې نو ځکه ما یو ځل بیا ستاسې حضور ته د اجازې لپاره پېغام ولیکلو ، کېدای شي پداسې حالاتو کې تاسې دواړه محاذونه ونشی پاللې یا دا چې یو لورې ته مو پام کمزورې شي .

امیر المؤمنین ولید بن عبدالملک داسی ځواب ورکړ : د الله تعالی نوم واخلی او د پوره تیارې څخه وروسته پوځ هغې لورې ته ولېږی ، د فکر او غور څخه وروسته ورته سالار وټاکه .

د سالار د ټاکلو مسئله ستونزمنه وه ځکه موسی بن نصیر نه غوښتل چې د دومره لوی او مهم لښکر مشرې طریف بن مالک ته وسپارې ، د هغې لاملونه څو وه ، یو دا چې عربې سالار وو ، په بربریانو کې تردې وخته پورې څو داسې کسان راڅرګند شوې وه چې د مشری او سالارۍ وړتیا یې درلوده ، هغوې په پوځ کې غټې رتبې لاس ته راوړې وې ، په دوې کې یو طارق بن زیاد هم وه .

د موسی بن نصیر ذهن او فکر شاته ولاړ او هغه وخت یې را په یاد شو چې څه وخت ټولو بربریانو اسلام نه وو منلې او د مسلمانانو سره یې جګړې او جنګونه کول .

موسی بن نصیر هلته ډېرې جګړې وکړې ، د محبت او مینې لارې چارې یې هم پکار واچولې په هغوی کې ځینې ونیول شول چې بیا یې د غلامان وګرځول شو په هغوی کې د موسی بن نصیر هم یو تکړه بربری ځوان خوښ شو او هغه یې د خپل ځان سره کړ چې د ده خدمت وکړي .

بربری ځوان وښتان سره بخن او څېرهٔ یې غوړېدلې وه ، یوه ورځ موسی بن نصیر ورڅخه د هغه د قوم پوښتنه وکړه نو هغه ځوان ځواب ورکړ

چې زه د ونډال له نسل او نژاد څخه یم ، د ونډال قوم په بربریانو کې د پورته او لوړ مقام لرونکې وو .

د موسی بن نصیر دا خدمت کوونکې پوه ، هوښیار او د پوخې کارونو سره ډېر شوق لرونکې وو ، په آس سپرلۍ ، توري وهلو او غشې وېشتلو کې یې پوره مهارت درلوده .

کله به چې موسی بن نصیر د بربریانو مقابلې ته تللو نو دا ځوان به ورسره ملګري وو ، د سېوسته په محاصره کې هم ورسره ملګري وو ، هغه به د خدمت او کار سره سره موسی بن نصیر ته په جنګې چارو کې سلا مشوري هم ورکولې ، هغه عربې ژبه د مورنۍ ژبې په څېر یاده کړې او ویله .

موسی بن نصیر هغه ته په ازاد پوځ کې یوه دنده وسپارله نو ورته څرګنده شوه چې هغه نه یوازی دا چې د لارښوونې وړتیا لري بلکې د پرمختګ او برید لپاره ډېر مناسب دي .

موسی بن نصیر هغه په یو ډګر کې امتحان کړ او د یوې ډلې قوماندان یې وټاکلو ، لږ ځنډ وروسته هغه د سالار مرستیال وټاکل شو ، دې ځوان ډېر مخکې اسلام منلې وه نو موسی بن نصیر د هغه نوی نوم طارق کېښوده .

کله چې په اندلس باندې د نوې لښکر لپاره د سالار خبره رامخې ته شوه نو د موسی بن نصیر سترګې په طارق بنَ زیاد باندې ولګېدې ، په هغه کې یو لوې صفت دا وو چې پرمختګ کوونکې او برید کوونکې انسان وو ، یوازې پرمختګ یې پېژندلو ، د بېرته او پشا تللو سره نا اشنا وو .

موسی بن نصیر طارق بن زیاد راوغوښتلو او هغه ته یې وویل چې په اندلس باندې د برید کوونکې لښکر ستر سالار بربری ګوربت ټاکم د الله تعالی څخه هیله مند یم چې ته به په پوره اخلاص خپله دنده سرته ورسوی

بیا د هغه په وړاندې نقشه وغوړوله او وې ویل : دا ده د اندلس نقشه ده ته په څه ډول پدې هېواد برید کوې ؟ دا هم په فکر کې ولره چې ستا د لښکر شمېر به اووه زره غازیان وې ، ددې څخه کم کېدای شي او زیات نه .

طارق بن زیاد نقشه راټوله کړه ، وې نغاړله یو لورې ته کېښودله .

طارق بن زیاد وویل : ښاغلي امیر ! زه به د اندلس په ساحل باندي پداسې شکل خپل پوځ پلې کوم چې وړاندي تلل به وې او پښا تلل به د چا په تصور کې هم نه وي ، فتح یا مرګ به زمونږ شعار وي .

د موسی بن نصیر په بوډا شونډو باندي مسکا راغله وویل : انشاء الله

د قیروان ښار د مصر او افریقا د امارت مرکزي ښار او د پلازمینی شکل یې درلوده ، سمدستې په قیروان کې د غشو ، برچو ، تورو او نورو جنګې سامانونو جوړېدل او تیارېدل پیل شول ، تر ټولو زیات غشې او غورځوونکې برچې جوړېدلې .

موسی بن نصیر حکم کړې وه چې دا دوه شیان باید دومره زیات جوړ او یوړل شي چې بیا دا اجوال رانشې چې خلاص شول ځکه په لاره کې سمندر دي او دښمن هر وخت کولاې شي د مرستې لاره بنده کړې .

طارق بن زیاد د خپل لښکر روزنه او تربیت پیل کړ ، هغه له جولین څخه پوښتلې وه چې د جګړې سیمې څه ډول جوړښت او جغرافیه لرې ؟

جولین ورته ټول شیان تکې په ټکې ویلې وه .

اندلس د شمالي افریقا سره ډېر توپیر درلوده هلته سیندونه ، خوړونه ، ویالې ، نهرونه او شنې ځمکې ډېرې وې ځکه طارق د اندلس د جغرافیوي جوړښت په بنسټ خپل پوځ ته روزنه ورکوله .

بالاخره د حرکت او تللو ورځ را ورسېدله ، طارق بن زیاد ته چې کوم لښکر ورکړل شوې وو د هغې شمېر اووه زره غازیان وه چې پدي کې څو سوه غازیان سپاره او پاتې پیاده وه .

دا ټول لښکر د بربریانو څخه جوړ شوې وو ، جولین هغوي ته څلور ډېر لوې لوې کښتی او د هغې چلوونکې ورکړل ، پدي څلورو کښتیو کې ټول پوځ ، آسونه او سامان ځاې شولو .

طارق بن زیاد د موسی بن نصیر څخه د رخصت اخیستلو په وخت کې وویل : ښاغلي آمیر ! تاسې ته به یوازې د فتح او برې خبر راځې !

موسی، بن نصیر وویل : ابن زیاد ! دا خبره له یاده مه باسه چې د دښمن لښکر تر یو لک هم زیات کېداې شي .

طارق بن زیاد وویل : هر وخت او په هره جګړه کې د کفارو شمېر تر مونږ ډېر زیات وي ، زه اوس تاته یو زېری درکوم ، ما تېره شپه په خوب کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولېدلو هغه ماته زېری راکړیدي چې د همت او صبر لمن خوشې نکړې فتح ستاسې ده .

د طارق بن زیاد دا خوب عېسایي تاریخونو هم پخپلو کتابونو کې لیکلی دي .

کله چې کښتیو خپل لنګرونه پورته کړل نو په ساحل کې په زرګونو خلکو ، مېرمنو ، کوچنیانو او پېغلو د دعا لپاره لاسونه پورته کړل ، کښتیو حرکت پیل کړ او د ساحل څخه په کراره کراره لرې کېدي ، د مېرمنو په سترګو کې اوښکې راغلې ځکه چې ددي غازیانو مړې هم چا بېرته نشول راوړلائې او هلته به خاورو ته سپارل کېدل .

هغوی د الهي پېغام د رسولو لپاره د تل لپاره د سترګو څخه پناه کېدل او همدي خبرې د مېرمنو په سترګو کې اوښکې روانې کړې دا د جولائي نهم ۷۱۱ مېلادي کال وو .

کښتئ په یو ساحلې سیمه کې ودرېدې چې بیا وروسته د هغې نوم جبل الطارق شو او تر اوسه پورې په همدي نامه باندي یادیږي .

کله چې ټول غازیان له کښتیو څخه ښکته شول نو طارق بن زیاد هغوی په پوځي ترتیب او تنظیم سره ودرول ، د کښتیو چلوونکې یې جلا ودرول ، طارق بن زیاد په آس باندي سپور په یو لوړ ځای باندي ولاړ او بیا یې وویل :

ځلور واړو کښتیو ته اور واچوی .

کښتئ چلوونکو په حېرانتیا سره هغه ته وکتل .

له کښتیو څخه غازیان او ټول سامان راښکته شویدي نو ځلور واړو کښتیو ته اور واچوی .

دا حکم او امر هغه سالار ورکولای شي چې دماغ یې خراب شوی وي .

طارق بن زیاد خپل بربري لښکر ته وویل : بربریانو ! کښتیو ته اور واچوی مونږ د بېرته تللو لپاره دلته نه یو راغلي .

بربريانو څلور واړه کښتيو ته اور واچولو، آور کښتۍ پخپلو لمبو کې راونغاړلې او د لرګيو ترسا پيل شوه ، د آور لمبې او دود مخ په اسمان پورته کېده ، د طارق بن زياد غړمبېدلې آواز پورته شو ، تول لښکر هغې لورې ته پام وګرځولو ، طارق غازيانو ته وينا پيل کړه ، هغه د برېښنا او تندر په شان آواز درلوده .

تول غازيان بربريان وه خو طارق د بربري ژبې پر ځاې په عربې ژبه وينا پيل کړه .

اى شازلميو ! آوس د تېښتې تولې لارې او ګودرې بندې شوې ، ستاسې مخې ته دښمن او شاته مو سمندر دي ، نه مخکې او نه شاته تښتېدلې شى ، اوس پرته لدې څخه بله لاره نشته چې د عزم او همت څخه کار وانخلى ، اوس پدې هيواد او خاوره کې ستاسې مثال داسې دي لکه چې د يو بخيل په دستر خوان باندې يتيم ناست وى .

ستاسې لړ بې زړه توب به ستاسې نوم او نښان ورک کړې ، ستاسې له دښمن سره لښکر او وسله پريمانه او بې شماره ده ، د دښمن سره د سامان ډېرې لارې شته ، پداسې حال کې چې ستاسې سره دا يو هم نشته ، که تاسې له صبر څخه کار وانخست نو ستاسې عزت به د خاورو سره برابر شي ، ستاسې پورته والې به ورک شې ، د خپل عزت او شان ساتنه وکړه او دښمن په ګونډو کړې ، د هغوې څواک تباه او برباد کړې ، زه تاسې له داسې شې څخه نه وېروم چې زه خپله هغې ته نه ورمخامخ کېږم ، زه داسې جګړې او مېدان ته تاسې نه وړاندې کوم چې زه خپله هغې ته نه وړاندې کېږم ، زه ستاسې سره ملګري او يو ځاې يم ، که تاسې له عزم او همت څخه کار واخيست د دي هېواد مال او دولت به ستاسې په قدمونو کې پروت وې ، که تاسې سختې وزغمله د دي هېواد هر شې به ستاسې وې ، امير المؤمنين وليد بن عبدالملک تاسې شازلمې ددې کار لپاره غوره کړې ياستى ، ددې ځاې د بادشاهانو او سردارانو زومان او د حسينو مېرمنو خاوندان به وګرځئ ، که تاسې د دې هېواد لښکر ته ماتې ورکړه نو د الله جل جلاله او رسول الله صلى الله عليه وسلم دينې احکام به عام

ولس په خوښه ومنې ، دا په زړه کې وساتې کوم لورې ته چې زه تاسې ورل غواړم په هغه لورې به زه تر تولو مخکې او وړاندې روان ووم ، په جګړه کې به تر تولو لومړی پورته کېدونکې توره زما وی ، که زه مړ شوم نو تاسې د عقل او پوهې خاوندان یاستی ، بل کوم غازی خپل سپه سالار وټاکې خو د الله تعالی په لاره کې خپل ځانونه د قربانولو څخه مه راګرخوی ، ددې هېواد تر پوره فتح پورې په کراره مه کینی .

## میرنیا

داسې نشول کېدای چې څلور لوې کښتۍ چې اووه زره لښکر سره د آسونو او سامان پکې بار وو سوځې او د هغوی لمبې او دود دې لرې لرې ونه لېدل شي ، د طارق د حکم په بنسټ څلور واړو لویو کښتیو ته اور اچول شوې وو چې سمدستې لمبې او دود ورڅخه پورته شو ، دود او لوګې هم اسمان ته پورته کېدل ، هلته نژدې د کب نیونکو او کښتۍ والانو کلې وو .

د کب نیونکو او کښتۍ والانو په کلې کې یو دم چیغې شوې : هلته وګورۍ ، د کوم سوداګر کښتۍ آور اخیستې دي .

یو بوډا کب نیوونکي وویل : داسې معلومېږي لکه ټول سمندر چې آور اخیستې وي .

یو ځوان کب نیوونکي وویل : ورمنډه کړۍ ، د کوم سوداګر مال سوځي ، مونږ ته به هم څه په لاس راشي ، په منډه ورشی .

د کلې ټول اوسېدونکې نارینه ، ښځې او کوچنیان د ساحل په لورې په منډه شول .

په همدې وخت کې طارق بن زیاد خپلو غازیانو ته وینا کوله ، د کلې اوسېدونکې را ورسېدل او سترګې یې په لښکر ولګېدې ، ټول ځاې پر ځاې ودرېدل ، نور خلک هم ورپسې راورسېدل ، هغوې هم لمبې او لوګې لېدلې وو.

مغیث الرومي د لښکر په هغه اړخ کې ولاړ وو کوم لورې ته چې سیال کوونکې او د کلې خلک راغلې وه ، مغیث سمدستې خپلو سپرو ته حکم وکړ چې سیال کوونکې خلک محاصره او کلا بندکړی ، هیڅ کوچنې ته هم کې ځواني او پیغلې انجونې هم وې ، هغوې له وېرې چیغې او نارې جوړې کړې او په منډه شوې ، کوچنیانو هم چیغې او نارې پیل کړې ، د کلې نرانو راتاو شول ، ټول سیال کوونکې یې یو لورې ته بوتلل ، پدې وخت کې د

طارق خبرې ختمې شوې ، مغيث خپل آس په منډه کړ او د طارق په څنګ کې ودرېده .

طارق بن زياد مغيث ته ووېل : مغيث ! زه پدې پوهېږم چې تا ولې دا خلک راتم کړيدي ؟ که دا خلک بېرته تللي وايي نو اندلسي حکومت ته به زمونږ د راتللو احول مخکې له مخکې رسېدلې وائي ، مونږ هغوی په ناخبرۍ کې نيول غواړو ، دا خلک تر يو وخت پورې همدلته وساتې ، کله چې مونږ مخکې ولاړ و هغوي بيا خوشې کړې ، ګوره مغيث ! د کومې مېرمنې او پيغلې سره بايد هيڅ ډول بد سلوک ونشي .

مغيث ووېل : زه ددې غريبو خلکو له زړونو څخه ويره لرې کوم ، ته نه پوهېږې چې دا د اندلس مظلوم او زورېدلې خلک دي ، زه به د هغوي سره داسې سلوک کوم چې ټول زمونږ ملګري او مرسته کوونکې وګرځي ، زه به د هغوي څخه د اندلسي پوځ په هکله معلومات هم واخلم .

مغيث الرومي د اندلسي ګوت قوم غړی وو ، مور پلار يې يهوديان وه ، هغه څه وخت مخکې اسلام منلی وو ، په هغه کې د يهوديانو خويونه نه وه ، ځکه يهوديان شيطانان ، دسيسه کوونکې او د انسانيت دښمنان وې ، مغيث به همدې خاطر اسلام منلی وو چې د هغه فطرت د يهوديت سره مخالف وو ، هغه د موسی بن نصير د امارت او ولايت څخه مخکې اسلام منلی او په اسلامي غازيانو کې داخل شوی وو ، په مغيث کې د مشرۍ او سردارۍ وړتيا او اهليت موجود وو نو ځکه يې ډېر زر په پوځ او لښکر کې نوم پيدا کړ او په لږه موده کې د جنرالۍ او سالارۍ رتبې ته ورسېده ، په شمالي افريقا کې چې د بربريانو په خلاف کومه آخري او مهمه جګړه وشوه ، په هغې کې مغيث الرومي ډېرې کارنامې سرته ورسولې او تاريخ ددې فتح او برې د وياړ شمله د مغيث الرومي په سر باندې ږدي .

مغيث د سيال کوونکو او لېدونکو غونډۍ ته ورغی نو يو بوډا او کمزورې کښېنتې وان چې لاسونه يې لړځېدل مغيث ته راغی او وې ويل : ای د نوي پوځ سرداره ! تاسې چې هر څه وئ او له هر ځای څخه راغلې وې ، ماته ددې ځواب راکړه چې ايا تاسې هم د غريبو اوبې وځلو ژوند سپک او

بې اهميته بولئ ؟ زه پدي پوهېږم چې تاسې په اوس حکم ورکوی چې نارينه جلا او مېرمنې جلا کړې ، ايا تاسی په مونږ باندي رحم نه کوی ، مونږ خو ددي لپاره راغلې وو چې ستاسې کښتئ او سامانونه له آور څخه خوندي کړو او ستاسې سره مرسته وکړو .

مغيث الرومې ځواب ورکړ : تاسې مه وېرېږئ ! مونږ خپلو کښتيو ته خپله آور اچولې دي .

بوډا کښتې وان وويل : مونږ بايد اوس حتما ستاسې څخه وېره وکړو ، تاسې لاره شکوونکې او داړه ماران ياستئ ، د پرديو خلکو کښتئ مو راوستی او هغې ته مو اور واچولو ، خپلې کښتئ خو څوک نه سوزوی .

مغيث وويل : که تاسې مونږ ته لاره شکوونکې او داړه ماران ووايې خو بيا هم ستاسې هېڅ انجلی او مېرمنې ته به څوک په سپکه سترګه ونه ګوري .

بوډا کښتې وان وويل : زه دا خبره منم ، شايد ستاسې په مونږ رحم راشې ، دلته زمونږ د عزت او حيا لوټوونکې د اندلس پوځ دي ، زمونږ د خپل هېواد پوځيان ، کله چې هغوې دي لورې ته راځې نو زمونږ دوه ، درې پيغلې په زور له ځان سره وړې ، بيا يې وروسته بېرته راخوشې کوی .

مغيث الرومې وويل : اوس ستاسې حيا او عزت خوندي شو .

بوډا وويل : بيا زمونږ شا او خوا ته مو سپاره ولې راتاو کړيدي ؟

مغيث الرومې وويل : ددي لپاره چې تاسې خپل پوځ ته خبر ورنکړې چې دلته له بهر څخه لښکر راغلې دي ، کله چې مونږ مخکې ولاړ شو ، تاسې ټول په خيريت سره خپلو کورونو ته ولاړ شی ، ايا دلته ستاسې د هېواد کوم پوځ نژدي پروت دي .

د هغه بوډا سره نور بوډاګان هم ملګري شول او ودرېدل .

دويم بوډا وويل : ته مونږ ته ددي لښکر سردار معلومېږې ؟ تاسې مونږ ته د خپل عزت او حيا د خونديتوب ضمانت راکړيدي ، ددي په بدل کې مونږ تاسې ته ددي ځاې د پوځ نه د ساتنې او خونديتوب ضمانت درکوو ، ددي ځاې څخه اندلسی پوځ ډېر لرې پروت ندي .

هغه بوډا مغيث الرومي ته د پوځ ټول ځايونه وښودل ، تر ټولو نژدې پوځي کلا شپږ اووه ميله لرې پرته وه ، چې هلته ددې سيمې د ټول پوځ مرکز او قرارګا وه ، پدې سيمه کې چې څومره پوستې وې په هغې کې د اتو زرو څخه تر لس زرو پورې پوځ اوسېده ، ددې پوځ مشر قوماندان او جنران تيوډومير نومېده ، په تاريخ کې دا د يو نامتو او توريالي جنرال په نامه سره ياد شويدي .

د طارق بن زياد دا هيله چې مونږ به دښمن به بې خبرۍ کې راګېر کړو او هغوې ته به څرګنده نشي هسې يوه هيله او ارزو شوه ، هغه وخت چې مغيث رومي کب نيوونکو او کښتې وانانو ته ډاډګېرنه ورکوله چې ستاسې حيا او عزت به خوندي او محفوظ وې په هماغه وخت کې يو پوځې خپل جنرال تيو دومېر ته په حېرانتيا سره ويل چې يو لښکر د ساحل او سمندر په غاړه ښکته شويدي ، دا پوځې په هغه غر باندې ولاړ وو چې دلائنز راک Lines Roak په نامه سره ياديده او همدې ته بيا جبل الطارق نوم کېښودل شو .

پوځې خپل جنرال تيو دومېر ته د معلوماتو ورکولو په وخت کې وويل : ما څلور لوی کښتۍ د سپوسته له لورې را روانې ولېدلې ، د هغې څخه لښکريان ، آسونه او سامانونه راښکته شول او بيا څلور واړو کښتيو ته آور واچول شو .

تيو ډومېر په حېرانتيا سره وويل : آور يې ور واچولو ؟

پوځې وويل : ما پخپلو سترګو کښتۍ ولېدې چې سوځېدلې ! پوځ وو چې شمېری د لس زرو څخه څه کم معلومېږي .

جنرال وويل : که دا پوځ وي نو بيا ډېر خونړی او خطرناک پوځ دی ، دا د لېونيانو لښکر ښکاري ، خپلې کښتې يوازې ليونيان سوزوی .

ددې سره جوخت تيو ډومېر تولو پوستو ته سپاره استازې ددې حکم سره واستول چې ټول پوځيان دې زر تر زره د خپلو وسلو او سامانونو سره زما ځای ته ځانونه را ورسوي ، د هغه سره سمدستې پنځلس زره لښکر برابر شو چې په هغې کې زر سپاره هم وه ، د وسلې او سامان له ارخه دا پوځ هم د طارق له پوځ څخه مخکې او غوره وه ، بله دا چې دا لښکر پخپل هېواد

او خاوره کې وو ، هر وخت ورته مرسته او کومک رسېدلو بله دا چې نيم پکې زغره لرونکې وه .

د طارق بن زياد پوځ اووه زره چې درې سوه پکې سپاره وه ، پدوې کې يو هم زغره نلرله ، هغوې عادي وسله لرله ، تر ټولو لويه ستونزه د دوې دا وه چې په پردۍ خاوره او هېواد کې وه ، هلته چې ځمکه او آسمان يې دښمنان وه ، د هغې خاورې هر بچې د هغوې دښمن وه ، هغوې ته له هېڅ لورې مرسته او کومک نشو راتللې ځکه لاره ډېر لرې او په منځ کې سمندر وو .

څلور کښتۍ لا اوس هم سوځېدلې ، د طارق بن زياد سره د پخواني اندلسي بادشاه وتېزا ورور اوپاس او د سېوسته والي جولين هم ملګري وه ، دواړه د طارق لاره ښودونکې وه کوم چې د اندلس له لوېشتې لوېشتې څخه يې معلومات درلوده ، طارق دواړه ځانته کينولې وه چې ددې څخه مخکې څه څه پراته دي ، کوم ښارونه او کومې کلاګانې دي ، جولين او اوپاس هغه ته ټول معلومات وړاندې کول .

جولين وويل : زمونږ لومړۍ جګړه به د سرحدي او ساحلي ساتوونکو سره راځې ، که دا پوځ مخکې له مخکې سره يو ځاې شو نو زمونږ لپاره ستونزې راپېدا کولاې شې ، ځکه ددې پوځ شمېر زمونږ د لښکر څخه زيات او وسله يې هم ښه ده ، خو که هغوې خبر نشې نو بيا مونږ په اسانۍ سره هره پوسته له منځه وړلاې شو .

تردې وخته پورې غازيانو خپل سامان او وسايل ځاې پر ځاې او خوندي کړې وه ، هغوې نور د پرمختګ او حرکت لپاره تيار او چمتو وه ، طارق بن زياد حکم کړې وو چې دلته د لږ څنډ لپاره پاتې کېږو خيمې لګول اړين ندي .

يو سپور په منډه آس راځغلولو او ځان يې طارق بن زياد ، جولين او اوپاس ته راورسولو ، هغه له آس څخه راټوپ کړل او د هغوې په منځ کې ودرېده .

راتلوونکي سپاره په ورخطائې او بېړه وويل : سمدستي تيار او چمتو شۍ ! اندلسي پوځ زمونږ د راتللو څخه خبر شويدي ، د پوستو ټول پوځيان سره يو ځاې شويدي ، لاره لږ پاتې ده ، هغوې اوس را رسېدونکې دي .

طارق وپوښتل : دا څوک دي ؟

جولين ځواب ورکړ : دا زما سړي دي ، دده نوم هنري دي .
جولين له هنري څخه وپوښتل : ته په څه ډول دلته راورسېدلې ؟
هنري ځواب ورکړ : ما راتلل غوښتل ، کله چې د مسلمانانو آسونه په کښتۍ کې پورته کېدل ، ما د مسلمانانو جامې واغوستې او د آسونو په کښتۍ کې سپور شوم ، کله چې دلته را ورسېدلم ومې لېدل چې ټول په خپل کار باندې بوخت دی ، هغوی دښمن ته هېڅ پام نلرلو چې کومو زمونږ لاره ډپ کولای شوه ، زه پدې سیمه کې پوره بلدتیا لرم نو مخکې روان شوم چې حالات وګورم ، آس مې په یو ځای کې پټ کړ او زه پیاده روان شوم ، ما هماغه پوځ ولېده ، اصلا زه د همدې خبرې لپاره مخکې ولاړم چې ددې ځای پوځ زمونږ له راتللو څخه خبر دي او کنه ؟
طارق بن زیاد خو دومره بې غمه او بې پروا نه وو چې داسې اړینې پېښې ته یې پام نه کولو خو هغه د معلوماتو په راغونډولو باندې بوخت وو ، مغیث چې کوم معلومات له کب نیوونکو او کښتۍ وانانو څخه راټول کړې وو هغه یې طارق ته ورکړ .
طارق بن زیاد له هنري څخه ډېره مننه وکړه او هغه ته یې شاباسې ورکړ ، دا هغه هنري وو چې فلورنډا ورباندې عاشقه وه ، هغه د فلورنډا پسې تر طلېطې پورې تللې وو ، کله چې د اندلسې بادشاه راډرک فلورنډا ته لاس واچولو نو احوال همدې هنري جولین ته راوړ .
مخکې موسی بن نصیر جولین ته ویلې وه چې د خپلې دښمنۍ د ثبوت لپاره د اندلس په کوم کلې او پوسته باندې حمله وکړې او جولین دا شرط ومنلو ، د جولین له لښکر سره فلورنډا هم تلل غوښتل ځکه هغې د خپل عزت او آبرو غچ پخپله اخیستلو ، خو جولین د هغې د خبرې منلو څخه انکار وکړ .
بیا وروسته د طارق بن زیاد لښکر د اندلس په لورې روان شو ، جولین او اوپاس هم ورسره ملګري وه ، فلورنډا پدې پوهېدله چې جولین هغې ته د تللو اجازه نه ورکوي ، هغې هنري ته وویل چې زه د مسلمانانو د لښکر سره تلل غواړم ، هنري هم پدې لښکر کې نه تللو ځکه چې د هغه د مسلمانانو

سره هېڅ اړیکې نه وې ، هغه په یو صورت تللي شو چې د جولین لښکر هم تللي حال دا چې د هغوی پوځ پدې عملیاتو کې برخه نلرله ، د هنرې پلار د سپوسته په پوځ کې د لوې رتبې خاوند وو .

فلورنډا هنرې ته وویل : ماته د مسلمانانو جامې راوړه ! زه هغه اغوندم او په کښتۍ کې سپرېږم ، زه پخپلو لاسونو د راډرک څخه غچ او انتقام اخلم .

هنرې فلورنډا منع کوله خو هغه وار په وار احساساتې کېدله ، هنرې پدې ووېرېدلو چې دا انجلۍ ډېره احساساتې ده او چې څه وایې هغه کوې .

هنرې هغې ته وویل : فلورا ! زه ستا په احساساتو پوهېږم خو ته په یوې خبرې غور نکوې ، ته څرنګه ځانته تسلي او ډاډ ورکوې چې ځان به راډرک ته ورسوې او هغه به پخپل لاس باندې ووژنې ؟

فلورا وویل : زه به د مسلمانو غازیانو په جامو کې ووم .

هنرې وویل : فلورا ! د احساساتو پر ځاې د عقل څخه کار واخله ، ته زخمې کېدلې او وژل کېدلې شې ، خو که ژوندې ونیول شوې نو بیا فکر وکړه چې د راډرک پوځیان به ستا سره څه سلوک کوې ؟ بیا به ته د خپل عزت او آبرو غچ له چا څخه اخلې ؟

پدې خبرو سره فلورا غلې او چوپ شوه لکه چې په خبره یې سر خلاص شوې وې .

فلورا وویل : هنرې ! بیا نو داسې وکړه چې ته خپله ولاړ شه او د راډرک څخه زما غچ او انتقام واخله ځکه زه ستا امانت یم او هغه ستا په امانت کې خیانت وکړ ، زما د روح ، حیا او آبرو خاوند ته ئې ، هغه بدبخت راډرک زما روح هم ناپاک کړیدې ، ووایه هنرې ! ایا زما د سینې آور مړ کولې شې ؟

هنرې وویل : بالکل به همداسې کوم ، زه به ستا د بې عزتۍ غچ او انتقام اخلم .

هنرې د فلورا دواړه لاسونه پخپلو لاسونو کې ونیول لومړې یې ښکل کړل بیا یې په خپله سینې پورې ونیول او وې ویل : ستا په محبت مې دې قسم وې ! راډرک به زه پخپلو لاسونو وژنم !

فلورا ورته وویل : یوه ژمنه راسره وکړه ! د راډرک سر راته راوړه ، زه به د هغه سر لیونیو او کوځه ډبو سپیو ته واچوم .

هنري ځواب ورکړ : بالکل زما وعده ده ، زه به د هغه خبیث سر راوړم .

ښکلې او حسینې فلورا د یو هېواد بادشاه ونه منلو او خپله زړه یې د آسونو د یو پالوونکې زوې هنري ته ورکړ ، هنرې په چل سره په یوه کښتۍ کې سپور شو او اندلس ته ننوتلو ، هغه د مسلمانانو څخه ځان جلا کړ او مخکې ولاړ .

کله چې د مسلمانانو لښکر د اندلس په لورې ولاړ نو فلورا به سهار او ماښام عبادت ځاې ته تلله او هلته به یې تر عبادت وروسته دعا کوله ، یوه دعا یې دا وه چې مسلمانان کامیاب شې او بله دا چې هنري د راډرک سر راوړې .

طارق بن زیاد ددي خبر په اورېدو چې اندلسې پوځ را روان دي سمدستې یې خپل لښکر ته د تیارۍ او جنګې ترتیب حکم ورکړ ، هغه په منډه باندي په جبل الطارق باندي پورته شو ، خپل ښې او چپ لورې یې تر سترګو تېر کړ ، د هغه سره سالار مغیث الرومي او ابو زرعه مالک بن طریف هم ملګري وه ، هغوې د خپلې خوښې مېدان او ډګر د جګړې لپاره لټولو ، هغوې داسې یو ځاې ته اشاره وکړه چې غونډۍ ، ونې او بوټې پکې زیات وه .

طارق بن زیاد خپلو سالارانو ته وویل : ټول سپاره په هغو غونډیو کې ځاې پر ځاې کړی ، د سپرو قوماندان تهووایې چې ټول باید په خپلو اسونو سپاره او اشارې ته سترګې په لاره وی .

طارق بن زیاد خپلو ټولو سالارانو ته ترتیب او تنظیم وښودلو او نورې اړینې لارښوونې یې ورته ورکړې ، بیا له جبل طارق څخه راښکته شو ، کوم کب نیوونکې او کښتې وانان یې چې تر اوسه پورې له تللو څخه منع کړې وه هغوې یې خپلو کورونو ته خوشې خو د راوتلو څخه یې بند کړل .

د غشې وېشتونکو ډلې مشر ته یې ځانګړې لارښوونې وکړې .

پدي وخت کې ورته خبر راغې چې اندلسې پوځ راورسېده ، طارق د خپل ځان سره څو ګروپونه غازیان ملګري کړل او مخکې ورغې ، د هغې لورې

څخه جنرال تيو دومير را وړاندي شو ، د هغه شا او خوا ساتوونکې راتاووه ، چې په غوره او ښه آسونو سپاره وه .

جنرال تيو دومير په لوړ آواز سره وپوښتل : تاسې څوک ياستئ او له کومه راغلې يې ؟ دلته د څه لپاره ښکته شوي ياستئ ؟

طارق وپوښتل : دا څه وايې ؟ هغه ته وويل شول چې داسې داسې وايې .

جولين وويل : طارق ! تاسې ماته د خواب ورکولو اجازه راکړئ زه خواب ورکوم .

جولين خپل اس ور وړاندي کړ او د تيو دومير په خواب کې يې په لوړ آواز سره وويل : ته وايې چې د څه لپاره راغلې يو ؟ مونږ د اندلس لاندي کولو او نيولو لپاره راغلي يو !

جنرال تيو دومير په لوړ آواز وويل : بدبخته ناشکره ! ته خو زمونږ تر لاس لاندي وې اوس څرنګه په مونږ حمله کوې ؟ دا څوک دې د ځان سره راوستې دي ؟ دا خو ستا خپل پوځ ندی .

مخکې دې هم لوټ او تالان کړې وو ، دا ځلې به ژوندي خلاص شې خو بيا هم فکر وکړه او د ځنګلېانو دا لښکر بهرته بوځه ، زما پوځ ته وګوره ، ستاسې سره خو سپاره هم نشته ، زما لښکر ستاسې څخه دوه چنده زيات دي .

طارق بن زياد ته وويل شول چې د جولين او تيو دومير ترمنځ څه ډول خبرې وشوې .

تيو دومېر پدې کبر او غرور کې اخته وو چې د هغه سره دوه چنده په نوې وسله سمبال پوځ دي ، پياده غازيان د الله اکبر په لړځوونکو نارو سره ورمخکې شول ، کبرجن تيو دومېر د خپلو ساتوونکو سره شاته شو ځکه هغه ته د جګړې کولو اړتيا نه وه ، هغه په برې او فتح باندي پوره باورې او داده وو ، بلې خواته طارق بن زياد د خپلو غازيانو په سر کې روان وو ، تيو دومير خپل يو زر سپاره د پياده لښکر شاته ودرولې وه .

دواړه ګروپونه يو د بل سره ټکر شول ، غازيان پدې ښه پوهېدل چې دا د هغوې لپاره د مرګ او ژوند جګړه ده ځکه د بهرته تللو هيڅ لاره نه وه ، کښتئ سوځولې شوي وې ، د هغوې مشر سالار پخپلو خبرو سره په غازيانو کې نوې روح او نوې جذبه او ولولې راپېدا کړې وې .

طارق بن زیاد پخپلو څو ګروپونو سره پر دښمن باندي سخته حمله وکړه ، لږ خند وروسته طارق بن زیاد او د هغه ملګري سالاران کراره کراره مخ په شا کېدل .

د جګړې په ګرمه لوبه کې د تیو دومیر آواز او چیغې پورته شوې : هغوي درڅخه ژوندي ولاړ نشې ، دوې تېښته کوي ، درڅخه خلاص نشې ، هر یو یې ووژنی ، د هغوې تر شا راتاوْ شې او لاره پرې بنده کړی .

ددې چیغو څخه وروسته طارق بن زیاد خپل غازیان نور هم شاته کړل او دښمن په بېړه د هغوې پسې را روان وو ، طارق بن زیاد خپل لښکر په درې برخو ووېشلې وو ، منځنۍ برخه یې پخپل لاس کې نیولې وه او د همدې برخې پوسیله هغه حمله کړې او همدا برخه یې راشاته کوله ، پښا تلل ډېر تېز او بېړنې وه ، چیغې او نارې بندې شوې ، غازیان تر هغې پورې پښا راتلل ترڅو ونو ، غونډیو او بوټو ته را ورسېدل .

کله چې اندلسې پوځیان ونو او غونډو ته را ورسېدل ، غشې وېشتونکې غازیان چې په ونو او غونډیو کې پټ ناست وه او له هرې خوا یې پر دښمن باندې د غشو باران پیل کړ ، اندلسې پیاده او سپاره دواړه یې راګېر کړل او په ډېره چالاکۍ یې غشې پرې ورول ، هېڅ غشې خوشې نه تللو ، بلکه دا چې فاصله کمه وه نو غشو پوره خوراک کولو .

د طارق د پښا راتللو هدف او مقصد هم همدا وو چې دښمن د غشو وېشتونکو په جال کې راګېر کړي او د هغه دا جنګي چل کامیاب او بریالي شو .

طارق بن زیاد حکم وکړ: د دښمن آسونه مه په نښه کوی ، مونږ آسونو ته اړتیا لرو ، خو د دښمن یو سپور هم باید ژوندي ولاړ نشې ، دا حکم په ډېر لوړ آواز سره اعلان شو .

جنرال تیو دومېر د خپلو پیاده او سپرو پوځیانو زورونکې پاتې لېدله ، د هغه سره نور زیات پوځ هم وه ، د غازیانو دوه برخې ښۍ او چپ هم لا هماغسې چمتو او تیار ولاړ وه ، تیو دومیر په یو ځل په دواړو برخو باندې د حملې او برید حکم ورکړ ، د طارق بن زیاد د پخوانۍ لارښوونې سره سم

ښي او چپ لښکر نور هم پسې خپور او پراخه شو ترڅو د دښمن پوځ خپور او یو له بل څخه لرې شي .

بربري غازیان ډېر تورزن ، مېړني او جګړه مار خلک وه ، وژل ، مړه کېدل د هغوي د ژوندانه لوبه وه ، اسلام په هغوي کې نوې احساسات او ولولې راپیدا کړي او یو لوړ مقصد او هدف یې هم ورته په ګوته کړ ، اوس نو هغوي په یو نوي شکل او صورت سره جنګېدل .

مخکې بربریان د خپلو قامونو او قبیلو په نامه سره جنګېدل .

عیسایي تاریخونو هم لیکلي دي چې په اندلسي پوځ کې هغه ولوله نه وه کومه چې په مسلمانانو کې وه ، د اندلس پوځیان د حکومت مامورین وه چې د تنخوا لپاره جنګېدل او د همدې تنخوا لپاره یې ژوندي پاتې کېدل هم غوښتل ، مشر پادري او مذهبي مشر هم د بادشاهی کورنۍ د غړو پشان په عیش او عشرت ، مزو او چړچو کې ژوند کاوه .

په اندلس کې یهودیان هم اوسېدل خو عیسایانو هغوي خپل غلامان او لاس لاندې خلک بلل ، د یهودي پیغلو حیا او عزت خوندي نه وو ، کله به چې په یهودیانو کې کومه ښکلې او حسینه پیغله ولېدل شوه د عیسایي پادریانو په اشاره به هغه کلیسا ته وقف کېدله ، هغوي به دا پلمه کوله چې ددې څخه راهبه یعنې نن جوړ وو حال دا چې پادریانو به د هغې څخه خپله وینځه جوړوله .

د پورته او لوړو طبقو خویونو او اخلاقو په پوځ کې هم اغېزه کړې وه ، کب نیونکو او کښتي وانانو مغیث الرومي ته ویلي وه چې ددې هېواد پوځیان چې کله حسینه او خوانه انجلۍ وګورې نو په زور یې له ځان سره روانه وي .

مسلمانو غازیانو په خپل همت او عزم سره د اندلسي پوځ دره اړخېزه حمله راتم او منع کړه ، هغوي په شمېر کې کم وه خو ولولې او احساسات یې ډېر لوړ او قوي وه ، جنرال تیو دومېر فکر کاوه چې په خپل لوي لښکر به دا لږ شمېر مسلمانان ختم او له منځه یوسي ، په همدې حالت کې په هغه باندې د شا له لورې قیامت راغې څکه چې ددې لپاره طارق بن زیاد

مخکې له مخکې څخه پلان جوړ کړې وه ، طارق خپل سپاره غازیان د غونډیو شاته په ونو او بوټو کې پټ ودرولي وه ، هغه دښمن داسې د خان پسې راوست چې د سپرو حملې ته يې برابر کړ ، هغه خپلو ځينو پياده او سپرو ګروپونو ته حکم وکړ چې د غونډیو تر شا راتاو شي او د شا لخوا څخه په اندلسي پوځ باندې قیامت جوړ کړي .

د جنرال تيو ډومير لپاره دا برید او حمله ناڅاپي او د پلان سره سمه نه وه ، هغه فکر کاوه چې د لښکر شا خوندي ده نو ځکه يې د هغې د ساتلو لپاره هېڅ هم نه وه کړې ، غازیانو چې د شا له لورې برید وکړ د هغې مشري خپله طارق بن زیاد کوله ، د طارق دوه وتلي او تکړه سالاران مغيث الرومي او ابو زرعه مالک بن طريف مخامخ د تيو ډومير سره په جګړه اخته وه او د طارق د حملې لپاره سترګې په لار وه .

طارق بن زیاد د درې سوه سپرو او دوه زره پياده غازيانو سره د شا له لورې په اندلسي پوځ باندې لکه د وږو زمريانو پشان راپرېوتل ، مخکې لدې چې جنرال تيو ډومير ته څرګنده شي چې د هغه په لښکر باندې د شا له خوا څه قيامت او طوفان راغلې دي د هغه نژدې دوه زره پوځيان په خمکه راپرېوتل ، کوم چې زخمیان وه هغوی داسې چيغې او نارې پيل کړې چې په ټول پوځ کې يې ويره او ډار پيدا کړ .

ددې ناڅاپي برید په پايله کې په اندلسي پوځ کې ګډوډي او بې نظمي راپيدا شوه ، د مخکني پلان سره سم مغيث الرومي او مالک بن طريف د خپلو ټولو غازيانو سره مخامخ په اندلسي پوځ باندې سخت برید وکړ ، د اندلسي آسونو د خپل پوځ لپاره ستونزې راپیدا کړې ځکه چې هغوی زيات سرسرې زخميان شوي وه او هرې خواته بې کنټروله ګرځېدل ، سپاره خو په غشو وېشتل کېدل نو آسونه همداسې بې سپرو او هرې خواته ځغلېدل او خپل پوځيان يې تر پښو لاندې کول .

غشي وېشتونکي غازيان به د يوې ونې څخه بلې ونې ته ختل او غشي به يې وېشتل ، هغوی په اندلسي پوځيانو باندې سم قيامت جوړ کړی وه .

جنرال تيو دومير پدي ګډوډۍ او بې نظمۍ کې د خپل پاتې لښکر سره پښا تللو خکه د هغه لښکر نور د نظم او ترتيب څخه وتلې وو ، د هغه خبرې او حکمونه چا نه اورېدل ، د هغه پوځيان يو يو پخپل سر تېښته کوله ، نيمايې پوځ يې ختم شوې وو ، کوم به چې زخمي شو هغه به د خپلو ملګرو تر پښو لاندي دل شو .

جولين يو دم آواز وکړ : مغيث ! څو شازلميان غوره کړه چې جنرال تيو دومير ژوندي ونيسي .

مغيث خواب ورکړ : زه د جګړې حالات ګورم ، پدي وخت کې هغه ته خان رسول امکان نه لري .

اوپاس وويل : پنځه شپږ بربريان ماته راکړه .

مغيث الرومي وويل: زه د خپلو ساتوونکو څخه څلور ، پنځه غازيان درکوم .

د وتېزا ورور اوپاس د خان سره څلور بربري سپاره غازيان ملګري کړل او د جنرال تيو دومېر پسې په منډه شو .

جنرال ته خپل مرستيال وويل : او تيو دومير ! آيا ته دښمن ته پخپل لاس خان تسليموې چې ودي وژني ؟ ستا سره نور څه پاتې دي ، پښې سپکې کړه .

جنرال خپل مرستيال ته وويل : ته ماته اوس ددي سلا راکوې چې له مېدان څخه تېښته وکړم ؟

مرستيال يې ورته وويل : بېرغ راټول کړه نيم پوځ تباه شوې او ټول تښتې ، نور څه کوې .

جنرال تيو دومېر دا ټول حالات ولېدل ، هغه د غازيانو قهر او غضب هم لېدلو ، هغوې د خپل خان څخه په دوه چنده لښکر باندي ويره او ډار کېښولې او بيا يې د هغوې ختمول پيل کړې وه ، خپله په جنرال تيو دومير باندي هم ويره او ډار راغلې ، د هغه لپاره د خلاصون يواځنۍ لاره دا وه چې تېښته وکړي ، هغه دا سپکاوې هم ومنلو او خپل بېرغ نيوونکي ته يې حکم وکړ چې بېرغ راټول او ښکته يې کړې خکه چې لوړ او پورته بېرغ د هغه ځاې څرګندولو .

کله چې د جنرال بهرغ ښکته شو نو ټول پوځ همت او حوصله له لاسه ورکړه ، لږ څنډ وروسته په میدان کې یوازې مړي او زخمیان پاتې شول نور ټول وتښتېدل ، زخمیانو د پورته کېدو کوښښ کولو او څانونه یوې او بلې خواته څښول ، د اندلسي پوځیانو آسونه بې پروا یوې او بلې خواته ګرځېدل او خپل واښه یې خوړل .

طارق بن زیاد حکم وکړ : آسونه راونیسی او د غنیمت مال راټول کړې .

د اندلس نامتو جنرال تیو ډومیر په تېښته کې کامیاب شو .

***

څو ورځې وروسته د اندلس بادشاه راډرک د خپل نامتو جنرال تیو ډومیر پیغام لوستلو چې د قهر او غصې څخه تک شین او تور اوښتلو ، بادشاه راډرک پدې ورځو کې د خپل پایتخت طلیطې څخه لرې وو .

هغه د خپلې پلازمینې څخه د څو ورځو په واټن لرې د پمپلونه په ښار ګوټې کې وو ، هلته د المانی خلک اوسېدل ، هغوې د اندلس په خلکو کې اثر او رسوخ پیدا کړ او بیا یې د هغوې په مرسته د حکومت څخه بغاوت او سر غړاوې وکړ چې بغاوت ډېر قوې او خواکمن وو .

تاریخونو لیکلې دي چې راډرک ډېر عیاش او عشرت کوونکې بادشاه خو د باغیانو او دښمنانو لپاره لکه د تندر په شان وو ، هغه د خپل واک او بادشاهی په لمنی باندې داغ منلې نشو ، د سر غړونکو او باغیانو لپاره د مرګ پرښته وه ، کله چې هغه ته په پمپلونه کې د سرغړاوې او بغاوت خبر ورکړل شو نو د بل مشر د استولو پر ځاې خپله د پوځ سره د باغیانو مقابلې ته روان شو .

باغیانو مقاومت او مقابله وکړه خو د راډرک خواک ته ټینګ نشول ، راډرک باغیان تېښتې ته پرېنښودل او د هغوې مشر او سردار یې ژوندي ونیوه چې د اندلس اوسېدونکې نه وو .

نور باغیان چې ژوندي پاتې وه هغه یې هم ونیول ، نه یوازې دا چې په باغیانو باندې قیامت راغې بلکې د هغوې په کورنیو باندې هم قهر او غضب راښکته شو ، باغیانو ته خو داسې جزا ورکول کېده چې د ژوند

ورتيا يې له لاسه ورکوله خو مړه کېدل هم نه ، رادرک هغوې وهل او ټکول خو زر يې نه مړه کول .

کله به چې هغوې بې سده او بې هوشه شول نو په يو پراخه مېدان کې به يې وغورځول او بيا به يې ولسي خلک هلته راټول او يو اعلان کوونکې به په لوړ آواز سره وويل :

دا باغيان دي ، دا خائنان دي ، دوې د اندلس د امپراطور له قهر څخه بې خبره وه ، هره ورځ راشی او د دوې حال وګوری ، د امپراطور له قهر څخه ووېرېږی ، دا باغيان دي ، دا خائنان دي .

ددي باغيانو د مېرمنو او ښځو سره ډېر بد او ناروا سلوک کېدلو ، د شپې به يې هغوې لوڅې لغړې کړې او د بادشاه په وړاندي به يې په نڅا کولو باندي اړ کولې ، د هغې سره سره به يې په درو او کوټکونو وهلې ، دا عمومي دربار وو چې پوځې او اداري چارواکې به هلته ناست وه .

دي خلکو به د باغيانو د مېرمنو او لورګانو ته به يو څه بل څه ويل او بيا به بې کړس کړس خندل ، په آخر کې به يې شرابونه وڅښل چې کله به نېشه او مست شول نو همدا مېرمنې او نجونی به يې له ځانونه سره کش کړې .

يو اروپايي تاريخ ليکوونکي ايلمکار د يوې نوې ښځې انجلې اېستوريا يادونه کړېده ، وايي چې د هغې عمر د څوارلسو پنځلسو کالونو په منځ کې وو ، هغه د سر غړونکو سردار لور وه ، رادرک دا نوې ښځله د ځان لپاره غوره کړه او د هغې سره به يې د ځنګليانو پشان سلوک کولو ، په پمپلونه کې چې په کوم کور کې اېستوريا ساتل شوې وه د هغې چېغې به خلکو هر وخت اورېدلې .

د ماښام څخه وروسته وخت وو ، پدي شپه هم د عمومي دربار غونډه جوړه وه ، نوې ښځله اېستوريا رادرک پخپله غېږ کې کېنولې وه او نوری د باغيانو مېرمنې او لورګانی په لوڅ او لغړ شکل سره نخيدلی ، شراب د اوبو په شان استعمالېدل ، په همدي حالت کې رادرک ته خبر ورکړل شو چې د طليطې څخه د جنرال تيو دومېر استازې راغلې او ستاسې سره سمدستي لېدل غواړې .

د راډرک په اشاره استازې دربار ته راوغوښتل شو او مخامخ بادشاه ته ودرېده ، هغه ليکلې شوې پېغام بادشاه ته ورکړ ، راډرک پېغام خپل يو سلا کار ته ورکړ چې ده ته يې ولولي ، هغه لاسونه وېږ کول نو په دربار کې پوره چپوالې خپور شو لکه چې هېڅوک هم نه وي ، پېغام داسې وو :

" د اندلس امپراطور ته سلام او آداب ! د امپراطور غلام د خپل هېواد او بادشاه د حيثيت او ساتنې لپاره هر ډول جګړې کړيدي او بې غيرتي يې نده قبوله کړې ، هر چېرې چې باغيانو سرونه راپورته کړې هلته د امپراطور غلام د مرګ پرښته له ځان ځخه جوړه کړې او هلته ورپسې ورغلې او باغيان يې په سزا رسولې دي ، څوک خودي وايي چې جنرال په کوم مېدان کې ماتې خوړلې ده ، خو دا د پيريانو او ديوانو لښکر وو چې زما نيمايې پوځ يې ختم کړ او پاتې لښکر مېدان خوشې او تېښته يې وکړه .

راډرک اېستوريا د غېږې ځخه لرې وغورځوله او سلا کار ته يې ووېل : ايا ته پېغام سم لولې ؟

- نيمايې پوځ ختم شو او پاتې برخې تېښته وکړه ؟

څه وايې ، پيريان او ديوان وه ؟ زر زر ټول پېغام ولوله .

سلا کار پاتې پېغام بيا پيل کړ : هغوې په څلورو کښتيو کې راغلل ، له هغې ځخه راښکته شول او بيا يې خپلو کښتيو ته آور واچولو ، ماته سمدستي احوال راورسېده ، ما خپل ټول پوځ له ځان سره ملګري کړ ، د هغوې شمېر زما له پوځ ځخه نيمايې وو ، ما ټول ختمول غوښتل خو هغوې پداسې ډول وجنګېدل چې زما په لښکر وېره او ډار سپور شو ، د ونو او ډبرو ځخه غشې راتلل او هېڅ غشې هسې نه تللو .

لومړې د هغوې هېڅ سپور نه لېدل کېده خو زما تر شا له نا څرګند ځاې ځخه سپاره راووتل ، هغې سپرو زمونږ په پوځ باندې د شا له لورې داسې بريد وکړ چې مونږ يې ځان سمبالولو ته هم پرېنښودو " .

" څرګنده نشوه چې دا څوک دي ، نه دا څرګنده شوه چې له کومه راغلې دي ، له هر ځاې چې راغلې وي او هر څوک وي ډېر خونړي انسانان دي ، کېداې شي دا د شوک مارانو لښکر وي او د چور تالان ځخه وروسته بېرته

ولاړ شي خو د هغوي ختمول همدلته اړين دي ، زما پوځ پنځلس زره وو حال دا چې د هغوي شمېر زمونږ په نيمايي وو ، اوس زه ددي څخه زيات پوځ ته اړتيا لرم ، تر ټولو مهمه خبره دا ده چې زمونږ تر لاس لاندي د سېوسته والي جولين او د پخواني بادشاه ورور اوپاس هم ددي حېرانوونکي لښکر سره ملګري دي " .

رادرک په حېرانتيا سره وويل : " جولين او اوپاس ! هغوی مرګ دي لوري ته راوستي دي ، زه اوس په خبره پوه شوم .

رادرک پاڅيدلو يوې او بلې خواته درانه ګامونه پورته کول او ويل يې : جنرال تيو ډومير بې ٬ ړه وختلو ، زه به هغه ژوندي نه پرېږدم ، هغه دا هم ونه لېدل چې دا څوک دي ؟

جولين او اوپاس زما څخه غچ او انتقام اخلي ، هغوي به د خپل پوځ سره بربري پوځ هم راوستي وي ، زه اوس کوم جنرال ته پوځ نه ورکوم ، بايد خپله ولاړ شم ، د جولين لور فلورنډا به خپلې ماڼۍ ته راولم ، هغې بدبختانو ته دا څرګنده نده چې زه سر غړونکو او باغيانو ته څه ډول جزا ورکوم " .

رادرک د څو شيبو لپاره چوپ او غلي شو ، بيا يې د سر غړونکو لوڅو او لغړو مېرمنو ته وکتل .

سبا سهار دا ټول په مېدان کې راټول کړئ او بيا آسونه پرې وځغلوې .

ټول د آسونو تر پښو لاندي دل کړې ، يوازې ځواني پېغلې وساتې ، دا انجلۍ ابستوريا ددي ځاى لوې پادرې ته وسپارى .

ټولو مېرمنو په چيغو او نارو پيل وکړ ، څو مېرمنې د رادرک په پښو کې ولوېدي ، يوې وويل : تاسې مونږ ته ډېرې سزاګانې راکړې ، اوس مونږ وينيى ، همدومره بس دى .

يوې ځوانې پېغلې په ژړا سره وويل : تاسې زما د پلار د ګناه سزا ولې ماته راکوى ، ما ته خو دا هېڅ څرګنده نه ده چې زما پلار څه کوې .

يوې بلې مېرمنې وويل : ما د آسونو تر پښو لاندي کړه خو زما ورود راخوشې کړه ، رادرک دا ټول په کوتکو ووهلې او له مخې څخه يې وشړلې .

نوې پېغلې اېستوریا په لوړ آواز سره وویل : نور ظلم هم وکړه د اندلس بادشاه ! زمونږ په خلکو آسونه وځغلوه ، د یوې مظلومې پېغلې ښیرا واوره ، ستا په بادشاهی باندي به هم آسونه وځغلول شي ، ستا نوم او نښان به ورک شي ، ستا او ستا د باچاهۍ ورځې کمې او لږ پاتې دي .

راډرک په خوښۍ سره وویل : شاباس ! زه ستا د زړورتیا ستاینه کوم ، ته د دومره لوی هېواد له بادشاه څخه ونه وېرېدې ، دلته راشه انجلۍ ! زه تاته انعام درکوم .

اېستوریا د هغه په وړاندي ودرېده .

راډرک وویل : مخ د ټولو خلکو په لورې کړه ، وګورۍ دا څومره زړوره پېغله ده .

اېستوریا د راډرک په لورې شا او خلکو ته یې مخ کړ ، درباریانو هغې ته کتل ، د راډرک توره د څوکۍ په خوا کې اېښې وه ، هغه په یو ترپ توره د تیکي څخه راووېستله او د شا له لورې یې د انجلۍ په غاړه باندي پوره ګذار وکړ ، د انجلۍ سر له تنې څخه جلا لرې پریوت او تنه د څه وخت لپاره ورپېدله او بیا سړه او بې حرکته شوه .

سبا سهار ټول سرغړونکې لوی مېدان ته راوستل شول او په یو ځای کې ودرول شول ، یو لورې ته پنځوس ، شپېته آس سپاره ولاړ وه ، د اشارې په کولو سره آسونه د سرغړونکو په لورې په منډه شول ، باغیان یوې او بلې خواته تښتېدل خو سپرو هغوی هرې خواته د آسونو تر پښو لاندي کول تردې چې ټول ووژلی شوی .

***

د شمالي افریقا او مصر په دار الامارت قېروان کې موسی بن نصیر د مصر او افریقا والي د طارق بن زیاد پېغام لوستلو او خپلو ملګرو ته یې اورولو :

" الحمد لله ! مونږ د خپل شمېر څخه په دوه چنده دښمن باندي خپله لومړنۍ فتح ترلاسه کړه ، زمونږ د درې سوه سپرو په وړاندي د دښمن زر سپاره ولاړ وه ، د اندلس د هر پوځې په سر د اوسپنې خولۍ وه .

د هغوي وسله زمونږ له وسلې څخه غوره او نوې وه ، الله تعالی مونږ ته د فتح ګټلو طریقې او لارې چارې وښودلې ، مونږ له الله تعالی څخه روښنايي ترلاسه کوله ، غشي وېشتونکې مو په ونو او سپاره مو د غونډيو تر شا پټ کړل ، دښمن مو د په شا تګ په پلمه په ځان پسې تر هغه ځاې پورې راوست چېرې چې مونږ غشي وېشتونکې کینولې وه ، چې کله په هغوي اوس د غشو باران پیل شو او هغوي دې لورې ته پام وګرځولو نو د شا له لورې مو پرې د سپرو او پیاده غازیانو پوسیله سخته حمله وکړه .

پدې توګه اووه زره غازیان په پنځلس زره کفارو باندې غالب او برلاسې شول .

زه چې دا پیغام لیکم او څه ګورم هغه ستاسې د لېدلو وړ هم دي او د امیر المؤمنین د لېدلو وړتیا هم لرې ، د دښمن مړې مو دومره زیات په کندو کې پټ کړل خو اوس هېڅ ځاې نشته نو د اړتیا له مخې هغوي اوبو ته غورځوو ، تر اوسه پورې شپږ سوه ژوندي آسونه او د وسلو انبارونه او ګودامونه په لاس راغلې دي .

اوس نور زیات کومک ته اړتیا ده ځکه چې د اندلس پوځ ډېر زیات دي ، مخکې کلا بند ښارونه دي ، زه د کومک لپاره سترګې په لار یم او مخکې به حرکت کوو ، تاسې زمونږ د فتح او برې لپاره دعاګانې کوې ، که مونږ ماتې وخوړه نو هلته نه درځو ځکه چې زمونږ سره د بېرته تللو هیڅ شی هم نشته ، په کومو څلورو کښتیو کې چې راغلې وو هغه مو وسوځولې .

موسی بن نصیر سمدستې د ولید بن عبدالملک په نامه پیغام ولیکلو او د نور زیات کومک او مرستې غوښتنه یې وکړه ، هغه ته یې د طارق بن زیاد د لومړی فتح او برې پوره او مکمل معلومات وړاندې کړ .

له پمپلونه څخه راډرک دا اعلان وکړ چې تر طلېطې پورې ټول ولس خبر کړی چې په اندلس باندې یو ناڅرګند قوم حمله او برید کړې او هغوې دومره خونړې لښکر دي چې زمونږ دوه چنده پوځ یې نیم ختم او نیم یې تېښتې ته اړ کړې .

راډرک خپلو چارواکو ته حکم وکړ چې ولسې خلک لدې لښکر څخه ووېروې چې هغوي د شوک مارانو ډله ده چې مالونه ، مېرمنې او پېغلې له

ځان سره تېښتوي ، کورونو او فصلونو ته اور اچوي ، حکومتي چارواکو هر لوري ته سپاره استازي وځغلول چې په هر کلي او ښار کې اعلانونه وکړي ، په هر کلي او کلیسا کې دا ډول اعلانونه پیل شول :

• د نامعلوم هېواد څخه د سمندر له لاري د لاره شکوونکو او ډاره مارانو يو لوي لښکر زمونږ ګران هېواد ته راننوتي دي ، هغوي زمونږ يو لوي لښکر تباه او برباد کړيدي ، د طوفان او سيلاب په شان مخکې را روان دي ، د هغوي هر سري د خلکو کورونو ته ننوځي ، قيمتي شيان ، کاڼي ، نقديات ، انجونی او مېرمني له ځان سره اخلي ، وژل او اور اچول يې دنده ده ، عبادت ځايونه هم تباه کوي ، بې ګناه کوچنيان د نېزو په څوکو پورته کوي او پدي باندي خاندي او نڅا کوي .

د اندلس امپراطور ددي وحشي او ځنګلي قوم د تباه او بربادولو لپاره د خپل وياړلي او باتور پوځ سره هغي لوري ته روان دي ، امپراطور حکم کړيدي هر څوک چې توره چلول ، غشي وېشتل او نېزي استعمال ياد ولري بايد په پوځ او لښکر کې شامل شي او دوي ته به تنخواه ورکول کېږي .

د ډاره مارانو له لښکر څخه يې چې څه ونيول هغه به هم ددوی خپل وي ، ددي کار لوي ګټه به دا وي چې ستاسي ځانونه ، مالونه ، کورونه ، حيا ، عزت به خوندي وي .

تيار او چمتو شی ، وسلي او آسونه برابر کړی ، خپل مال او دولت ، کور او کورنی د لوټ او تالان څخه خوندي کړی ، که داسي نشي کولاي نو بيا خپل مالونه او مېرمني د ځان سره واخلی او ځنګلونو ته وتښتی .

هلته د کمزورو او بې غېرته ځارويو او ځناورو په شان شپې ورځي تېري کړي ، چې کله بېرته راشی نو د خپلو کورونو کنډوالي به وګوری • .

ځوانان او بوډګان په احساساتو او ولولو سره د جګړي لپاره تيارېدل ، هغوي ته ويل شوي وه چې امپراطور د فلانی لاری څخه له پمپلونه څخه طلېطلي ته را روان دي ، په پوځ کې داخلېدونکی خلک دي په لاره کې د لښکر لپاره ولاړ وی .

د يهودانو عبادت ځايونو کې دا اعلانونه ونشول ، د هغوی شمېر زيات نه وو ، مخکې وويل شول چې په اندلس کې يهوديان تر ټولو کمزوري او مظلوم وه خو صنعت ، تجارت او کاروبار د يهوديانو په لاس کې وو خو روپۍ او نقدي د هغوی سره نه وې ځکه چې د هغوی څخه زيات ماليات او ټېکس اخيستل کېده ، د هغوی سره به ډېر لږ نقده پاتې کېده ، يهوديان خلکو خپل غلامان او نوکران بلل .

کله چې د اندلس تاج او تخت وټېزا ته په لاس ورغې نو هغه يهوديان د عېسايانو سره برابر کړل ، ماليات او ټېکس يې پرې کم کړ .

د يهوديانو حسينې او ښکلې پېغلې په زور سره کلېساګانو ته مخه ونيولی شوه .

وټېزا نه يوازې دا چې د يهوديانو ژوند يې بدل کړ بلکې د ټول ولس په ژوند کې يې بدلون راوست او هغوی ته يې لوړتيا وروبښله ، همدا خبره د هغه لپاره د ختمېدو سبب شوه ، راډرک چې د لښکرو عمومي قوماندان وه د هغه په مقابل کې يې بغاوت وکړ او خپل ځان يې بادشاه وګرځولو ، کله چې راډرک تاج په سر کېښودلو نو وټېزا يې ووژلو او اعدام يې کړ .

اوس چې په کلو ، کلېساګانو او عبادت ځايونو کې دا اعلانونه کېدل چې د بهرني لښکر په مقابل کې دي د جګړې لپاره په خپل پوځ کې داخل شي نو د يهوديانو په عبادت ځايونو کې بل ډول خبرې ، سلا مشورې او ګنګوسې پيل شو .

يوه ورځ د يهوديانو پنځه ، شپږ مشران په يو عبادت ځای کې ددې سلا مشورې لپاره سره راټول شول چې يهوديان په پوځ کې له داخلېدو او مالی مرستې د کولو څخه منع کړی .

د يهوديانو يو دينی مشر وويل : يوازې د راډرک سره په پوځ کې د داخلېدلو ستونزه نده ، بلکې مونږ بايد پدې غور او فکر وکړو چې هغه ته په څه توګه زيان او تاوان ورسوو .

دويم مشر وويل : په پوځ کې خو پخوانې يهوديان شته ! هغوی به څه ډول له پوځ څخه راوباسو ، پدې هم غور پکار دې .

یو بل مشر وویل : زه په بل شي باندي فکر کوم ، پخواني خلک هماغسې په پوځ کې باید پرېښودل شي خو د هغوی ځخه د راډرک په خلاف کار واخیستل شي .

یو مشر وپوښتل : ایا دا څرګنده شوې چې برید کوونکي څوک دي ؟

بل مشر ځواب ورکړ : دا لا تر اوسه پورې هېڅ‌چا ته هم څرګنده نده .

مخکني مشر وویل : که دا څرګنده شي نو زه د هغوی له مشر سره ګورم او بیا بنه پلان جوړوم .

د پیل څخه یهودیانو په دسېسو او پلان جوړولو کې لوی لاس درلوده ، د ځمکې لاندي څخه وار کول داسې یو کمال وو چې په نورو قومونو کې د دوی پشان مهارت نه وو ، هغه مذهبي مشرانو بالاخره داسې پریکړه وکړه چې ټولو یهودي کورونيو ته خبر ورکړل شي چې هېڅ یهودي باید د راډرک سره په پوځ کې داخل نشي او نه ورسره مرسته وکړي .

***

مېرنیا د پاخه عمر مېرمن وه چې ځواني یې ختمه شوې وه خو اوس هم د هغې لوړه ونه او د څېرې ښکلا ، راښکون او په زړه پورې والي درلوده ، د هغې د سترګو جادو اوس هم په لېدونکي باندي جادو کولو ، هغه کومه عادي او بې نومه مېرمن نه وه ، بلکې د بادشاهی مانۍ په مهمو مېرمنو او ملکو کې شمارل کېده ، هغه د راډرک مېرمن نه بلکې ملګري وه ، دا یوازې ښځه وه چې د پاخه عمر سره سره په بادشاهی مانۍ کې لا اوسېدله .

د بادشاه هره ملګري به تر درې کلنو پورې په مانۍ کې ساتل کېده او بیا به لرې کېدله ، دا ډول مېرمنې بیا د انعام په توګه پوځي مشرانو ته سپارل کېدلې.

مېرنیا یهودنه چې له یو لوریی هغه ښکلې او حسینه له بل لوری یهودي شیطاني ذهن او فکر هم ملګري وو ، د همدي خصوصیاتو او ځانګړتیاو په لرلو سره هغې په مانۍ کې ځانته لوړه رتبه او ځای ترلاسه کړی وو ، هغه د بادشاهی حرم ملکه ګرځېدلې وه ، د هغې په خوله او سترګو کې جادو وو چې د راډرک په شان ظالم انسان هم ورڅخه خوندي پاتې نه وو .

په هغه وخت کې د اندلس پلازمېنه د طلیطې [تولیدو]ښار وو چې د هغې سره نژدې په یو نیم میل واټن کې یو لوی حوض او ډنډ وو چې شا او خوا یې ښکلې بوټې او ونې راتاو شوې وې.

ددې سره په خوا کې یوه ښاپسته او ښکلې غونډۍ هم وه، دې لورې ته هېڅ نارینه نشول کولای چې راشي ځکه چې هلته د پادشاهی حرم مېرمنې او انجونې به هر ماښام نه وراندې راتللې او هلته به یې لمبل، یو په بلې به یې اوبه شېندلې او د یوې بلې پسې به یې منډې وهلې، او پخپلو کې به یې لوبې، خنداګانې او خر مستۍ کولې یو ماښام نژدې شل، دیرش مېرمنې هلته راغلې او په اوبو کې د هیلیو پشان ور ولوېدلې او هلته یې یو له بلې سره لوبې کولی.

دا لوبه هر ماښام څخه وړاندې کېدله او ددې ټولو څارنه او سرپرستې مېرنیا ته سپارل شوې وه، پدې ماښام هم مېرنیا ددې ځاې د لوبه کوونکو مېرمنو څارنه کوله.

د حوض څخه لرې یو نارینه ولېدل شو چې د حوض او ډنډ په لورې را روان وه نو اشاره یې ورته وکړه چې نور مخکې ولاړ نشي ځکه چې هلته د نرانو تلل منع وه، خو هغه سرې هېڅ پروا ونکړه او همداسې مخکې روان وه، بګی چلوونکې ورپسې شول نو هغه لاره بدله کړه خو مخ یې د ډنډ په لورې وو.

تر هغې چې بګی وانان ورسېدل هغه د ډنډ څنډې ته رسېدلې وو.، هغوې ورمنډه کړه او کلک یې راونیولو، هغه پخپل سر او مخ باندې څادر اچولې او ځان یې پټ کړې وو، یوازې سترګې یې خلاصې وې، هغه اوږده چپن اغوستې وه چې تر پښو پورې رسېدله، کله چې بګی وانانو راونیولو نو هغې چیغې او نارې کړې په ډنډ او تالاب کې لمبدونکو مېرمنو زوروونکې او خطرناکې چیغې واورېدلې، خو بیا هم هغوې ورته پام ونه ګرځولو، ځکه چې هغوې پخپله خر مستۍ کې مستې وې، یوازې د مېرنیا ورته پام شو ځکه چې هغې د نرانو آوازونه هم ورسره واورېدل، هغې سمدستې خپلې جامې واغوستې او هغه لورې ته روانه شوه له کوم ځایه چې اوازونه

راتلل ، هغې ولېدل چې بګې وانانو يو ليونې سړې راګېر کړې او هغه هم په حېرانوونکې ډول چيغې وهې .

هغه کوم ليونې کېداى شو چې دي منع شوې برخې ته راتللو وو ، هغه چې کله مهرنيا ته وکتل نو په کړس کړس يې وخندل او وې ويل : هغه ده ملکه صاحبه راغله .

ليونې د ملکې په لورې په منډه شو ، بګې وانان ورپسې شول خو هغه تر ټولو مخکې مهرنيا ته ورسېده او د هغې په پښو کې د سجدې په شان ولويده ، مهرنيا يو دوه ګامه شاته شوه .

راغلې ليونې وويل : مهرنيا ! زه اوپاس يم ، ستا د لېدلو لپاره راغلې يم .

بګې وانان پسې را ورسېدل او هغه يې رانيولو نو مهرنيا ورته وويل : دا خوشې کړئ ، هغه ليونې دي ، هغه د چا څه کولاى شي ، تاسې ټول ولاړ شئ او دا ماته همدلته خوشې کړئ .

اوپاس په ژړغوني حالت وويل : ملکې ! زه ليونې نه يم ، مظلوم او شکايت کوونکې راغلې يم .

اوپاس د پخوانې بادشاه وتېزا ورور وو چې راډرک د هغه په خلاف کودتا وکړه ، هغه يې ووژلو او په تخت کېناسته ، پدغه وخت کې د اوپاس عمر اولس يا اتلس کاله وه ، اوپاس په قوم باندې ګوت وو او وتېزا اخرينې ګوت بادشاه وو ، مهرنيا د يهودي سوداګر لور وه ، د وتېزا د بادشاهى په وخت کې د هغې عمر شپاړس ، اولس کاله وو ، اوپاس هغه چېرې لېدلې وه او زړه يې پرې بايللې وه خو مهرنيا د هغه سره د مينې او محبت کولو څخه وېرېدله ځکه چې هغه د بادشاه ورور وو .

مهرنيا هغه ته مخکې په ځوانى کې ويلې وه : ته ولې دوکى او چل ته مينه او محبت وائې ؟

زه د يهوديت سره سره تر اوسه پورې د بادشاهى کورنى څخه ځان ساتم ، ته خپلو نوکرانو او غلامانو ته حکم وکړه چې ما ستا خونې او کوټې ته ورسوي ، ته خو شهزاده يې او د بادشاه ورور يې .

اوپاس ورته ویلي وه : ایا تا ته څرګنده نده چې ته ولې د پادشاهي کورنۍ څخه تر اوسه پورې خوندي او بچ پاتې شوې یې ؟

ایا ته پدې نه یې خبره چې زما ورور وتېزا د تخت کېناستو سره سم دا حکم کړیدې ، چې یهودیانو هېڅ پېغله باید په زور سره نه کلیسا ته او نه بادشاهي کورنۍ ته وسپارل شي او دا کار قانوني جرم دې ؟

د داسې کار کوونکو ته سخته سزا ورکول کېږي ، زه په همدې خاطر تا بادشاهي ماڼۍ ته نشم ورلای چې زه د بادشاه ورور او ته ولسي مېرمن يې ، خو زه به هغه وخت تا خپلې ماڼۍ ته بوځم چې کله ستا سره په کلیسا کې واده وکړم ، زه ستا سره مینه او محبت لرم مېرنیا ! زه به تا سره د ماڼۍ څخه د باندې ضرور ګورم .

د مېرنیا سره هم په زړه کې د اوپاس مینه او محبت پېدا شوې وو ، نو دوارو د ماڼۍ څخه دباندې کله ناکله سره لیدل کتل ، یوه ورځ وتېزا ته ددې لیدلو او کتلو راپور ورغې او هغه پرې خبر شو .

وتېزا د خپل ورور اوپاس ته وویل : ایا ته نه پوهیږې چې ته د شاهي کورنۍ یو غړې یې ؟ دا انجلۍ څوک ده چې ته ورسره د عامو او عادي خلکو په شان ګورې ؟

اوپاس ځواب ورکړ : هغه یهودنه ده ، زه د هغې سره بدني اړیکي نلرم خو کله چې ورسره ګورم نو زه د بادشاه ورور نه ووم .

بادشاه خپل ورور اوپاس ته وویل : ته به پس لدې یوازې له هغې انجلۍ سره ګورې له کومې سره چې مونږ ستا واده کول غواړو ، ته پوهیږې چې هغه انجلۍ د کومې مرتبې لرونکې ده .

اوپاس خپل ورور ته وویل : زه د هغې انجلۍ سره نه ګورم د کومې سره چې تاسې زما واده کول غواړۍ ! زه به یوازې د همدې یهودنۍ سره واده کوم .

وتېزا ورته په قهر سره وویل : بیا به نو ته د تخت او تاج څخه بې برخې شې ! تا له یاده وېستلې چې زما څخه وروسته به ته پدې تخت باندې کینې ، ستا ملکه به د ګوتي قوم څخه وي ، هغه به د ولس څخه نه وي او هغه به یهودنه نه وي .

اوپاس ځواب ورکړ : زه همدا اوس له تخت او تاج څخه لاس په سر یم ، د مېرنیا سره بې وفایي نشم کولای .

اوپاس د خپل مشر ورور وتېزا سره ترخې خبرې وکړې ، هغه هم مشر او هم بادشاه وو ، هغه هم د مشر ورور او هم د بادشاه په حیثیت اوپاس ته حکم وکړ چې نور له مېرنیا سره نشې لېدلې ، که چېرې د هغه سره وګورې نو زندان ته به واچول شې ، اوپاس ددې ګوت څنډنې هم پروا ونکړه او خپل ورور ته یې وویل چې زه د مېرنیا سره بې وفایي نشم کولای .

مېرنیا بیا درې ، څلور ورځې وروسته اوپاس ته وویل چې یو بادشاهي استازې زما پلار ته ویلې دي چې خپله لور دې منع کړه چې د بادشاهی کورنۍ د کوم غړې سره ونګورې ، پدې کې دا هم ویلې شوې دي چې مېرنیا باید زر تر زره په بل ځای کې واده وکړې چې دا شخړه ختم شي .

وتېزا بادشاه وو ، هغه مېرنیا له مخې څخه لرې کولای شوه هغه هم د رحم او زړه سوې خاوند بادشاه وو او هر چاته یې خپل حق ورکولو ، هغه هېڅ وخت بې انصافه کار نه کولو .

مېرنیا خپل پلار په کور کې بنده کړه خو اوپاس به د شپې هغې کور ته ورتللو ، د مېرنیا واده د بل چا سره کېدلو خو هغې د منلو څخه انکار وکړ .

وتېزا نه په مېرنیا او نه یې د هغې په پلار کار ولرلو بلکې هغه اوپاس ته سختې سزاګانې ورکړې خو سره ددې تولو اوپاس د مېرنیا څخه لاس اخیستلو ته تیار نه شو ، یو ځلې اوپاس او مېرنیا دواړه سره یو ځای له کورونو څخه وتښتېدل خو په لاره کې ونیول شول .

ددې نیولو څخه وروسته په اوپاس باندې پیره ودرېدله او له مانۍ څخه دباندې هم بند شو .

اوپاس د خپل بادشاه ورور او مېرنیا د خپل پلار لپاره یوه ستونزه جوړه شوه ، د هغې دواړو د مینې او محبت کېسه او داستان په توله طلبطه کې خپور شو چې پدې کې دوه کاله تېر شول .

یوه ورځ په بادشاهي مانۍ کې شور او غالمغال پورته شو چې پوځ بغاوت او پاڅون کړې اود هغې مشرې رادرک کوې .

وتېزا خپل ساتوونکي پوځ او نور د طلبطي پوځ له ځان سره ملګري کړ او د سرغړونکو پسې ورووت ، هغه پدي فکر کي وو چي سمدستي به باغيان ختم کړي خو حالات د هغه په خلاف وه ، هغه لدي څخه ناخبره وه چي دده په خلاف په پوځ او کلېسا ګانو کي پروپاګند او تبليغات شويدي او هغه د هېواد د خرڅوونکي او سودا کوونکي په نامه سره مشهور شويدي .

مخکي وويل شول چي وتېزا ډېر زړه سوونکي او عادل بادشاه وو ، هغه يهوديانو ته عزت او درناوي ور کړ ، په همدي وجه د هغه سره پوځ ، کلېسا ، رئېسان ، اربابان او نوابان وران شول ، پادريان هم پدي ورسره وران شول چي هغوي يي د انجونو څخه خلاص کړل او په زور يي د انجونو راهبه کول منع کړل ، کله چي پوځ او مذهبي مشران د چا خلاف شي هغه ته په واک کي پاتي کېدل امکان نلري او وتېزا په همداسي شرايطو کي راګېر وه .

کوم پوځ چي ده له ځان سره ملګري کړي وه هغه چي کله د سرغړونکو سره مخامخ شو نو تسليم شو او له ده سره يي چل او دوکه وکړه .

وتېزا ژوندي ونيول شو او بيا د رادرک لخوا څخه ووژل شو ، د هغه د کورني څه غړي وتښتېدل او پټ شول ، هغوي بيا ځانونه سپوسته ته ورسول او هلته جولين ورته پناه ورکړه ځکه چي جولين د وتېزا زوم وو کنه هلته هم چا ورته پناه نه ورکوله .

نژدي شل کاله وروسته اوپاس او مېرنيا سره يو ځل بيا لېدل ، د مېرنيا د حکم سره سم ګاډي وانان بېرته ولاړل ، مېرنيا اوپاس د ځان سره ملګري کړ او د شني زرغوني غونډۍ شاته ولاړل ، د هغوي دا لېدنه ډېره احساساتي او له ولولو څخه ډکه وه ، تر ډېره وخته پوري دواړو اوښکي تويولي او يو بل ته يي خپل د زړه حال په اوښکو کي بيانولو ، دواړه لکه د يو بدن پشان شول .

مېرنيا له اوپاس څخه وپوښتل : تا ته چا وويل چي زه په طلبطه کي يم ؟

اوپاس ځواب ورکړ : دا د خو کلنو څخه ماته څرګنده وه چي ته دلته يي ، د جولين سړي هر وخت دي لوري ته خې راځي ، يو راته وويل چي د کومي مېرنيا لپاره چي ته له تخت او تاج څخه لاس پر سر شوي اوس هغه د رادرک د حرم ښکلا ګرځېدلي ده ، د هغي څخه وروسته هم ما ستاسي په

هکله معلومات اخیستلو ، مونږ باید دلته سره زیاتې خبرې ونکړو مهرنیا !
دا زما او ستا دواړو لپاره خطرناک دي .

مهرنیا ووېل : هو اوپاس ! مونږ باید زر تر زره لدې ځای پټې سپکې کړو ، ته ډېر هوښیار جاسوس معلومېږې څکه چې تاته دا هم څرګنده شوه چې زه دلته په تالاب کې یم .

اوپاس ووېل : زه جاسوس نه یم خو دلته راته یو هوښیار او تکړه جاسوس په لاس راغې .

د خپل قوم ګوت دوه کسان هم راسره مخامخ شول ، یو راته ووېل چې مهرنیا همدلته په مانۍ کې اوسې او کله نا کله تالاب ته د نورو انجونو سره راځي ، زه د دوه ورځو څخه پدې شکل او جامو کې ستاپسی په ځنګل کې لیونې ګرځم ، نن راته هماغه جاسوس ووېل چې مهرنیا د نورو مهرمنو سره په تالاب کې ده . مهرنیا ! اوس د غچ اخیستلو او انتقام وخت را رسېدلې دي ، زه چې د رادرک بدمعاش څخه کوم غچ اخیستل غواړم په هغې ته پوهېږې ، ته هم د هغه څخه انتقام اخیستل غواړې ، هغه ته په خوانۍ کې خپله ملګري کړې او ستا ژوند یې خراب کړ ، ما خو اوس واده هم کړیدي او کوچنیان هم لرم .

مهرنیا سوړ اسویلې ووېست او وې وېل : هو اوپاس ! زه هم ورڅخه غچ اخلم ، زه ستا څخه پرته د نورو شوم خو مور راڅخه جوړه نشوه بلکې زما څخه شیطانه جوړه شوه ، په ما کې اوس شیطاني صفات راپېدا شویدي ، زه اوس نارینه او د حرم ښځې په خپلو ګوتو نڅوم ، د مانۍ ټول اوسېدونکې نوکران ، غلامان او عام وګړې ما بې تاجه ملکه بولې .

اوپاس ووېل : خبرې اوږدېږې مهرنیا ! زه هم ستا په شان په احساساتو کې ډوب یم ، زړه مې غواړې د شل کلنو مخکې خبرې وکړم او وخت شل کاله مخکې ولاړ شې .

مهرنیا ووېل : ایا زه تاته هغه خوبونه بیان کړم چې ستا په جدائۍ کې ما لېدل ؟ ما چې ته ولېدې نو هرڅه راڅخه هېر شول .

اوپاس ورته وویل : مېرنیا ! اوس خپل احساسات کنترول کړه ، ما درته وویل چې اوس د غچ اخیستلو وخت را رسېدلی دی .

مېرنیا وویل : زه خبره شوې یم چې ته د حمله کوونکو سره راغلې یې ایا دا څوک دي ؟

اوپاس ځواب ورکړ : مسلمان بربریان .

بیا اوپاس د ورته جولین پوره کیسه بیان کړه چې هغه په څه ډول هغوی د حملې او برید لپاره تیار او چمتو کړل

ای مېرنیا ! په اندلسي پوځ کې ګوت قوم او یهودي قوم شته دي .

ایا اوس ته دا کار کولای شې چې کله راډرک د مسلمانانو سره لاس په لاس شي نو ګوت او یهودیان دواړه ورڅخه جلا او د مسلمانانو سره یو ځای شي؟

مېرنیا ځواب ورکړ : هو ! دا کار زه کولای شم ، همداسې به کېږي ، پدې هکله نورو خبرو ته اړتیا نشته بس زه پوهه شوم .

اوپاس بیا وپوښتل : ایا نور معلومات هم راکولای شې ؟

مېرنیا ځواب ورکړ : هو ! بادشاه راډرک په پمپلونه کې دي او پوځ سره راټولوي ، خلکو ته اعلانونه کېږي چې په پوځ کې داخل شي ، د مسلمانانو د پوځ شمېر څومره دي ؟

اوپاس ورته وویل : نژدې اووه زره ! لږ څه کم دي ځکه چې په مخکنۍ جګړه کې څه ووژل شول .

مېرنیا په حېرانتیا سره وویل : اووه زره! دا خو ډېر کم دي ، مسلمانان به ټول ختم شي .

اوپاس په مسکا سره وویل : د خپل جنرال ټیو ډومېر څخه دې وپوښته ، مسلمانان چې کله په مېدان کې وګورې نو حېرانه به شې ، هغوی د کفر په خلاف جګړې ته جهاد وایې یعنې مقدس او سپېڅلې جنګ ، مسلمانان داسې جګړې ته عبادت وایي ، پداسې جګړو کې هغوی معنوي او روحاني داد ترلاسه کوي خو هغوی هسې بې ځایه او په رندو سترګو ځانونه نه وژني .

لومړي هغوی د خپل دښمن لپاره د مرګ پرښتې ګرځي ، څرنګه چې هغوی له مرګ څخه وېره او دار نلري نو په ډېره زړورتیا سره د دښمن په

لیکو او صفونو کې ورننوځې ، د هغوې جنرالان او سالاران داسې چلونه پکار اچوي چې دښمن پرې هغه وخت پوهېږي چې کله یې ملا ماته شي ، زما د سترګو په وړاندي چې د مسلمانانو اووه زر پوځ د جنرال تیو ډومېر پنځلس زره کسان په کوم ډول تباه او برباد کړل د هغې څخه ته هم خبره یې .

مېرنیا وویل : پدي فکر وکړه اوپاس ! راډرک چې کوم پوځ او لښکر راټولوي هغه به د یو لک څخه کم نه وي .

اوپاس ځواب ورکړ : دا فکر او غور مونږ ته پرېږده مېرنیا ! که چېرې ستا په زړه کې اوس هم زما مینه او محبت وي نو کوم کار چې ما تاته سپارلې هغه سر ته ورسوه .

مېرنیا وویل : همداسې به کېږي اوپاس ! اوس ته د لېونیانو په شان کار کوه او لدي ځایه ووځه .

اوپاس بیا وویل : زه به ستا لېدلو ته بیا راځم مېرنیا ، ددي څخه وروسته هغه ولاړ .

***

د اندلس تاریخ لیکوونکو ځینې روایتونه را اخیستی چې په ښکاره ډېر حېرانوونکې او د قبلولو وړ نه ښکاري خو دا لیکنې د اروپایي تاریخ لیکوونکو لخوا څخه هم را اخیستل شوي کومو چې د اندلس تاریخ لیکلې دي ځکه عېسایانو خو د مسلمانانو په خلاف لیکنې کولې او فتح هم د مسلمانانو په برخه وه نو ځکه ددي روایتونو سموالې ورڅخه معلومېږي .

درې قوې تاریخونو د طارق بن زیاد او راډرک په هکله یوه یوه خبره لیکلې ده او هېڅ شي یې پټ کړې ندي .

کله چې طارق بن زیاد د اندلس نامتو جنرال تیو ډومیر ته ماتې ورکړه نو څو ورځې وروسته هغه پخپل آس سپور شو او هغه لورې ته روان شو کوم لورې ته چې هغوې پرمختګ کول غوښتل ، هغه د مرستې تر رارسېدلو پورې د جګړې په مېدان کې اړولی وه ، مړي تول لرې شوي وه خو وینې لا هماغسې پرتې او وچې شوې وې ، هلته حشرات او ځنېدونکې حیوانات خصوصا ماران زیات شوي وه چې د جګړې په مېدان کې یوې او بلې خواته ګرځېدل .

طارق بن زياد د سيمې د لېدلو لپاره راوتلې وه او جولين د لارښود په توګه ورسره ملګري وو، د طارق سره مغيث الرومي او ابو زرعه مالک بن طريف هم وه .

طارق بن زياد له جولين څخه وپوښتل : اوپاس به کله راشي ؟ هغه خو به ژوندي نه نيول کېږي ؟

جولين ځواب ورکړ : هغه خو دومره بې عقله ندي ، زر به راشي ، هغه پداسې شکل او صورت کې تللي دي چې هېڅوک يې نشي پېژندلې ، د هغه نيول ډېر کم امکان لري .

د جنګي بنديانو څخه هغه ته څرګنده شويده چې راډرک په خپله پلازمينه طلېطه کې نشته ، ټول وزيران د هغه سره تللي دي ، پدي حالاتو کې د اوپاس کار نور هم اسانه کېږي .

هغوې په همدي خبرو کې د کب نيوونکو له کلي څخه ووتل ، طارق ته ووېل شوې وه چې دلته نژدي کوم ښار نشته نو ځکه پوځ هم نشته ، هغوې نور هم وړاندي ولاړل ، سيمه ډېره ښکلې او ښاېسته وه ، پدي ښکلې شنه سيمه کې يو کلې پروت وو چې اوسېدونکې يې دباندي هر لورې ته ګرځېدل ، کله چې طارق او د هغوې ملګري خلکو ولېدل نو خپلو کورنو ته وتښتېدل .

طارق بن زياد ووېل : جولين ! هغوې ته شايد څرګنده شوې وې چې مونږ د دوې پوځ ته ماتې ورکړيده ، دوې به اوس څوک پدي پوه کړې چې مونږ د هغو فاتحانو په شان نه يو چې کله فتح وکړې نو بيا د خلکو کورونو ته ننوځي او هلته وژل ، لوټول او د ښځو بې پرده کول کوي .

جولين ورته ووېل : ابن زياد ! د پوهولو څه اړتيا ده ، کله چې ستاسې له لورې کوم غلط حرکت ونشي دوې به پخپله پوه شي .

هغوې پدي خبرو کې بوخت وه چې د کلې څخه يوه بوډۍ راووتله او د طارق بن زياد په مخکې ودرېدله ، طارق خپل آس ودرولو ، نور ملګري يې هم ودرېدل .

بوډۍ وپوښتل : ايا په تاسې کې د هغه پوځ سپه سالار شته چې کوم زمونږ پوځ ته ماتې ورکړه ؟

جولين د طارق په لوري اشاره وکړه او وې ويل : هو موري ! دا دي د اندلس پوځ ته ماتې ورکوونکې فاتح سپه سالار !

بوډۍ پرته له وېرې طارق ته وويل : له آس څخه راښکته شه او خپل سر لوڅ کړه .

مغيث رومي د اندلس په ژبه پوهېدلو نو هغه طارق بن زياد ته وويل چې بوډۍ څه وايي .

طارق له آس څخه راښکته شو او خپل سر يې لوڅ کړ .

بوډۍ د طارق په سر لاس راکش کړ او په حيرانتيا سره يې وويل : اوه ! ته راغلې ! زما خاوند کاهن وو ، د هغه نوم تر لرې لرې پورې رسېدلې وو ، خو اوس مړ شويدي ، هغه ماته څو څو ځلې ويلې وه چې له بهر څخه به يو قوم راځي ، هغوی به اندلس فتح کوي او دلته به واکمني کوي ، د هغه لښکر د سپه سالار نښې به دا وي :

د هغه د سر او ږېرې وېښته به سره بخن وي ، تنده به يې پراخه وي ، ددې نښو څخه معلومېږي چې همدا ته يې ځکه ستا د سر او ږېرې وېښتان سره بخن او تنده دې پراخه ده ، بلکه نښانې پاتې ده ، ته خپله چپه اوږه راښکاره کړه ، هلته به يو خال وي چې د هغې په شا او خوا کې به وېښتان وي .

طارق بن زياد وويل : بوډۍ رښتيا وايي ، زما په چپه اوږه باندې خال دې چې شا او خوا پرې وېښتان راشنه شويدي .

بوډۍ وويل : اندلس به ته فتح کوې ، هغه شخصيت به ته وې چې ددې هېواد اوسېدونکې د ظلم او تېرې څخه خلاص کړې .

دا روايت درې اروپايې تاريخ ليکوونکو لين پول ، استنګرز او سمت را اخيستې او ليکلې دي .

طارق بن زياد خپلو ملګرو ته وويل : زما ملګرو ! ما تاسې او ټول لښکر ته خپل خوب اورولې دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ماته زېرې راکړې چې فتح به ستاسې په نصيب کېږي ، اوس دا بوډۍ هم زېرې راکوي چې د اندلس فاتح زه يم خو دا خبره په ياد ولرئ چې مونږ به د خپلو ځانونو قربانۍ ورکوو .

په همدي شپه اوپاس راورسېده ، هغه ډېر زيات سفر کړی او راغلی وو ، هغه لومړي جولين ته ورغی او بيا دواړه د طارق بن زياد خيمې ته ولاړل چېرې چې نور سالاران هم ناست وه .

اوپاس خپلې ټولې لاس ته راوړنی بيان کړې ، د مېرنيا سره لېدل او خبرې کول يې هم وړاندي کړل .

طارق ورڅخه وپوښتل : اوپاس ! ايا ته پدې باور لرې چې هغه مېرمن به داسي خطرناک او حساس کار سرته ورسولی شي ؟

اوپاس ځواب ورکړ : زه په هغې باندې باور لرم ، که هغه خپله دا کار نه کوي يا يې نشي کولای نو په بل چا يې کوي ، د ګوټ قوم ځينې سرداران هلته شته دي ، ما د هغوی سره هم ولېدل .

خو طارق ! رادرک چې کوم لښکر او پوځ راولي هغه به د يو لک څخه زيات وي ، دېمپلونه څخه تر طلېطې پورې اوسېدونکې په پوځ کې داخلېږي .

طارق بن زياد وويل : دا خو زما لپاره ډېر په زړه پورې خبر دي ، که ولسي خلک په پوځ کې داخلېږي نو هغوی به ډلېزه جګړه کوي ، هغوی به د تجربه لرونکې او منظم پوځ په شکل نه جنګېږي ؛ هغوی به د جنګې ترتيب او نظم څخه بې برخې وي .

ابو زرعه طريف وويل : بيا هم مونږ بايد بې پروا نشو ، زمونږ سره خو دومره پوځ هېڅ وخت نشي راټولېدای ، که مونږ ته مرسته راشي نو هم د شپږ اوو زرو څخه به زيات نه وي .

طارق وويل : زه تاسې ټولو ته وايم ! الله جل جلاله زمونږ او ستاسې د فتح لپاره شرايط او حالات برابروي ، اوپاس چې څه په طلېطه کې کړيدي ، هغه د الله تعالی مرسته او کومک وشمېری .

د مصر افريقا امېر چې وليد بن عبدالملک ته د طارق بن زياد د لومړنی فتح او برې کوم پېغام استولی وو د هغې په ځواب کې له دمشق څخه مرسته را روانه شوه چې د غازيانو شمېر يې پنځه زره کېده ، په هېڅ تاريخ کې دا نشته چې څومره يې سپاره او څومره پياده غازيان وه خو دا خبره ټولو ته څرګنده وه چې کومک بالکل کم وو ، د طارق سره څه کم اووه زره

غازيان وه ځکه چې مخکې پکې څه شهيدان شوې هم وه ، د مرستې سره د هغوې شمېر دولس زرو ته ورسېدلو .

د راډرک د اعلان په سبب ډېر زيات اندلسې خلک په پوځ کې داخلېدل ، په ډېرو کمو ورځو کې د راډرک د لښکر شمېر پنځوس زرو کسانو ته ورسېده چې په بېړه سره زياتېدلو ، راډرک ته خپلو سلا کارانو ويلې وه چې د حمله کوونکو شمېر اووه زره دي نو د زيات پوځ ټولولو ته اړتيا نشته . له يو لورې وخت تېرېږې او له بل لورې مصارف هم زياتېږې .

راډرک د بادشاهانو په شان په زغرده وويل : جنرال ټيو ډومير حمله کوونکې پيريان او ديوان ګڼلې دي ، زه يو لک پوځ د ځان سره ملګري کوم چې نورو بادشاهانو او هېوادونو ته هم څرګنده شي چې د اندلس بادشاه څومره ځواکمن دي ، ترڅو د هغوې له دماغ څخه په اندلس باندي د حملې خيال ورک شې ، زه د خپل زيات پوځ پوسيله هغه اووه زره حمله کوونکې بالکل د خاورو سره برابروم ، په هغوې باندي شل ، ديرش زره آسونه ګرځوم چې له غوښو څخه يې کوفته جوړه شې .

زه د پېريانو او ديوانو څخه وېرېدونکې انسان نه يم .

***

تاريخونو دا خبره منلې ده چې راډرک ډېر زړور او باتور انسان وو ، د پېريانو او ديوانو څخه نه وېرېدلو ، د هغه زړورتيا او بې پروايۍ داسې يوه کېسه جوړه کړه چې وروسته بيا د تاريخ برخه وګرځېده .

يو امريکايې تاريخ ليکوونکې واشنګټن پخپل کتاب ( د هسپانيه فتح ) کې ددې پېښې پوره معلومات وړاندي کړيدي .

نامتو تاريخ ليکوونکې لين پول هم پخپل کتاب ( مور سپين مين ) کې دا پېښه د څو پخوانې تاريخونو څخه رانقل کړيده ، تاريخ ليکوونکې بربري غازيان د مور په نامه سره يادوی .

د طارق بن زياد د بريد او حملې څخه مخکې راډرک بادشاه پخپل دربار کې په تخت ناست وو چې دوه مخور بوډاګان دربار ته راننوتل ، هغوې دواړو سپينې چپنې اغوستې او مذهبې مشران معلومېدل ، د هغوې د لويو

چېنو او اړدو وېرو څخه داسې څرګندیدله چې هغوی د لوړې درجې کاهنان او راهبان دي .

هغوی د خپلو ملاګانو څخه د توتو ملا بندونه تړلي وه چې پدې ملا بندونو کې د کلې ګانو او کنجیانو غوټې ځوړندي وې ، د راډرک په شان ظالم او دیکتاتور انسان د هغوی د درناوې لپاره پورته شو ، د هغې مقدسو خلکو څخه یو اشاره وکړه چې بېرته پخپل ځای کینې نو راډرک پخپل تخت کښناسته .

یو بوډا وویل : ای د اندلس امپراطوره ! مونږ تاته د راز د یوې خبرې ویلو لپاره راغلي یو ، د هر نوي بادشاه خبرول ددي راز څخه اړین وي ، ته نوې په تخت ناست یې اوس ستا پښې کلکې شویدي .

راډرک په بې خبری او ورخطایې سره وویل : زه راز اورېدلو ته تیار یم ، د نورې مقدمې اړتیا نشته .

بوډا وویل : بې خبره کېږه مه بادشاه ! که دا خبره دي واورېده نو هم له صبر څخه به کار اخلې کنه بیا به افسوس او ارمان کوی :

" هغه وخت چې پدي خاوره باندي د هرقل بادشاهی او واکمنې وه هغه د اندلس په خاوره کې ستنې جوړې کړې او دلته په طلېطه کې یې یو لوې او لوړ برج هم جوړ کړ چې په هغې کې یې جادو او سحر اېښې وو ، ددي برج یوازې یوه دروازه ده چې هغه هم له اوسپنې څخه جوړه شویده چې ډېره کلکه او قوې ده ، هغې دروازې ته یې پخپل لاس قلف اچولې دي ، هغه حکم کړې چې هر نوي بادشاه باید دي دروازې ته قلف واچوي او کلې مونږ ته تسلیم کړي.

بوډا راډرک ته د کلیانو غوټه وښوده او وې ویل : دا د هغه قلفونو کلیانې دي چې د هرقل څخه وروسته او ستا څخه مخکې بادشاهانو دروازې ته اچولې او مونږ ته یې راسپارلې دي .

اوس ستاسې وار دي چې د اوسپنې دروازې ته قلف واچوی او کلې یې مونږ ته راوسپاری .

تاسې چې هر وخت غواړې هغې ته قلف واچوې مونږ بيا راځو کلې په درخخه تسليم کړو .

راډرک وويل : ما هغه برج لېدلې دي ، ما فکر کاوه چې دا به کومه پخوانی ودانۍ وی ، ايا تاسې هلته اوسېږی ؟

بوډا وويل : نه بادشاه ! مونږ له لرې څخه راغلي يو ، دا کلياني مونږ ته له پلار نيکه څخه راپاتې شويدي ، ددي برج ساتل زمونږ د کورنۍ دنده ده ، ددي ساتنه به زمونږ راتلوونکې نسلونه هم کوی .

راډرک په بې پرواهۍ سره وويل : ايا زه ستاسې دا دنده همدلته ختمه نکړم ؟

دويم بوډا وويل : ای بادشاه ! مونږ خپل ولس او رعيت مه شمېره ، که ته غواړې برج خلاص کړې نو واوره چې بيا به افسوس او ارمان کوې ، ډېره خرابه پايله به ولرې ، ډېر ظالمو او ځواکمنو بادشاهانو غوښتل چې دا دروازه خلاصه کړی خو ساتوونکو هغوې ووېرول ، د جوليس سېزر په شان ظالم او ځواکمن بادشاه څوک وو خو هغه هم ددي دروازې د خلاصولو کوښښ ندي کړی .

مونږ اوس درخخه اجازه اخلو او ځو خو تاته بيا وايو چې دروازې ته قلف واچوه مونږ د کلې اخيستلو لپاره بيا راځو ، بيا دواړه بوډاګان روان شول .

د دواړو بوډاګانو څخه وروسته راډرک په زغرده وويل : که راډرک د اندلس بادشاه وې نو بايد هېڅ راز ورڅخه پټ نه وې ، زه دي برج ته قلف نه اچوم ، زه به د برج ټول قلفونه ماتوم او ګورم به چې په برج کې څه دي ؟

يو سلا کار وويل : سپين سترګې وبښه امپراطوره ! مونږ هېڅوک پدي کې شک نلرو چې ستاسې زړورتيا او تورزني يوه نمونه او مثال ګرځېدلې دي ، خو د خطر څخه خبرول زمونږ دنده او مسئوليت دي ، بوډا وويل چې هرقل پدي برج کې سحر او جادو پرېښې دي .

هېڅ انسان د جادو مقابله نشي کولاې ، زه د اندلسې امپراطور څخه هيله لرم چې د اوسپنې دروازې ته قلف واچوې او هغه خلاصه نکړی .

راډرک وويل : بيا نو ماته هېڅوک بايد امپراطور ونه وايې ، دا زما خمکه ده ، ددي هر راز زما دي ، ما مخکې دي برج ته هېڅ پام نه وو کړی

، اوس زه داسې فکر کوم چې دا برج زما په سينه ولاړ دي ، زه به ددي راز حتما معلوموم .

مشر راهب ووېل : امپراطوره ! د اندلس ، فرانسې او جرمنې غرونه چې د راډرک نوم اورې نو لړزېږي خو ځينې پټ ځواکونه داسې دي چې انسان د هغې په مقابل کې بې وسې وي ، که امپراطور ما خپل مذهبي مشر او لارښوونکې بولې نو بايد زه تاسې لدې کار څخه منع کړم .

راډرک ووېل : هرقل زما په شان بادشاه وو ، که هغه کوم جادو په برج کې ايښې يې نو هغه دده په لاس کې وو ، زه اوس هغه پخپل لاس کې نيولې شم .

راډرک بيا په خندا سره ټولو درباريانو ته وکتل او وی ویل : بې غېرتو ! هرقل هلته خزانه پټه کړېده ، هلته ډېرې ملغلرې او قيمتې ډبرې دي ، هلته کېدای شي خطرناک ماران وې ، يا به کېچه ماران هلته خوشې شوې وې ، په تاسې کې څوک داسې زړور شته چې پدې کار کې زما سره ملګرتيا وکړې .

راډرک خپلو جنرالانو ته وکتل چې هلته ناست وه ، هغوې نه غوښتل چې خپل ځان بادشاه ته بې زړه څرګند کړې ، هغوې راپورته شول ټولو په وار وار سره ووېل : مونږ د امپراطور سره ملګرتيا کوو .

کومو تاريخونو چې دا پېښه لېکلې ده هغوې وايې چې راډرک خپلو سلا کارانو ، مذهبي مشرانو او د خپلې کورنۍ غړو لدې کار څخه منع کړ خو هغه د هېچا خبره هم ونه منله ، درې ، څلور ورځې وروسته هغه په پوځې يونيفورم کې د خپلو جنرالانو سره د برج لېدلو ته ولاړ ، د هغه سره درې ، څلور جنرالان هم وه چې په جګړو کې يې د حېرانتيا وړ لاسته راوړنې درلودې او په زړورتيا کې مشهور شوی وه .

د راډرک سره خپل سپاره ساتوونکې هم وه او د قلفونو د ماتولو لپاره يې يو اهنګر هم د ځان سره ملګري کړې وو .

برج په يو لوړ کمر باندې ولاړ وو چې شا او خوا يې لوړې او نيغې ډبرې او تر برج لوړې وی .

داسې معلومېده چې د برو او کمرونو برج راګېر کړې او نيولې وې ، برج د مرمرې د برو څخه جوړ شوې وو ، د ښکلا لپاره پکې فلزات هم استعمال شوې وه چې په روښنايې کې به ځلېدل .

دې برج ته چې کومه لاره تللې وه هغه يو تونل وه چې د برو په منځ کې جوړ شوې وو ، دا تونل دومره لوې او لوړ وو چې يو سپور پکې په اسانه تېرېدلای شو ، د هغې مخې ته د اوسپنې کلکه او قوي دروازه وه چې د ډېر زنګ وهلې قلفونه ورته اچول شوی وه .

دا د هرقل څخه تر وتېزا پورې د بادشاهانو په لاس اچول شوې قلفونه وه .

هغه دواړه بوډاګان چې راډرک ته ورغلې وه هغوې په دروازه کې يو يولوري او بل لورې ته ولاړ وو .

يو بوډا وويل : مونږ تا يو ځل بيا د آخرې ځل لپاره خبر وو .

راډرک حکم وکړ : د هغوې څخه کلياني واخلی او ټول قلفونه خلاص کړی .

ځواکمنو ساتوونکو د بوډاګانو په زور څخه کلېانې واخيستی او هغوې هېڅ هم ونشول کولای .

قلفونه زيات او زنګ وهلې وه ، بله دا چې د هېڅ قلف خپله کلې نه معلومېده ، ټوله ورځ د قلفونو د خلاصېدو کوښښ کېده ، د لمر پريوتو څخه لږ مخکې ټول قلفونه پرانستل شول .

د اوسپنې قوې او کلکه دروازه هم پرانستل شوه ، راډرک برج ته ننوت ، جنرالان او څو ساتوونکې هم ورسره ننوتل ، مخکې لوې هال او دهليز وو ، هلته يوه دروازه هم وه چې بلې خونې ته خلاصېدله ، د همدې دروازې په خوله کې يو لوې انسانې بت ولاړ وو چې د فلزاتو څخه جوړ شوې وو ، د هغه په يو لاس کې ګرز وو چې په اتومات ډول ښکته پورته کېده او په ځمکه وهل کېده ، د بت په سينه ليکلې شوې وه : زه خپل مسئوليت پوره کوم .

راډرک بت ته وويل : زه په بد نيت نه يم راغلې ، هېڅ شې ته لاس نه نژدې کوم ، زه دلته يوازې د راز معلومولو لپاره راغلې يم ، څرنګه چې راغلې يم ، په همدې توګه تش لاس ځم ، په ما باور وکړه او ماته لاره راکړه .

د بت لاس ودرېده ، کوم لاس چې يې پورته کړې وو هماغسې پورته پاتې شو ، رادرک د هماغه پورته لاس لاندې دننه تېر شو او دويمې خونې ته ننوت ، جنرالان او ساتوونکې هم ورپسې ورننوتل :

دا خونه ډېره ښکلې او ښاپسته وه ، ساتونکو د ځان سره مشعلونه هم اخيستي وه ، د مشعلونو په زېړه روښنائۍ کې د خونې ديوالونه د ستورو په شان ځلېدل ، دا ملغلرې او قيمتي ډبرې وې چې په ديوالونو کې نصب شوې وې ، د خونې په منځ کې يو مېز پروت وو چې لپاسه پرې يو صندوق اېښودل شوې او په هغې کې ليکلې شوې وه :

" پدې صندوق کې ددې برج راز پټ اېښودل شوې ، د بادشاه څخه پرته بل څوک دا نشي خلاصولې خو بادشاه ته هم ويل کېږي چې هغه ته به حېرانوونکې معلومات او پېښې څرګندې شي چې هغه ټولې به دده په ژوند کې سرته رسېږي " .

رادرک په بې پروايۍ سره د صندوق کونډه خلاصه کړه او دننه يې کتل پيل کړل ، په صندوق کې يو غټ مربع د څرمن کاغذ پروت وو ، ددې څرمنې کاغذ لاندې اوباندې فلزې تختې اېښودل شوې وې ، رادرک د څرمنې کاغذ په لاس کې راپورته کړ ، پدې کاغذ باندې د جګړه کوونکو انسانانو شکلونه جوړ شوې وه چې په آسونو سپاره وو ، هغوې د ځان سره تورې ، برچې ، غشې او لېندۍ لرلې ، د هغوې څېرې ډېرې خطرناکې او وېرونکې وې ، ددې ښکل شوې شکلونو دپاسه ليکلې شوې وه :

وګوره اې سرغړونکې انسانه ! دا هغه سپاره دي چې تابه له تخت څخه راښکته کوی او ستاسې بادشاهي به له خاورو سره برابره وی .

رادرک همدې ښکل شوې شکلونو ته په غور او دقت سره کتل ، د هغه د جنرالانو سترګې هم په څرمنې کاغذ باندې خښې وې ، هغوې ناڅاپې خپ خپ اوازونه واورېدل لکه چې دوه پوځونه پخپلو کې سره نښتې وې ، د اسونو شنهېدل ، د پوځيانو نارې او چيغې اورېدل کېدې ، رادرک په وېره شاته شو چې ګوندې کوم پوځ په طلبطه باندې حمله کړې ، خو د هغه وېره ډېر زر ختمه شوه ځکه هغه جګړه په همدې څرمنې کاغذ باندې لېدله ، دا

جګړه داسې شوه چې د خونې دیوالونه هم له نظره لرې شول ، د هغې پر ځای د وریخ توتې راغلې په هغې کې د جګړې لوې مېدان څرګند شو چې دوه پوځونو پکې یو د بل وینې تویولې ، تورې او جنګې تبرګې یو د بل سره ټکرېدل ، جنګې ډولونه هم غرمبېدل ، سپاره او پیاده زخمې کېدل او پریوتل ، زخمې او بې کنتروله آسونو زخمیان تر پښو لاندې کول ، پدې وېرونکې مېدان کې غشې یوې او بلې خواته الوتل ، برچې یوې او بلې خواته وېشتل کېدې او په بدنونو کې ننبتلې ، د وېرونکو چیغو څخه اسمان لړځېده ، د سپرو او پیاده له ګرځېدلو څخه ځمکه رېږدله .

پدې خطرناک او وېرونکې مېدان کې یو آواز بیا بیا اورېدل کېده : د کفارو نوم او نښان ورک کړې ، الله تعالی ستاسې ملګري دي .

مسلمانانو ! شاته یو سمندر دي او کښتی هم سوځېدلې دي ، د الله تعالی استازی تاسې ته د فتح زېرې درکړېدي .

رادړک او د هغه سره جنرالانو او ساتوونکو دا خونړی پېښې لېدلې ، چیغې، نارې او شور یې اورېدلو ، پدې مېدان باندې د ښې ، چپ ، پاسه او لاندې تورې وریځې غوړېدلې وې ، د جګړې دا مېدان تصوراتې وو خو بالکل حقیقت څرګندیدلو ، د رادړک په څېره باندې څو رنګونه راغلل او ولاړل ، په جنرالانو او ساتوونکو باندې وېرې اغېزه کړې وه ، که بادشاه ورسره نه واې نو هغوې ټول به تښتېدلې وای .

د عېسایانو بېرغونه هرې خواته رېږدل او یوې او بلې خواته په ګرځېدو وه خو لږ ځنډ وروسته یو یو راښکته کېده او په ځمکه لوېده ، د مسلمانانو بېرغونه هماغسې لوړ او پورته وه ، په آخر کې د کفارو هغه بېرغ هم رالوېده چې د صلیب نښان ورباندې وو ، ددې بېرغ د ښکته کېدو سره سم په کفارو کې ګډوډی او بې نظمې پېدا شوه ، مسلمانانو د هغوې ختمول پیل کړل .

رادړک په عېسایې لښکر کې یو جګړه کوونکې ولېده چې شا یې د رادړک په لورې وه او په سپین آس باندې سپور وو ، د هغه شا به هر وخت رادړک ته وه خو آس یوې او بلې خواته تاوېدلو ، د سپور په سر باندې د

اوسپني خولۍ وه ، بالکل د رادرک په شان ښکارېده ، د هغه خولۍ ، زغره او آس د رادرک په شان وو ، په هېڅ شي کې هم توپير موجود نه وه .
رادرک ته چې کوم جګړه کوونکې دده په شان ښکارېده هغه د بادشاه په شان وو ، هغه سپور له خپل سپين آس څخه ښکته شو او د جګړې په ميدان کې ورک شو ، آس پرته له سپاره څخه هر لورې ته ځغلېده خو سپور نښکارېدلو .
ناڅاپې د رادرک په زړه کې وېره او ډار راپيدا شو، په ورخطايې سره شاته ولاړ او روان شو ، هغه داسې شاته ولاړ لکه چې څوک تېښته کوي . کله چې له خونې څخه راووت ګورې چې هغه لوی فلزي بت هم نشته چې د دروازې په خوله يې پېره کوله او خپل ګرز يې ښکته پورته کولو ، پدې سره د رادرک او ملګرو په زړه کې ويره او ډار نور هم زيات شو هغوي ټول په منډه له هال او اوسپنېزې دروازې څخه ووتل .
کوم دوه بوډاګان چې په دروازه کې ولاړ وه هغوي سرچپه مړه پراته وه ، رادرک له هغه ځايه لرې ولاړ ، هغه شاته ولېدل چې برج په تورو لوګيو کې راګېر دي ، پدي لوګيو کې د برېښنا په شان پړک وشو او بيا يوه چاودنه وشوه چې سره لمبه وګرځېده .
هلته مرمرې ډبرې هم سوځېدلې . شا او خوا ډبرې هم سوځېدلې ، هوا او باد تېز شو ، د برج دوړې او اېرې يوې او بلې خواته په خپرېدو شوې او له پاسه په ځمکه راپريوتې ، تاريخونو ليکلې چې دپاسه کومې به خاورې او اېرې په کوم ځاي پريوتې هلته به د وينې ځاځکې او داغونه پېدا شول . رادرک او د هغه جنرالان په تېښته ولاړل .
ددې پېښې څخه وروسته رادرک له مذهبي مشرانو ، پوهانو او جادوګرانو څخه پوښتل چې پدې برج کې څه راز پروت او د جګړې څخه مطلب څه شي وو ، هېڅا هم هغه ته داډمن خواب ورنکړای شو ، هر چا به د هغه د زړورتيا خبرې کولې ، او هغه به يې په دښمن باندې برلاسي بللو ، يوازې يو جادوګر هغه ته صفا او سپېڅه خبره وکړه :

امپراطور باید ډېر احتیاط وکړي ! دا هیڅوک نشي ویلای چې هرقل په څه مقصد دا برج جوړ کړي وو خو زه وایم چې پدي برج کې شیطانت او لعنت بند شوي وو ، تاسې باید دا برج نه وې پرانستلې ، تاسې ته چې د کومې جګړې اشاره شوېده د هغې پایله ماته ښه نه ښکاري .

راډرک وپوښتل : ایا مونږ ددي بد فال څخه خوندي پاتې کېدای نشو ؟

جادوګر وویل : یوه لاره شته امپراطوره ! تاسې چې کله د دښمن مقابلې ته ځئ باید دومره لوی لښکر درسره وي چې دښمن یې په لېدلو سره تېښته وکړي یا دا چې پرته له جګړې تسلیم شي .

د همدي څخه وروسته بیا په پمپلونه کې بغاوت او پاڅون وشو ، راډرک ډېر لوی لښکر د ځان سره بوتللو او هلته یې سرغړوونکې وځپل ، خو هلته ورته احوال راغې چې د افریقا له لورې په اندلس باندي حمله شویده ، جنرال ټیو ډومیر احوال ورکړ چې د حمله کوونکو شمېر اووه زره دي .

راډرک د ډېر زیات لښکر راټولولو کار پیل کړ او د پمپلونه څخه د خپلې پلازمینې طلېطې په لورې راوخوځېده .

کله چې هغه طلېطې ته را ورسېده نو د لښکر شمېر یې یو لک ته رسېدلې وه ، په هغې کې په زرګونو سپاره وه ، هغه په پلازمینه کې ځنډ نشو ، د خپل یو لک پوځ سره د جنوب په لورې وخوځېده چېرې چې ټیو ډومېر ماتې خوړلې وه .

هلته طارق بن زیاد ته یوازې د پنځه زره غازیانو مرسته راورسېدله چې د هغې سره د ټولو غازیانو شمېر دولس زرو ته ورسېده .

د راډرک یو لک پوځ د دولس زره غازیانو د ختمولو او د خاورې سره د برابرولو په خاطر لکه د طوفان او سیلاب په شان مخ په جنوب روان وه .

## طارق او راډرک

طارق بن زیاد ته پنځه زره غازیان را ورسېدل او هغه د الله تعالی شکر ادا کړ ځکه چې د مرستې تر رارسېدو پورې هغه ډېر په اندېښنه کې وو ، هغه به ځینې وخت د شپې له خوب څخه راپورته شو او د ساتوونکو د ډلې مشر به یې راپورته کړ چې دوه کسان سپاره د سمندر غاړې ته واستوې چې مرسته ښکارې او کنه ؟

هره ورځ به هغه یو ځل سمندر ته تللو ، هلته به په هغه لوړ کمر باندې پورته کېده چې وروسته د جبل الطارق په نامه مشهور شو ، پوندې به یې پورته کولې او د سمندر پر پراخوالې به یې نظر اچولو خو چې کله به ورته د مرستې او کومک نښې نښانې ښکاره نشوې نو د قهر او غصې اثار به یې په هر حرکت کې ځرګندیدل ، سالارانو به هغه ته ډاډګېرنه ورکوله چې د کومک او مرستې راتلل له دومره لرې ځای څخه ډېر وخت غواړې .

طارق څو ځلې دا خبره کړې وه : زه پدې پوهېږم چې مرسته ولې نه راځي ! د افریقا امېر به پیغام دمشق ته استولې وي او له هغه ځای څخه به یې د مرستې غوښتنه کړې وي ، د دمشق څخه کومک رارسېدل درې میاشتې وخت نیسي .

یو ځلې طارق بن زیاد وویل : د بوډا او ځوان په منځ کې همدا توپیر وي ، موسی بن نصیر ډېر بوډا شویدې ، اوس هغه هر کار په کراره کراره سره سرته رسوي ، هغه باید دا خبره له یاده ونه باسي چې زه ځوان یم او زه بې صبره یم .

هغه څو ځلې دا هم ویلې وه ! د شام او عربو څخه کومک او مرسته غوښتل خو هوښیارې نده ، بربریان خو څه مړه شوي ندي ، یوازې دومره به یې اعلان کړې وای چې د سمندر بلې غاړې ته طارق بن زیاد مرستې او کومک ته اړتیا لري ، په یوه ورځ کې به په زرګونو بربریان موسی بن نصیر ته راټول شوي وای .

طارق د مرستې تر رارسېدو پورې خپل غابنونه چیچل او هم یې پرله پسې خپل لښکر ته ترهنګ او جنګي روزنه ورکوله ، هغه زیات پام آس

سپرلۍ ته ورکولو ، څکه هغه د جنرال ټيو ډومېر سره په جګړه کې بيا بيا د اعلان کولو چې آسونه په نښه نه کړي او ددي اعلان دا ګټه راووتله چې څو سوه آسونه هغوې ته روغ رمټ په لاس ورغلل ، هغه د نوې آسونو لپاره سپاره غازيان غوره کړل او هغوې ته يې روزنه ورکوله .

هغه خوشې او بې کاره ناست انسان نه وو ، هغه پدې هم فکر کولو چې جنرال ټيو ډومېر تر ماتې وروسته همداسې نه کينې بلکې د خپل انتقام او غچ لپاره به خامخا لښکر راټولوي او حمله به کوې .

طارق ته دا احوال رسېدلي وو چې د اندلس بادشاه راډرک د طلېطې څخه ډېر لرې د يو پاڅون د ختمولو لپاره تللي دي ، هغه غوښتل ددي مناسب وخت څخه ګټه پورته کړې او د اندلس ځينې سيمې او پوځې ځايونه او کلاګانې ونېسې او د اندلس پوځ ته پرله پسې ماتې ورکړې .

بلاخره مرسته راورسېدله ، طارق دي غازيانو ته يوازې يوه شپه د ارام او دمې وخت ورکړ ، سبا سهار يې حرکت پيل کړ ، هغه د جولين څخه دا معلومات اخيستي وو چې مخکې څه شې دي .

طارق ته ډېر تکړه جاسوس په لاس ورغلي وو چې عبارت له هنرې څخه وو ، هنرې له فلورا سره ژمنه کړې وه چې هغه به د راډرک سره راوړې ، طارق هنرې ته دوه نور کسان هم ورکړې وه چې سيمه تر څارنې لاندې ونېسې او د دښمن په هکله معلوماتونه راټول کړې ، د هغوې دنده دا وه چې د دښمن د شمېر ، ځاې او ځواک په هکله معلومات راټول او خپل سپه سالار ته يې راوړې .

مخکې په لاره کې يوه پوځې کلا وه چې کارټېجا نومېده ، هغه ډېره قوې او کلکه وه ، هلته د جنرال ټيو ډومېر تښتېدلې پوځ هم اوسېدلو ، نو د پوځ شمېر يې زيات شوې وه ، د کلا مشر پدې خوښ وو چې اوس نو دا کلا څوک نشي لاندي کولاې پداسې حال کې چې همدي راتښتېدلو اضافي پوځيانو د کلا کلکوالي او ځواکمني کمزورې کړې وه څکه چې هغوې له بربريانو څخه ډېر سخت وېرېدلي وه ، د مېدان څخه چې کوم پوځې تېښته وکړې هغه بيا دا نه وايې چې زه بې زړه وم بلکې خپل دښمن ځواکمن او

خونړې بولې او هغه وېره خپروي ، د تیو دومبر پوڅیان چې کله کلا ته ننوتل نو دا واویلایي جوړه کړه : دا د انسانانو په شکل او صورت کې پیریان او دیوان دي .

هغوي د خپلو ځانونو هېڅ پروا نکوي ، مونږ خپله ولېدل چې د هغوي سره یو آس هم نه وو ، بیا معلوم نشول چې له کوم لوري سپاره زمونږ تر شا راتاو او برید یې وکړ ، په مونږ باندې له پاسه غشي وېشتل کېدل ، هر یو غشي په زمونږ یو ملګري وژلو ، هغوي په شمېر کې زمونږ څخه نیمایي هم نه وه ، د هغوي نارې داسې وې لکه تندر .

دا وېرونکې خبرې چې کله د کلا خلکو او پوځیانو ته ورسېدې نو په ښار کې دعاګانې پیل شوې چې ددې آسماني افت او بلا څخه خداې مونږ خوندي وساتي .

دا داسې حقیقت دي چې عیسایي نامتو لیکوال لین پول لیکلې دي : د مسلمانانو شمېر ډېر کم وو خو هغوي په حېرانوونکې توګه زړور ، خوارې کښ او قرباني ورکوونکي وه ، د هغوي قومانده او مشرې د داسې سپه سالار په لاس کې وه چې په رېښتینې توګه قهرمان او اتل انسان وو ، جنګې خواک ، غوره وسله او زیات پوځ خو د اندلسیانو سره وه خو کومه ولوله او احساس چې په مسلمانانو کې وو هغه په اندلسیانو کې هېڅ نه وو .

مسلمانان د الله تعالی د حکم په اساس او اندلسیان د بادشاه د حکم په اساس جنګېدل ، مسلمانانو د الله اکبر ( الله تر ټولو لوې دي) ، نارې وهلې ، دا نارې د مسلمانانو د روح څخه راوتلې ، پدې نارو کې چې کوم شي د تندر په شان کار ورکاوه هغه د الله تعالی مبارک نوم وو .

اندلسیانو کومه ناره نه لرله ، که چېرې کومه ناره وه هغه د اندلس بادشاه دې ژوندې وی .

دا یوه بې روحه ناره وه چې په رُسمي توګه یوازې د خلکو په ژبه اورېدل کېده چې نه ولوله او نه احساس ورسره وو بلکې تش آواز وو .

کارتیجا په یوه شنه ، سمسوره او زرغونه سیمه کې پرته کلا وه ، هر لوري ته حسن او ښکلا وه ، د سهار روښنایي لا پوره نه وه خپره شوې چې د

کلا په دیوال باندې ولاړ یو پوځي په ډېر زور سره چیغې کړې هغه دې هغوی راوړسېدل ، دا آواز د ټولو غوږونو ته ورسېده او ډېر زر په ټوله کلا کې خپور شو ، هر لورې ته ګډوډې او بې نظمي پیدا شوه ، د خلکو زړونه له وېرې او ډار څخه ورپېدل .

د کلا مشر په منډه دیوال ته پورته شو ، هغه د مسلمانانو را روان لښکر ولېده ، هغه د ټیو ډومېر په شان نامتو جنرال د دوی له لاسه ماتې خوړلې لېدلې وه ، ټیو ډومېر د ماتې څخه وروسته څه وخت په همدې کلا کې تېر کړې وو ، د کلا مشر ته یې د جګړې حال هم ویلې وه ، هغه د جګړې حال پداسې شکل ورته بیان کړې وو چې د کلا مشر یې وېرولې او ډار کړې وه ، اوس هماغه د پیریانو او دیوانو لښکر دده په سر باندې هم راښکته شو .

د کلا مشر د دیوال څخه په لوړ آواز حکم وکړ : د کلا دروازې ښې ، سختې او کلکې بندې کړې ، د هرې دروازې شاته تیار او چمتو ودرېږی .

د دیوال له پاسه غشي او برچه وېشتونکې یوې او بلې خواته تیار ودرېدل ، دروازې ښې کلکې بندې کړای شوې ، د هرې دروازې دننه لورې ته ښه پریمانه پوځیان ودرېدل .

د غازیانو لښکر په ډېره بېړه را ورسېده او د کلا شا او خواته خپاره شول ، طارق بن زیاد په اندلسي ژبه اعلان وکړ : د کلا دروازې خلاصې کړی او وسله تسلیم کړې ، که زمونږ یو سړې زخمي یا شهید شو او بیا مونږ کلا ونیوله نو بیا به ستاسې د پوځ پای ډېره بده او خرابه وې .

که پخپله خوښه دروازې خلاصې کړې نو ډېر ښه او غوره سلوک به درسره وشي ، مونږ محاصره ډېره نه اوږدوو ، د نن ورځې لمر به هغه وخت پرېوځی چې مونږ په کلا کې دننه ننوتې وو .

د کلا د دیوال څخه آواز راغی : ستاسې لمر پرېوتې دې ، همت وکړی ، او دروازې خپله خلاصې کړې .

طارق بن زیاد د بل څل اعلان: اړتیا ونه لېدله ، هغه د خپل ځان په هکله سم ویلې وه چې زه ځوان یم او بې صبره یم .

طارق بن زیاد یو دم حکم ورکړ : کلا ورانه او ویجاړه کړی .

مسلمانان پدي حکم پوهېدل ، يو ګروپ غازيان د تبرګيو او مارتوړونو سره د کلا په دروازه باندي ورخوشي شول ، دپاسه پرې د غشو او برچو باران پيل شو خو بربريانو د برچو او غشو پروا نکوله ، بربري غشي وېشتونکي د مخکنيو غازيانو تر شا را روان وه ، د هغوې سره اوږده او قوي لېندي وې چې استعمال يې پوره زور او ځواک غوښتلو ، ددي لېندو غشي تر لرې پورې تلل او په بدن کې ښه ژور ننوتل ، دي غازيانو خپل غشي د ديوال له پاسه په ولاړو پوځيانو ورخوشي کړل . دوه ، درې غشي وېشتونکي له ديوال څخه لاندي پرمخ راولوېدل ، نورو خپل سرونه ښکته کړل او غشي وېشتل يې بند شول .

کلا څلور دروازې درلودي او په څلور واړو باندي بربري غازيانو يو ځل بريد وکړ ، هغوې نه د غشو پروا لرله او نه د برچو ، په دروازو باندي د تبرونو او مارتوړونو ګذارونه پيل شول دا د ډېر زړورتيا او مېړانې کار وو ، کلاګانې هسې خوشي نه فتح کېږي ، هر سپه سالار خپل پوځ داسې خطرناک ځاې کې نه استعمالوي ، خو د طارق بن زياد اصول دا وه چې خپله خطرناک شه نور تول خطرو نه خپله ختمېږي ، د طارق اصل ځواک يو بل شي وو ، هغه پخپل زړه کې يوازې د الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم نوم اخيستې او جګړې ته راوتلې وه ، دا دوه پاک نومونه د هغه په روح کې ننوتې وه ، او د همدي پاکو نومونو په برکت هغه ته په خوب کې رسول الله صلی الله عليه وسلم زېرې ورکړې وو چې فتح او برې ستاسې په برخه دي ، پدي شرط چې د الله تعالی رسی کلکه ونېسی ، دا خو د الله تعالی وعده ده چې کله شل صابر غازيان وې هغوې په دوه سوه کفار او چې سل صابر غازيان وې په زرو کفارو برلاسې کېږي .

طارق بن زياد د همدي صابرو غازيانو له ډلې څخه وو ، هغه ته هم قرآن مجيد او هم رسول الله صلی الله عليه وسلم د برې او فتح زېرې ورکړې وو ، هغه د کارتېجا په کلا باندي هم برلاسې شو ، کله چې يوه دروازه ماته شوه ، غازيان د سيلاب په شان کلا ته ننوتل ، د کلا پوځيانو مقابله او مقاومت

وکړ خو په هغې کې ولوله او احساسات نه وه ، د کلا مشر سمدستي وسله تسليم کړه او خپل پوځيان يې د زيات مرګ او ژوبلې څخه وژغورل .

طارق بن زياد سمدستي لومړې حکم وکړ ، هغه دا چې په ټول ښار کې اعلان وشي چې هېڅوک دي د کلا څخه تېښته نه کوي ، ټول خلک دي پخپلو کورونو کې اوسېږي ، د هغوي مال ، ځان ، حيا او عزت ساتنه به کېږي .

په خلکو کې ګډوډي او بې نظمي را پېدا شوې وه ، خلکو خپل مالونه او پېغلې انجونې پټولې ، ځينو د تېښتې لارې چارې لټولې ، د طارق بن زياد اعلان د تېښتې ټول کارونه په ټپه ودرول .

طارق بن زياد دويم حکم دا وکړ چې د کلا ټول پوځ دي بې وسلې شي او په جلا ځاې کې دي ودرېږي .

طارق دا هم حکم وکړ چې هيڅ ولسي سړې دي کوم پوځي ته پخپل کور کې پناه او ځاې نه ورکوي ، که په کوم کور کې اندلسي پوځی پېدا شو نو د هغې کور ټول اوسېدونکي به جنګې بنديان وي ، د هغوي مال او دولت به غنيمت وي .

د کارټېجا ټول پوځ د جګړې بنديان وګرځيده او هلته په کلا کې ځاې پر ځاې شول .

ددې ښار او پوځې کلا تر نيولو او فتح وروسته طارق بن زياد ته يوه لويه او پراخه دره او سيمه په لاس ورغله ، ددې وادۍ نوم لکه وو ، دا سيمه او دره مخکې د يو سيند پورې پراخه پرته وه او هغه يې پوله وه ، دې سيند ته ګادليت ويل کېده ، طارق بن زياد د کلا پر ځاې ددې سيند په غاړه خپلې خيمې ووهلې او هلته يې پوځي قرارګاه جوړه کړه ، خپل پوځ يې د تېارسۍ او چمتوالې په حالت کې وساتلو .

د نيولې شوې کلا څخه دومره غشې ، تورې ، برچې او پوځې سامان غازيانو ته په لاس ورغې چې د ډېر اوږد جنګ لپاره يې بسوالې کولو ، د تولو څخه مهم او قيمتي شې چې غازيانو ته په لاس ورغې هغه دوه زره سپاره وه ، طارق دا اسونه هغو پياده غازيانو ته ورکړل چې تکړه وه ، د هغوي تولو څخه امتحان واخيستل شو او په عملي توګه يې وازمويل .

ددې څخه وروسته طارق بن زياد هره ګړۍ مصروف او بوخت شو ، د هغه سره اوس د دولس زره غازيانو لښکر وو ، چې پدې سره بايد هغه د راډرک يو لک پوځ ته ماتې ورکړې ، هغه په پخوانيو دوه جګړو کې ولېدل چې د اندلسيانو وسله او سامان غوره او ښه وې ، هر پوځې په سر باندې اوسپنېزه خولۍ هم لرله .

يو لک پوځ دومره زيات او ډېر وې چې دولس زره تر خپلو پښو لاندې دل او مېده کولای شې نو داسې لوې لښکر ته د جنګې چلونو او همت پوسيله ماتې ورکول کېدای شې ، طارق به زيات وخت پدې فکر او غور کولو چې ايا دې به داسې لوې لښکر ته ماتې ورکړای شې او کنه ؟

يوه ورځ جولين طارق ته وويل : ابن زياد ! تا ته خو خپل پېغمبر صلی الله عليه وسلم د فتح او برې زېرې درکړې خو څومره دعاګانې چې مظلوم اندلسيان تاته کوې هغه ټولې د الله تعالی دربار ته رسېږې ، الله تعالی د مظلومو خلکو دعا اورې سره ددې که هغه هر څوک وې نو د اندلس مظلومان ستاسې لپاره په سر تورو دعا کوې .

طارق بن زياد خپلو ټولو ملګرو ته دا حکم او اعلان کړې وو چې د جنګې بنديانو او ولسې خلکو سره به ښه او غوره سلوک کوې او هغوې ته به پخپلو کړو وړو دا ثابتوی چې مسلمانان د خلکو د عزت او حيا ساتوونکې دې او د انسان په حيث به هغوې ته ټول حقوق ورکول کېږې ، هغوې ته به خپل ګټلې شيان ورکول کېږې ، يوازې د وسې سره به ورڅخه جزيه اخيستل کېږې .

مخکې وويل شول چې د راډرک په وخت کې ولسې خلکو د حيواناتو او څارويو په شان حيثيت درلوده ، ښه ژوند هغه چا درلوده چې حکومتې يا مذهبی څوکۍ به يې درلودې ، مور پلار به له وېرې خپلې حسينې لوڼې پټولې ځکه چې حکومتې کارکوونکو او پوځيانو به هغوې په زور سره وړلې ، پوځيانو به غريب ولسې خلک د بېګار لپاره په زور سره وړل .

کومه سيمه چې طارق بن زياد تر اوسه پورې نيولې او لاندې کړې وه په هغې کې د کارتېجا څخه برسېره نور ډېر کلې او باندې هم وې خو څو کلی پکې د حمله کوونکو له وېرې مخکې له مخکې خالې شوې وه ، هغوې

داسې فکر کاوه چې حمله کوونکې به کوم بادشاه وي او هغه به هم زمونږ د بادشاه راډرک په شان ظالم او وینې څښونکې وي ، هغوی به لوټ او تالان کوي او د خلکو حیا او عزت ته به په سپکه سترګه ګوري ، ځاروي به حلالوي ، نو ځکه ولسي خلکو خپل هرڅه د ځان سره واخیستل ، د غرونو او ځنګلونو په لورې روان شول .

خو نوې برید کوونکو او حمله کوونکو د هغوی د کورونو او کلو په لورې کتل هم نه بلکې د هغې د ساتنې فکر ورسره وه .

جولین طارق ته په ډاګه وویل : ابن زیاد ! دا ټول ستا سره ملګري دي ، هغوی ستاسې د فتح لپاره دعاګانې کوي ، هغوی خپل لاسونه هر وخت اسمان ته پورته کوي چې د راډرک بادشاهي تباه او برباد شي .

طارق جولین ته وویل : جولین ! د نیول شویو سیمو د خلکو سره د ښه او غوره سلوک کولو حکم زما خپل حکم ندي ، دا حکم د الله تعالی او زمونږ د محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم دي .

د اندلس بادشاه د یو لک پوځ سره را روان وو ، هغوی پخپل مرکز طلیطلې کې هم ځنډ ونکړ . هغه مخکې لا احوال استولي وو چې پخپله ماڼۍ کې شپه نکوي بلکې د ښار څخه به دباندي لږ شانته تم کېږي . کله چې هغه خپلې پلازمینې ته رانژدې شو نو ډېر درباریان ، چارواکي ، او چاپلوسان په لاره کې ورته لاس په نامه ودرېدل چې په هغې کې ماتې خوړلی جنرال تیو ډومېر هم ولاړ وو .

راډرک پخپل سپین آس ایلیا باندي سپور وو او له ماتې خوړلې جنرال څخه یې په بده خوله وپوښتل : ایا ته ددې وړتیا اوس لرې چې زه ستا بد شکل او صورت ته وګورم ؟ د خپل پوځ د نیمایې څخه د لږ پوځ څخه دې ماتې وخوړه او اوس ماته په لاره کې ولاړ یې ، لعنت دې وي پر تا باندي .

جنرال تیو ډومېر د خپل بادشاه غصه وزغمله او وې ویل : جنرال یوازې نه جنګېږي امپراطوره ! زه د خپل پوځ څخه مخکې نه یم تښتېدلې ، لومړي پوځ تېښته وکړه ، زما غلطي یوازې دا ده چې د وژلو او ژوندي نیولو لپاره پاتې نشوم .

رادرک نور هم ورته په غصه شو او بد بد پېغورونه يې ورکړل ، تيو ډومېر خو يو جنرال وو او عادي جنرال هم نه بلکې داسې جنرال چې رادرک د هغه زړورتيا ، تجربه ، پوهه او لاس ته راوړنې منلې او د هغې ستاينه به يې مخکې کوله ، بله دا چې جنرال تيو ډومېر ته د رادرک غلطی او کمزوري هم څرګندوې او معلومې وې .

بالاخره جنرال تيو ډومېر هم حوصله له لاسه ورکړه او وې ويل : د اندلس امپراطوره ! تاسې ولاړ شی او پخپله مانۍ کې دمه او آرام وکړی ، دا يو لک پوځ ماته راکړه ، زه به دا حمله کوونکې په ايوه ورځ کې دل او له سمندر څخه به يې بلې غاړې ته پسې وتښتوم ، له کوم هېواد څخه چې راغلې په هغه هېواد به هم ستاسې بېرغ ورپوم ، ماته د پېغور پر ځاې تاسې دومره پوځ له ځان سره بوځی چې څومره زما سره وو... که چېرې د يو نالايق جنرال سره يو لک پوځ وې هغه هم داسې غورې دربې وهلې شي .

څرنګه چې د رادرک زخمې رګ د جنرال تيو ډومېر په لاس کې وو نو هېڅ يې ونه ويل کنه د هغه غوندي ظالم او ديکتاتور په وړاندي داسې خبرې کول د خپل ځان لپاره مرګ غوښتل وه .

رادرک پدي وخت کې مېرنيا ولېده چې د بادشاهی حرم ناظمه او ساتوونکې وه ، رادرک چې کله هغې ته وکتل نو مېرنيا سلام او آداب وړاندي کړل ، ښکته شوه او وې ويل : زما لپاره څه حکم دي امپراطوره !

رادرک وويل : ايا ته پدي نه پوهېږې چې ستا لپاره څه حکم دي ؟ څه نوی د ګل غتی شته ؟

مېرنيا ځواب ورکړ : هو امپراطوره ! نوې غوړېدلې ښکلې او حسين ګل چې عمر يې ډېر کم دي .

رادرک ورته وويل : هو هغه له ځان سره راوله ؟ که بله کومه يوه وې هم يې راوله ، د مېرمنو ګاډی شاته را رواني دي .

مېرنيا رادرک ته په ډکو سترګو وکتل او بيا يې سلام او آداب وړاندي کړل او روانه شوه .

لې لرې د ډېر ښکلې او قیمتي تجهرونه ودرول شوې وه ، د هغې په منځ کې مخملي فرشونه غوړېدلي وه ، هر لوري ته بادشاهي څوکۍ اېښودل شوې وې ، لې وخت وروسته د رادرک دربار جوړ شو ، رادرک له خپل سپین آس ایلیا څخه راښکته شو ، پدې ځلېدونکې دربار کې ورننوت ، هغه پخپل خوا کې یو درباري ته په غوږ کې څه وویل .

هغه خواب ورکړ ښاغلي امپراطور ! هغه تیار همدلته شته دي ، نو د هغه پسې ورغې .

هغه سړې د کاهن په شان معلومېده چې رادرک ته د هغه په هکله ویل شوې وه چې همدلته دئ ، د هغه سړې عمر نژدې اویا کاله کېده ، د هغه ږېره اوږده او د شېدو په شان سپینه وه ، هغه د اوږو څخه تر ښنګرو پورې چپن اغوستې وه ، د ملا څخه یې تکه سره توټه تړلې وه ، په سر یې ګرده خولۍ وه ، په غاړه کې یې د شنو غمیو امیل ځوړند وه ، په یو لاس کې یې د کوچنیو غمیو امیل وه خو په دویم لاس کې یې بادامي رنګه امساء نیولې وه چې تر اوږو پورې لوړه وه ، د امساء سرد کېچه مار د سر په شان وو .

هغه کاهن په کراره کراره روان او رادرک ته ورسېده چې پخپل تخت باندې ناست وو ، کاهن د عمر ، جامو ، خبرې ، شکل او تللو څخه د درناوې وړ او لایق انسان معلومېده ، خو رادرک هغه ته دومره پام ونکړ چې هغه ته په څنګ کې د کېناستلو لپاره ووایې بلکې هغه یې پخپل وړاندې همداسې ودرولې پرېښوده .

رادرک ورڅخه وپوښتل : ای مشره کاهنه ! ایا تا راتلوونکې وخت ښه څارلې دي ؟

مشر کاهن ورته وویل : هو امپراطوره ! خو ګرد ښکارې چې کله تت او کله تېز شي او څه پکې ښکارېږي .

رادرک ورڅخه وپوښتل : هغه څه دي چې پکې ښکارېږي .

مشر کاهن ورته وویل: هغه څه دي کوم چې امپراطور په هغه حېرانوونکې برج کې لېدلي وه .

رادرک وپوښتل : ایا تاته ټول هغه څه یاد دي چې ما درته کېسه کړی وه ؟

بودا کاهن وویل : ولې به راته یاد نه وې امپراطوره ! ستا ددې غلام او نوکر حافظه د سمندر په شان لویه او ژوره ده.

رادرک د امپراطورانو په شان په غصه سره وویل : ته یوازې زما د هغو پوښتنو ځواب راکوه چې زه یې درڅخه پوښتم ، زمونږ سره د اضافې خبرو اوربدلو وخت نشته ، که هغه حالت تاته یاد وې د کوم چې زه یادونه کوم نو دا راته ووایه چې هغه جګړه خو به په حقیقت باندې نه بدلېږي .

بودا کاهن وویل : د یو لک پوځ په وړاندې هېڅ حقیقت نشې تم کېدي ، دا یو طوفان او سیلاب دي چې هېڅ بند ورته نشي ټینګېدای .

رادرک بیا وپوښتل : یوه خبره دا هم راته وکړه ! یوه ځوانه پېغله زه پخپلو خوبونو کې ګورم !

بودا کاهن وپوښتل : په څه شکل او څه حالت کې امپراطوره ؟

رادرک وویل : پداسې حال کې چې هغه زما په وړاندې ولاړه وی ، د هغې سر نه وې ، تر غاړې پورې یې تنه او بدن وې ، یو دم یې په اوږو باندې سر راپېدا شي ، هغه ماته ځېر ځېر ګورې ، بیا په ما باندې وېره راشي ، بیا وروسته د هغې پېغلې اواز راپېدا شي او وایي : ستاسې په بادشاهی باندې به هم آسونه وځغلول شي ، ستا نوم او نښان به ورک شي ، د پېغلې شونډې نه ښورېږي خو آواز یې اورېدل کېږي .

بودا کاهن وپوښتل : ایا امپراطور هغه پېغله پېژني چې څوک ده ؟

ایا داسې کومه انجلۍ د امپراطور په ژوند کې تېره شوې او لېدلې شوېده ؟

رادرک ځواب ورکړ : هو کې مشره ! هغه په پمپلونه کې زما په ژوند کې راغلې وه ، هغه د سر غرونکې لور وه ، ډېر کم عمر یې درلوده ، هغه ما د ځان لپاره ساتلې وه خو یوه شپه د هغې په یوه غلطۍ باندې ما د هغې سر له تنې څخه جلا کړ .

رادرک د سر غرونکو د مشر د لور اهستوریا خبره کوله ، د بودا کاهن په پوښتنه هغه ورته پېښه بیان کړه .

رادرک وېوښتل : ایا دا کوم بد فال دي ، زما دا خبره هم واوره چې زه د چا څخه وېرېدونکې نه یم خو اوس چې زه هغه په خوب کې ګورم ویره راته پیدا کېږي .

بوډا کاهن وویل : فال ښه ندي امپراطوره ! د کوچنیانو او کم عمر انسانانو دعا او ښېرا زر تر زره قبلېږي ، چا چې دا ټول انسانان پېدا کړېدي هغه د هر چا سره عدل او انصاف کوی .

رادرک وویل : زه پدي خبر یم چې ستا سره داسې څواک شته چې بد فال په ښه فال باندي بدلوې او خطر کمولاې شې ، دا هغه جادو دي چې د هغې کوونکې یهودیان دي ، تاسې نه یوازې دا چې د یهودیانو ربی یاستی بلکې د هغوې کاهن هم یاستی ، ما چې تاته کوم ځاې او رتبه درکړې هغه مې بل چاته ندي ورکړې ، تاسې یوازنی یهودي یاستی چې ما دومره کرم پرې کړې .

بوډا کاهن وویل : ایا ستاسې دا غلام ددي ورتیا نلرې ، ایا ددي کرم حقدار هغه ندي ؟

رادرک وویل : هو ! هو ! هغه ددي ورتیا لرې ، زه ددي څخه هم زیات څه درکولاې شم خو یو کار زر تر زره وکړه ، داسې یو کار او عمل وکړه چې دا انجلی ماته په خوب کې رانشي او د هغې وېره زما له زړه څخه ووځې ، داسې نه چې کله زه په حمله کوونکو باندي برید وکړم او زما په زړه کې وېره راپېدا شی.

دا پېښه یو پرتګالي تاریخ لیکوونکې ډیلومیګو پخپل کتاب ( د اندلوسیا ځیني پېښې ) کې لیکلې دي ، رادرک وېرېدونکې ، ډارن او بې زړه بادشاه نه وو او د جګړې د مېدان باتور او مېړني وو خو ددي انجلۍ اېستوریا د وژلو څخه وروسته پرې وېره او ډار سپور شوې وو .

بوډا کاهن نه یوازې مذهبي مشر بلکې تکړه جادوګر او کاهن هم وو .

هغه به د راتلوونکو حالاتو په هکله هم معلومات ورکولو ، رادرک هغه پخپل قصر کې ساتلې وو .

رادرک هغه ته وویل چې لومړې د انجلۍ وېره دده له زړه څخه وباسې او بیا پخپل جادو سره دا بد فال سم او بې خطره کړې .

یهودي کاهن او جادوګر د رادرک د سر څخه تاج لرې کړ او بیا یې د هغه سر پخپلو دواړو لاسونو کې ونیوه او خپلې سترګې یې د بادشاه په سترګو کې واچولې ، بیا یې پخپلو ګوتو د هغه تندہ مښله ، هغه دا کار ترڅو دقیقو پورې وکړ او بیا یې خپل لاسونه د بادشاه له سر څخه پورته کړل ، بادشاه خپل سر ښې او چپ لورې ته وښوراوه .

رادرک ویل : ما څه حس کړل .

بوډا کاهن وویل : زه پوهېږم ، دا انجلۍ به اوس د بادشاه په خوب کې نه راځي ، په خیالونو کې به هم نه راځي ، امپراطور به د هغې له وېرې هم آزاد شي .

رادرک وویل : پاتې کار به کله کېږي ؟ تاسې ویلی وه چې فال ښه ندي ، د هغې به څه تداوي او علاج کېږي ؟ .

بوډا کاهن وپوښتل : ایا امپراطور خپل دي غلام ته یوه تنکۍ پېغله ورکولای شي ؟

رادرک وویل : یوه نه بلکې سل ووایه ! عمر یې څومره وي ؟

بوډا کاهن وویل : د هووېشت کلنو څخه کم ، زه دا پېغله د ځان لپاره نه غواړم ، دا به ژوندۍ نه ساتل کېږي ، ننی شپه به د هغې د ژوند آخري شپه وي ، د هغه زړه به راوباسم ، د بدن څخه یې نور شیان هم راباسم ، بیا به په هغې باندي تولہ شپه جادو کوم .

رادرک سمدستي مهرنیا راوغوښتله .

رادرک وویل : مهرنیا ! تا ماته د یوې تنکۍ پېغلې په هکله ویلې وه ، چې هغه کوچنی او نوې غوړېدلې ده ، د هغې عمر څومره دي ؟

مهرنیا ځواب ورکړ : شپاړس ، اولس کاله به وي امپراطوره .

رادرک وویل : هغه همدا نن شپه دي کاهن ته وسپاره .

مهرنیا وویل : امپراطور خو ماته د خپل ځان سره د هغې د بیولو حکم کړیدي .

رادرک ځواب ورکړ : ته زما سره نشې تللي ، ته همدا نن شپه د هغې تنکۍ پېغلې سره یو ځای چېرې چې کاهن وایی هلته ولاړه شه .

راډرک کاهن ته ووېل : دا مهرمن درسره یو ځاې بوځه او ښه یې پوهه کړه چې هغه به څه کار کوي .
مهرنیا د یهودي کاهن سره روانه شوه .
د شپې لومړنی نیمایې مخ په تېرېدو وو چې مهرنیا د ښکلې او ښایسته تنکۍ پېغلې سره د بوډا کاهن خونې ته ورننوتله ، مهرنیا چې کله د بوډا کاهن سره ولېدل نو هغه ته یې ووېل چې امپراطور خو تاسې ته دومره لویه او غټه ډالۍ او تحفه درکړه چې تر اوسه پورې یې هېچا ته هم نه وه ورکړې ، دا انجلۍ ما په خصوصي توګه د امپراطور لپاره پېدا کړې وه او اوس هغه په تا مهربانه شو او هغه یې تاته وسپارله .
بوډا کاهن د مهرنیا څخه وپوښتل : ایا تا کله زما خونې ته د کومې ښځې تلل راتلل لېدلې دي ؟ زه پدې عمر کې په دې پېغله څه کوم ، زه دا د بل هدف او مقصد لپاره پکاروم ، د شپې به بیا درته ووایم چې زه پرې څه کوم ، ته به دومره احتیاط کوې چې ددې یادونه ، هېچا ته هم ونه کړې ، ته به د خپل ځان له منځه تلل نه غواړې .
تنکۍ پېغله چې کله د بوډا کاهن خونې ته ننوتله نو ووېرېدله او د مهرنیا سره ونښتله ، هلته په یو مېز باندې د انسانانو درې کوپړۍ پرتې وې ، په یو دیوال باندې د انسان اسکلیټ راځوړند وو ، ددې په لېدلو سره د انجلۍ د خولې څخه نرې غوندې چېغه ووتله ، بوډا کاهن چې کله د صندوق سر خلاص کړ نو دوه خطرناکو مارانو ورڅخه سرونه راووېستل او خپلې ژبې یې وېرسولې ، هغه بوډا په بکس کې څه وغورځول او بیا یې سر ورېسې بند کړ .
په خونه کې داسې بد بوې وو لکه چې کوم مړي پکې خوسا او خراب شوي وي ، هلته مړي نه لېدل کېده ، بلکې دا د څو کیمیاوي بوټو بد بوې وه ، بوډا پدې خونه کې ډول ډول شیان سوځول ، د خونې فضا وېرونکې او هیبت ناکه وه ، هلته لوی او کوچنی توکری ، بوجۍ او صندوقچې بې نظمه په فرش پرتې وې .

هغه بوډا چې په دربار کې دروند ، ښاېسته او ښکلې ښکارېده دلته په خونه کې د مرګ د پرښتې په شان ډارونکې برېښېده .

بوډا د څنګ خونې دروازه خلاصه کړه او مېرنیا ته یې وویل چې انجلۍ په هغې خونه کې کېنوې او خپله بېرته راشې ، مېرنیا انجلۍ هلته بوتلله ، هغه خونه پاکه او صافه وه ، د یو دیوال سره کټ پروت وو چې پکې توشکې او ښکلې بالښتونه اېښودل شوې وه ، په فرش باندې ښکلې قالینه غوړېدلې وه ، په چت کې ښکلې فانوس راځوړند وو ، خو پدې خونه کې هم بد بوې وه .

تنکۍ پېغلې مېرنیا ته وویل : زه دې چېرې راوستې یم ؟ ایا همدا امپراطور راډرک دې ؟ نه هیڅکله نه ! دا خو د پوځ کوم جنرال هم ندې چې زه دې ورته راغوښتې ووم ، هغوې خو د پوځ سره مخکې ولاړ دې ؟

مېرنیا وویل : د بادشاه حکم هغه ټوله لوبه خرابه کړه په کومه کې چې ماته پکار اچولې ، زه هم ستا سره تللم خو زه هم د تللو څخه منع شوم .

انجلۍ وپوښتل : ولې داسې وشول ؟ زه پدې بد بویه خونه کې ددې بوډا سره پاتې کېدل نه غواړم ، تا چې زما پلار ته کومه نقده ورکړې هغه بېرته ورڅخه واخله .

بوډا د بلې خونې څخه مېرنیا ته اواز وکړ : مېرنیا ! زر دې خونې ته راشه او هغه هلته پرېږده .

مېرنیا په غوږ کې انجلۍ ته وویل : وېرېږه مه ! زه تا لدې ځاې څخه وباسم صبر کوه ، مېرنیا بلې خونې ته د بوډا کاهن څنګ ته ورغله .

بوډا جادوګر مېرنیا ته وویل : زه پوهېږم چې ته هم یهودنه یې ، شاید تاته به هم څرګنده وې چې زه یهودي یم ، ته به زما سره ملګرتیا کوې ، د امپراطور د برې او فتح لپاره زه داسې جادو کوم چې ته به ورڅخه وډاره شې خو باید ډار ونکړې .

مېرنیا ورته وویل : هېڅ یهودي باید ددې امپراطور د فتح لپاره کار ونکړي ، هغه پدومره زیات پوځ سره حتما برې او فتح پېدا کوي .

بوډا په غصه مهرنیا ته وویل : زما په کار کې کار مه لره ، د امپراطور لپاره هغه فال ډېر بد او خراب دي ، د هغې اثر ختمول ارین دي .

مهرنیا په خندا سره وپوښتل : اورېدلي مې دي چې د حمله کوونکو شمېر یوولس یا دوولس زره دي ، د امپراطور په پوځ کې خو یوازې شل زره سپاره دي ، فتح به زمونږ د امپراطور وي ، تاته به هسې خوشې انعام په لاس درشي چې ګوندي دا ستا کمال وو ، ایا همداسې نده ؟

بوډا کاهن وویل : په څه چې زه پوهېږم په هغې ته خواره چېرې پوهېږې ، څه چې زه درته وایم یوازې هغه کوه ، زه ددې تنکۍ پېغلې څخه زړه راویستل غواړم او کله چې د هغې آخرې سلګۍ وځي ګېډه یې څېروم او ددې نور غړې هم ورڅخه وباسم ، ته به زما سره د هغې په حلالولو او ذبح کولو کې مرسته کوې ، کله چې کار ختم شو نو د انجلۍ مړې ورکول او پټول بیا ستا کار دي ، دا څه سخت کار ندي ، ددې ځاې څخه ډېر مړي ورک او غیب شویدي .

په مهرنیا باندې بې سدي او بې هوشې غوندې راغله خو خپل ځان یې راسمبال کړ .

بوډا مهرنیا ته وویل : اوس هغه له بلې خونې څخه راوله ، په مینه او محبت ، هغه باید د خپل پاې څخه خبره نشي چې څه پرې کېږي .

مهرنیا بلې خونې ته ولاړه او هلته یې یوې او بلې خواته کتل چې یو کوټک په لاس ورغې ، هغه یې راپورته کړ او بیا یې انجلۍ ته وویل چې راځه راپسې .

انجلۍ وویل : اوس به څه کېږي ؟ ته به ما ددې بد بودیه بوډا سره خوشې کوې او ته به راڅخه ځې ؟

مهرنیا ورته وویل : زه اوس څه کول غواړم ، ته وېرېږه مه ، ته زما سره مرسته کوه ، دواړه د بوډا جادوګر بد بوی خونې ته ورغلی .

بوډا جادوګر د انجلۍ په سر لاس کېښوده او انجلۍ ته یې وویل : راشه لورې .... پدې مېز باندې کینه او ما خپل پلار وبوله .

انجلی د مېرنیا په لورې وکتل ، هغې ورته په سر اشاره وکړه چې په مېز باندي کيني ، بوډا هغې ته ورنږدې شو ، هغه غوښتل چې څه وربوې کړي او بیا یې تر خپل اثر لاندي راولي او ختمه یې کړي ، پدې وخت کې د بوډا شا مېرنیا ته شوه ځکه هغه انجلی ته خپل مخ واړولو ، مېرنیا له بلې خوني څخه ډانګ او کوټک را اخیستی او شاته یې پټ نیولې وو ، هغې کوټک پخپل ښې لاس کې ونیولو او د شا له لورې یې د بوډا په سر راخوشې کړ ، بیا یې سمدستي بل ګذار هم پرې وکړ چې ددې دوه کوټکونو خوړلو سره بوډا لاندې راپریوت او بې سده شو .

مېرنیا ورته په سینه کېناسته او د هغه غاړه یې په دواړو لاسونو کې کلکه ونیوله ، پدې سره بوډا وربېدلو او ډېر زر یخ شو ، مېرنیا په بله خونه کې یو لوی بکس لېدلې وو ، د انجلی سره یې یو ځاې د بوډا مړې پورته کړ او دویمې خونې ته یې ورسولو .

بکس یې خلاص کړ او بیا یې له نورو شیانو څخه خالي کړ ، وروسته یې د بوډا مړې پکې ور واچاوه او پښتې یې پرې غبرګې کړې بکس یې بند کړ او کونډه یې وتړله .

مېرنیا وویل : اوس به ددې بادشاه رادرک تر فتح وروسته راشي ، راځه انجلی ددې ځاې څخه ووځو .

انجلی وپوښتل : زه وېرېږم ، دا ټول څه وشول ؟

مېرنیا ځواب ورکړ : که دا بوډا جادوګر نه وې مړ شوې نو ته به اوس مړه وې ، وېرېږه مه ! زه تا سهار وختې لدې ځایه روغه رمټه وباسم خو د چا سره به پدې هکله هېڅ خبره نکوې .

مېرنیا او انجلی دواړه راووتل او د مېرنیا خونې ته ولاړې ، مېرنیا د ځان لپاره ډېر لوی خطر راپېدا کړ ځکه چې ټولو د رادرک په برې او فتح باندي پوره باور درلوده ، ځکه چې د دوهره لوې لښکر او پوځ په مقابل کې هېڅوک هم نشو ودرېدای ، د مېرنیا لپاره یو لاره وه چې هغې بادشاه ته تر تاته فتح په برخه شوه خو وروسته هغه چا ووژلو ، خو که هغه ماتې خوړلې

راشي نو بيا به حالت ډېر خطرناک شي ځکه هغه د بوډا جادوګر پوښتنه او تحقيق خامخا کوي .

مېرنيا د تېښتې پرېکړه وکړه نو د انجلۍ شکل او صورت يې بدل کړ او بيا يې له مانۍ ځخه خپل کور ته واستوله چې د هغې له غم ځخه خو ځان خلاص کړي ، مېرنيا بيا بل لورې ته ولاړه او هلته په يو کور کې پټه شوه .

دا کور ډېر لوی او پراخه وو چې د ګوت کورنۍ پکې اوسېده ، هلته په کور کې دوه سړي وه ، مېرنيا هغوی ته وويل چې بوډا يهودي جادوګر مې خپل اصلي ځای ته ورسولو او په بکس کې مې بند کړ .

يو سړي ورته وويل : مېرنيا ! دا دي ډېر ښه کار کړيدي ، تا يوه مظلومه انجلۍ ژغورلې ده ، اوس چې څه کېږي ، بيا به ګورو .

بل سړي وويل : هغه به ژوندي راځي ، د انديښنې هېڅ اړتيا نشته ، کله چې هغه دي لورې ته را روان شي نو ته به بل لورې ته روانه شې ، سېوسته ته ستا ژوندي رسول زمونږ مسئوليت دي ، خو دعا کوه چې اوپاس ژوندي پاتې شي مونږ به تا هغه ته سپارو .

راډرک د خپل پوځ او لښکر ځخه زيات باور او عقيده د بوډا جادوګر په سحر او جادو باندي لرله او د هغې په هېله او اميد باندي د غازيانو مخې ته ور روان وو .

***

د مسلمانانو په مرکز کې د هر غازي په خوله کې د الله تعالیٰ عظيم نوم وو ، طارق بن زياد خپلو غازيانو ته ويلې وه چې د هغوی د مقابلې لپاره اته چنده زيات پوځ را روان دي ، او د هر غازي مقابله به د اتو او لسو کسانو سره کېږي ، د هر سهار تر لمانځه وروسته به هغه خپل خوب غازيانو ته بيانولو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته د فتح او برې زېرې ورکړي وو ، ددي ځخه برسېره يې د قران مجيد هغه ايات شريف هم اوروليو چې په هغې کې مؤمنانو ته د فتح او برې زېرې ورکړل شوي وو هغه به ويل : ډېر داسې شويدي چې الله تعالیٰ کوچنۍ تولګې په لوی تولګې باندي غالب او برلاسې کړيدي ، هغه به د قرآن مجيد دا آيت شريف تلاوت

کولو او خپلو غازیانو ته به یې ویل چې د کوچنې تولګې امیر او غازیان باید څه صفات ، استعداد او ایماني قوت په ځان کې پیدا کړي چې الله تعالی ورته په لوی تولګې باندي غلبه او برلاسې ورکړي .

طارق بن زیاد د لومړی پارې دا ایت شریف هم زیات لوستلو : هغه وخت رایاد کړی چې کله مونږ دریاب دوه ځاې کړ ، تاسې ته مو د خلاصون لاره درکړه او فرعون مو غرق او ډوب کړ .

طارق بن زیاد خپلو غازیانو ته ویل چې حضرت موسی علیه السلام بنی اسرائیلو ته د پیغمبر په توګه لیږلې شوې وو ، هغه فرعون ته بلنه ورکړه چې ایمان راوړي او بنی اسرائیل له خپلې غلامی څخه آزاد کړي ، هغه ورته جادوګران راټول کړل ترڅو د موسی علیه السلام مخه ونیسې خو د حضرت موسی علیه السلام له امساء څخه لوې ښامار جوړ شو او جادوګران ټول مسلمانان شول ، بیا سامري نوې فتنه او فساد جوړ کړ هغه هم د نبوت په زور سره ختم شو ، کله چې موسی علیه السلام پدې پوه شو چې فرعون دوې ته ازادي نه ورکوې نو بنی اسرائیلو ته یې د هجرت حکم وکړ ، په لاره کې د نیل دریاب پروت وو چې د هغې څخه تیریدل او سینا ته رسیدل اړین وه .

کله چې موسی علیه السلام او بنی اسرائیل هلته ورسیدل نو د امساء په اشاره باندي په اوبو کې دولس لارې جوړې شوې ، بنی اسرائیل ټول ورڅخه تیر شول او کله چې فرعون د خپل فرعونې لښکر سره ټول په دریاب کې ورګډ شول نو یو ځلې پرې اوبه راخلاصې شوې او ټول یې غرق او ډوب کړل یوازې د عبرت لپاره د فرعون مړې اوبو راپورته کړ چې ټول یې په خپلو سترګو وګوري چې الله جل جلاله په څه ډول د هرې زمانې فرعونیان هلاکوي .

طارق وویل : د اسلام غازیانو ! کله چې د خلاصون څخه وروسته موسی علیه السلام د طور غره ته ولاړ ترڅو تورات راوړي نو بنی اسرائیلو د خوسې عبادت پیل کړ .

ای د اسلام په نوم ځان قربانوونکو غازیانو ! که هر ډول حالات او شرایط درباندې راشي تاسې باید د الله جل جلاله له عبادت څخه بې پروا نه شې او د هغه عبادت به کوې .

طارق بن زیاد به خپلو غازیانو ته د قرآن مجید زیات ایاتونه لوستل او په هغوی کې به یې د ایمان او یقین ولولې او احساسات راپارول ، هره ورځ به یې خپل پوځ هغې سیمې ته له ځان سره ملګري کولو کوم ځاې چې ده د جګړې لپاره غوره کړې وو ، هغه داسې میدان خوښ کړې وو چې پخپلو جنګې چلونو یې دښمن رانسکورولې شو ، هغه داسې غونډۍ هم کتلې وې چې هلته خپل غازیان پټ کړې او بیا دښمن هلته راولې او تباه یې کړې ، هغه به هر وخت پخپلو غازیانو باندی جنګې تمرینونه سر ته رسول ترڅو ښه جګړې ته چمتو او تیار شي .

طارق بن زیاد لپاره ښه او بد فال نه وو ، هغه د فال د کلمې سره هم نابلده وو .

د رادرک پوځ او لښکر د تېز او چالاک سیلاب او طوفان په شان د مسلمانانو پسې را روان وو ، د داسې سیلاب په شان چې څوک ورته بند او خنډ نشي جوړېدي .

***

مهرنیا چې انجلۍ کوم کور ته بیولې وه هغې کور ته هغه بیا بیا په مختلفو جامو او شکلونو کې تلله راتلله ، هغه کوم نامتو کور نه وو بلکې داسې زیات کورونه هلته موجود وه چې لوې لوې کسان به پکې اوسېدل خو پدې کور کې څه پټ کارونه پیل شوې وه چې د اندلس تاریخ او قسمت یې بدل کړ .

دا کور له هغه ورځې څخه د پټو کارونو مرکز جوړ شو چې کله اوپاس د لیونې په شان د مهرنیا سره د ډنډ په غاړه وکتل او مهرنیا ته یې وویل اوس ددې وخت راغلې دي چې یهودیان او ګوت قوم د رادرک د ظلم او دیکتاتورۍ څخه ځان ازاد کړې ، د هغې لپاره یوه لاره دا ده چې په پوځ کې

خومره یهودیان او گوتیان دي هغه ټول د جګړې په میدان کې له رادرک
څخه راجلا شي او د غازیانو سره یو لاس او بیا رادرک ته زیان او تاوان ورسوي.

څرنګه چې مېرنیا یهودنه وه نو د هغې ذهن او فکر شیطاني خصوصیات
لرل ، بله دا چې د مېرنیا په زړه کې د رادرک سره کرکه موجوده وه چې
هغې ورڅخه غچ او انتقام اخیستلو ، ددي لامل دا وو چې رادرک د هغې د
میني او محبت زرین خوبونه برباد او تباه کړي وه ، هغې یوازې اوپاس
غوښتلو خو هرڅه سره ګډوډ شول ، شل کاله وروسته چې کله مېرنیا بیا
اوپاس ولېده نو د زړه زخمونه یې یو ځل بیا راتازه شول ، هغې چې کله د
اوپاس خبرې واورېدلې نو قسم یې یاد کړ چې د رادرک په سینه کې به خپل
خنجر ننباسي.

رادرک چې دپمپلونه څخه وخوځېده د هغه په لښکر کې زیاتوالې پیل شو
، مېرنیا د هماغی ورځ څخه د رادرک په سینه کې د خنجر ټومبلو کار پیل
کړ ، د هغې سره ډېرې ښکلې او حسینې انجونې او پېغلې وې ، بله دا چې
هغې ځان رادرک ته هم رسولې شو ، د مانۍ په دننه کې د هغې اثر او
رسوخ هم چلېدلو ، په مانۍ کې درې ، څلور ګوتیان لوړ پوړې چارواکې
وه . دوه ، درې یهودیان هم لوړې پوړې چارواکې وه.. یهودیان پخپله
چالاکۍ سره دي لوړو رتبو ته رسېدلې وه کنه چا هغوې ته اهمیت نه
ورکولو ، هغوې ټولو د مېرنیا سره ښې او غوره اړیکې درلودي ځکه چې
دوې ټول سره یهودیان وه او یو په بل یې زړه سوځېده ، خو مېرنیا نه
غوښتل چې مخکې له مخکې هغوې ته اصلې خبره ورانډي کړي.

دا کور د ګوتیانو وو او هغوې په حکومت کې مهم رول درلوده ، هغوې
په پوځ او ملکې ادارو کې لوړې رتبې درلودي ، ددي کور په اوسېدونکو
کې یوه د راز خبره دا وه چې هغوې لا وتېزا بادشاه نه وو هېر کړې او د هغه
پسې خفه وه ، هغوې پدي پوهېدل چې دا هرڅه د رادرک له لاسه شوېدي.

ددي کور په اوسېدونکو کې د یو نوم زیواس وو چې د اوپاس د کوچنې
توب ملګري وو ، مېرنیا د زیواس سره ولېدل او هغه ته یې د اوپاس د

ناڅاپي لېدنې په هکله وويل او بيا يې د اوپاس پټې خبرې هم هغه ته بيان کړې چې هغه څه پلان او پروګرام لري .

زيواس پرته له دليل څخه دا خبرې ومنلې او بيا يې مېرنيا د خپل پلار او ورونو سره هم مخامخ کړه ترڅو هغوی هم پدې راز باندې خبر کړي .

د زيواس پلار وويل : دا خو ډېره ښه خبره ده ! دا پلان چې څومره ښه او غوره دي همدومره خطرناک هم دي ، ځکه هيڅوک دا نشي منلې چې دومره کم پوځ دې د راډرک د يو لک پوځ سره مقابله او جګړه وکړي او هغه دې مات کړي ، دا هېڅ امکان نلري ... که يهوديان او ګوتيان مخالفت وکړي هم نو د هغوی شمېر به څومره وي ؟ شايد پنځلس يا شل زره وي ، دوی دواړه به څه وکړي ، فتح او برې په هر صورت د راډرک په برخه کېږي ، بيا تاسې پوهېږئ چې څه به کېږي ؟

راډرک به دا يو سړی هم ژوندي خوشې نه کړي ، د يهوديانو او ګوتيانو په کورونو چې څه راځي هغه به ډېر بوګنوونکې او ډارونکې وي .

مېرنيا وويل : اوپاس بل څه فکر لري ، هغه وايي چې مسلمان غازيان په جګړه کې دومره تکړه دي چې د جنرال ټيو ډومره دوه چنده پوځ يې په لږ وخت کې تېښتې ته اړ کړ ، نيمايي پوځ يې ختم او زيات يې ورڅخه ژوندي ونيول او ډېر کم شمېر په تېښته کامياب شول ، تاسې ټول پخپلو کې سره سلا مشوره وکړئ ، اوپاس يو ځل بيا راځي ، هغه به زه تاسې ته راورسوم .

د زيواس پلار وويل : د خپلو يهودي مشرانو سره هم سلا مشوره وکړه .

مېرنيا ددې کار لپاره شپه او ورځ سره يوه کړه ، هغه د يهودي پوهانو او علماؤ سره ولېدل ، يوه شپه درې څلور يهودي پوهان او علماء د زيواس په کور کې کېناستل چې ورسره درې ، څلور ګوت مشران هم وه ، هغوی ټولو پدې ستونزه خبرې کولې خو مېرنيا هرڅه په پټه خوله اورېدل .

يو بوډا يهودي وويل : مونږ ددې ستونزې په يو اړخ باندې غور او فکر کول غواړو ، نن مونږ د راډرک له ظلم او تېرې څخه په تنګ يو او د ځارويو په څېر ژوند کوو ، که چېرې مونږ د راډرک څخه د خلاصون په خاطر د حمله کوونکو سره مرسته وکړو او هغوی بريالي شي ، بيا به د راډرک پر

ځاې هغوی ځواکمن شي او په مونږ په بادشاهی کوي ، دا خلک مسلمانان دي او مونږ يهوديان ، دوي به بيا پر مونږ باندي ظلم او تېرې کوی .

زمونږ پلان بايد داسي وي چي د مسلمانانو سره دومره مرسته وکړو چي هغوي رادرک ختم کړي او بيا مونږ په همدوي بريد وکړو او هغوي ختم کړو ، پدي توګه به په اندلس باندي يهوديان او ګوت بادشاهی کوی .

مېرنيا چي کله دا خبري واورېدي نو پوه شوه چي د اوپاس پلان سيلاب ويوړه ، نو هغه خبره ورياده شوه چي د ډنډ په غاړه اوپاس ته کړه وه زه د هېچا مېرمن نشوم او نه د چا مور شوم ، زه شيطانه شوم ، په ما کي شيطاني خويونه راپيدا شول ، هغي سم ويلي وه ، کله چي هغي د بوډا يهودي خبري واورېدي نو دماغ يي سمدستي دروغ جوړ کړل .

مېرنيا وويل : مسلمانان دلته د بادشاهی او حکومت لپاره ندي راغلي ، اوپاس ماته ويلي وه چي دوي د چور او تالان لپاره راغلي دي ، کله چي د هغوي لمني او جيبونه ډک شي نو خپله بېرته ځي .

ايا دا امکان لري چي اته ، لس زره کسان دي يوه لويه بادشاهی ونېسي ؟ اوپاس ماته وويل چي ما او جولين هغوي پدي پلمه راوستي دي چي د اندلس په بادشاهی خزانه کي دومره سره او قيمتي کاڼي دي چي په سل ګونو اوښان ورځخه بارېداي شي ، تاسي د هغوي څخه ويره مه ساتئ هغوي پوځ نه بلکي لاره شکوونکي او داړه ماران دي .

بوډا يهودي مېرنيا ته وويل : بيا داسي ووايه چي ته له سره د مسلمانانو څخه معلومات نلري ، هغوي چي هر ځاي ته ځي په لږ شمېر کي ځي او لويو لويو پوځونو او لښکرو ته ماتي ورکوي او اطاعت درباندي لازموي ، هغوي په ډېرو لږو کسانو د فارس او روم لوی امپراطوري ختمي کړي ، وګوره د هغوي هېواد اوس څومره پراخه شويدي ، دا داړه ماران ندي ، مسلمانان د کفارو په خلاف جګړي ته جهاد او عبادت وايي او دا د هغوي عقېده او ديني مسئوليت دي .

بوډا يهودي د مسلمانانو فتوحات ، زړورتيا او د هغوي تاريخي کارنامي بيانولي چي مېرنيا په منځ کي ور ولوېدله او وي ويل :

ښاغلي مشره ! تاسې د عربي مسلمانانو خبره کوی ، کوم کسان چې اندلس ته راغلي دي دا بربريان دي ، جګړه ، شوکه او وژل د هغوي پلارني کسب او کار دي ، ددي لښکر جنرال هم بربر دي ، دا جنګي قوم په ډېرو قبيلو وېشل شويدي ، هغوي پخپل وطن کې څه نظام جوړ کړيدي چې دلته به يې زمونږ په خاوره کې جوړ کړی ؟

مېرنيا خپل دروغ پخپلو دلايلو رېښتيا ثابت کړل او مشران يې د ځان بلويان وګرځول .

کله چې راډرک طلېطې ته دېمپلونه څخه رارسېدونکې شو نو اوپاس د يو راهب په شکل طلېطې ته راغې او د مېرنيا سره يې ولېدل ، مېرنيا هغه د ګوت کور ته ولېږلو چېرې چې دوې ټول پکې د سلا مشورې لپاره راټولېدل ، مېرنيا هغه ته د مذهبي مشرانو سره خپلې خبرې اترې هم بيان کړې او خپل دروغ يې هم ورته وويل چې هغه هم همداسې ووايې .

د شپې مېرنيا هم هغې کور ته راغله ، د ګوتانو او يهوديانو مشران هم راغلي وه ، څرنګه چې اوپاس ګوت وو او د ګوتانو حکومت راډرک ختم کړې وو نو هغوې ورسره زر تر زره قانع او ملګري شول خو يهوديانو د خپل قوم د فايدي او ګټې خبرې کولې .

اوپاس وويل : ايا تاسې له ياده وېستلې چې ګوتانو خصوصا زما ورور يهوديانو ته څومره حقوق ورکړې وه ، هغوې يې د ګوت قوم سره په حقوقو کې برابر کړې وه ، همدي کار د هغه په خلاف کرکه راپېدا کړه او راډرک پاڅون وکړ او زمونږ حکومت ختم شو ، تاسې زمونږ سره ملګري شی نو ټول حقوق او اسانتياوې به درکړل شي ، بربريان خو د مال او دولت د لوټولو څخه وروسته خپل وطن ته ځي .

په همدي شپه يو پلان جوړ شو او سبا ورځ په هغې باندي عمل پيل شو ، يو ګوت جنرال نه قانع کېده ، هغه په طلېطه کې راډرک ته سترګې په لار وو ، مېرنيا په هغه باندي خپل جادو وچلولو ، مېرنيا يوه ډېره ښکلې ، حسينه او نوې پېغله هغه ته ور څرګنده کړه نو جنرال وويل : دا زه د ځان سره د جګړې ډګر ته بيايم .

مېرنیا ورته ووېل : تاته به بادشاه ستونزې راپېدا کوي ځکه هغه داسې قیمتي مال بل چاته نه ورکوي خو زه به دا لومړۍ بادشاه ته وړاندې کړم هغه به یې له ځان سره بوځي ، زه به دا ښه پوهه کړم چې کله نا کله تاته هم درځي خو پدې شرط چې ته زما په هدایت عمل وکړې ، زه دا هم درته وایم که بادشاه مړ شو نو د نوي بادشاه څخه به درته ډېرې ځمکې او هرڅه واخلم .

مېرنیا هغې انجلۍ ته ویلي وه چې پدې جنرال هېڅ باور نشته هغه چل هم کولای شي ، مېرنیا انجلۍ ته یو ډول پوډر ورکړل چې زهر نه خو بې سده او کواکه کوونکې وه ، دا پوډر به د شپې په شرابو کې ورکوې ، اصلا هغوی غوښتل د جګړې په مېدان کې جنرال بې کاره کړي .

دا پوډر که رادرک ته ورکړل شوې وای نو هغه هم پرې ختمېدو خو ددې امکان هېڅ نه وو ځکه رادرک نه د چا د لاس څخه څه خوړل او نه یې څه څښل ، هغه به هله یو شی خوړلو یا څښلو چې مخکې به یې په دوه ، درې کسانو وخوړ ، ځرنګه چې هغه ډېر زیات ظالم او دیکتاتور انسان وو نو د مظلومو د انتقام څخه وېرېدلو او ځان یې ډېر خوندي او کلک ساتلو .

یهودیانو او ګوت مشرانو چې د اوپاس سره کوم پلان جوړ کړې وو د هغې سره سم یې یو نیم سل ځوانان برابر کړل ، کله چې رادرک طلېطې ته راورسېدلو نو یهودي او ګوت مشرانو دا ځوانان هغه ته وړاندې کړل او دا یې ورته ووېل چې دا ځوانان پخپله خوښه غواړي په جګړه کې برخه واخلي ، دوی عادي ځوانان نه بلکې سربښندونکي او باتور هم دي ، دوی په شپه کې په دښمن باندې د برید او حملې پوره تجربه لري او هغوی ته زیات زیان رسوي .

طلېطې ته د رادرک تر رارسېدو مخکې اوپاس د سیمی څخه ووتلو ، په همدې شپه د یهودیانو او ګوت قوم اړوند جنرالان او پوځیان لوړ پوړي چارواکې سره په یو داسې ځای کې یو ځای شوي وه چې چا نشول لېدلای ، هغوی تولو پټې خبرې سره کولې او بیا هر یو خپل خپل ځای ته ولاړل .

دویمه ورځ چې کله یو لک پوځ د دښمنانو د تباه کولو لپاره د طوفان په توګه حرکت وکړ نو د اندلس په پوځ کې حېرانوونکې او عجیبې غریبې اوازې او انګازې خپرېدې ، هغوی داړونکې خبرې اورېدې :

• د جنرال تيو ډومېر په شان باتور او تکړه سړي هم د هغوي څخه وتښتېده .
وايي چې هغوي څو زړه دي خو په لکونو پوځيانو باندې درانده او څواکمن وي .
د هغوي هيڅ غشي خطا او خوشې نه ځي ، په هوا کې غشي خوشې کوي او غشي خپل ځان يو سړي ته رسوي او په سينه کې ورننوځي .
د هغوي يو يو پياده د څلورو څلورو سپرو پوځيانو مقابله کوي او ټول له منځه وړي .
ورونو ! خپله جنرال تيو ډومېر بادشاه ته ويلي چې هغوي پېريان او ديوان دي .
داسې ويل کېږي چې هغوي په کښتيو کې نه بلکې د لوې سمندر څخه په لامبو راغلي دي .
مونږ خو دا اورېدلي دي چې هغوي په لامبو نه بلکې د اوبو له پاسه همداسې را روان راغلي " .
داسې ډېرې اوازې ، خبرې او انګازې ، د رادرک په پوځ کې له نا معلوم لورې څخه خپرېدې او اورېدل کېدې .
اورېدونکو په هغې کې له ځان څخه مرچ او مصالحه اچوله او نورو ته به يې اوروله .
پدې توګه په پوځ کې وېره ، ډار او هيبت پيدا کېده ، يوازې يوه خبره پوځيانو ته په زړه پورې او خوشحالوونکې وه هغه دا چې دا حمله کوونکي سره ددې چې ډېر خونړي ، وژونکي او تېز دي خو کله چې ورته څوک تسليم شي او وسله په ځمکه وغورزوي نو بيا تر ټولو زړه سوانده او رحم کوونکي دي .
دا وېره ، ډار او هيبت د هغه پلان سره سم خپرېدلو کوم چې ګوت او يهودي مشرانو په طليطله کې د مېرنيا سره يو ځاې جوړ کړي وو ، دا د هغې پلان يوه برخه وه چې اوپاس جوړ کړي وو ، دا د هغه يو نيم سل سرښندونکو کار او فعاليت وو چې رادرک ته د شپې حمله کوونکي معرفي شوي وه ، دوي خپل کار په ډېره ښه طريقه سره سر ته رسولو .

یو تاریخ لیکوونکې ارتګلمین چې مبصر هم دي په خپل انګرېزي کتاب ( د مسلمانانو کېسې ) کې لیکلي دي چې په اندلسي پوځ باندي دا یوه رواني او سایکلولوژیکي حمله وه چې طارق بن زیاد پرې کړې وه.

هغه اوپاس ته دنده سپارلې وه چې څو هوښیار ، چالاک او غوږ زیي ځوانان پیدا کړي چې د اندلس په لښکر کې د مسلمانانو وېره او دهشت خپور کړي ، اوپاس دا خبره د ګوت مشرانو ته وسپارله هغوې ددی لپاره ارونده کسان برابر کړل.

ار تر ګلمین لیکي چې د طارق بن زیاد بربري دا حمله کامیابه او بریالی شوه.

هلته د مسلمانانو په مرکز او پوځي قرارګاه کې د غازیانو د فتح او برې لپاره دعاګانې کېدلې ، د یهودیانو په عبادت ځایونو او د ګوت په عبادت ځایونو کې د راډرک د ماتې او ختمېدو لپاره هم دعاګانې کېدلې ، یهودو او ګوتیانو دا ګڼله چې کله راډرک ختم او له منځه ولاړ شي نو واکمني به مونږ ته په لاس راشي ځکه چې حمله کوونکې خو لوټ ماران او چور کوونکې او هغوې به بېرته ولاړ شي.

د راډرک لښکر د ګادلیت سیند ته ورسېده ، طارق بن زیاد ته خبر ورکړل شو چې اندلسي لښکر را ورسېده نو هغه پخپل آس سپور او په یوه غونډۍ باندي پورته شو ، د سیند هغې غاړې ته د سترګو تر دید پورې آسونه او انسانان ښکارېدل ، هغه ددي څخه مخکې دومره لوې لښکر نه وو لېدلې ، هغه ته مخکې ویل شوې وو چې راتلوونکې لښکر به د یو لک څخه زیات وی.

طارق خپل لاسونه پورته کړل او بیا یې وویل : ای زما ربه ! ته د خپل نوم او شان په خاطر زمونږ سره مرسته وکړه ، مونږ ستا د نوم په خاطر د کفارو سره لاس په ګریوان یو او خاص ستاسې څخه مرسته او مدد غواړو.

طارق بن زیاد خپل لښکر د ګادلیت څخه یو میل شاته اچولې وه ، هغه د راډرک لښکر د سیند خپلې غاړې او لورې ته را اړول غوښتل چې شاته یې سیند او اوبه پرتې وی.

طارق بن زیاد یوازې څو ګروپونه رامخکې او په میدان کې یې ودرولې وه نور پاتې ګروپونه یې په غونډیو او د هغوې تر شا پټ کړې وه ، طارق بن

زیاد ولېدل چې د راډرک پوځ په سیند باندي پل جوړول پیل کړل ، هغوې په حېرانوونکې توګه پل جوړولو.

د طارق په خوا کې مغیث الرومي او ابو زرعه طریف بن مالک ولاړ وه ، هغوې وویل : دوې خو ډېر تېز او چټک معلومېږي .

طارق ځواب ورکړ : مونږ به دا لوې لښکر زر تر زره پسې واخلو .

ابو زرعه طریف بن مالک وویل : که دوې په جګړه کې هم همداسې تېز وي ؟

طارق ځواب ورکړ : ته نه ګورې چې د هغوې د بیړی لامل څه دي ، په هغوې باندي راتلونکی سوټې او کوټک نګورې ، دا سپایان پخپل احساس او ولولې سره کار نکوې ، په هغوې باندي کار کوټک او سوټې کوې چې افسران یې پرې واروی ، ایا په جګړه کې به هم هغوې خپل سپایان په کوټکو او سو ټیو جنګوې ؟

د طارق بن زیاد دواړو سالارانو په غور سره هغې لورې ته ولېدل ، په سیند باندي د فرعون د وخت په شان حالت جوړ شوې وو ، څو کسانو په نورو خلکو کوټکې وروليږ ، کله به چې چا سستې کوله نو په شا باندي به یې کوټک خوړلو .

طارق بن زیاد وویل : جګړه په کوټکو نه بلکې په ولولو سره کېږي ، بیا چې د کوم ولس د واکمنو لخوا څخه غلام وګرځول شي او بادشاه د خپل ولس لپاره فرعون وګرځې نو د داسې قوم پایله پرته له تباهی او بربادی څخه بل څه نشي کېدای ، همدا ښکته پورته کېدل قومونه تباه کوی ، زمونږ په غازیانو کې جذبه ، احساس ، او ولوله شته . که پیاده وی که سپاره ، سالار وي او که روزونکې د ټولو په زړونو کې د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم مینه او محبت دي ، همدا لامل دي چې مونږ ټول سره یو شانته او برابر یو ، د هېچا رب د بل د رب څخه لوې او کوچنې ندي ، که مانی وې که جونګړه په هر ځاې کې الله تعالی شته دي ، لوی او عظمت یوازې د هغه حق دي .

ابو زرعه طریف بن مالک وویل : دومره زیات پوځ او لښکر ؟

طارق وویل : خپلو خپلو ټاکلې شوې ځایونو ته ولاړ شی ، الله تعالی زمونږ د فتح او بري لپاره داسې لاملونه او شرایط راپیدا کړي ، ما مخکې د هغې امید او هیله نه درلوده ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم زړې غلط نشې کېدای خو سره د دي هم زه یوازي خوب لیدونکې انسان نه یم ، د الله تعالی رضا ځوک تر لاسه کولای شی چې کوښښ یې کوې ، او الله تعالی د هغه چا مرسته او مدد کوي چې خواري او زیار وباسی... تاسې اوس خپل عقل او فکر په کنترول کې وساتی .

د راډرک لښکر ټوله شپه له سیند څخه راتېرېدلو ، کله چې سهار شو یو لک پوځ په لوې او پراخه مېدان کې د جګړې لپاره په ترتیب سره ولاړ وه چې مخې ته یې اسلامې غازیان او شاته یې سیند پروت وو ، ددې ځاې نوم مېدینا سېدانا وو ، دا وخت د ۷۱۱ م کال د اخریني څلورېزې یوه ورځ وه ، نامتو تاریخ لیکوونکې لین پول لیکې چې طارق بن زیاد پخپل آس سپور د خپل لښکر مخې ته راغې او په لوړ اواز باندې یې وویل :

" د اسلام غازیانو ! ستاسې مخې ته دښمن او شاته مو سمندر دي ، ستاسې لپاره د تېښتې هېڅ لاره نشته ، یوازې یوه لاره شته چې هغه زړورتیا او فتح ده ، د دښمن له شمېر او زیاتوالې څخه وېره مه کوی ، تاسې له هغې ماتې څخه وېره وکړې چې بې غیرته مو کړي ".

همدې تاریخ لیکوونکې لیکلې چې د لښکر څخه د رعد او برق په شان اوازونه پورته شول .

مونږ ستا سره یو ! مونږ ستا سره یو !

د اندلسې پوځ لخوا څخه اعلان وشو : تاسې چې هر څوک یاستی بېرته ولاړ شې ، د اندلس امپراطور چې بادشاهی یې د یو سمندر څخه تر بل سمندر پورې خپره ده او د هغه د تورې له وېرې ټوله اروپا لړزېږي ، په تاسې دا مهربانې کوې چې ترځو تاسې وتلې نه یاستی ، د هغه توره به په تیکې کې وې او بهر به یې نه راباسی ، خو که دا وړاندیز نه منی نو بیا خپل پاې ته هم فکر وکړی .

طارق ته وویل شول چې هغوی څه ډول اعلان وکړ ځکه چې هغه په اندلسې ژبه نه پوهېدلو ، طارق اوپاس ته وویل چې ورورانډی شی او په لوړ اواز د هغوی په څواب کې داسې اعلان وکړې : د اندلس امپراطور ته دې د طارق بن زیاد پیغام ورسېږی!

ښاغلې امپراطور ! مونږ بېرته نشو تللي ، مونږ خپلې کښتۍ هم سوځولې دي ، مونږ ستاسې د مهربانۍ څخه مننه کوو چې په سیند مو راته پل جوړ کړې چې مخکې پرې ولاړ شو ، مونږ خو د خپل الله تعالی په حکم او امر سره دلته راغلې یو ، د اندلس د بادشاه په حکم او خواهش بېرته نشو تللي " .

د اندلسې لښکر له لورې دا ځل په بربري ژبه داسې اعلان وشو : کله چې تاسې د اندلس د امپراطور مقابلې ته راوړاندي شی نو بیا به خپل الله درسره هېڅ مرسته ونشي کړای ، تاسی د لوټ مارانو ډله یاستۍ ، مونږ تاسې ته په آخرې ځل ...

د همدي کلمې په ویلو سره د بربري غازیانو لخوا څخه درې غشې په یو دم خوشی شول او د اعلان کوونکې جنرال په سینه کې ونښتل ، هغه په آس باندي راغبرګ شو ، بیا یو لورې ته کوږ او له آس څخه لاندي راپریووت ، دوه اندلسې سپاره په منډه راغلل او وژل شوې جنرال یې په آس باندي بار کړ او شاته ولاړل .

راډرک د خپل لښکر مخې ته نه وو ولاړ ، د هغه بېرغ شاته ښکارېده ، هغه پخپل سپین آس اوریلیا باندي سپور وو ، کله چې هغه ته خبر ورغې چې جنرال مسلمانانو ووژلو نو هغه سمدستې د حملې حکم ورکړ ، هغه د جنګ او جګړې استاذ او په تعرضې جګړه کې یې نوم درلوده ، هغه چې کوم پلان جوړ کړې وو ټولو جنرالانو په یاد زده کړې وو .

راډرک خپلو جنرالانو ته ویلې وه : د دوه یا درې ډلو په واسطه به بریدونه کوو ، که په ټول پوځ باندي یو ځل برید وشې نو خپل زخمې آسونه د سپایانو لپاره غم جوړېږې او خپل پیاده تر پښو لاندي کوې ، د یو ځاې حملې په صورت کې سپرو ته د جګړې لپاره مناسب شرایط نه برابرېږې ،

هر حمله به د نوې او تازه ګروپونو پواسطه سرته رسول کېږي ، د دښمن شمېر ډېر لږ دي ، هغوي باید پرله پسې وجنګول شي او د دمې وخت ورنکړل شي ، جګړه باید په یوه ورځ کې ختمه نشي بلکې اوږده شي چې ټول دښمن زمونږ په تورو باندي ختم شي ، هغوي باید دومره ستړي او ستومانه وساتل شي چې پرته له تورې په ځمکه راپرېوځي .

طارق بن زیاد ټولو سالارانو او قوماندانانو ته ویلې وه : په یو ځاې به هېڅکله جګړه نه کوی ، حمله وکړی او بیا ولاړ شی ، د تللو ځخه وروسته خپاره شی، چې دښمن هم ستاسي پسې خپور شي ، دښمن د خپل ځان پسې د غونډیو منځ ته راکش کړی، ترڅو غشې وېشتونکې یې سم برابر کړې .

د طارق پلان د چریکی او ګوریلا یې یا د خرپ او ترپ جګړه کول وه ، ځکه د دومره لوې لښکر سره په یو ځاې جګړه کولو امکان نه درلوده ، خو د خرپ او ترپ جګړه کول څه اسان کار ندي بلکې هغه یو تکړه او هوښیار جنرال کولاې شې .

راډرک خو د حملې حکم او امر ورکړ ، طارق درې څلور ګروپونه پداسې شکل ور وړاندي کړل لکه چې غواړې تېښته وکړې ، هغوي داسی کراره کراره شاته راتلل چې اندلسیان پرې هېڅ پوه نشول ، غازیان چې کله د یوې غونډۍ اړخ ته را ورسېدل نو ښې او چپ لورې ته خپاره شول .

د غونډۍ څخه په اندلسې سپایانو باندي د غشو او برچو باران پیل شو ، غازیانو د غشو او برچو ډېره لوې ذخېره او زېرمه د جنرال ټیو ډومېر څخه نیولې وه ، طارق بن زیاد هغوې ته څو ورځې د برچو وېشتلو روزنه ورکړې وه .

د طارق بن زیاد هغه ګروپونه چې ښې او چپ لورې ته خپاره شوې وه بېرته سره راټول شول ، اندلسې سپایان چې د مخې لخوا څخه د غشو او برچو سره مخامخ شول نو څه ښکته پرېوتل او څه بېرته شا ته وتښتېدل خو د ښې او چپ لورې پرې هماغه خپاره شوی غازیانو سخته حمله وکړه ، هغوې بې نظمه او ګډوډ وتښتېدل ، څرنګه چې د جګړې په حالت کې نه وه نو ځکه په بد حالت کې ختمېدل .

جنګې مبصرين او شنونکې وايې چې د جنګې چلونو په لحاظ د مسلمانانو سپه سالار ډېره ورتيا او لياقت درلوده خو د مسلمانانو کومه ډېره ، دار او هيبت چې په اندلسې پوځيانو له پخوا څخه پروت وو هغې د سپاپانو جذبه او جوش ختم کړې وو .

يو ځل بيا راډرک د نورو څو ګروپونو پوسيله بريد او حمله وکړه ، هغوې ته کلک حکم وشو چې که مسلمانان شاته ځي نو تاسې مه پسې ورځئ ، دا ځل مسلمانان شاته نه تلل ، په هغوې چې کله حمله وشوه په کوچنيو ګروپونو ووېشل شول، يوې او بلې خواته خپاره شول ، ددي خپراوې سره سم اندلسې ګروپونه هم ورپسې خپاره شول ، کله چې اندلسې پوځيان ښه خپاره شول نو غازيانو پرې داسې سخته حمله وکړه چې ډېر زيات زيان او تاوان يې ور ورساوه ، مسلمانان يوې او بلې خواته په ګرځېدو او د تېښتې په شکل جنګېدل .

بيا يو دم ټول غازيان سره يو ځاې شول ، نيمه داېره يې جوړه کړه او د راډرک پوځيان يې په منځ کې راګېر کړل ، هغوې يې داسې پخپلو کې سره راتنګ کړل چې توري يې هم نشوې پورته کولې پداسې حال کې چې د شا او خوا له لورې پرې بربري غازيايو قيامت جوړ کړې وو .

لمر پريوتلو چې په مېدان کې د اندلسې پوځيانو د مړو انبارونه جوړ شول اوهمدي مړو خپل ژوندي ملګري ووېرول .

***

د نيمې شپې وخت وو او د راډرک پوځيان په درانه خوب وېده وه څکه چې د ورځې يې جګړه کړې وه ، پيره کوونکي په کراره کراره يوې او بلې خواته ګرځېدل ، ناڅاپې د يو پېره کوونکي غاړه او مرۍ د چا په لاسونو کې راګېر شوه او په زړه باندي يې د خنجر ګذار وخوړ ، دده د دوه نورو ملګرو سره هم همداسې سلوک وشو کوم چې دده څخه لږ لرې ګرځېدل ، ددې درې واړو پېره کوونکو تر وژل کېدو وروسته هغې لورې ته خطر ختم شو او بوازې خوب کوونکې پاتې شول ، پوځيان پرته له خيمو څخه پراته وه ، آسونه هلته تړل شوې او سپاره ورسره نژدې پراته وه .

کله چې پهره کوونکې ووژل شول نو شپږ بربري غازیان په خپو پښو آسونو ته ورنژدي شول ، بیا یې د اسونو رسی او پړې غوڅول پیل کړل ، د هغې سره سم یې د یو نیم سل لاندي باندي آسونه په بدن باندي په زور سره د خنجرونو ګذارونه وکړل ، ترڅو هغوې زخمي شي ، آسونو چې خنجرونه وخوړل نو له درد څخه وشنېدل او په منډه یې پیل وکړ ، بربري غازیانو هم آسونه خلاصول او هم یې همداسې په خنجرونو وهل او ځغلول ، څه سپاره راپورته شول خو وار په وار د زخمي آسونو شمېر زیاتېده او په خوب پراته پوځیان یې تر پښو لاندي کول ، نه معلومېده چې آسونو څومره وېده سپایان تر پښو لاندي کړل ، د هغوې رانیول ګران وه ځکه چې هغوې زخمي شوې او له انسان څخه وېرېدل ، یو آس به سرې چپه کاوه او بل به پرې له پاسه ختلو .

بربري غازیان عملیاتو کار څخه بېرته ژوندي خپل مرکز ته ورسېدل ، هغوې د رادرک په قرارګاه کې شور او غالمغال همداسې اورېدلو چیغې او نارې وهل کېدي ، آسونه یوې او بلې خواته تښتېدل چې بلاخره ټول پوځ رابېدار شو ، د جنګې آسونو راګېرول او قابو کول خو آسان کار ندي ، ددي شور او غوغا په ترڅ کې رادرک هم را وېښ شو .

یو آس په څو کسانو باندي راونیول شو ، مشعلونه روښانه شول ، آس رادرک ته وښودل شو چې د شا څخه یې وینې روانې وې ، رادرک حېران وو چې دا آس څرنګه زخمي شویدي ، بیا ورته څه نور آسونه هم راوستل شول چې زخمي وه ، د هغوې هم ځیني ځایونه زخمي شوې وه .

رادرک وویل : دا د دښمن د شپې حمله ده ، په آسونو چې کوم پهره کوونکې ولاړ وه ، هغوې د یو یو آس پورې وتړه او کش یې کړې تر هغې چې پوستکې ورڅخه ووځې ، بیا یې په کندو کې وغورځوی ، د پیره کوونکو پسې لټون پیل شو دېر څند وروسته د درې وارو مړې راپېدا شول .

چې کله سهار شو نو د جګړې مېدان دېر وېرونکې او بوګنونکې وو ، هر لورې ته د اندلسیانو مړې وازې او خلاصې خولې په بد حالت کې پراته وه ، کله چې ژوندیو پوځیانو د خپلو ملګرو مړې ولېدل نو زیات وارخطا شول

خکه چې هغوی لا مخکې په وېره او دار کې وه ، دا د رادرک غلطي وه چې د شپې په تياره کې يې بايد مړي ټول کړي او خوندي کړي وايي خو رادرک دومره ورخطا او په قهر وو چې ولې دومره کم مسلمانان زمونږ دي پوځيانو پسې په منډه نکړل او له منځه يې يو نه وړل ، د لومړۍ ورځې جګړه د رادرک دهيلې په خلاف پای ته رسېدلې وه ، د شپې چې څو بربري غازيانو کوم کار وکړ هغې نور هم خفه او غمجن کړ ، د هغه له خبرو څخه داسې ښکارېده چې په زړه کې يې وېره او ماتې ننوتې ده ، د هغه د قرارګاه حالت ډېر خراب او ګډوډ وو ، د شپې آسونو بې شماره پوځيان زخميان او مړه کړل ، څه آسونه او پوځيان د جګړې لپاره بېکاره شول ، رادرک خپل ټول جنرالان راوغوښتل .

رادرک خپلو جنرالانو ته په غصه ووېل : زه نن تر ماښام همدومره د مسلمانانو مړي په مېدان کې لېدل غواړم څومره چې زمونږ پراته دي ، نن د غچ او انتقام ورځ ده .

يو جنرال ووېل : نن بايد مونږ د زيات پوځ پوسيله بريد او حمله وکړو .

جنرال تيو ډومېر ووېل : مونږ به هغوی نن د غونډيو په منځ کې ختمو .

رادرک ځواب ورکړ : که په تا کې دومره عقل وای نو ماتې به دي نه خوړله ، که تاسې خپل ګروپونه هلته بوځۍ نو نه به تاسې ژوندي راشی او نه به مو سپايان ، تاسې يو ځل همدا غلطي کړې او تکول مو خوړلې دي .

بيا رادرک بل جنرال ته مخ واړولو او وې ويل : ته وايې چې په زياتو سپايانو سره بريد وکړو ! ايا تا ونه لېدل چې دښمن لومړي زمونږ ګروپونه په ځان پسې خپاره کړل ، هلته يې زيان ورته ورساوه او بيا يې پخپل منځ کې راګېر کړل ، دومره يې وتکول چې هغه ګروپونه ختم او پاک شول ، ايا تاسې پدي نه پوهېږۍ چې په دښمن باندي تيله ور وړل څومره زيان لری ؟

نن په لږو سپايانو بريد وکړی ، يو په يو او لاس په لاس جګړه وکړه ، سپايان بايد پخپلو کې دومره سره لرې لرې وي چې ازاد حرکت وکړي شي ، نن بايد نيمايي سپاره او نيمايي پياده وي .

بل لورې ته طارق بن زياد د خپلو څو پياده ګروپونو سره په ميدان کې تيار او چمتو لکه د زمري په شان ولاړ وو ، هغه په برید کې لومړي والې نه کولو بلکې دښمن ته يې کتل چې لومړي برید وکړې ترڅو د هغوي چل او پلان معلوم کړې .

د راډرک ګروپونه د پرون په شان په منډه را روان نشول بلکی په منځنی توګه داسې را روان شول چې ټول درې صفونه او ليکې وی ، لومړي صف د سپرو وو چې د هر سپاره ترمنځ د پنځه ، شپږو ګزو په کچه فاصله وه ، په دويم صف کې پياده وه ، په دريم صف کې بيا هم سپاره وه چې د هر دوو سپرو ترمنځ دوه ، دوه پياده سپايان را روان وه ، تر شا يې ساز او موسيقي غږيدله .

د لومړي صف سپاره په عادي او نورمال ډول مسلمانانو ته تر پنځوس مترو پورې رانژدي شول نو يو ځل يې آسونه را په منډه کړل ، مسلمانان تيار او چمتو وه خو ټول پياده غازيان وه سپاره پکې نه وه څکه سپاره له سترګو پټ ساتل شوي وه ، د مسلمانانو له خولی په لوړ اواز د الله اکبر ناری پورته شوی ، اندلسې سپايانو برچې او نېزې مخکې نيولې او په منډه راخوشې وه ، کله چې مسلمانانو ته را ورسېدل غازيان په ناڅاپي توګه دومره په بېړه د دوه ، دوه آسونو په منځ کې کېناستل چې د برچو او نېزو وهلو څخه خوندي او بچ پاتې شول ، اندلسې آسونه همداسې مخکې په منډه روان وه تردي چې ببرته يې راوګرځول .

په همدي وخت او فرصت کې پياده غازيان په پياده اندلسيانو يعنی په منځنی صف باندي لکه د زمريانو په شان ورپريوتل او توري سره ټکر شوې ، سپرو اوس هغوي ته څکه تاوان نشو رسولې چې د هغوي خپل پياده هم پکې ورګډ شوي وه ، کله چې د لومړي صف سپاره شاته راتاوېدل په همدي وخت کې پرې د يوې غونډۍ له شا څخه مسلمان سپاره راښکاره شول او د شا له لورې يې سخته حمله پرې وکړه ، اندلسې سپرو ددي حملې تمه نه لرله ، د خپل ځان برابرولو څخه مخکې مخکې د نېزو او برچو ښکار شول ، ددي په لېدو سره د اندلسې سپرو دريم صف سپاره رامخې ته

شول او په سپرو غازيانو يې حمله وکړه خو هغوې ورڅخه په منډه د غونډيو شاته ځانونه پټ کړل .

په اندلسې ژبه چيغې او نارې پيل شوې : بېرته راوګرځئ ... غونډيو ته نږدې نشي .

کله چې اندلسې سپاره بېرته راتاوېدل د شا لخوا پرې بيا سپرو غازيانو پداسې توګه بريد وکړ چې کوچنې کوچنې ګروپونه يې جوړ کړي وه ، هغوې به اندلسې سپاره په غشو ، نېزو او برچو باندې راغورځول او بېرته به يوې او بلې خواته تېنتېدل چې په ګېر ورنشي .

تاريخونه ليکې چې دواړه پياده سره پخپلو کې يو له بل سره نښتې او لاس په لاس جګړه روانه وه خو په اندلسې پوځ کې هغه جذبه ، جوش او ولوله نه وه کومه چې په مسلمانانو کې وه ، غازيان بربريان وه او د هغوې فطرت جګړه کول وه ، د هغوې خونړې توب او بربريت ډېر مشهور او مثال ګرځېدلې وو ، اوس چې هغوې اسلام راوړ نو د کفارو په خلاف يې جګړه ايمان ، عقيده او عبادت وګرځېده ، پدې سره د هغوې په جوش ، جذبه او ولوله کې نور هم زياتوالې پيدا شو او له پخوا څخه زيات په شوق جنګېدل .

په پياده او لاس په لاس جګړه کې اندلسې پوځيانو د غازيانو سره مقابله ونشوه کړاې او پښا شول ، څکه سپرو غازيانو ټول اندلسې سپاره بوخت او مصروف ساتلې او په ټول مېدان کې يې خپاره کړي وه ، غازيانو يو يو سپور راپرځولو او ځينې سپاره يې ژوندي هم ونيول ، مسلمانانو د تکبير لړځوونکې نارې وهلې او ډولونه يې ډېر په زور او شور سره غږمبېدل ، دا د بربريانو ځانګړي او خاص ډولونه وه چې په جګړه کې به خامخا ورسره وه .

د رادرک په پوځيانو چې له جګړې څخه مخکې د مسلمانانو کومه ويره او هيبت پروت وو هغې د جګړې په مېدان کې خطرناک حالت غوره کړ او د پوځيانو اعصاب يې فلج کړل ، په هغوې کې ځينو خپل خير پدې کې ولېده چې تسليم شې او ځان ددې بېريانو څخه خلاص کړي ، تردې چې ماښام شو او جګړه ختمه شوه .

د شپې لخوا راډرک حکم وکړ چې د قرارګاه شا او خواته سخته او کلکه پیره وشي ، سره ددي هم څو بربری غازیان هلته ورننوتل ، زیات اندلسي پوځیان یې ووژل او بېرته ورځخه راغلل ، آسونه په غشو ووشتل او د جګړې ځخه یې ووېستل .

سهار وختي راډرک خپلو قوماندانانو ته په غصه سره وویل : نن باید د جګړې آخري ورځ وي ، نن زه خپله جګړې ته وړاندي کېږم ، ما خو تر اوسه پورې ګوتې پوځیان ندي مخکې کړې راډرک ګوتې جنرال ته وویل : خپلو ګوتې پوځیانو ته ووایه چې زه د فتح ویاړ او افتخار تاسې ته دربښم ، زما د خپل قوم ګروپونو زه ډېر رسوا او وشرمولم .

دا هماغه جنرال وو چې مېرنیا پرې خواري کړې وه چې قانع یې کړې او د مسلمانانو سره ملګرتیا وکړې .

خو هغه دا خبره ونه منله ، مېرنیا هغه ته د یوې ځمکنۍ حورې ځرک ښودلې وه چې دا خو اصلاً د بادشاه لپاره ده خو تاسې ته به هم کله نا کله درځي ، مېرنیا غوښتل ددي انجلۍ په لاس جنرال ته یو ډول پوډر په شرابو کې ورکړې او هغه د جګړې په مېدان کې بې کاره او ختم کړې خو هغه انجلۍ په طلېطله کې بوډا یهودي جادوګر وغوښتله چې پدي توګه مېرنیا او هغه دواړه د جګړې له مېدان ځخه شاته پاتې شوی .

د ګادلیت د جګړې په دریمه ورځ د راډرک د فرمایش سره سم ګوتې ګروپونه د مسلمانانو سره د جګړې مېدان ته را وړاندي شول ، د هغوې سره سپاره او پیاده دواړه وه چې د لیکو په منځ کې یې راډرک هم ولاړ وو ، د هغه درې رنګه بېرغ رپېدلو ، هغه پخپل سپین آس اوریلیا باندي سپور وو ، شا او خوا ورځخه خپل ځانګړي او خاص ګارډ راتاو وه .

کله چې طارق بن زیاد د راډرک بېرغ ولېده چې مخکې راغلې سمدستي یې خپل آس ور وړاندي کړ او مېدان ته ورغې ، ساتوونکې ورپسې ورغلل خو هغه منع کړل یوازې خپل سلا کار مغیث یې راوغوښت ، د هغه په غوږ کې یې څه وویل : مغیث په اندلسي ژبه خبرې کولې ، هغه د طارق تر خبرو

وروسته خپل آس نور هم اندلسي صفونو ته ورننژدي کړ او په لوړ اواز يې اعلان وکړ .

مونږ د اندلس امپراطور ته هرکلي وايو ! زمونږ ستر سالار طارق بن زياد وايي که امپراطور د جګړې په نيت دلته راغلې وې نو هغه دي زما په شان پرته له ساتوونکو څخه زما مقابلې ته راشي .

ددي په خواب کې رادرک اعلان وکړ : که په تاسې کې زما په شان کوم بادشاه وې نو زه بيا مقابلې ته در وړاندي کېږم ، د لوټ مارانو سردار ته وړاندي کېدل د امپراطور لپاره سپکاوې دي ، تاسې بايد خپل بادشاه راوستې واي .

طارق بن زياد اعلان وکړ : مونږ تا دېر زر خپل بادشاه ته رسول غواړو ، زمونږ بادشاه الله تعالى جل جلاله دي ، مونږ انسانان د بادشاه په توګه څوک نه منو ، مونږ همدا پيغام راوړيدي چې د ټولو انسانانو بادشاه او لوې واکمن يوازې الله جل جلاله دي ، مونږ ستا د بادشاهى د ختمولو لپاره راغلي يو .

رادرک نور صبر ونکړ او ګوت جنرال ته يې ووېل : ور وړاندې شې ، د هغوې ژبې بندي کړې .

ګوت جنرال په لوړ او پورته اواز ووېل : اى ګوتيانو ! حمله وکړى ، بيا يې خپل آس په منډه کړ .

د جنرال پسې يو سپور خپل آس څغلاوه چې کله ورننژدي شو نو خپله برچه يې د هغه په ملا کې ورخښه کړه ، جنرال رانيغ شو ، سپور ورڅخه برچه راوېستله او يو ځل بيا يې په اړخ کې ورخښه کړه ، پدي سره جنرال له آس څخه لاندي راپريوت .

ګوتي ګروپونو خپلې تورې په تيکو کې ومندلې او د مسلمانانو په لورې په منډه شول ، په هغوې کې پياده او سپاره دواړه وه ، هغوې چېغې او نارې وهلې او مخکې تلل ، طارق بن زياد ته خو ځرګنده وه چې ګوت او يهودې پوځيان به د دوې سره ملګري کېږي خو نور غازيان پدي حېران

وه چې دا څه ډول برید دي چې توري يې په لاسونو کې نه بلکې په تیکو کې اېښې دي .

طارق بن زیاد خپل پوځ او غازیانو ته اعلان وکړ : د هغوې هرکلې وکړې ، دا ستاسې ملګري او دوستان دي ، دوې اوس ستاسې ملګري شول .

هلته راډرک په حېرانتیا سره پوښتل : دا څه ګورم ؟ دوې چیرې روان دي ؟ هغوې خو خپل جنرال هم ووژلو !

هغه ته څوک ځواب ورکوونکې نه وو چې ولې ګوتانو داسې کار وکړ خو د بل لوري څخه ورته ځواب راغې ، یو ګوت د مسلمانانو له پلوه داسې اعلان وکړ : مونږ د خپل بادشاه وتېزا غچ او انتقام اخلو ، د اندلس تخت د ګوت حق دي ، راډرک تا د ګوتیانو بادشاهی او واکمنې ختمه کړه او خپله بادشاه شوې ، اوس ګوره چې مونږ په څه ډول خپل تخت درڅخه اخلو .

پدې ورځ پرته له جګړې څخه حالت او شرایط بدل شول ، مخکې دوه ورځې راډرک کلکې او سختې حملې وکړې خو ټولې له ناکامۍ سره مخامخ شوی او ډېر تاوان ورته ورسېده ، پدې ورځ پرته له جګړې څخه د مسلمانانو شمېر یو دم شل زره زیات شو ، دوې تش په نامه پوځیان نه وه بلکې د هغوې سره د غچ او انتقام جذبه ، جوش او ولوله وه ، دوې خو د انتقام لپاره جنګېدل مخکې يې وسه او توان نه رسېدلو چې راډرک ختم کړې خو اوس ورسره غازیان هم یو ځاې شول چې سم جګړه کوونکې او باتور انسانان وه ، مسلمانان مخکې په یوازې ځان د راډرک ټولې حملې شنډې او ناکامې کړې او درانه تلفات يې ورته واړول اوس چې شل زره ورسره نور یو ځاې شول نو د راډرک سپینې وښوېدې او هک پک حېران شو چې دا څه وشول .

طارق بن زیاد ته چې کله خپل د لښکر څخه هم زیات پوځیان په لاس ورغلل نو پخپل پخوانې پلان کې يې بدلون راوست ، د ګوتې لښکر لپاره يې یو تن جنرال وټاکلو ځکه چې د هغوې خپل پخوانې جنرال ووژل شو .

طارق بن زیاد خپلو سالارانو ته ووېل : څوک وايې چې زما د محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم زېرې صحیح نشې کېداې ؟ کله چې الله تعالی

خپل فضل او کرم په چا کوي ، نو بیا داسې حالات او شرایط برابروي چې د انسانانو ستونزې او مشکل خپله حلېږي ، الله تعالی د خپل محبوب استازي زېري پوره کول غوښتل چې د هغې لپاره دا نا اشنا کار وشو ، خپل هر غازي ته ووایې چې د الله تعالی په دربار کې سجده وکړي او په زړه کې د الله جل جلاله نوم وساتې .

***

هلته د ګادلیت د سیند په غاړه یوه ډېره ښکلې خیمه ولاړه وه چې قالینې پکې غوړېدلې وې ، هغې دننه د مانۍ په شان جوړښت درلوده ، خو د اندلس بادشاه راډرک پکې ناکراره یوې او بلې خواته ګرځېده ، کله به یې پخپلو لاسونو ځېرې وهلې او کله به یې خپل لاسونه په خپلو سوکانو وهل .

د خیمې څخه دباندي د هغه دوه جنرالان وېرېدلي او حېران ولاړ وه ، بلاخره بوډا جنرال خیمې ته ورننوت چې راډرک یې ډېر درناوې کاوه .

بوډا جنرال وویل : امپراطور باید دومره ناکراره او اندیښمن نشي ، که ګوتانو چل او دوکه وکړه نو څه کېږي ، مونږ به د دوي نسل ختم کړو ، اوس هم زمونږ لښکر د هغوي څخه څلور چنده زیات دي .

راډرک خپله پښه په زور سره په زمکه ووهله او بیا یې په پړچ سره وویل : نسل زمونږ ختمېږي ، که ته دومره تکړه واې نو دا جګړه به په لومړی ورځ ختمه شوې واې ، تا ددي دښمن څه خراب کړیدی .

د هغوي شمېر زمونږ په وړاندي دومره کم دی لکه د انسان د پښو لاندي چې مېږیان وی خو اوس همدا مېږیان زمونږ بدن ته راپورته شوي ، دښمن د کمزورتیا پر ځاې نور هم ځواکمن شویدي ، زما له سترګو څخه لرې شه " .

جنرال د لرې کېدو پر ځاې په پیاله کې شراب واچول او بیا یې وویل : مونږ خپل امپراطور پداسې حالت کې نشو لېدلې ! دا ځل دا پیاله واخله او خپل دماغ په کنترول کې کړه .

راډرک د شرابو پیاله د هغه له لاسه واخیستله او په زور یې په زمکه ووېشتله ، بیا یې د هغې ټوټې تر لغتو لاندي کړې او وی وېل : ته اوس زما هوش او حواس له منځه وړی ؟

ته غواړې چې زه دومره لوی پېښه له یاده وباسم ؟
بوډا جنرال د خیمې څخه ووت او د بادشاهی حرم خیمې ته ولاړ ، د ځان سره یې یوه ښکلې انجلۍ راوستله چې د راډرک ډېره خوښېدله ، جنرال هغې ته په لاره کې خبرې کولې ، کله چې د هغه خیمې ته رانژدې شول نو انجلۍ یې خیمې ته ور دننه کړه ، لږ ځنډ وروسته انجلۍ د خیمې څخه دباندې راوغورځول شوه ، راډرک هغې ته ډېر په زور سره ټیله ورکړه چې هغه دباندې راولوېده ، انجلۍ راپورته شوه او په منډه د حرم خیمې ته ولاړه .
بیا راډرک بوډا جنرال ته اواز وکړ : جنرال په منډه ورننوت ، دا ځلې راډرک نرم او غلی ناست وو ، راډرک د بوډا جنرال څخه په خواشینۍ سره وپوښتل : داسې معلومېږي چې د هغه یهودي بوډا جادو ناکام شو ، هغه ویلې وه چې د یوې تنکۍ پېغلې په قربانولو سره به زما بد فال بدل په ښه فال شي ، ما هغه ته ښکلې انجلۍ هم وسپارله ، هغه به د انجلۍ قربانې هم ورکړې وي ، هغه هسې خوشې ولاړه ، ایا هغه یهودي خو به مونږ ته دوکه نه وي راکړې ؟
بوډا جنرال وویل : زه به سمدستې د احوال لپاره یو سپور طلېطې ته واستوم چې معلومات راوړي .
راډرک په داسې ژبه وویل چې ماتې او ناکامې ورڅخه له ورایه ښکارېده : کله به ورسېږي او کله به بیا بېرته راشي ؟ ما باید د هرقل برج نه وې کتلې ، د برج دوارو ساتوونکو زه د هغې څخه منع کړم ، تا هم راته وویل او زه دې منع کړم .
بوډا جنرال وویل : دا وهم او خیال له ذهن څخه وباسه امپراطوره !
راډرک په وېرېدونکې غږ وویل : څرنګه یې له زړه څخه وباسم ! ایا ته نه ګورې کوم جنګ چې مونږ په برج کې لېدلې وو ، هغه هره ورځ پخپلو سترګو ګورو ، د مسلمانانو هماغه نارې او چیغې اورو ، د خپل پوځ پښا تګ هماغسې معلومېږي ، ما د برج په جګړه کې خپل ځان هم لېدلې وو ، بیا ما خپل آس زما څخه خالي هم یوې او بلې خواته په تېښته لېدلې وو ، اوس هغه دپمپلونه انجلۍ ماته په خوب کې راځي ، کومه چې په ناحقه ما وژلې .

نامتو تاریخ لیکوونکي لین پول د درې نورو تاریخونو په حواله لیکلي دي چې د راډرک په ذهن او دماغ باندي د هرقل برج او دېمپلونه انجلۍ د ذهني او رواني ناروغۍ په توګه سپاره شوي وو .

کوم یهودي چې دده څخه یې د انجلۍ د قربانۍ په ورکولو د بد فال اثر لرې کولو هغه د مېرنیا په لاس ووژل شو ، شل ، پنځه وېشت زره ګوت پوځیان نه یوازې دا چې د هغه څخه جلا شول بلکې دده په خلاف اوس جنګېدل ، د راډرک سره اوس هم ډېر زیات لښکر وو خو هغوې ټولو خپل زړونه بایللي وه ، د جګړې په مېدان باندي طارق بن زیاد واکمن او خپور شوي وو ، طارق بن زیاد په کوم وهم او ذهن ناروغۍ اخته نه وو ، د هغه په ذهن او وجدان باندي د هېڅ ډول ګناه اثر نه وو ، د هغه پخه او کلکه عقیده د هغه د کلک والي سبب ګرځېدلې وه .

راډرک خپلو ګناهونو او ظلمونو زورولو ځکه د هغه د حساب ورځ رانژدې شوي وه .

بلاخره د ګادلیت د جګړې د اتمی ورځی لمر راپورته شو ، راډرک خپل ټول پاتي پوځ په مېدان کې په ښه جنګي ترتیب او نظم سره ودرولو ، هغه په خپل سپین آس اوریلیا باندي سپور وو .

هغه آس د لښکر په وړاندي یوې او بلې خواته ګرځېدلو او دا اعلان یې کولو : نن ورځ جګړه باید پریکنده او فېصله کوونکې وي ، که نن ورځ تاسې دښمن ته ماتې ورکړه نو دومره انعام به درکړم چې راتلوونکې نسل به مو هم راډرک بادشاه یادوي .

طارق بن زیاد خپلو پوځیانو ته وویل : ای د ګوت د قوم پوځیانو ! که نن تاسې ماتې وخوړه نو په اندلس کې به ستاسې نسل ختم شي ، ستاسې هېڅ مېرمن او کوچنې به راډرک ژوندي پرېنږدي او ټول به ووژني .

ای بربري غازیانو ! ایا تاسې کله هم د چا څخه ماتې خوړلې ده ؟ که نن مو ماتې وخوړه نو چېرې به ولاړ شی ؟ تاسې په لومړې ځل بل هېواد ته راغلې یاستی ، عربې مسلمانو وروڼو خو څو هېوادونه په اسلامې هېواد

کې داخل کړې ، ایا تاسې خپلو عربې ورونو ته دا وخت ورکوئ چې ووایې بربریان بل هېواد ته د تللو وړتیا نه لري ؟

د بربري لښکر څخه په زرګونو اوازونه پورته شول : نه ! ... نه ! مونږ ټول ستا سره یو او ستا سره به تل وو .

راډرک خپلو پوځیانو ته وویل : د دښمن د چیغو او نارو څخه وېره مه کوئ ، دا د کوم بادشاه پوځ ندي بلکې د لوټ مارانو او لاره شکوونکو لښکر دي .

طارق خپلو لښکریانو ته وویل : ای غازیانو ! فتح او برې ستاسې دي ، تاسې په دښمن باندې وېره او دهشت اچولې دي ، دا خبره له یاده مه باسئ چې دا په زرګونو ګوتان د خپل ظالم بادشاه څخه د خلاصون په خاطر راغلې دي ، د الله تعالی حکم دي چې د کوم کلې او ښار په خلکو ظلم او تېرې کېږي او د هغې اواز اورېدونکې بل څوک نه وي نو تاسې د هغوې مرسته او کومک وکړې ، د خپلو ګوت ورونو د ازادۍ او نجات لپاره خپل ځانونه قربان کړئ .

د بربري لښکر څخه په زرګونو اوازونه پورته شول : مونږ به خپل ځانونه قربانوو طارق ! مونږ به خپل ځانونه قربانوو.

راډرک د حملې حکم ورکړ ، سپرو خپل آسونه چار ګام راخوشې کړل او په منډه را روان شول ، طارق خپل سپاره په مخکنې صف کې ودرولي وه ، کله چې اندلسې سپاره رانژدي شول نو پیاده غازیان د شاتنې صف څخه په بېړه مخې راووتل او د سپرو مخې ته یې ځانونه برابر کړل ، دا پیاده غازیان ټول غشې وېشتونکې وه ، ډېر په تېزۍ سره یې په اندلسې سپرو غشی وېشتل پیل کړل ، بربري لېندې ډېرې کلکې او لرې وېشتونکې وې او په ډېر زور سره کش کېدې ، غشې یې ډېر ژور په بدن کې ننوتل .

اندلسې سپاره د غشو په واسطه ښکته راپرېوتل ، د آسونو منډه سسته شوه ، کله چې ښه رانژدې شول نو غشې وېشتونکې پیاده د خپلو سپرو شاته ولاړل ، او مخې ته بیا سپاره پاتې شول ، دواړه سپاره سخت سره ټکر او یو له بل سره ګډوډ شول ، کله چې سپاره سره ګډوډ شول نو طارق ګوت

سپرو ته اشاره وکړه ، هغوي د یو اړخ څخه په اندلسي سپرو باندي قیامت جوړ کړ ، راډرک اوس یوازې سیال نه کولو بلکې هغه غوښتل همداسي پریکنده جګړه وکړي او فتح لاس ته راوړي ، په همدي خاطر يې خپلو پیاده ډلو ته حکم وکړ چې د سپرو مرستې ته ور ودانګې ، پدي وخت کې طارق د خپلو ځانګړو جنګي چلونو عملي کول پیل کړل ، هغه ګوتانو ته وویل چې تاسي د دښمن سره مخامخ او لاس په لاس جګړه پیل کړی ، مسلمان غازیان يې ښي او چپ لوري ته ولېږل .

یو لوري ته سالار مغیث الرومي او بل اړخ ته ابو زرعه طریف بن مالک ولاړ ، هغوي ډېر لرې ولاړل چې د هر چا له سترګو څخه پناه شول ترڅو خپل ټاکلي شوي ځاي ته ورسېدل .

راډرک خپل ګروپونه پرله پسي د جګړې مېدان ته ور وړاندي کول ، د هغه شاته سیند پروت وو .

مغیث الرومي او ابو زرعه طریف له دوه اړخونو څخه د راډرک په پاتې ګروپونو باندي داسي سخت برید وکړ چې هغوي ټول ورخطا او ووېرېدل ځکه هغوي هېڅ تمه نه لرله چې لدي اړخونو څخه به پر مونږ برید کېږي ، راډرک ته هم څرګنده نشوه چې دا آسماني بلا له کومه رانازله شوه .

اندلسي ګروپونه په ځاي ددي چې ځانونه يې سمبال او جګړې ته برابر کړي واي یو په بل کې سره همداسي ننوتل او تنګېدل ، هغوي داسي سره راټول شول لکه ښکارې ته چې ښکار په لاس ورشي .

ددي ګروپونو څخه یوازې هغه پوځیان ژوندي پاتې شول چې وسله يې وغورځوله ، تسلیم شول یا په سجده پریوتل .

کله چې مغیث الرومي او ابو زرعه طریف د راډرک د شاتنیو ګروپونو څخه راخلاص او وزګار شول نو د اندلس په هغه پوځیانو يې د شا له لوري قیامت جوړ کړ کوم چې د ګوتیانو سره د جګړې په مېدان کې مخامخ او لاس په لاس جنګېدل ، اندلسي پوځیان دومره ورخطا شول چې هر څه يې له لاسه ورکړل ، پدي پوځیانو کې یوازې هغه ژوندي پاتې شول چې وسله يې په ځمکه کېښوده او بندي کېدل يې ومنل .

جنګې شنونکو او تاریخ لیکوونکو لیکلې دي چې د نړۍ په تاریخ کې د ګادلیت جګړه د سترو او مهمو جګړو څخه شمارل کېږي ، په هغې کې عسکري زړورتیا او جنګي چلونه په پراخه توګه پکار واچول شول ، طارق بن زیاد په تاریخ کې خپل نوم د یو نامتو سپه سالار او ګریت په حیث ثبت کړ .

هغه پدې جګړه کې داسې چلونه استعمال کړل چې مخکې مسلمانانو نه وه استعمال کړې .

پدې جګړه کې چې هر څوک مړ کېده یا یې مړه کول خو یو سرې توره په لاس د جګړې څخه بې پروا یوې او بلې خواته داسې ګرځېده لکه څوک چې لټوې ، هغه جګړه نکوله بلکې له هغې څخه یې ځان یوې او بلې خواته کولو ، دا تک سور ، سپین ښاپسته ځوان ان ګادلیت سیند ته ورسېده ، د حرم خیمو ته ولاړ ، داسې معلومېده لکه چې هغه ته خپل د لټون شې په لاس نه ورځې .

هغه یوې او بلې خواته د دښمن له سترګو څخه پټ پټ ګرځېده ، دا لټون کوونکې هنرې وو ، هغه هنرې چې د فلورا سره یې ژمنه کړې وه چې د راډرک سر به ورته په پښو کې ږدي .

څکه نو هغه د جګړې په مېدان کې د راډرک پسې توره په لاس ګرځېده چې کله پېدا شي نو سر به ورڅخه غوڅ کړې ، او د خپلې محبوبې فلورا په پښو کې به یې واچوې .

د اتمی ورځې په جګړه کې د راډرک بېرغ ډېر زر راولوېده او ښکته پریوت ، کله چې بادشاهی او ستر بېرغ ښکته شو اندلسې پوځ خپل هر څه له لاسه ورکړل څکه هغوې فکر وکړ چې امپراطور نیولې شوې یا وژل شویدې نو جګړه د چا لپاره کوې .

بلاخره هنرې ته د ګادلیت د سیند په غاړه د راډرک سپین آس اوړېلیا تش او خالي په لاس ورغې چې راډرک هلته هېڅ نه لېدل کېده ، د آس سره نژدې یوه توره پرته وه چې په لاستې باندې یې قیمتې کانې ، غمې او ملغلرې لګېدلې وې ، دا په یقینې توګه د راډرک توره وه چې د تېښتې په

وخت کې يې هلته غورځولې وه ، حېرانوونکې خبره خو دا وه چې د راډرک بوټان هم د نورې سره په خوا کې پراته وه .

هنرې د ښځو او حرم خيمو ته ولاړ ، هلته ټولې مېرمنې وېرېدلې او غونجې غونجې ناستې وې ، هنرې هغوې ته سپکې سپورې وويلې او د راډرک په هکله يې ورځخه پوښتنه وکړه خو ټولو وويل چې مونږ ته هېڅ معلومات نشته .

هنرې بيا د سيند په لورې منډه کړه د راډرک توره او بوټان يې را واخيستل او په سپين آس اورېلبا يې پښه واړوله ، د جګړې مېدان ته ورغې او په لوړ اواز سره يې اعلان وکړ :

اى خلکو ! راډرک مړ شو ... راډرک ووژل شو ، دا دي د هغه آس ، توره او بوټان !! په همدي نارو نارو کې يې طارق بن زياد ته ځان ورسولو ، هغه ته يې وويل چې د راډرک درک نشته خو توره ، بوټان او اس يې ماته په لاس راغلي دي .

ددي سره د ګادليت د مېدان د اتو ورځو جګړه پاى ته ورسېده .

نامتو تاريخ ليکوونکې لين پول ليکې چې ددي اتو ورځو جګړې په برکت مسلمانانو اته سوه کاله په اندلس کې حکومت او واکمنې وکړه ، هغوې خو څو نورې جګړې هم وکړې خو فېصله کوونکې او پرېکنده جګړه همدا وه چې د ګادليت د جګړې په نامه سره يادېږې .

ټولو تاريخونو ليکلې چې د راډرک مړې او ژوندي ورک شو ، د هغه سپين آس ، ښکلې توره او بوټان د سيند په غاړه پېدا شول ، د همدي نښانو په لېدلو سره ځينو دا فکر کړې چې راډرک په اوبو کې ځان اچولې او سيند ډوب کړې ، يا دا چې خپله يې ځان اوبو ته غورځولې او ځان وژنه يې کړې .

زياتو دا خبره ليکلې چې اصلا راډرک غوښتل له سيند څخه تېر شي او ځان طلېطې ته ورسوي خو د سيند څخه د تېرېدو په وخت کې په اوبو کې ډوب شو ځکه چې اوبه تېزې او زياتې وې .

ځينو تاريخونو په ځانګړي توګه دا خبره هم ليکلې ده چې په عېسايانو کې خپره شوې وه هغه دا چې راډرک مړ شوې ندي بلکې په بدل شکل او

صورت کې به د عېسايي دين د بلوونکې او ساتوونکې په توګه يو ځل بيا راښکاره کېږي .

دا عقيده تر ډېره وخته پورې د اندلس په عېسايانو کې شتوالې درلوده .

د هغه وخت ځينې ليکنې چې تاريخ ليکوونکو ته په لاس ورغلې ځينې حېرانوونکې روايات هم پکې شته چې يو روايت په کې دا هم راغلې چې راډرک په ګادليت سيند کې ډوب شوی ندي بلکې هغه يو ټاپو او جزېرې ته ولاړ چې هلته زيات ماران اوسېدل ، هره ورځ راډرک يو زهرجن مار چېچلو خو مړ کېده نه بلکې ژوندي به وو ، سبا به بيا بل مار چيچلو ، الله تعالى جل جلاله هغه ته د ګناهونو د سزا ورکولو لپاره زيات عمر ورکړ ترڅو يې ماران وچيچي ، کله چې د زيات وخت څخه وروسته مړ شو نو بدن يې د مارانو خوراک شو ، دا روايت چې کومو خلکو را اخيستې هغوې ټول عېسايان دي .

پدي جګړه کې د اندلسي لښکر څخه پنځوس زره پوځيان ووژل شول چې څو پکې نامتو او تکړه جنرالان هم وه ، ځينې اندلسي نوابان او اميران هم ووژل شول .

ددي لښکر څخه ديرش زره سپايان او افسران بنديان او ژوندي ونيول شول .

څه لږ شانته وتښتېدل ځکه چې شل زره مخکې مسلمانانو ته واوښتل او د هغوې سره ملګري شول .

تاريخونو ليکلي چې اندلسي لښکريانو د ځان سره اوږدي اوږدي رسۍ او پړي راوړې وه چې په هغې باندي به غازيان يو په بل پورې تړي او د ځان سره به يې طلبطې ته راولي خو مسلمانانو د خپل رب په فضل او مرستې سره په هماغې رسيو او پړو باندي د اندلس ديرش زره پوځيان وتړل او د جګړې له مېدان څخه يې شاته واستول .

# مغیث او قرطبه

د راډرک د ديرش زره پوځي بنديانو د وړلو او تړلو څخه مخکې حالت ډېر حېرانوونکې او عجيب غوندې وو ، د لکه د درې د غرونو څخه نيولې د ګادليت تر سيند پورې پراخه مېدان د محشر په شان برېښېده ، هر لورې ته د مړو او وژل شو و انبارونه پراته وه ، په زرګونو زخميان تړپېدل ، ځينو د پورته کېدو کوښښ کولو خو بېرته راپرېوتل ، ډېر پکې داسې وه چې هغوې خپلې آخرې سلګۍ وهلې ، چيغو او زګېروېو مېدان ډېر وېرونکې او هيبت ناک ګرځولې وو .

تر ټولو زياتې چيغې او رمباړې هغه اندلسي پوځيانو وهلې د کومو په بدن کې چې غشي ننيستې او ننوتې وه ، د انسانانو د پښو سره چې کوم ګردونه او دوړې پورته شوې وې هغه د وريځو د ټوټو په شان اوس د اندلس په لورې رواني وې .

يو نامتو تاريخ ليکوونکې ستيفنز ليکلې دي : ايا دا د حېرانتيا خبره نه وه چې طارق بن زياد د راډرک د ماتې او تېښتې حالت په خپلو سترګو لېدلو .

تاريخ پدې خبره تر اوسه پورې حېران دي چې په څه ډول دولس زره کسانو يو لک منظم پوځ ته ماتې ورکړه او د خپل شمېر څلور چنده پوځيان يې ووژل او دوه نيم چنده يې ژوندي بنديان کړل .

هغه ګړۍ چې د راډرک فرعونيت د ګادليت په مېدان کې د خاورو سره برابرېدلو ، طارق بن زياد پخپل آس باندې سپور شو او د يوې غونډۍ په سر پورته شو او د جګړې مېدان ته يې کتل ، غازيانو خپل شهيدان او زخميان په پوره احترام او درناوې سره پورته کول .

ځينو غازيانو هغه اندلسي پوځيان رانيول کوم چې په ځنګلونو ، فصلونو او بوټو کې پټ شوې وه ، ځينې پوځيانو د خپلو زخمي او مړو ملګرو لاندې ځانونه پټول ترڅو ځان د بندي توب څخه وژغورې .

څه اندلسي پوځيان په تېښته کې وه او د ګادليت د سيند په سر چې کوم پل هغوې جوړ کړې وو په هغې پورېوتل ، هغوې د وېرېدلو ځارويو په شان

په پل باندي پخپلو کې تيله جوړ کړې وه او يو د بل څخه يې د مخکې کېدو کوښښ کاوه ، پدې تيل ماتيل کې څو کسان لاندي سيند ته پريوتل ، هغه پوځيان خوشحاله وه چې مخکې يې لا وسله غورځولې او ځانونه يې د بنديانو په توګه مسلمانانو ته تسليم کړې وه .

څرګنده نشوه چې چا حکم ورکړ چې د پل څخه تېرېدونکې اندلسي پوځيان بايد تېښتې ته پرې نښودل شي .

څو غازيان د اندلسي بنديانو سره يو ځاې د سيند غاړې ته ولاړل او هلته يې په اندلسې ژبه اعلان وکړ چې بېرته راګرځى کنه د غشو باران به درباندي وشي ، ددې اعلان سره جوخت پوځيان د راګرځېدو پر ځاې مخ په وړاندي تيله پيل کړه ، د څو لېندو څخه په يو ځل څو غشې ووتل او د پل څخه پوځيان لاندي راپريوتل .

ددي سره سم دپاسه تيل ماتيل نور هم زيات شو او شاته راتلل هم پيل شول ، کوم پوځيان چې د پل غاړې ته رسېدل يا نژدې وه هغوې هماغسې خپلې پښې سپکې کړې .

طارق بن زياد ولېدل چې دوه ، درې غازيانو شل ، پنځه وېشت ځوانې انجونې راپه مخه کړيدي .

دا انجونې د راډرک د حرم انجونې وې چې هغه د عياشى لپاره له ځان سره د جګړې مېدان ته راوستې وې .

طارق د غونډۍ څخه راښکته شو او انجونې د هغه په وړاندي راوستل شوې ، پدوې کې يوازې يوه مېرمن د پاخه عمر خاونده وه چې د حرم څارونکې معلومېده پاتې تولې ځوانې او يو له بلې څخه ښاېسته او حسينې وې .

طارق بن زياد وپوښتل : ايا دوې د بادشاهى کورنۍ پورې اړه لرې ؟

جولين ځواب ورکړ : نه ! دا د ولسي خلکو لورګانې دى چې د اندلس د بادشاه د عيش او عشرت لپاره غوره شويدي ، هغه څه بادشاه وې چې شل ، ديرش ملګرې انجونې ونه لرې .

طارق بن زیاد وویل : لدوي ښځه وپوښتئ چې کومه یوه د بادشاه په حرم کې خوشحاله نه وه ؟

کله چې د انجونو ښځه وپوښتل شول نو ټولو دا وویل چې مونږ په زور سره د بادشاه حرم ته راوستل شوې وو ، پدې انجونو کې څو عیسایې نورې ټولې یهودې انجونې وې .

طارق د انجونو ښځه وپوښتل : بادشاه راډرک چېرې دې ؟

د حرم څارونکې مهرمنې وویل : ددې پوښتنې ځواب د هېچا سره هم نشته دې ، د څلورو شپو را پدیخوا بادشاه هېڅوک هم خپلې خیمې ته ندې بللې ، ما به هره شپه د هغه ښځه پوښتنه کوله خو هغه به زه رټلم ، د جګړې د دویمې ورځې ښځه هغه لیونې غوندې شوې وو ، هغه به د شپې دومره زیات شراب څښل چې ما یو ځلې پرمخ په خیمه کې پروت ولېدلو ، سمدستې مې پهره کوونکې راوغوښت او هغه مو په بستره باندې واچولو ، خو چې کله به سهار شو نو پوره بېدار او په هوش کې به وو .

د اندلس د امپراطور راډرک پوځ ته خو مسلمانانو غازیانو ماتې ورکړه کوم چې سپه سالار یې طارق بن زیاد وه ، د هغوې په سر د الله تعالی د مرستې لاس او په زړونو کې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مینه او محبت پروت وو .

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کې هغوې ته زېرې ورکړې وو او ورته فرمایلې وه : ته زما د امت ښځه یې ، الله تعالی ستا ملګرې او مرسته کوونکې دې ؟

د اندلس بادشاه راډرک ته د هغه خپلو ګناهونو ، ظلمونو او تېریو ماتې ورکړه ، هغه عبرتناکه ماتې خوړلې وه ، معلومه نده چې د څومره معصومو پېغلو اه او زاریو به هغه ته ماتې ورکړې وی .

هغه ته د اسټوریا روح ماتې ورکړه چې د سر د قلم کولو ښځه یې مخکې ورته ویلې وه چې ستا په بادشاهی باندې به آسونه وځغلول شي .

طارق بن زیاد هغه وخت په میدان کې ولاړ وو چې کله انجونې ورته مخامخ کړای شوې ، بندیان چې هر چېرې پټ شوي وه هغوی لټول کېدل او بیا یو ځای ته راوستل کېدل .

د حرم د انجونو په څنګ کې درې ، څلور بندیان تېرول کېدل ، د هغوی سره دوه غازیان وه ، پدې بندیانو کې د یو خبرې د نورو څخه پورته او لوړې وې ، هغه چې کله د طارق بن زیاد په وړاندې انجونې په نیمه دایره کې ولاړې ولېدلې نو ودرېده .

یو غازي هغه ته وویل : مخکې ځه ولې ودرېدی ؟

اندلسي بندي ورته وویل : پدې انجونو کې زما کشره خوره ده ! د هغې سره د لېدو اجازه راکړه ، په راتلوونکې کې بیا څه معلومه ده چې سره وبه ګورو کنه ؟

غازي بربري وو چې رحم یې نه پېژندلو ، هغه په دواړو لاسونو تېله کړ چې مخکې ځه .

د حرم د انجونو څخه یوې ښکلې انجلۍ طارق بن زیاد او جولین ته وویل : دا زما مشر ورور دی ، ایا تاسې هغه ته دا اجازه نه ورکوی چې لږ زما مخې ته راشي ؟

طارق بن زیاد خپل بربر غازي ته وویل : هغه راپرېږده چې د خپلې خور سره د آخرې ځل لپاره وګوري .

هغه بندي د انجونو نیمې داېرې ته راغې او د خپلې خور په لوري کراره کراره روان وه ، د هغه تر شا بربر غازي را روان وو چې د سپه سالار په وړاندې څه وراني ونه کړي ، د بربر غازي سره کوچنۍ برچه په لاس کې وه چې په دښمن باندې به یې ووېشتله .

انجلۍ د غازي څخه په ډېره بېړه برچه واخیستله او په ډېره بېړه یې د خپل ورور په سینه کې ور وتومبله ، بیا یې برچه د ورور د سینې څخه راوېستله او دویم ځلې یې پورته کړه خو بربري غازي یې لاس په هوا کې ونیولو او برچه یې ورڅخه واخیستله ، د برچې یو ګذار خپل کار وکړ څکه

چې توله په سینه کې ننوتې وه ، ښکلې اندلسې ځوان لومړې په ګونډو شو او بیا پړمخ په ځمکه راپریوت .

جولین د هغې انجلۍ ځخه په اندلسی ژبه وپوښتل : داسې دی ولی وکړل ؟ تا خو خپل ورور ووژلو ؟

پدې خاطر دې ووژلو چې وسله یې غورځولې وه او تسلیم شوې وو ؟

انجلۍ ځواب ورکړ : داسې نده ! ما لا دا مخکې وژلو خو شرایط نه برابرېدل ، که تاسې ددې جرم سزا ماته راکوی نو رایې کړی ، ستاسې سره تورې شته ، برچې شته ، زما بدن پرې توټې توټې کړې .

طارق بن زیاد ورته وویل : مونږ تا ته سزا نه درکوو خو دا پوښتنه درځخه وکو چې خپل ورور دی ولی ووژلو ؟

انجلۍ وویل : همده زه د بادشاه راډرک په حرم کې داخله کړې ووم ، دا لومړې په پوځ کې سپایې وو خو هغه ځانته رتبه او منصب غوښتلو ، زه هغه یوه ورځ په چل سره مانۍ ته بوتلم او ددې ځارونکې مېرمنې سره یې مخامخ کړم ، دې مېرمنې زه د سیال په پلمه دننه حرم ته بوتلم او بیا یې هلته بندی کړم ، بوډا بادشاه زما ځخه نانځکه جوړه کړه ، زه د دوه کالو ځخه راپدیخوا په حرم کې یم ، ما خو ځلې دې مېرمنې ته وویل چې ما د خپل ورور سره مخامخ کړه ، دلالې مېرمنې راته وویل چې د حرم ځخه هیڅ انجلۍ دباندې نشې وتلې او نه کوم نارینه دلته راتللې شې .

دلالې مېرمنې راته وویل چې ستا ورور په پوځ کې د رتبې او منصب لاس ته راوړلو لپاره ته دلته رالېږلې یې ، دوه کاله وروسته ماته د خپل ورور سره د حساب کتاب خلاصولو وخت پیدا شو .

جنرال مغیث الرومې وویل : په کوم پوځ او لښکر کې چې داسې ناموس خرخونکې خلک وی ، د هغوې پایله همداسې راوځې لکه د اندلسې پوځ .

طارق بن زیاد حکم وکړ : کومې انجونې چې خپلو کورونو ته تلل غواړې هغوې باید بندیانې نشې ، هغوې اوس د ځان سره خوندې وساتۍ ، هغوې باید په تکلیف نشې ، مونږ مخکې ځو ، کله چې د هغوې خپله سیمه راشې نو خپل پلار او مور ته یې وسپارۍ .

په دويمه ورځ طارق بن زياد د خپل امير موسی نصير په نامه ډېر لوی پيغام وليکلو چې په هغې کې يې د ګادليت د جګړې پوره او مکمل معلومات وړاندي کړ او په آخر کې يې ورته وليکل :

"ما تر اوسه پورې کوم ښار ندي فتح کړې چې ډالی در واستوم ، زما په فکر امير المؤمنين وليد بن عبدالملک به دا اوسنی ډالی ډېره خوښه کړي ، ديرش زره جنګې بنديان دي ، دوې به تل ستاسې سره وې ځکه چې د هغوې بادشاه په اوبو کې ډوب او عرق شويدي ، د هغوې د خلاصون يا تاوان ورکولو څوک نشته ، همدا رنګه زمونږ هېڅوک هم د هغوې سره بندي ندي چې د هغې په بدل کې يې ورکړو .

ښاغلي امېر ! بله ډالی د امپراطور سپين آس اوريليا دي چې ډېر غوره آس دي ، دريمه ډالی د امپراطور قيمتي توره ده ، دا درې واړه تاسې ته د ډالی په توګه در استول کېږي ، زه به اوس پرمختګ کوم تاسې زما د فتح او برې لپاره په جوماتونو کې دعاګانې غواړې .

د آسونو او بنديانو د رسولو لپاره کښتيو ته اړتيا وه ، د جولين څلور لوې کښتی خو طارق بن زياد د جبل الطارق په ابنا کې سوځولې وې ، مسلمانانو کومه لوی کښتی هلته نه درلوده .

تاريخونه ليکي چې تردې وخته پورې لا مسلمانانو بحرې قوه او سمندري ځواک نه وو جوړ کړې ، کله چې هغوې سمندرې او بحرې ځواک جوړ کړ بيا يې د نورو بادشاهانو بحرې ځواکونه په بحر او سمندر کې غرق او ډوب کړل او خپله يې د سمندر واک هم په لاس کې واخېست .

د بنديانو او اضافې آسونو د وړلو لپاره يې اندلسې کښتی راپېدا کړې ، درې شپې او ورځې د اندلس کښتيو بنديان او آسونه د اندلس څخه تر قيروان پورې رسول او پرله پسې تللي راتللي .

قيروان د شمالي افريقا او مصر مرکز او دار الامارت وو ، په افريقا کې بربر قومونه په انديښنه کې وو چې څه به کېږي ، د هغوې خلک د قيروان په ساحل کې ولاړ وو ، او سمندر به يې څارلو چې څه احوال واخلي ، ځينې د سهوسته په غاره کې هم پراته وه ، بلاخره د قيروان په غاړه د بنديانو

لومړنۍ جوپه ښکته شوه ، بربریان په کښتۍ وانانو ورپریوتل ، د بندیانو سره بربري غازیان هم وه .

هغوی ورته د اندلس د جګړو په هکله معلومات ورکړل ، ددې څخه وروسته بربریانو پخپلو آسونو پښې واړولې او خپلو خپلو قومونو ته په منډه شول ترڅو هغوی ته زېرې ورکړي ، بربریان زیات د افریقا په دښتو او بیابانونو کې اوسېدل ، هر ځای ته به چې د طارق بن زیاد د فتح او برې خبرونه رسېدل هلته به جشن جوړېدلو ، نارینه او ښځینه ټول خوښ او خوشحاله وه .

" په خلکو کې دا اوازې او انګازې خپرې شوی : د طارق بربر سره پوځ ډېر کم دی داسې نه چې هغه مخکې په کوم جال کې راګېر شي نو د طارق بن زیاد مرستې او کومک ته ورشی " .

ددې اوازو او انګازو څخه بلاخره یو اواز جوړ او هرې خواته خپور شو ، ددې اواز څخه وروسته نوی ځوانان او دپاخه عمر بربریان د قېروان او سبوسته په غاړه راټولېدل ، د اندلس کښتۍ بېرته تللې وې نو بربریانو د ځان لپاره د کښتیو بندوبست وکړ او پرله پسې د سمندر څخه بلې غاړې ته تلل او د طارق بن زیاد په لښکر کې داخلېدل .

هنرې د سبوسته په غاړه له کښتۍ څخه ښکته او د جولین د ماڼۍ په لورې په منډه شو ، هغه د جولین د لور فلورا سره ژمنه کړې وه چې د اندلس د بادشاه راډرک سر به ورته راوړي او د هغې په پښو کې به یې غورزوی .

هنرې چې کله سبوسته ته را ورسېده نو د هغه څخه مخکې هلته د اندلس څخه هېڅ احوال نه وو راغلې ، کله چې هغه د کښتۍ څخه ښکته شو او د ماڼۍ په لورې یې منډه کړه نو درې څلور بربریان ورپسې شول .

هنرې ته یو بربر اواز وکړ ته لکه چې د اندلس څخه راغلی یی ؟

هنرې پرته له تم کېدو څخه ځواب ورکړ : هو ! زه پوهېږم چې ته د څه په هکله پوښتنه کوې ... د بربریانو فتح په نصیب شوه .

بربر ورته وویل : لږ تم شه او ټول حال راته ووایه .

هنري په منډه منډه په لنډو خبرو کې هغه ته د اندلسي پوځیانو د بربادۍ او د راډرک د لا درکه کېدو حال وویلو او ځان یې ورڅخه خلاص کړ.

هنري ورته وویل: قېروان ته ولاړ شی، هلته د اندلس په زرګونو بندیان راوستل کېږي.

بربري مسلمانانو د فتح او بري ناري پورته کړي او په خپله مخه روان شول، هنري د جولین د ماڼۍ لاره ونیوله او بیا په منډه شو، ماڼۍ د کلا په منځ کې وه او کلا هم ساحل ته نژدې وه، فلورا د کلا په دیوال ولاړه وه او سمندر ته یې کتل چې کله به احوال راځي.

هغه به هره ورځ د سهار څخه تر ماښام پورې څو ځلې د کلا په دیوال پورته کېده او د سمندر پراخه سطح به یې تر خپل نظر تېروله، کله چې به کومه کېښتۍ ښکاره شوه نو هغې ته به یې کتل تردې چې له سترګو څخه به پناه شوه، نو په زړه به یې تیاره راتلله او خفه به بېرته راښکته کېده، پدې تمه باندې په هغې ډېرې شپې او ورځې تېرې شوې او مخ په تېرېدو وې.

بلاخره هغه کېښتۍ ورته ښکاره شوه د کومې چې هغې تمه لرله، هغې له لرې څخه ولېدل چې هنري له کېښتۍ څخه ښکته شو، هنري د کلا د اړخ لاره ونیوله څکه چې هلته د ماڼۍ دروازه راخلاصه شوې وه او دا مهال پرانستې وه ځکه د ورځې به دا ټولی دروازې پرانستې وې.

هنري له دروازې څخه کلا ته ننوت هغه هېچا هم راتم نکړ ځکه ټولو پېژندلو چې هغه هنري دی، هغه د ماڼۍ باغچې ته ننوت، چېرې چې د ونو، بوټو او ګلانو ځنګل جوړ شوی وو، دې باغچې ته د بهرنې نرانو لپاره اجازه نه وه خو هنري پداسې ولولو او احساساتو کې ډوب وو چې هرڅه یې له یاده وتلې وه ځکه هغه ډېر حېرانوونکې او لوی خبر راوړی وو، هغه هلته ودرېده او خپله ساه او ځان یې راسمبال کړ.

د شا له لورې هنري ته اواز وشو، هنري!

هنري شاته راتاو شو نو فلورا پخپل غېږ کې ونیولو، هنري هم خپل دواړه لاسونه د فلورا څخه راتاو کړل ځکه چې دواړو د ډېرو ورځو څخه وروسته سره ولېدل.

لږ څنډ وروسته فلورا هنري له ځان څخه جدا کړ او دوه ګامه ورڅخه راشاته شوه ، د هغې په څېره باندې د خفګان نښې ښکاره شوې .

فلورا په خفه ژبه وویل : هنري ! ته خو خالي لاس ماته راغلې يې خپله ژمنه رایاده کړه ، د راډرک سر چېرې دي ؟

هنرې په چوپه خوله خبرې اورېدلې او هغې ته کتل .

فلورا د هنرې په دواړو اوږو خپل لاسونه کېښودل ورته ویل : راته ووايه چې مسلمانانو د راډرک له لاسه ماتې وخوړه او ته له هغه ځايه په تېښته راغلې ، زما پلار مړ شو يا دا چې ژوندې ونیول شو ؟

هنرې په خندا شو وی ویل : داسې نده فلورا ! کاونټ جولین ژوندي دي او راډرک ختم شو .

فلورا په زغرده وویل : نو بیا د راډرک سر څه شو ؟

هنرې وویل : هغه په اوبو کې ډوب او غرق شو ، ما د نښې لپاره د هغه بوټان راوړيدي ، ما د هغه بادشاهی توره هم را اخیستې وه او د هغه نامتو آس اورېليا مې هم ترلاسه کړې وو ، ما د راډرک پسې ډېر کوښښ وکړ او ډېر مې ولټولو خو يوازې د هغه همدا درې شیان په لاس راغلل ، خپله لا درکه وو ، ما د هغه شیان را واخیستل په آس سپور شوم او ځان مې طارق بن زیاد ته ورسولو او هغه ته مې زېرې ورکړ چې راډرک ورک دی ، توره او آس راڅخه طارق بن زیاد واخیستل خو بوټان ما ورڅخه ستانه کړل نو هغه راته اجازه راکړه .

ما دا بوټان د نښې لپاره تاسې ته راوړل .

پدې خبره باندې د فلورا څېره لکه د سپوږمۍ په شان وځلېده ځکه د هغې غچ او انتقام واخیستل شو .

دوه تاريخ لیکوونکو پروفیسر ډوزې او ګیانګوز لیکلې دي چې کله موسی بن نصیر ته د طارق بن زیاد پېغام ورسېده نو هغه په ډېره بېره ولوست ، د هغه څېره د ولولو او احساساتو څخه تکه سره شوه ، طارق بن زیاد د اتو ورځو معلومات ورکړی وو ، تو ددې سره د موسی بن نصیر زړه داده نشو .

پیغام راوړونکي ته وویل : ته پخپله ژبه ماته د سترګو لیدلي تول حالات بیان کړه !

تاریخونو لیکلي چې په موسی بن نصیرې باندي بې خودي راغلې وه ، هغه په خمار حالت کي د ګادلیت د جګړې حالات اورېدل ، بیا هغه امیر المؤمنین ولید بن عبدالملک ته چې کوم پیغام ولیکلو د هغې څه برخه تاریخونه هم را اخیستې ده ، د پیغام په آخر کي هغه داسې لیکلي وه :

" امیر المؤمنین ! دا څه عادي او عام جنګ نه وو ، کومه اسانه او ساده جګړه نه وه ، دا د قیامت او محشر مېدان وو ، ما چې په خوله د هغې په هکله څه اورېدلي دي هغه د بدن وېښتان راپورته کوي او غوني زېږوي ، زمونږ فتح او برې شکمن شوې وو ، دولس زره غازیان د یو لک منظم پوځ په وړاندي یوه ورځ هم نشول تم کېداې ، دا د الله تعالی جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د عاشقانو برکت وو ، مونږ هغوې ته یوازې افرین او شاباسې ورکولاې شو ، ثواب ، بدله او اجر به یوازې الله تعالی له خپل لوی دربار څخه ورکوی .

موسی بن نصیر د راډرک توره او د هغه نامتو سپین آس اورېلیاً د زېرې د پیغام سره یو ځاې ولید بن عبدالملک ته واستول ، ددې پیغام سره دیرش زره اندلسې پوځې بندیان هم ملګرې وه .

ددې دیرش زره پوځې بندیانو لېدل او کتل انسان ته دا وروپه یادوی چې کفرې ځواک د اسلام په وړاندي څومره بې وسې او لاس تړلې دي ، د بندیانو پدې لښکر باندې د انسان رحم راتللو .

هغوې مخکې د یوې باطلې او غلطې عقیدې بندیان وه ، د خپل بادشاه د حکم بندیان وه ، اوس هغوې د جنګې بندیانو په څېر لاس تړلې روان وه ، هغوې ته چا تردې وخته پورې نه وو ویلې چې تاسې اوس د تیارو څخه د روښنائی په لورې درومې، هغوې ته چا نه وه ویلې چې د اسلام په دین کې د بادشاهانو ظلم او زور زیاتې نشته ، په اسلام کي غلام او بادار یو شانته وې .

یوه اروپایې شاعر هم د راډرک ماتې او د مسلمانانو فتح په شعر او نظم کې بیان کړې ، هغه دې داستان ته د هسپانیا نظمې ډرامه ) نوم ورکړیدې

، دا شاعر لوک هارټ نومېږي ، هغه ليکلي دي چې کله اندلسي پوځ او لښکر ماتې وخوړه نو رادارک خپله په يوه لوړه غونډۍ پورته شو هغه خپل پادشاهي بېرغ ولېدلو کوم چې تر پرون پورې لوړ او رپانده وو خو اوس په وينو تک سور او په خاورو کې لت پت پروت وو ، هغه يوې او بلې خواته د فتح او برې نارې واورېدې خو دا نارې د هغه د پوځ نه بلکې د مسلمانانو نارې وې ، د رادرک ستړو او ستومانه سترګو د ګادليت په مېدان کې خپل جنرالان او قوماندانان لټول خو هغوې ټول له سترګو پناه او تښتېدلې وه ، په مېدان کې هغه پاتې وه کوم چې وژل شوي يا تسليم شوې وه ، رادرک سوړ اوسيلي ووېست او د خپل خان سره يې وويل : څوک به زما د پوځ د دومره زياتو مړو شمېر سرته ورسوي؟

هېڅوک نه !

دومره لوې او پراخه مېدان په وينو تک سور وو ، د هغه سترګې ددې خونړۍ او په وينو سور مېدان څخه وښوېدې او له سترګو څخه يې اختياره اوښکې داسې رواني شوې لکه د کوم زخمي د شا رګ څخه چې وينې دارې وهي .

رادرک د خپل خان سره وويل : تر پرون پورې زه د اندلس امپراطور ووم خو نن ورځ زه هېڅ هم نه يم ، تر پرون پورې د لوړو او غټو ماڼيو دروازې زما د سپرلۍ لپاره خلاصېدې خو اوس داسې ځاې نشته چې زه په داده زړه يکې لږ ساعت کېنم او آرام وکړم ، زما پرمخ اوس د نړۍ ټولې دروازې بندې شوې .

اې بدبخته ! تا خو فکر کاوه چې د نړۍ ټول واک او اختيار ستا په لاس کې دي ، هو ! زه بدبخته يم ! زه نن په آخرې خل باندې د لمر پرېوتل ګورم .

اې مرګه ! ته ولې دومره په کراره کراره را روان يې ، ته زما له تښتولو څخه ولې وېره لرې ؟ زر راشه ! زر تر زره راشه ! او ما د نړۍ له هر غم څخه بې غمه کړه !

***

د توحيد بچيانو يو خل بيا د تاريخ نوې او زرين باب وليکلو بلکې دا زرين باب يې د کفارو په لاس د هغوې په وينو باندې وليکلو .

طارق بن زياد خپل سالاران راوغوښتل ، جولين او اوپاس د هغه سره ناست وه .

طارق بن زياد وويل : مونږ نور دلته زيات پاتې کېدای نشو ! کوم اندلسي پوځيان چې ددي مېدان څخه تېښتېدلي دي هغوې ته بايد په بل ځاې کې د ارام او ځان سمبالولو وخت ورنکړو ، د هغوې پسې شی او د حرکت لپاره ځانونه چمتو کړی .

د مسلمانانو لښکر د جولين او اوپاس په لارښوونه باندي حرکت پيل کړنو طارق بن زياد ته احوال ورکړل شو چې ډېر زيات بربري غازيان د شمالي افريقا څخه راغلي او په لښکر کې ګډون کول غواړي ، کله چې شمالي افريقا ته د غازيانو د فتح او بري خبر ورسېده نو د بربري قومونو او قبيلو څخه غازيان رامات شول او په کرايه کښتيو کې د اندلس په لوري راوخوځېدل ، طارق بن زياد حکم وکړ چې نوي غازيان په لښکر کې داخل کړې خو هغوې بايد پدي پوه شي چې دلته مونږ د جهاد راغلي يو ، لوټ ، چور او تالان د زړه څخه وباسی .

د ګادليت د مېدان څخه مخکې د شدونه په نامه يوه کلا وه ، د ښار څخه لوې ديوال او فصيل را تاو شوي وو چې ددي ښار په منځ کې پوځي کلا پرته وه ، کله چې د ښار خلکو او د کلا پوځيانو د مسلمانانو لښکر له لري څخه ولېدلو پوځيانو د کلا څخه تېښته وکړه ، د پوځيانو د تېښتي په وجه ښاري خلکو هم تېښته پيل کړه ، طارق بن زياد وويل : هغوی له تللو او تېښتي څخه منع کړې ، هغوې ته ډاډ ورکړې چې ستاسې ځانونه ، مالونه حيا او عزت ټول خوندي دي .

سپرو ساتوونکو په منډه هلته ځانونه ورسول او ولسي خلک يې د وتلو او تللو څخه منع کړل او هغوې ته يې ډاډ ورکړ ، ددي څخه وروسته د ښار څخه يو پلاوې طارق بن زياد ته راغې او هغه ته يې وويل :

مونږ بې وسلې او تش لاسي يو ! مونږ کمزوري يو ، کمزوري دا حق نلري چې په زورو باندي خپل شرايط ومنې ، دا د بادشاهانو حق دي چې په زور سره په هېوادونو ولکه وکړې ، خپلو پوځيانو ته د خلکو د کورونو او حيا

لوټولو او چور کولو اجازه ورکړې ، تاسې به هم همدا کار کوئ ، پدې کلې او ښار کې ستاسې د مخنیوې او لاس بندولو لپاره څوک نشته ، مونږ ته اجازه راکړئ چې درڅخه ولاړ شو ، تاسې زمونږ د ټولو تالاشې واخلئ او لټون وکړئ ، مونږ یوازې خپلې میرمنې او لورګانې ستاسې څخه ځانونو سره بیایو ، تاسې ښار ته راننوځئ مونږ ستاسې هرکلې کوو .

طارق بن زیاد ته د بوډا سرې او د پلاوې د ویاند خبرې وژباړل شوې .

طارق بن زیاد وویل : دې ټولو ته ووایې چې مونږ ستاسې لپاره داسې دین له ځان سره راوړیدي چې کمزورې خلک د زور ور څخه خوندي او محفوظ ساتې ، دا دین هېچا ته هم اجازه نه ورکوې چې د ځان څخه بادشاه او امپراطور جوړ کړې ، زمونږ په دین کې د هېچا د چور کولو او لوټولو اجازه نشته ، د چا د عزت او حیا پایمالوونکې سزا زمونږ په دین کې سنګسارول او په درو وهل ټاکل شوېدي ، اجازه ورکول خو په هیڅ صورت هم چاته نشته چې د چا عزت او حیا ته په بده او غلطه سترګه وګورې ، دوې ته ووایې چې مونږ دلته په ځمکه او خاوره باندې د حکومت کولو لپاره نه یو راغلې بلکې د خلکو د زړونو او فکرونو د خپلولو او ملګرې کولو لپاره راغلې یو ، دا کار مونږ په زور او ځواک سره نه کوو بلکې د مینې او محبت له لارې . ټول خپلو کورونو ته په پوره ډاډ او اطمنان سره ولاړ شی ، د هیڅ شې د پټولو اړتیا تاسې ته نشته ، هر شې د هغه خپل دې او بل څوک هغه ورڅخه په زور نشې اخیستلاې .

کله چې د طارق بن زیاد خبرې د پلاوې خلکو ته واورول شوې نو ټول حیران او هک پک پاتې شول ، هغوې پرته له خبرو د طارق بن زیاد له آس سره یو ځای روان شول ، تر شا یې د غازیانو لښکر را روان وو ، پدې توګه د شدونه پوځې کلا پرته د وینې تویولو څخه غازیانو ته په لاس ورغله .

طارق بن زیاد ددې ښار او کلا لپاره ګوت او عیسایې چارواکې وټاکل خو مشر واکمن یې یو مسلمان پرې وټاکلو ، ټولو غازیانو په ښار کې هېچا ته هم په پورته او بد نظر باندې ونه کتل ، تر سبا ورځې پورې د ښار د ټولو خلکو د زړه څخه وېره ، ډار او شک لرې شو .

د شدوني څخه وروسته بل کوچني ښار د قرمونه په نامه سره يادېدلو ، طارق بن زياد هلته اته ، لس ، ورځې تېرې کړې ، بربري غازيان د شمالي افريقا څخه پرله پسې را روان وه ، ځيني تاريخ ليکوونکو د دوې شمېر دولس زره خو ځينو پنځوس زره ليکلې دي ، اصلاً د دوې شمېر د شلو او پنځه وېشت زرو په منځ کې وو ، طارق بن زياد خپلو سالارانو او قوماندانانو ته وويل چې هغوې ته د جګړې په مېدان کې د نظم او ترتيب سره سم د جنګېدلو روزنه ورکړې .

طارق بن زياد چې کله د قرمونه په لورې روان شو نو د ښار دوه مخور او سپين رو بې اوسېدونکې ورته راغلل .

يو مخور سړې وويل : په لومړۍ ورځ مونږ ستاسې په خبرو باور ونکړ ، خو اوس تاسې په عملې توګه را وښودله چې ستاسې دين هر انسان ته د انسانيت درجه ورکوی .

په ولس باندې ورته د لاس پورته کولو اجازه نه ورکوې ، ددې ښار بچې بچې ستاسې کړو وړو ته سلام او درناوې کوې ، مونږ ستاسې د احسان بدله پدې ډول درکوو چې تاسې د راتلوونکې خطرونو څخه خبر کړو :

ددې څخه مخکې چې څومره ځايونه راځې هغه په دومره اسانه توګه تاسې ته لاس ته نه درځې ، لدې ځايه چې کوم پوځ تښتېدلې دې هغه ستاسې له وېرې نه بلکې پدې خاطر ولاړ چې ددې ښار خلک ورسره په محاصره کې نه ودرېدل او هغوې به پلوې ونه کړه نوپه چارواکو کې يو تن نوروته زمونږ د عمل په نتيجه کې وويل تاسې دا ښار حمله کوونکو ته خوشې کړې او بيا يې په نورو ښارونو او کلا ګانو کې ځانونه راټول او مقابله وکړی او دښمن کمزورې کړی .

هغه چارواکې دا هم وويل چې د راډرک د بې عقلی په سبب مو ماتې وخوړله او هم ګوت قوم خيانت وکړ .

يو قوماندان وويل چې مونږ اوس د راډرک څخه خلاص شو نو په ښه طريقه به جګړه وکړو .

هغوي پريکړه وکړه چې کله د حمله کوونکو لښکر لرې ښکاره شي نو پوځ بايد ځاى ورته خوشې کړي او په راتلوونکې کلا کې ځانونه برابر او چمتو کړي .

طارق بن زياد ورځخه وپوښتل : ايا ستاسې پوځيان وېرېدلي نه وه ؟

يو بوډا وويل : هغه پوځيان چې د ګادليت له جګړې څخه راغلي وه هغوي ډېر ورخطا او وېرېدلي وه خو د کلا پوځيانو هغوي ته دومره پېغورونه ورکړل چې ټول د غچ او انتقام اخيستلو لپاره تيار شول ، اوس د هغوي په زړونو کې وېره نه بلکې د غچ او انتقام جذبه او ولوله ده ، مونږ تاسې ددې څخه خبروو چې په راتلوونکې ځاى کې به جګړه او مقابله سخته او کلکه وي.

طارق بن زياد چې کله قرمونه ته ورسېده او هغه يې محاصره کړه نو لږ ځنډ وروسته ورته څرګنده شوه چې ددې ځاى نيول اسان کار ندي او محاصره به اوږده شي ، په ديوالونو باندې غشي او برچې وېشتونکې نيغ ولاړ وو .

طارق بن زياد د ټولې کلا له ديوال څخه راوګرځېده چې کوم ځاى کمزوري وي د هغې د نړولو کوښښ وکړي خو ديوال ډېر کلک وو ، په دروازو باندې بريدونه وشول خو د غشو او برچو پوسيله ډېر غازيان زخميان او شهيدان شول .

ترڅو ورځو پورې همدا طريقه وازمويل شوه خو د ديوال څخه پرې د غشو ، برچو او پېغورونو باران روان وو ، هغوي به ورته وويل :

اى بربريانو ! دا قرمونه ده شدونه نده .

ځنګليانو دبېرته ولاړ شی ، زمونږ له لاسه ولې خپل ځانونه مړه کوی .

لوټ مارانو او لاره شکوونکو ! مونږ به درته د سرو او سپينو څو سکې دروغورځو و هغه واخلی او بېرته ولاړ شې .

اى تورمخو ! ماتې خوړونکې رادرک اوس نشته .

محاصره همداسې اوږديدله ، څينې تاريخونو يوه مياشت او څينو دوه مياشتې ليکلې .

يوه شپه ناڅاپي محاصره پورته شوه ، په ديوال باندي اندلسي پوځيان د خوښۍ څخه په نڅا شول ، هغوي کنځلي کولې ، د ښار خلک هم ديوال ته راپورته شول ، مشعلونو توره شپه رڼا ورځ کړه .

په ټول ښار کي جشن جوړ شو او د نيمي شپې څخه وروسته ټول خلک له ديوال څخه راښکته او په خپلو کورونو کي ويده شول، د ډېري اوږدي محاصرې څخه پوځيان او قوماندانان هم په تنګ راغلي وه ، هغوي هم په کراره ويده شول .

يوازي د دروازې او برجونو پېره کوونکي وېښ وه ، پدي وخت کي د کلا څخه دباندي دوه نيم سوه پوځيان راغلل او دروازې ته مخامخ ودرېدل ، هغوي په اندلسي ژبه په لوړ اواز سره پېره کوونکو ته اواز وکړ .

د پيره کونکو قوماندان د برج څه سر راووېستلو او وې پوښتل : تاسي څوک ياستی ؟

له دروازې سره نژدي اواز پورته شو : زه د سېوسته والي کاونټ جولين يم ، مشعلونه را لاندي کړې او ما وپېژنۍ !

کاونټ جولين ټولو پوځي افسرانو پېژندلو او د هغه سره يې اړيکي درلودلی .

قوماندان وپوښتل : ته له کومه ځاې راغلې يې ؟

جولين ځواب ورکړ : دروازه خلاصه کړۍاو مونږ ته پناه راکړۍ ، دا زما ساتوونکې دي ، زما اووه ، اته سوه ساتوونکې ووژل شول ، مونږ د ګادليت د جګړې څخه ژوندي راخلاص شوې يو ، په ځنګلونو کي يوې او بلې خواته لوغړن ګرځېدلو چې دي لورې ته راورسېدو ، هغه وخت کلا محاصره وه نو مونږ د څه وخت لپاره پټ شو ، نن چې محاصره پورته شوه مونږ د پناه لپاره دلته راغلو ، زه خپله زخمي يم ، زما شل ، پنځه وېشت ساتوونکي هم زخميان دي ، لوږې او ستړتيا څونږ د مړو په شان کړي يو ، دروازه خلاصه کړۍ .

تاريخونه ليکي چې د جولين جامو او حالت داسي ښودله چې هغه ډېري ستونزې لېدلې او دلته را رسېدلې دي ، کوم کسان چې د هغه سره ملګري وه هغه هم په ډېر بد حالت کي وه ، له پاسه د ډېرو مشعلونو په رڼا کي د

هغوي حالت ولهدل شو او جولين يې وپېژندلو ، د نيمې شپې څخه وروسته مهال وو ، د کلا د مشر او واکمن راپورته کول يې مناسب ونه ګڼل او دروازه يې پرانستله .

جولين د دوه نيم سوه ساتوونکو سره کلا ته ننوت او د هغه په اشاره باندې يې ملګرو د کلا په ساتوونکو بريد وکړ او په لږ وخت کې يې ټول ساتوونکي ووژل ، بيا يې دروازې خلاصې کړې ، د کلا پوځ ټول د محاصرې د پورته کېدو په خوښۍ کې په شرابو مست او بې غمه ويده شوي وه ، غازيانو په ښکاره محاصره پورته کړې وه خو لرې تللي نه وه بلکې نژدې په کندو کې پټ شوي وه ، هغوي د جولين اشارې ته سترګې په لاره وه .

دا د جولين پلان وو چې د طارق بن زياد سره يې يو ځاې جوړ کړې وو . دوه تاريخونو ليکلې دي چې د جولين سره دوه نيم سوه ساتوونکې ټول اندلسي پوځيان وه ، خو نورو تاريخونو ليکلې دي چې دا ټول مسلمانان وه خو جامې يې بدلې کړې وې ، همدا خبره سمه ده ځکه چې پدې جګړو کې دجولين سره خپل پوځيان نه وه راغلې .

کله چې د کلا دروازې ونيول شوې نو جولين خپله د کلا ديوال ته پورته شو او مشعل يې يوې او بلې خواته وښورولو ، دا د طارق بن زياد سره د هغه نښه او اشاره وه ، د هغه پوځ تيار او چمتو وو ، طارق بن زياد خپل آس ته پونده ورکړه او تر شا يې پوځ د سيلاب په شان د کلا په لوري وخوځېده او د پرانستو دروازو څخه کلا ته ننوتل ، په کلا کې ګډوډي پيل شوه ، کله چې د کلا پوځ راويښ شو نو ټول بنديان وه ، تر هغې چې غازيان په ټوله کلا کې خپريدل ځو پوځې چارواکې له کلا څخه وتښتېدل .

***

شل ، پنځه ويشت ميله مخکې يو بل ښار وو چې د لوړ ديوال او فصيل پوسيله ساتل کېده ، ددې ښار نوم اېسيجا وو ، ښار په پوره توګه د لوړ او کلک ديوال په وسيله احاطه شوې وه ، دا ښار ځکه مشهور وو چې د عيسايت مرکز وو ، دلته لوې کليسا وه چې ښوونه او روزنه پکې ورکول کېده ، هلته کوچنۍ کوچنۍ کليساګانې هم وې .

دا هغه مهال وو چې لويو پادريانو د اصلي عېسايت پر ځاي د رهبانيت مسلک رواج کړې وو او د خپلې خوښې کارونه يې کول ، پادريان خپله د واکمنانو په شان وه ، د هغوې مخه واکمنانانو او چارواکو هم نه نيوله ، پادريانو په خلکو کې خپل تقدس او لوړوالي خپور کړې وو ، هغوې ولسي خلک خپل مريدان ګرځولي وه چې د هېڅ ډول ګوت نيونې او اعتراض حق يې نه درلوده .

خپله عېسايي تاريخونو هم دا ليکلي دي چې پادريانو د کلېساګانو ځخه د عېش او عشرت اډې او مرکزونه جوړ کړې وه ، هلته د ښځو او شرابو واکمني وه ، ددې ټولو خبرو سره سره ولسي خلکو اېسيجا يو مقدس ښار بللو .

د طارق بن زياد لپاره راتللونکي ښار همدا اېسيجا وو ، جولين او اوپاس هغه ته ووېل چې د عېسايانو لپاره دا ښار ډېر مقدس او سپېڅلي دي نو د هغې نيول په اسانه نشي کېداى .

پدي ښار کې به نارينه ، مېرمنې او پوځيان ټول جګړه کوې سره ددې که وسله ورسره هم نه وي ، جولين چې کومې خبرې طارق بن زياد ته کولې هغه په عملي ډول پدې ښار کې سرته رسېدلې ، د ګادليت د جګړې ځخه ژوندي خلاص شوی پوځيان قرمونه او شدونه ته تللي وه ، کله چې هغه دوه ښارونه مسلمانانو ونيول هغوې اېسيجا ته وتښتېدل او هلته يې پناه واخيستله ، هلته هم دا اوازې خپرې شوې وې چې مسلمانان پرله پسې فتح او برې ترلاسه کوې ، په خلکو باندې وېره راغله خو د مقابلې احساس هم ورسره راپيدا شو ، هغوې ته ووېل شول چې پدې هېواد داسې خلکو بريد او حمله کړې چې رېښتينې عېسايي دين له منځه وړي .

کله چې د مختلفو محاذونو ځخه اېسيجا ته تښتېدلي پوځيان را ورسېدل نو خلکو ورته پېغورونه ورکول :

دا بې غېرته له خپل ښار ځخه وباسی .

دوی د شدونه او قرمونه انجونو او ميرمنی دښمن ته پرېښودي .

دا بې زړه او بې غېرته خلکو ځخه د نارينه جامې وباسی او د ښځو جامې ور واغوندئ .

دوی ته یو غرپ اوبه مه ورکوی ، هغه تږی مړه کړی - دوی په لوږه مړه کړئ

دوی په کانو او ډبرو باندي ووژنی .

مونږ د خپلو خویندو میندو لورګانو او میرمنو ساتنه او حفاظت خپله کوو

د اسپیجا هر ښځه د خپل تاتی ځخه په خپل سره دفاع کوی .

داسې په لس ګونو پیغورونه وه چې په راتښتېدلې پوځیانو باندي ورول کېدل ، هغوی د پناه لپاره دلته راغلې وه خلکو په اخلاص هغوی ته پناه ورکوله خو ځرنګه چې هغوی پوځیان وه نو د هغوی جنګول اړین وه ، په همدې خاطر هغوی ته د اړتیا شیان ورکړی شول او بیا ورځخه د مسلمانانو د جګړې په هکله معلومات واخیستل شو چې په څه توګه او طریقه هغوی جګړه کوی .

ددي پوښتنې خواب هېڅا هم ورنکړ چې هغوی په څه ډول جګړه کوی ، هر یو به ویل چې مونږ ته هېڅ معلومات نه کېږي .

په څه توګه دولس زره کسانو یو لک منظم پوځ مات او ختم کړ ؟

امپراطور راډرک هم د هغوي په چلونو او طریقو پوه نشوه او ماتې یې وخوړه .

د ماښام ځخه وروسته د ښار لوی پادري د عمومي غونډي اعلان کړې وو چې هغه ته ټول پوځیان رابلل شوي وه ، د ښار زیات خلک او پوځیان هم هلته راغلي وه ، پادري د وعظ په ډول خبرې پیل کړې چې په خلکو کې مذهبي جوش او جذبه رابېداره شوه ، بیا پادري اصلي خبرې ته راتاو شو او وې ویل :

دا برید او حمله ستاسې په خاوره او هېواد باندي نه بلکې ستاسې په دین او مذهب باندي ده ، دا حمله ستاسې په حیا او غېرت باندي ده .

ددي ښار اهمیت او پاکوالي تاسې پېژنی ، که تاسې دا ښار دښمن ته تسلیم کړی نو ددي معنی دا ده چې تاسې بي بي مریم علیه السلام دښمن ته تسلیم کړه .

تاسې که صلیب د دښمن په پښو کې کېښوده ، د یسوع مسیح بادشاهی مو خرابه او تباه کړه .

پدې پوه شي چې تاسې خپلې انجونې او میرمنې د بل دین خلکو ته خوشې کړې تر هغوی لوټ ماران او لاره شکوونکې دي.

د حیا او عزت پایمالوونکې دی ، د غلامانو سوداګر دي.

ستاسې به له انجونې او میرمنې سره یو ځای بوځي او بیا به مو په ښمنو خلکو خرڅ کړي ، ستاسې دا عبادت ځایونه ، خانقاګانې او کلیساوې به هغوی د آسونو طبیلې وګرزوي ، ایا دا ټول شیان تاسې په ځان قبلوي.

ټولو خلکو په یو اواز ځواب ورکړ : نه مقدس پلاره ! مونږ به ددې ښار په ساتنه کې ځانونه قربانوو.

لوی پادري وویل : زه اوس د هغه پوځیانو سره څو خبرې کول غواړم کوم چې د جګړې څخه راتښتېدلې دي ، تاسې هغوې ډېر وشرمول ، دوی خپله هم ځانونه ملامت ګڼي.

د جګړې څخه تښتنه ګناه ده ، که هغوی اوس هم دښمنان پسې واخیستل او هغوې یې تباه او برباد کړل نو پخواني ګناه به یې وبښل شي ، کوم کسان چې ددې مقدس ښار په ساتنه او دفاع کې ووژل شي هغوی به نیغ جنت ته ځي.

مشر پادري په ولسې خلکو او پوځیانو کې د جوش ، جذبې او احساساتو د راپارولو لپاره ډېره پاروونکې وینا وکړه او هغوی یې ښه په ولولو راوستل ، اوریدونکو په احساساتي نارو سره ځواب ورکړ ، بیا خلک او پوځیان ټول جګړې ته چمتو شول.

ددې وینا څخه وروسته مشر پادرې د انجونو هغې ودانۍ ته ولاړ چېرې چې انجونو خپل ژوند او خپل هرڅه د دین لپاره وقف کړي وه ، تاریخ لیکوونکې وایې چې ددې انجونو یا ننو د حسن او ښکلا انګازې تر لرې لرې پورې تللې وې ، یو له بلې څخه ښکلې او ښایسته وې او ټولې پېغلې او بې نکاح پاتې وې.

هرې انجلۍ ته راهبه او نن ویل کېده ، د هغوی سره پادریان او راهبان اوسېدل ، هغوی به هم ټول عمر بې واده او بې نکاح ژوند تېرولو.

مشر پادرې ټول راهبان او راهبې د کلیسا لوی هال ته راټول کړل او هغوی ته یې هم وینا او خبرې وکړې کومې چې هغه په عمومي غونډه کې کړې وې

، مسلمانان يې د لوټ مارانو ، لاره شکوونکو او غلو په نامه سره ياد کړل او دا يې هم وويل چې حمله کوونکې مسلمانان ځناور او ځنګليان دي .

مشر پادري وويل : هغوی به تاسې د مخمل او وريښمو په جامو کې نه بيايې ، بلکې هغوی به ستاسې سره د ځنګليانو او وحشيانو په شان سلوک کوي او په وهلو به مو تکې شنې کړي ، يا دا چې تاسې به د ځان سره دښتو او بيابانونو ته وړي او هلته به مو په ځنګلي سردارانو خرڅوي ، مونږ ددي ښار او ځانونو غم نه يو وړي ، مونږ ستاسې غم ليونې کړي يو ، که هغوی ته په لاس ورغلی نو د ډېر خطرناکې پاې سره به مخامخ شې .

يوې ځوانې راهبې وپوښتل : مقدس پلاره ! ايا مونږ طليطې يا قرطبه ته ولاړ نشو ؟

مشر پادري ځواب ورکړ : نه ! ستاسې لپاره اوس هېڅ ځاې خوندي ندي ، يوازې يوه لاره شته چې ددې خطر مخه پرې نيول کېداې شي ، ددي کار لپاره څلور ، پنځه انجونې پکار دي چې وېره او ډار ورسره نه وي او د دښمن پړاو ته ورشي .

يوې راهبې انجلۍ وپوښتل : مونږ به هلته څه کوو ؟

مشر پادري وويل : د حمله کوونکو سپه سالار طارق بن زياد وژل ، د هغه سره چې درې څلور نور جنرالان دي هغه وژل او ختمول .

ددې خبرې سره په انجونو باندې بې خودي خپره شوه داسې لکه چې په هال کې هېڅ ژوندي هم نه وي .

پادري وويل : دا کار ګران ندي ، هغوی خپله راځي او ښار نيسي ، هغوې به تاسې ټولې د ځان سره ساتي ، داسې به نه وي چې هر يو به ستاسې څخه يوه يوه وساتي .

بلکې هغه پوځ او لښکر دي او ټول به تاسې په ګډه ساتي او د ښکار په شان به مو يوې او بلې خواته کشکوي ، مخکې لدې چې تاسې پداسې بد حالت کې راګېر شې ، هغوي په لاره کې ختم کړئ ، تاسې پدې ښه پوهېږئ چې په تاسې کې يوه هم پېغله نده پاتې شوې او ټولې په پټه د يو او بل سره جنسي اړيکې لرئ .

هغه انجونې چې دې قربانۍ ته چمتو وې ، هغوې به د مسلمانانو د تم کېدو ځاې ته ورسول شې ، هغوې به د مسلمانانو مرکز ته ورشې او دا به ووایې چې مونږ د طارق بن زیاد سره ګورو ، د هغوې مخه به هېڅوک نه نېسي ، هره انجلۍ باید په خپلو جامو کې یو ، یو خنجر پټ وساتې ، طارق بن زیاد به د ځان لپاره یوه خوښه کړې او پاتې نورې به خپلو جنرالانو ته وسپارې او هره یوه به د هغوې سره خیمې ته ولاړه شې ، بیا تاسې خپله پدې پوهېږې چې خپل خنجر به په څه ډول استعمالوې ، په تاسې کې څوک تیارې دی ؟

انجونو پخپلو کې یوې او بلې ته وکتل ، بیا وروسته یوه انجلۍ راپورته شوه ، ورپسې بله راپورته شوه ، دواړو دې خطرناک کار ته ځانونه چمتو کړل ، ددې دواړو په خبره یوه بله انجلۍ هم راپورته شوه .

مشر پادرې وویل : بس همدا درې هم بس دي ، زما سره تاسې درې واړه راځی .

مشر پادرې هغوې درې واړه د کلا چاروا کې ته بوتللې چې تجربه لرونکې جنرال وه .

جنرال انجونو ته ددې خطرناک کار ټول شیان په ګوته کړل او هر ډول چلونه یې ورته وښودل .

د قرمونی څخه طارق بن زیاد د خپل پوځ سره د اېسیجا په لورې حرکت وکړ ، غازیانو په یوه ورځ کې پنځه وېشت ، دیرش میله فاصله ووهله ، په هغه مهال کې د مسلمانانو تېز پرمختګ ډېر نوم درلوده ، د نړۍ په هر ګوټ کې چې غازیانو جګړې کړې هلته یې خلک د خپل تېز پرمختګ په سبب حېران کړې وه ، د سلطان صلاح الدین او سلطان محمود غزنوې تېز پرمختګ تاریخونو د زړه له اخلاصه ستایلې دي خو طارق بن زیاد د خپل لښکر په وسیله د ورځې دیرش میله فاصله ووهله خو هغه د قرمونې او اېسیجا ترمنځ تم شو ترڅو په راتلوونکې ورځ کې هغې ښار ته ځان ورسوې او هغه محاصره کړې ، غازیانو ته یوه ورځ دمه او آرام ورکول اړین وه .

غازیان ټول تم شول او د ماښام تیاره خپره شوه ، طارق بن زیاد پخپله خیمه کې وو ، هغه ته خبر ورکړل شو چې یو بوډا اندلسي د هغه سره لېدل

غوارې خو د هغه سره درې څوانې انجونې هم دی ، طارق بن زياد هغوی ټول راوغوښتل او پيره کوونکې ته يې وويل چې ژبارونکې هم راولې . د پيره کوونکې له تللو څخه وروسته د طارق بن زياد سترګې په يوه انجلی باندې ونښتې ، هغه ددې څخه مخکې داسې حسينې او ښکلې انجونې نه وې ليدلې ، انجونو هم طارق ته په څهر څهر کتل او هرې يوې نرې نرې مسکا کوله .

کله چې ژباروونکې راغې نو طارق ورته وويل چې له دوی څخه د راتللو لامل وپوښته چې د څه لپاره راغلې دي ؟

بوډا په خپله دلايل وويل او بيا هرې انجلی هم خپل دليل وړاندې کړ .

ژبارونکې طارق بن زياد ته په بربرې ژبه وويل : دا بوډا وايي چې دا د اېسيجا څخه قرمونه ته تللو ، يوه انجلی يې د خور لور او دوه نورې يې د ورور لونې دی ، هغوی ته وويل شول چې په قرمونه کې اوس امنيت دې او په اېسيجا باندې حمله کېدونکې ده چې حمله کوونکې انجونې له خان سره تښتوې او بيا سبا مړې پيدا کېږې ، د همدې وېرې په سبب دوی اوس غوارې قرمونه ته ولاړ شي .

طارق بن زياد وپوښتل : دا انجونې يې ماته د څه لپاره راوستې دي ، هغوی دې خپله لاره وهی زما سره يې څه کار دې ؟

ژبارونکې وويل : هغوی د لوږې څخه دې لورې ته راغلل ، هغوی خوراک غوښتلو خو پدې وېرېدل چې سپايان به هغوی وزوروې ، په همدې خاطر هغوی ستاسې په لورې راتلل مناسب وګڼل ، بله دا چې دا انجونې تاسې ته شاباسې او افرين وړاندې کوې ، دا منځنی انجلی وايي چې طارق بن زياد ډېر تکړه او زړور انسان دې چې د رادرک په شان ظالم انسان يې ووژلو .

طارق بن زياد پيره کوونکې راوغوښت ، هغه خيمې ته راغې ، نو ورته وی ويل : دې څلور وارو ته خيمې ولګوه ، بسترې ورته واچاوه او خوراک ورکړه ، دوې درسره هلته بوځه .

طارق بن زياد ژبارونکې ته وويل : دوی ته ووايه چې انجونې به دلته خوندې او محفوظې وې او سهار به وختې قرمونې ته روانې شي .

پيره کوونکي او ژباړونکي انجوني د طارق بن زياد له خيمې څخه بلې خيمې ته بوتللې خو يوه پکې بېرته راوګرځېدله او د طارق په خيمه کې کيناستله ، هغې طارق بن زياد ته په اشارو اشارو کې وويل چې هغه غواړي په همدې خيمه کې شپه تېره کړي ، طارق بن زياد ژباړونکې راوغوښت او هغه ته يې وويل چې دا انجلۍ څه غواړي ؟ ژباړونکي له هغې څخه وپوښتل ، هغې وويل چې زه دلته څه وخت تېرول غواړم

طارق بن زياد ژباړونکي ته وويل : دا پوه کړه چې مونږ د داسې دين منونکي يو چې د پردي ښځې سره يوازې نه کينو ، زه يوازې د پوځ سپه سالار نه بلکې د هغوی امام هم يم ، زه هيڅ داسې کار نشم کولای چې بيا نور هغه پلمه کړي او غلط کارونه پيل کړي .

انجلۍ په حېرانتيا سره طارق بن زياد ته کتل ، هغې ورسره ډېرې خبرې کول غوښتل خو دواړه يو د بل په ژبه نه پوهېدل ، هغه پدې ښه پوهېده چې د ګناهونو کومه ژبه نه وي ، هغه ولې دريم سړی په منځ کې را واچولو چې د يو بل خبرې وژباړي .

ژباړونکي هغه پدې پوه کړه چې سپه سالار د هغې اوسېدل دلته نه خوښوي نو هغه بايد لدې خای څخه ولاړه شي ، خو انجلۍ په ځپل ځای باندې ولاړه وه .

طارق بن زياد په قهرجن اواز سره وويل : هغې ته ووايه چې لدې خای څخه سمدستي ووځي ، که هغه زما خبره ونه منې نو زه به درې واړه انجونې لدې خای څخه پسې واخلم .

ژباړونکي انجلۍ ته وويل چې سپه سالار ډېر په غصه دي که هغه ولاړه نشې نو درې واړه به لدې ځايه پسې واخلي .

ددې څخه وروسته انجلۍ طارق بن زياد ته په ډېره حېرانتيا سره کتل چې دا څه ډول انسان دي ، هغه کراره کراره د طارق بن زياد په لورې روانه وه ، هغې خپله لمن راپورته کړه او په هغې کې يې لاس ننويست ، کله يې چې لاس راوويست نو خنجر يې په لاس کې نيولې وو ، انجلۍ طارق بن زياد ته ور ورانديې شوه او په ګونډو شوه بيا يې خنجر د هغه په پښو کې کېښود ،

. طارق ژباړونکې ته وکتل هغه له انجلۍ څخه وپوښتل چې دا کار دي ولې وکړ ؟

انجلۍ وويل : ما چې څه اورېدلي وه هغه غلط وختل ! دا لومړي انسان دي چې زما په شان حسينه او ښکلې انجلۍ يې قبوله نکړه ، زه ددي جنرال د وژلو لپاره راغلې وم ، هغه دوه نورې انجونې هم د همدي کار لپاره راغلي دي ، دا بوډا چې زمونږ سره راغلي زمونږ هېڅ نه کېږي ، هغه زمونږ سره د اېسيجا مشر پادرې او د کلا چارواکي رالېږلي دي ، هغوي مونږ ته دا طريقه ښودلې چې پدي توګه تاسي د مسلمانانو جنرالانو ته ځانونه ورسوي نو هغوي به تاسې پخپلو خيمو کې له ځان سره وساتي او بيا به تاسي په مناسب وخت کې د هغوي په زړه باندي ګذار وکړی او شا رګ به يې هم ورغوڅ کړې ، د خپل کار څخه وروسته به له خيمې څخه غلي راووځې ، دوه نورو انجونو ستاسې نور دوه جنرالان په نښه کړي وه چې هغوي هم پخپل جال کې راګېر کړي او بيا يې ووژني ، خپل سپه سالار ته ووايه چې ماته هر ډول سزا راکوي زه هغې ته چمتو يم .

طارق بن زياد وويل : زه هغې ته هېڅ ډول جزا نه ورکوم ، دا خپله نه ده راغلي بلکې رالېږلې شوه ده خو هغه سړي چې دوي يې راوستي هغه بايد د سهار تر لمانځه وروسته ووژل شي .

انجلۍ چې کله د طارق بن زياد خبري واورېدي نو وې ويل : زه نورې خبرې هم رسوا کول غواړم ، سپه سالار شايد فکر وکړي چې دا څومره زړوره ده چې د يو فاتح پوځ سپه سالار يې وژلو .

زه دومره زړوره نه يم بلکې زه د خپل ژوند څخه په تنګه شوې يم ، عام ولسي خلک مونږ پاکې او مقدسې بولي ځکه چې مونږ په کليساګانو او عبادت ځايونو کې شپې او ورځې تېروو ، هغوي مونږ پېغلې او پاکې ګڼې او فکر کوي چې راهبان او راهبې ټولې عمر پاکې او پېغلې وی .

پداسې حال کې چې هېڅ راهب او راهبه پاک نه وي بلکې ټول پخپلو کې سره جنسي اړيکې لري ، د کليسا په خوا کې چې زمونږ کوم د اوسېدلو ځايونه دي په هغې کې شپه او ورځ بد کاری کېږی .

هلته د پوخ لوړ پوړي چارواکي راځي ، په شرابو مست زمونږ سره شپې تېروي ، د ورځې همدا راهبان بیا خلکو ته په کلیسا کې وعظونه کوي او له الله جل جلاله څخه یې وېروي ، هغوې ولسي خلکو ته داسې ښکاروي چې راهبان ، راهبې او پادریان له اسمان څخه راښکته شویدي او هغوې پرښتې دي ، دي پادریانو په طلیطه کې بادشاهي مانۍ هم تر خپل اثر لاندې راوستې ، د راډرک په شان ظالم بادشاه هم د کلیسا څخه وېرېدلو .

طارق بن زیاد وویل : هغه وېرېدلو نه بلکې ددې لپاره یې د هغوې په وړاندې سر ښکته کولو چې پادریانو ورته ستاسې غوندې ښاپېریانې هر وخت وړاندې کولې .

طارق بن زیاد ژباړوونکي ته وویل : دې انجلۍ ته ووایه چې مونږ ته د راز خبرې هم وکړي .

انجلۍ وویل : اېسیجا د عیسایانو مقدس ښار دي خو په عبادت ځایونو کې چې کومې راهبې او انجونې دي هغه زیاتې یهودنې دي ، زه هم یهودنه یم زما پلار سوداګر دي ، زه د څوارلس کالو ووم چې یوې کلیسا ته په زور سره بوتلل شوم او هلته راځخه راهبه جوړه شوه ، زه یې د مور ، پلار، خوندی او وروڼو څخه جلا کړم خو زما څخه یې خپل قیمتي او ارزښناک شي هم واخیست چې هغه زما پېغلتوب او عزت وو ، د خلکو په زړونو کې اوس هم زمونږ لپاره درناوې شته چې دا پاکې او معصومې دي ، ما چې تاسې ته څه وویل دا د ټولو ننو او راهبانو کیسه او داستان دي ، زه د غازیانو سپه سالار ته وړاندیز کوم چې هغوې دا په ګناهونو کې ډوب ښار د خاورو سره برابر کړي او د هغې نوم او نښان له نقشې څخه ورک کړي .

زه د مسلمانانو سپه سالار ته د خپل بدن څخه بله ډالۍ نشم ورکولای او هغه پدې توګه چې زه اسلام قبول کړم او بیا هغه زما سره واده وکړي خو زه دا کار هم نشم کولای ځکه چې زه ناپاکه یم او سپه سالار د الله تعالی ولي او دوست انسان دي ، زه اوس په یقین سره وایم چې فتح او بري به ستاسې په نصیب وي ، ماتې او ختمېدل د هغو بد کارو خلکو په نصیب کېږي چې د دین او مذهب په جامه کې په ګناهونو کې غرق او ډوب دي .

طارق بن زياد ژباړوونکي ته وويل : دا انجلۍ هم هغې خيمې ته بوځه او هلته يې د نورو سره ملګري کړه ، د هغوی سره چې کوم سړي راغلي هغه ماته راوله .

انجلۍ ولاړه او بوډا د طارق بن زياد خيمې ته راغې ، د طارق په لاس کې هغه خنجر وو چې انجلۍ د هغه په پښو کې اېښې وو .

طارق بن زياد خنجر بوډا ته وښودلو او وې ويل : ايا تا زه پدي خنجر باندي وژلم ؟

د بوډا ځان او لاسونه د باد وهلې بوټې پشان ولړځېدل او سترګې يې دباندي راووتې چې کله يې خنجر د طارق بن زياد په لاس کې ولېدلو .

طارق ورته وويل : کوم نارينه چې خپلې مېرمنې او لوڼې مېدان ته نېباسي د هغوی همداسې حال وي لکه ستا چې دي ، مونږ د بدۍ او باطل د ختمولو پسې راوتلي يو ، مونږ د الله جل جلاله څمکه د بديو څخه پاکوو ، ستاسې پادريان او پوځې افسران اوس هم د بدۍ په لاره او طريقه باندي د حق لاره ډپ کوي ، زه د جګړې په مېدان کې په توره او غشي باندي مړه کېدل غواړم .

زه د خپل الله تعالی جل جلاله په لاره کې راوتلي يم هغه به ما د بدۍ او ګناه په طريقه او چل سره نه وژني ، ماته ووايه چې په اسپيجا کې څومره پوځ دي ، او کلا څه ډول ده ؟ ايا کومه لاره شته چې هغې ته ځان ورسوم .

بوډا وويل : کلا ډېره کلکه او قوي ده ! د کلا ديوال دومره قوي او کلک دي چې په هېڅ ځاي کې هغه نشي ماتېداي ، تاسې په هېڅ صورت ديوال ته نشۍ نژدي کېداي ځکه چې د ښار بچې بچې د غشو ، برچو او لېندو سره سمبال ولاړ دي ، ددي سره سره په اور بل شوي لرګې هم د ځان سره ساتې ، ددي کلا لپاره ښځې هم جګړې کوي ، مشر پادرې د ښار ولسي خلک او پوځيان ټول راپارولي دي ، کوم پوځيان چې د نورو جګړو څخه راتښتېدلې دي هغوی هم د انتقام اخيستلو لپاره ځانونه چمتو کړي .

طارق بن زياد د بوډا څخه وپوښتل : ته خپله څوک يې او څه وظيفه لرې ؟

بوډا ځواب ورکړ : زه راهب يم .

طارق ورځخه وپوښتل : ایا تا ددي درې انجونو په لاس زه او زما دوه جنرالان وژل غوښتل ؟

بوډا په عذر سره ووېل : هو سپه سالاره ! زه د همدي کار لپاره راغلې ووم ، خو اوس مې د زړه څخه دا خبره وېستلې ده ، ماته اوس ښښنه وکړه .

د طارق په لاس کې د هماغې انجلی خنجر و ، هغه په کراره کراره راهب ته ورنژدي کېده ، بیا یې په پوره زور او ځواک سره خنجر د هغه په سینه کې ور ومنډلو په کوم ځای کې چې زړه پروت وو .

طارق بن زیاد ووېل : د مار د زړه څخه د چېچلو اراده هېڅکله نه وځي !

د بوډا دواړه لاسونه سینې ته ولاړل او بیا پړ مخ راپرېوت ، طارق بن زیاد پېره کوونکې راوغوښت او ورته وې وېل چې دا مړې د د خیمو څخه لرې وغورزوی .

طارق بن زیاد د درې واړه انجونو په هکله حکم وکړ چې هره یوه جلا جلا وساتل شي ، بیا یې خپل سالاران ، جولین او اوپاس راوغوښتل او ټوله کېسه یې ورته وکړه .

د سهار تر لمانځه وروسته د اېسیجا په لورې لښکر حرکت پیل کړ ، د سهار د لمانځه امامت خپله طارق بن زیاد وکړلو ، هغه وخت همدا اصول وه چې سپه سالار به امامت هم کولو ، د لمانځه څخه وروسته غازیانو ته ووېل شول چې راتلووکې ښار او کلا په اسانتیا سره نه نیول کېږي .

راتلوونکې جګړه او مقابله به سخته او خونړۍ وي .

د اېسیجا چارواکې او مشر راهب پدي تمه وه چې اوس به د مسلمانانو د سپه سالار او دوه جنرالانو د مړینې خبر راورسېږي نو هغوې لا سهار وختي د کلا په دیوال باندي ودرېدل او د قرمونه په لورې لارې یې څارله ، هغوې تمه لرله چې راهب او ددي انجونې به په کومه ګاډۍ کې را روان وي خو هېڅ ورته نه ښکارېدل ، لمر کراره کراره راپورته کېده .

لرې ورته ګرد ښکاره شوه چې پورته کېدلو ، دا د یو لښکر نښه او علامه وه چې دي لورې ته را روان وو ، دا ګرد د کاروان نه وو ، هغوې همداسې ګرد او دوړو ته کتل ، بیا وروسته هغوې د آسونو سیورې هم ولېدل .

د کلا چاړواکي په لوړ اواز سره اعلان وکړ : هغه دي د دښمن لښکر راغی .
د کلا پوځ تیار او چمتو وو ، مخکې شپه د کلا د پوځ افسرانو پرېکړه کړې وه چې د کلا دننه نه بلکې دباندې په مېدان کې به د دښمن سره لاس په لاس جګړه کوي ، هغوی دا تمه لرله چې د مسلمانانو سپه سالار اودوه نور سالاران به وژل شوي او لښکر به ځنډ شوي وي خو سره ددې يې هم خپل پوځ تیار کړی وو، هغوی پدې هیله وه که مسلمانانو د خپلو وژل شویو سالارانو څخه پرته برید وکړ نو ډېر زر به ولاړ شي او ماتې به وخوري .
د هغوی دماغ او ذهن دا خبره هېڅ نه منله چې هغوی به دا ډول حسینې او ښکلې انجونې قبولې نه کړي او د هغوی له لاسه به ونه وژل شي .
د چاړواکي د اعلان سره جوخت د کلا دروازې پرانستل شوې او ټول پوځ د سیلاب په شان د کلا څخه دباندې راووت ، په لښکر کې ولسي خلک هم وه چې څه نا څه د جګړې تجربه يې لرله ، جنګي ډولونه وغږمبېدل ، په ولسي خلکو او پوځ کې یو ډول جوش او جذبه موجوده وه .
د طارق بن زياد لښکر مخ په وړاندې روان او لومړنې ګروپ تر ټولو مخکې وو ، د لومړنې ګروپ قوماندان د کلا څخه پوځ د راوتلو په وخت کې ولېدلو ، چې وروسته بيا همدا پوځ په یو مېدان کې په جنګي ترتیب سره ودرېده ، قوماندان خپل لومړنې پوځ هلته ځای پر ځای تم کړ او خپله د طارق بن زياد په لورې په منډه شو ، هغه ته يې احوال ورکړ چې د کلا پوځ دباندې مېدان ته راوتلې دي او په جنګي ترتیب سره ولاړ دي .
طارق بن زياد سمدستي خپل پوځ په درې برخو ووېشلو ، يوه برخه يې مغيث الرومي ، بله برخه يې زيد بن کساده او دريمه برخه يې پخپل لاس کې پرېښوده ، هغه ډېر زر زر خپلو سالارانو ته لار ښوونې وکړې ، طارق بن زياد مغيث الرومي د ښار بل لورې ته واستولو ، دا ګروپ هغه د ښار په بله برخه کې پټولو ترڅو د اړتيا په وخت کې ورڅخه کار واخلي .
طارق بن زياد خپل بل سالار زيد بن کساده ته وویل چې د دښمن د سترګو څخه پټ ښي لورې ته لرې ولاړ شي او هلته د دښمن سره نژدې ځان

پټ کړي ، ترڅو چې حکم نه وي شوې هلته پټ اوسېږي ، طارق بن زياد نيغ هغه لورې او مېدان ته روان شو چېرې چې د دښمن پوځ ولاړ وه .

کله چې هغوي دښمن ته نژدې شول نو د لښکر منځنۍ برخې پرې برید وکړ .

نامتو تاريخ ليکوونکې لين پول ليکلې دي چې د اندلسې پوځ حمله ډېره تېزه او سخته وه ، د هغوې د بريد څخه دا څرګنديدله چې هغوي د جګړې هوډ کړې او خپل ځانونه ددې ښار په ساتنه کې قربانوي .

تاريخ ليکوونکی پروفېسر ډوزي په ځانګړيتوګه ليکلې دي چې دا لومړې ځل وو چې د اندلس پوځ دومره په شوق او جذبه سره وجنګېدلو ، طارق بن زياد ته د داسې سختې حملې تم کول ګران وه خو د هغه قسمت پدې ښه وه چې زيات بربريان ورسره ملګري شوې او د پوځ شمېر يې تر پخوا زيات شوې وو ، که داسې نه واې نو اندلسې پوځ هغوې پسې اخيستل ، بربريان په طبعې توګه ډېر جګړه مار او خونړې خلک وه ، جګړې او مېدان ګرمول د هغوي فطري لوبه وه ، هغوې دومره زر ماتې قبلوونکې نه وه ، هغوې ښه په نره مقابله پيل کړه خو ځانې زيان يې زياتيده .

د اېسيجا د پوځ جنرال د خپل لښکر چپ پوځ پدې توګه استعمال غوښتل چې هغوې ښه لرې ولاړ شې او بيا د شا له لورې په غازيانو باندې بريد وکړې ، خو هغوې ته دا څرګنده نه وه چې هلته لاد مخکې څخه د زيد بن کساده غازيان ځاې پر ځاې شوې او د حملې حکم ته سترګې په لار دي ، زيد بن کساده د دښمن څخه د پټېدو په خاطر نور هم شاته ولاړ او هلته تم شو ، کله چې د دښمن چپ پوځ هلته ورسېده او بيا راتاو شو ترڅو د شا له لورې په طارق بن زياد باندې بريد وکړې چې د شا له لورې پرې د الله اکبر اسمان لړځوونکې نارې پيل شوې ، زيد بن کساده په پوره څواک سره پرې د شا له لورې حمله وکړه ، دښمن دې حملې ته تيار او چمتو نه وو نو ډېر زر له پښو وغورځېدلو ، پدې توګه طارق بن زياد د شا او ښې لورې څخه بالکل خوندي او محفوظ شو ، د جګړې مېدان ډېر پراخه او خپور شو ، د ښار له ديوال څخه ولسې خلکو دا خونړې جنګ لېدلو ، هغوي ولېدل چې د مغيث الرومې لښکر د ښار بل لورې ته په ترتيب سره ولاړ او حکم ته

سترګې په لاره دي ، ولسي خلکو خپل جنرال ته خبر ورکړ چې بل لوري ته هم پوځ ولاړ دي ، هغه سمدستي خپل ښې لښکر د مغيث الرومي مقابلې ته واستولو ، مغيث الرومي پوره تيار او څک ولاړ وو ، هغه درې ، څلور غازيان يوې او بلې خواته استولې وه چې معلومات وکړي ، په هغې غازيانو کې يو په منډه راغې او هغه ته يې وويل چې د دښمن څه ګروپونه دې لورې ته را روان دي ، مغيث الرومي د طارق حکم ته ځنډ ونکړ او خپل څه ګروپونه يې د دښمن مخې ته روان کړل ، اندلسي ګروپونه لا هغې لورې ته اوښتې نه وه ، د مغيث سره سپاره زيات وه ځکه چې هغوې د ګادليت په جګړه کې ښه پريمانه آسونه ترلاسه کړې وه ، مغيث د دښمن سره مخامخ جګړه کول نه غوښتل نو خپل سپاره يې نور هم مخکې کړل او د اړخ له لورې يې پرې حمله وکړه ، د مغيث حمله او بريد دومره تېز او سخت وو چې دښمن په شا ولاړ ، ددې ګروپونو تر شا د کلا ديوال وو ، هغوې ښه په مېړانه جنګېدل خو ديوال راتم کړل ، هغوې د مخکې راتللو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې خو مسلمانو غازيانو هماغسې بند وساتل ، پدې ځاې کې بربريانو د خپلې باتورۍ او زړورتيا څرګندونه وکړه خو اندلسي پوځ هم ښه په مېړانه جنګېده .

دا مهال جګړه په درې جلا جلا برخو کې روانه وه ، طارق بن زياد په زياته ستونزه کې راګېر وو ځکه چې هلته د دښمن زيات لښکر جنګېده ، بلکه دا چې د هغه ښې او چپ پوځ په جلا جلا برخو کې د دښمن سره په جګړه بوخت وو او ده ته يې لاس نشو ورکولاې ، طارق بن زياد خپل هېڅ جنګې چل نشو عملي کولې ځکه د هغه هر غازې په جګړه کې اخته وو ، هغه احتياطې او محفوظ پوځ هم نه وو ساتلې ، د سپايانو په شان جنګېده ، د هغه غازيانو زيات زيان او تاوان لېدلو .

څرنګه چې زيد بن کساده د شا له لورې بريد کړې وو نو ځکه د دښمن زيان او تاوان زيات وو ، زيد بن کساده ډېر ذهين او هوښيار سالار وو ، هغه لېدل چې طارق بن زياد په ستونزه کې راګېر دي نو د خپل لښکر څلورمه برخه يې هلته واستوله ، چې پدې توګه د طارق بن زياد ستونزه

کمه شوه ، پروفېسر ډوزي او لين پول وايي چې اندلسي جګړه مارو مسلمانان په حېرانتيا کې اچولي وه .

هغوی د خپل مقدس ښار د ساتنې لپاره لېونيان شوي وه ، د نورو کلا ګانو څخه راتښتېدلي پوځيان هم د زخمي زمريانو په شان جنګېدل .

مغيث الرومي چې اندلسي پوځ راګېر کړې وو په هغوی يې ساحه تنګه کړه ډېر زيات زيان يې ورته رسولو او د اسونو تر پښو لاندې دل کړل .

په ځينو برخو کې خو اندلسي پوځ يې دومره تنګ کړ چې هغوی غشي ، تورې او برچې نشوې چلولې نو هغوی خپلې وسلې په خپلو کې جنګولې چې پدې سره يې زيان نور هم زيات شو .

طارق بن زياد مخکې حکم کړې وو چې آسونه زخمي نکړې ځکه چې په راتلوونکې کې پکارېږي خو مغيث الرومي دا خبره ونه منله او حکم يې وکړ چې آسونه زخمي کړې او هغه راوغورځوئ ، ددې حکم سره سم غازيانو آسونه او سپاره دواړه په نښه کړل ، پدې سره آسونه د خپلو سپرو څخه بې قابو شول ، او خپل سپاره يې تر پښو لاندې کړل ، ددې څخه وروسته اندلسي پوځيانو په تېښته پيل وکړ خو ډېر لږ ژوندي خلاص شول ، وروسته مغيث د خپل لښکر يوه برخه د طارق بن زياد مرستې او کومک ته واستوله ، پدې سره هلته نوره اسانتيا غازيانو ته پيدا شوه ، د جګړې پله د عېسايانو پر ځاې د مسلمانانو په ګټه واوښتله .

د اېسيجا پوځيان او خلک په پوره مېړانه او باتورۍ سره وجنګېدل ، او مسلمانان ته يې بې دريغه تاوان ورسولو چې دومره زيان او تاوان ته تيار او چمتو نه وه ، هغوی د پخوانيو فتوحاتو په سبب زړور او قوي وه .

تر ماښام پورې اندلسي پوځ ماتې وخوړه خو ډېر زيات زيان ورساوه او دا يې ورته وښودله چې راتلوونکې ښارونه په اسانتيا سره نشي نيولی .

له يو لورې لمر په پرېوتو او د بل لورې د عېسايانو د زړورتيا لمر هم ډوبېدلو ، د هغوی مشر چارواکې او قوماندانان هم يو په بل پسې ووژل شول .

په سپایانو کې د بېر لږ ژوندي پاتې شول ، طارق بن زیاد ته چې کله د هغه د خپل لښکر زیان څرګند شو نو چوپتیا پرې راغله ، هغه ټوله ورځ د عامو غازیانو په شان جنګېدلې وو نو ټول هډوکي او بدن یې د ستړتیا له امله خوږېده.

پاتې عېسایان د ستړتیا او ستومانۍ څخه بې حسه او بې حرکته شوي وه او هر یو پخپل ځای ناست وه هغوی اوس جنګې بندیان وه ، کومو چې د تېښتې کوښښ کاوه هغوی نیول کېدل او یو ځای ته راټولول کېدل ، په ټول ښار کې اعلان وشو چې چا کوم پوځي ته ځای او پناه ورکړه هغه به وژل کېږي .

طارق بن زیاد حکم وکړ چې مسلمانان دي زخمیان راپورته کړي او ښار خلک دي ورسره پدې کار کې کومک وکړي ، هر زخمي که مسلمان وي که کافر باید یو شان سلوک ورسره وشي ، که چا ددي حکم مخالفت وکړ هغه ته به د مرګ سزا ورکول کېږي .

طارق وروسته هغه درې انجونې راوغوښتې چې دوې د وژلو لپاره ګمارل شوې وې ، بیا یې مشر پادري راوغوښت چا چې دا انجونې رالېږلې وې ، طارق بن زیاد بیا د انجونو څخه وپوښتل چې ایا تاسې همدي پادري را استولې یاستی ؟

یوې انجلۍ ځواب ورکړ : هو سپه سالاره ! همده مونږ رالېږلې وو او همده مونږ ته د وژلو طریقه او چل هم ښودلې وو .

طارق بن زیاد مشر پادري ته وویل : زمونږ هېڅ یو به ستاسې د عبادت ځای په دروازه کې هم ګام کېښږدي ، عبادت ځای چې د هر مذهب او دین وي د هغې احترام او درناوې پر مونږ فرض وي ، مونږ د هېچا په مذهب کې لاس وهنه نه کوو ، د هر دین خلک د خپل دین په هکله ازاد دي ، خو تاسې چې د خپل دین اصول پایمالوی زه د هغې اجازه نشم درکولای ، ایا د حضرت عېسې علیه السلام په ښوونو کې دا شته چې پردی انجونۍ د خپل خواهش لپاره د راهبو په نامه سره استعمال کړی ؟ تاسې پردی لورګانی د رهبانیت په نامه کلېسا ته راوړی او بیا ورسره بد کاری کوې ، زه دا نشم زغملې ، تاسې د مرګ او اعدام وړ یاستی !

مشر پادري ډېر وترپېده او ډېر څه يې وويل او پلمې يې جوړې کړې خو طارق بن زياد يې يوه خبره هم ونه منله او سبا سهار ته يې د هغه د وژلو حکم ورکړ.

نور مذهبي مشران او راهبان يې راوغوښتل او هغوې ته يې حکم وکړ چې ټولې راهبانې بايد ازادې کړی او هره يوه خپل خپل پلار او کورنی ته وسپارې کنه ستاسې سره به هم د خپل مشر پادري په شان معامله کيږي.

د ښار په خلکو جنګې تاوان او جزيه ولګول شوه ځکه چې د غازيانو زيات زيان او تاوان شوې وو ، ښاري خلک د خپل پوځ سره اوږه په اوږه ولاړ وه.

عېسايي تاريخ ليکوونکې اپس پې سکاټ ليکلي دي چې کله طارق بن زياد اېسيجا ونيوله نو پادريانو راهبو ته وويل چې مسلمانان وحشيان او ځنګليان دي چې ستاسې سره به ډېر بد سلوک وکړې ، نو راهبو انجونو خپل مخونه او څېرې زخمي کړې ، او ځانونه يې بدرنګه کړل خو سره لدي هم مسلمانانو ورسره بد سلوک وکړ.

دا د يو معتصب عيسايي ليکنه ده چې نورو عېسايي تاريخونو د هغې ترديد کړېدي ، تاريخ ليکوونکې ګيانګورې دا پېښې په پوره تفصيل سره ليکلې دي ، هغه ليکي چې راهبې انجونی د مسلمانانو د کړو وړو څخه دومره اغېزمنې شوې چې ځينو پکې اسلام ومنلو او د مسلمانانو غازيانو سره يې وادونه وکړل.

نورو عېسايي تاريخونو هم دا خبره ليکلې ده چې د عېسايې او يهودي عبادت خايونه بې احترامې او درناوې نکول د مسلمانانو عادت او خوې نه وه . طارق بن زياد د ښار چارې ټولې عېسايي چارواکو ته سپارلې خو مشر واک من به يې پرې يو مسلمان ټاکلو.

سبا سهار وختي چې کله د شهيدانو جنازې په پنځه ليکو او قطارونو کې کېښودل شوې نو دا مهال ډېر دردونکي او ژړونکې وو ، طارق بن زياد د جنازې د لمانځه امامت وکړو ، د شهيدانو لپاره په يو ځل باندي په سل ګونو قبرونه جوړل شول ، چې پراخه او لويه هديره ورڅخه جوړه شوه ، دا د

هغه شهيدانو قبرونه وه چې د الله جل جلاله د دين د سر لوړي لپاره اروپا ته تللي وه ، همدوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغام خلکو ته رسولو چې د رحمت ، ورورۍ او سولې پیغام وو .

د طارق بن زياد له سترګو اوښکې روانی او غازيانو د ولولو څخه په ډکو چيغو د الله اکبر و لله الحمد نارې وهلې .

کله چې شهيدان خاورو ته وسپارل شول طارق بن زياد له هديرې څخه روان شو ، پدې وخت کې هغه ته احوال راورسيده چې د قېروان څخه د موسی بن نصير استازې او پيغام راغلې دي ، طارق بن زياد د استازي څخه پيغام واخيستلو او په لوستلو يې پيل وکړ ، د هغه د څېرې رنګ او خطونه بدل شول ، د هغه سره خپل سالاران او جولين ولاړ وه .

طارق بن زياد خپلو سالارانو ته مخ واړولو او په بدله شوې څېره يې وويل :

موسې بن نصير طارق بن زياد ما ته حکم کړې دی چې نور ځاې پر ځاې ودرېږې او مخکې ولاړ نشې ، داسې نه چې په کوم مشکل او ستونزه کې ونښلې ، يا دا چې د فتوحاتو په نشه کې ماتې وخورې او ګټلې ځمکې له لاسه ورکړې ، نور وړاندې نشې کېدای شې د مرستې او کومک سره يو ځاې درشم .

عيسايې تاريخونو پدې هکله د خپل تعصب سره سم ډېر اټکلونه کړيدي او دواړه سالاران يې په حسد او خپل سرۍ باندې تورن کړي .

غېر متعصب عيسايې او مسلمانو تاريخ ليکونکو ليکلې چې موسی بن نصير يو تجربه لرونکې او هوښيار انسان وه ، هغه فکر کاوه چې طارق بن زياد ځوان سپه سالار دي او د خپلې ځوانۍ په جوش او جذبه کې به هغه پداسې جال کې راګېر شې چې په لاس ورغلې فتوحات به هم ورڅخه له لاسه ووځې .

ددې پيغام د اورېدو څخه وروسته طارق بن زياد په هماغه ځاې کې خپل سالاران ، جولين او اوپاس کېنول او سلا مشوره يې سره پيل کړه .

طارق بن زياد وويل : ملګرو ماته پدې هکله سلا او مشوره راکړی ، زه نه پوهېږم چې پدې پيغام کې څه ښوالې شته کنه ؟ يو لوري ته د اسلام حکم

دي چې د خپل امیر اطاعت وشي او د هغه څخه سرغړونه ونشي ، خو که مونږ پدي ښار کې همداسې کرار او آرام کینو نو اندلسي واکمنانان به وایې چې دوې دومره زیان او تاوان ورخطا کړې او ویرې اخیستې دي ، بیا به هغوې خپل لښکرې زمونږ په لورې راوخوزوی او مات به مو کړی .

مغیث الرومي وویل : ابن زیاد ! اندلسیان چې هرڅه فکر کوې هغه دي کوې خو زمونږ خبره دا ده چې د هغوې په سر باندي باید هر وخت سپاره وو کنه هغوې به خپل خواره واره پوځیان راټول کړې او زمونږ لپاره به ستونزې راپیدا کړې ، مونږ اوس د هغوې لپاره یو هیبت او وحشت ګرځیدلي یو او همدا زمونږ بري او فتح ده ، زه پدي وخت کې تم کېدل او جنګ نه کول ښه نه ګڼم .

جولین وویل : ابن زیاد ! پدي خبره غوره وکړه ، ستاسې په دین کې چې د امیر حکم څه درجه لرې زه په هغې کې کار نه لرم ، زمونږ د دین احکام هم همداسې دي خو که چېرې د امیر حکم داسې وې چې نورو ته د هغې تاوان او زیان رسېږې زما په نظر د داسې حکم نه منل ګناه نده .

ګوره ابن زیاد ! اوس تاسې د راډرک او نورو لوړو پوړو پوځې چارواکو په وژلو سره په اندلسي پوځ او ولس باندي خپله ویره او رعب اچولې او هغوې په هېڅ میدان کې نشې تم کېدای که اوس تاسې هغوې ته وخت ورکړې چې سره یو ځای شې ، نو بیا به څه کېږې ، تاسې باید تر هغې پورې دوې دمې او یو ځای کېدو ته پرېنږدي ترڅو چې ټول تسلیم شوې نه وې .

طارق بن زیاد د عزم او همت څخه په ډکه ژبه وویل : زه هغوې ته هېڅ وخت د یو ځای کېدو او مقابلې لپاره نه ورکوم !

زید بن کساده وویل : اصلا امیر موسی بن نصیر ددي ځای څخه ډېر لرې دي او ددې ځای د اوسنې حالاتو او شرایطو څخه ندي خبر چې څه ډول دي ، هغه پدي خبر ندي چې اندلس په څه حال کې دي ؟

جولین وویل : د اسپیجا ښار ته وګورۍ ، دا د اندلس څلور لارې او چوک دي ، یوه لاره قرطبې ته ، دویمه غرناطې ته ، دریمه ملاغې او څلورمه د اندلس مرکز طلیطې ته ځې .

که تاسې دا څلور یاد شوي ښارونه ونیول نو ټول اندلس مو لاندې کړ ، تاسې ټول پرمختګ پیل کړی، که چېرې امیر موسی خفه شو زه به د هغه سره خبرې وکړم او هغه به قانع کړم .

طارق بن زیاد ووېل : زه خپله هم د هغه سره خبره کوم خو اوس د خبرو پر ځای عمل پکار دي مونږ باید مخکې ولاړ شو او د دښمن څواک مات او ختم کړو او بیا به سره ګورو .

طارق بن زیاد د خپلو سالارانو سره تر سلا مشورې وروسته د نورو ښارونو په لورې پرمختګ پیل کړ ، هغه پوځ په دوه برخو ووېشلو ، یوه برخه یې خپل نامتو سالار زید بن کساده ته وسپارله چې ځینو تاریخونو د هغه نوم زید بن قبصر هم لیکلې دي ، زید بن کساده یې د خپل پوځ سره د ملاغی په لورې واستولو او پاتې پوځ یې د خپل خان سره وساتلو .

هېڅ تاریخ دا ندي لیکلی چې په اېسیجا کې څومره غازیان شهیدان شول خو دومره خبره څرګنده وه چې په زرګونو کسان شهیدان شوي وه ، د نوې فتوحاتو په خبر اورېدلو سره په زرګونو نوې بربری غازیان اندلس ته راورسېدل او د خپل پخوانې لښکر سره یو ځای شول .

طارق بن زیاد تر ټولو لومړې قرطبه محاصره کړه خو دا ورته څرګنده شوه چې ددې ښار نیول اسانه کار ندي ځکه د ننوتلو هېڅ لاره یې نلرله ، دروازو او دیوال ته رسېدل ځان وژنه وه .

تر ټولو لوې ستونزه دا وه چې د دیوال شا او خواته لوې خندق او نهر کېندل شوي او هغه به د اوبو ډکه ډک وو ، طارق بن زیاد ټولې طریقې او لارې چارې په کارو اچولې خو یوازې دا لاره ورته پاتې شوه چې محاصره اوږده کړې ، پدې توګه شپې او ورځې تېرېدلې .

یوه ورځ طارق بن زیاد خپل سالار ته ووېل : مغیث ! ته همدلته پاتې شه ، زه درځخه ځم ، مونږ خو د خپل امیر حکم پدې خاطر ځنډولو چې اندلسی پوځ ته وخت په لاس ورنشي ترڅو سره یو ځای شي خو اوس محاصره همدې حالت ته رسېږي چې کېدای شي څو میاشتې پرې تېرې شي او اندلسي پوځ

ته خپله وخت په لاس ورشي ، زه نور دلته نشم کيناستی ، زه به طلېطلې ته ولاړ شم ، دا لښکر به بيا په دوه برخو ووېشو .

مغيث الرومي ورته وويل : ابن زياد ! ته د لښکر زياته برخه د ځان سره ملګري کړه ، ماته يوازې اووه سوه سپاره دلته پرېږده .

جولين وويل : ايا مغيث به په اوو سوو سپرو باندې قرطبه ونيسي کنه خو زه درته وايم : طلېطله په لږو کسانو باندې نه نيول کېږي ، هغه پايتخت او پلازمينه ده ، د بادشاهانو د کېناستو ځاې دي ، طلېطله د اندلس زړه دي ، د هغې دفاع ډېره قوي ده ، ښه دا ده چې زيات پوځ له ځان سره واخلې او هغې لورې ته حرکت وکړې .

مغيث الرومي وويل : زما لپاره د الله تعالى مرسته بس ده ، زه به دې ښار ته ننوځم .

طارق بن زياد ورته وويل : مغيث ! د خوب او خيال خبرې مه کوه ، الله تعالى د هغه چا سره مرسته کوې چې حقيقت او واقعيت په نظر کې نيسي او بيا عمل او کار کوي .

مغيث الرومي ځواب ورکړ : زه ستاسې څخه يوازې داسې اووه سوه سپاره غواړم که تاسې ته رسول الله ﷺ د فتح او برې زېرې درکړې وې نو مونږ ته به الله تعالى د فتح او برې شرايط خپله برابر کړي ، مونږ خو د خندق دې غاړې ته همداسې بېکاره نه کينو څه به خامخا کوو .

طارق بن زياد ، مغيث الرومي ته د خپلې خوښې سره سم اووه سوه سپاره ورکړل او د نور پوځ سره د طلېطلې په لورې روان شو ، جولين او اوپاس هم د هغه سره ولاړل .

کله چې د طارق بن زياد لښکر حرکت وکړ او د قرطبې له مېدان څخه روان شول نو د ديوال په سر ولاړو انسانانو ځمکه او اسمان په سر واخېست او په چيغو او نارو يې پيل وکړ .

هغوې ولاړل ... هغوې وتښتېدل !

دومره زر ولې ولاړې مسلمانانو !

ودرېږي مسلمانانو ! مونږ درته د ښار دروازې خلاصوو !

د قرطبې اوسېدونکو پښغورونه ورکول ، عيسايانو تورې ، غشې او برچې په لاسونو کې پورته پورته کولې او چيغيناري يې وهلې ، طارق بن زياد د خپل پوځ سره روان وو .

مغيث الرومي خپل اووه سوه سپاره د خندق څخه لرې شاته بوتلل ، د قرطبې اوسېدونکې پدي تمه او هيله وه چې ګوندي مسلمانان د محاصرې څخه نا اميده شول نو ځکه يې محاصره پورته کړه خو مغيث الرومي په نژدې ځنګل کې خپل سپاره پټ کړې وه .

د شپې په ښار کې جشن جوړ شو چې مسلمانان بېرته ولاړل ، راهبانو او راهبو د خپل ډنګ ډول په اساس جشن لمانځلو ، د اېسيجا څخه چې څه پوځيان او ولسې خلک قرطبې ته راغلې وه ، هغوې د جګړې ډېر هيبت ناک خبرونه خلکو ته اورولی ، خلک پدي خوشحاله وه چې دا قيامت د قرطبې څخه لرې ولاړ ، په حقيقې توګه دا د هغوې لپاره د جشن ورځ وه .

د قرطبې سره نژدې په ځنګل کې چې لوړې ژورې غونډۍ وې مغيث الرومي د خپلو سپرو څخه لږ لرې په نفل لمانځه ولاړ وو ، هغه تر لمانځه وروسته لاسونه د دعا لپاره پورته کړل او په عذر او زاريو يې وويل : اې واحد او لا شريک ربه ! ته چې چا ته وغواړې عزت ورکوې او چاته چې وغواړې ذلت په نصيب کوې ، ته په هر څه باندې واک او قدرت لرې ، ما ستا په آسره او نامه باندې د اووه سوه سپرو سره ددې ښار د نيولو دعوه کړيده ، زه دلته ځان بادشاه کول نه غواړم بلکې ستا بادشاهي قايمول غواړم .

اې الله ! ماته همت او صبر راکړې ، چې ستا د خاتم الانبياء محمد صلی الله عليه وسلم دی ښار خلکو ته ورسوم ، د باطل په تيارو کې د توحيد روښنائې وځلوم ، ما او زما غازيان په خپل وړاندې مه شرموې .

د هغه په اواز کې ژړا وه ، خپل لاسونه يې پخپله څېره او مخ باندې راتاو کړل ، بيا يې خپلې اوښکې پاکې کړې ، هغه پورته شو او د خپلو سپرو سره په يو ځاى کې کيناستو ، ټول سپاره د هغه په شا او خوا راټول شول .

مغيث الرومي په لوړ اواز سره وويل : زما عزيزانو ! ما خپل سپه سالار ته وويل چې ماته يوازې اووه سوه سپاره راکړه او زما څخه د قرطبې ښار

واخله ، ما د خپلې دعوې د پوره کولو لپاره تاسې غوره کړې یاستې ، ما دا وعده او ژمنه د سپه سالار سره نه بلکې د خپل الله تعالی جل جلاله سره کړېده ، ما دا ژمنه ستاسې د زړورتیا او مېړانې په بنسټ کړېده ، د خپل الله تعالی جل جلاله سره ټول دا وعده وکړۍ چې مونږ به ددې کلا سینه څېرو او هغې ته به ننوځو .

که داسې نه وې نو بیا مونږ همدلته ځانونه قربانوو .

ټولو سپرو په یو اواز سره وویل : مونږ ستا سره یو ! مونږ ژمنه کوو چې یا به دا ښار نېسو یا به ځانونه قربانوو .

کله چې سهار شو نو مغیث الرومي په یوازې ځان روان شو ، هغه غوښتل یو ځل بیا د کلا او ښار دیوال تر سترګو تېر کړې ، کېدای شي په کلا باندې د پورته کېدو یا ورانولو کوم مناسب ځای پېدا شي ، تاریخونه لیکي چې یو شپون رمه رورانه کړی وه ، هغه مغیث ته سلام وکړ ، مغیث په اندلسي ژبه هم پوهېدلو او هم یې ویلې شوه .

شپون له مغیث څخه وپوښتل : ایا ته د هغه پوځ سړې یې چې زمونږ بادشاه راډرک ته یې د ګادلیت په مېدان کې ماتې ورکړه او هغه یې ختم کړ ؟

مغیث ځواب ورکړ : هو ورورره ! ایا ته ما خپل دښمن بولې ؟

شپون ورته وویل : داسې نده ! مونږ ډېر غریب خلک یو ، څوک د ځان دښمن نه بولو .

مغیث الرومي د هغه سره د مینې او محبت خبرې پیل کړې او دواړه ګله سره روان شول .

شپون هغه ودرولو او بیا یې ورته وویل : که ته غواړې دا ښار ونېسې نو شاته ولاړ شه ، هلته د سیند اخوا دیوال لږ غوندې مات شوېدي ، د هغې نښه دا ده چې هلته د یوې ونې څانګه د دیوال پورې رسېدلې په هغه ځای کې تاسې دیوال ماتولې او ړنګولې شۍ ، ته خپله ولاړ شه وګوره چې دا کار کولای شې او کنه ؟

مغیث الرومي په خپلو جامو کې نه وو بلکې هغه بدلې جامې اغوستې ، هغه له لرې سیند ته ولاړ ، هغه په دیوال کې مات شوې ځای ولېدلو خو د

ښخه نندوتل اسانه کار نه وو ، هغه بايد نور هم مات شوي واي ، د هغې
دېوال له پاسه پېره کوونکي ګرځېدل ، مغيث پټ پټ بېرته راغي او خپلو
ملګرو ته يې کېسه وکړه ، څو کسان هلته بيا بيا ولاړل او هغه برخه يې ښه وکتله .
بو شامي آفسر ابو عتيق وويل : په ديوال کې د سوري او ماتې برخې
ښخه د ونې ځانګه ډېره ګټوره او په کار راتلونکې ده ، که د شپې پدې ونه
او ځانګه باندې پوړته شو نو د کلا ديوال ته پورته کېدلاي شو خو د پېره
کوونکو شتون ډېر خطرناک دي .
مغيث الرومي هم دا ځاي لېدلي او کتلي وو خو هغه ته برې او کاميابي
کمه او ناکامي ډېره تر سترګو کېده .
عېسايي تاريخ ليکوونکي لين پول ليکي چې مسلمانان په جنګې
زړورتيا او هوښياری کې ډېر نوم درلوده او همدا د هغوي د برې او
فتوحاتو لامل وو ، هغوي ډېر کلک او سختي ګالوونکي وه ، الله تعالی هم
د هغوي پلوی او ملګري وو او داسې حالات او شرايط به يې برابرول چې
ددوی په ګټه به تمامېدل .
مغيث الرومي ته په ديوال کې سوري او يوه ونه تر سترګو شوې وه خو
ددې ښخه ګټه او کار اخيستل ډېر خطرناک وه ، ددي ورځې لمر پرېوتو ،
بيا شپه تياره شوه ، د افق ښخه وريځې راپورته شوې چې رعد او برق دواړه
پکې وه ، دا رعد او برق لرونکې وريځې د قرطبې په لوري په منډه شوې .
لږ وخت وروسته ډېر سخت او طوفاني باران پيل شو چې سخته سيلۍ او
باد هم ورسره ملګري وو ، ونې او بوټې د طوفان ښخه لړځېدلی ، باران
دومره سخت او تېز وو چې د کانو په شان لګېده ، ونې لکه چې د رېښو
ښخه راوځي ، طوفان ډېر وېرونکي او هيبت ناک وو ، د مغيث الرومي د
غازيانو پناه ځاي نه وو ځکه د هغوي سره خيمې نه وې ، که خيمې واي نو
هم دي طوفان ته نشوي تم کېداي ، آسونه بې قابو شول او ترهېدل ، آسونه د
غونډيو شاته ودرول شول .
مغيث الرومي په لوړ اواز سره وويل : اوس وخت دي ، دا طوفان د
الله جل جلاله نعمت دي ، په آسونو زينونه واچوي او ډېر زر د کلا همانځې

په نښه شوی برخې ته ځانونه ورسوي ، پدې طوفان کې به د کلا دیوال هغې پیره کوونکې نه وي ، د ماتولو او ړنګولو سامان درسره واخلئ .

مغیث الرومي د ځان سره اووه سوه سپاره غازیان ملګري کړل او د قرطبې د کلا په لورې وخوځېدل ، کله به چې برېښنا او رعد وغرېده نو آسونه به وترېدل، خو سپرو پخپل کمال باندې آسونه قابو کړې وه ، باران د شګو پشان په مخونو باندې لګېدلو .

د قرطبې سره نژدې دا شبیلیه سیند روان وو چې اوس هم شته دی ، دې سیند ته مسلمانانو د قرطبې نهر اعظم ویلې ، سپاره د آسونو سره په سیند کې ودرول شول خو اصلې ستونزه طوفانې باران پېدا کړې وه .

د دیوال دپاسه پیره کوونکی د باران په سبب په برجونو کې ننوتې او ناست وه .

مغیث الرومي د څلورو غازیانو سره د دیوال هغې برخې ته ولاړ چې هلته سورې او ونه وه .

ابو عتیق وویل : ښاغلې سالار ! دیوال ړنګولو ته اړتیا نشته ، ما د ځان سره پړې او رسۍ راوړېده ، زه ونې ته پورته کېږم او دیوال ته ځان رسوم .

ابو عتیق د ځان څخه رسۍ ارتاو کړه او په ونه باندې پورته شو ، بیا په هغې څانګې باندې وختلو کومه چې د کلا دیوال ته نژدې رسېدلې وه ، طوفان او باد هغه څانګه داسې یوې او بلې خواته ښوروله چې ابو عتیق په هغې باندې ځان نشو سمبالولې ، د ونې څانګې باران ښوې کړې وې نو پښېورباندې نه تم کېدې ، اصل کار دا وو چې د څانګې څخه دیوال ته توپ واچول شې خو پدې حالاتو کې دا کار نه کېدونکې وو .

ابو عتیق په خپل رب توکل وکړ او د څانګې سر ته یې ځان ورساوه ، څانګه هوا یو لورې ته کږه کړه ، کله چې څانګه بېرته را روانه شوه نو ابو عتیق د ځان وزنې پشان یوه کارنامه سر ته ورسوله ، هغه اتومات د څانګې څخه توپ کړل او د دیوال دپاسه ولوېده ، هغه په خپل پوره زور باندې ځان په دیوال باندې سمبال کړ .

بیا یې د ځان څخه رسۍ راخلاصه کړه او لاندې یې راوغورځوله ، ددې رسۍ په مرسته اته نور غازیان دیوال ته پورته شول ، هغوی د سینډ په لورې دروازې پرانستل غوښتل نو په طوفاني باران کې د تورو سره د کلا برج ته ورسېدل ، هلته څو پیره کوونکي ناست وه او خبرې یې سره کولې ، مخکې لدې چې هغوی څه وکړي غازیانو ټول ووژل ، هغوی څلور برجونه د پیره کوونکي وېښ او بېداره وه هغوی مقابله وکړه خو غازیانو پرې برلاسي شول او دروازه یې پرانستله .

ابو عتیق د دروازې دباندې راووت او مشعل یې یوې او بلې خواته وښوراوه ترڅو غازیان پوه کړي چې دروازه پرانستل شویده ، اووه سوه غازیانو خپل آسونه په منډه کړل ، هغوی په طوفاني باران کې په طوفاني توګه د کلا له دروازې څخه ننوتل ، څو اندلسي سپایان یې ونیول او د هغوی څخه یې د لارښود په شکل کار واخیست ، پاتې پوځیان په درانه خوب ویده وه نو ټول یې په خوب کې ختم کړل هغه ژوندي پاتې شول چې بندیتوب یې ومنلو ، ښاریانو ته خو د مقابلې هېڅ وخت په لاس ورنغې .
تاریخ لیکوونکي اېس پي سکاټ لیکلي دي چې کله سهار شو طوفان او باران تم شو خو کلا مسلمانانو نیولې وه ، ددې ښار په منځ کې بله کلا هم وه چې د هغې نیول لا پاتې وه .
دا د عیسایي مشرانو او بلوونکو مرکز وو ، د هغې په منځ کې لویه کلیسا وه ، هلته د راهبانو او راهبو د اوسېدلو ځایونه هم وه او د زده کړې خونې هم وې .
ددې مرکز په شا او خوا کې لوې او لوړ دیوال پورته شوي وو چې دروازې یې د اوسپنې څخه جوړې شوې وې ، د دیوال له پاسه غشي او برچې وېشتونکي کېناستل .
اېس پي سکاټ لیکلي چې پدې شپه د ښار مشر د څلوېښت ساتوونکو سره دې کلا ته پناه یوړله چې هلته څلور سوه پوځې ساتوونکي نور هم وه .

مغيث الرومي اعلان وکړ چې هر څوک دباندي راوځي هغه ته امان ورکول کېږي او چې څوک مقابله وکړي هغه به خپله جزا ګوري .

والي د ديوال له پاسه اواز وکړ : لږ ديوال ته نژدي راشی چې درته څرګنده شي ، زر تر زره ددي ښار څخه پښې سپکي کړې .

مغيث الرومي ډېر کوښښ وکړ چې دي کلا ته ننوځي خو هېڅ درک ورته پيدا نشو ، هغه ته وويل شول چې دي خلکو دومره غله دانه راټوله کړې چې څو مياشتې هم نه ختمېږي .

نژدي يو مياشت وروسته مغيث الرومي ته څرګنده شوه چې کلا ته د ښار څخه اوبه ننوځي ، او د همدي اوبو څخه هغوې کار اخلي ، دا اوبه د ځمکي لاندي په پخه وياله کې کلا ته ننوتې دي ځکه نو چاته نه معلومېږي .

مغيث د اوبو دا پټه وياله بنده کړه ، درې ، څلور ورځې وروسته دروازه پرانستل شوه .

مغيث لومړې کار دا وکړ چې د مشر سر يې له تنې څخه قلم کړ ، د کلا په منځ کې چې څومره پوځي آفسران وه هغوې يې ټول ووژل ، نور پوځيان يې جنګي بنديان کړل ، د ښاريانو څخه هېڅ پوښتنه ونشوه ، راهبې انجونې او مېرمنې ټولې ازادي او خوشې شوې .

په قېروان کې امير موسی بن نصير اتلس زره غازيان راټول کړل ، هغه د امير المؤمنين وليد بن عبدالملک څخه ددي اجازه اخيستی وه چې په اندلس باندي خپله هم حمله وکړي ، هغه فکر کاوه چې طارق بن زياد به خپل کار ودرولي وي او ده ته به په تمه وی ، راتلوونکی فتوحات هغوې به ګډه کول غوښتل .

## طلیطله (مادرید)

طارق بن زیاد چې خپل نامتو سالار زید بن کساده کوم لوري ته استولی وه هلته د غرناطې مشهور ښار پروت وو ، د اندلس نامتو جنرال تيو ډومېر چې لومړې يې په لکه دره کې ماتې وخوړه او بيا د ګادليت په مېدان کې د راډرک سره يو ځای وه او د ماتې څخه وروسته وتښتېده نو غرناطې ته راغی او هلته یې پناه واخيستله ، هغه ته هر وخت د مسلمانانو د فتوحاتو خبر ونه را رسېدل او هغه د اندېښنې او خطر په حالت کې د غرناطې دفاع قوي کوله .

کلا به هغه څومره کلکه کړې وای ځکه چې هغه روغه جوړه وه ، پوځ هم کم نه وو ، يوازې يو ډول انديښنه وه چې جنرال تيو ډومېر يې انديښمن کړې او هغه په پوځيانو کې د جګړې شوق او ذوق نه درلودل وه ، د مسلمانانو د پرله پسې فتوحاتو څخه د ټول اندلسي پوځ احساسات ، جذبات او ولولې مړې او سړې شوې وې او د هغوی مورال بالکل ښکته شوی وو .

د مورال په ښکته کېدو کې هغه پوځيانو او ولسي خلکو هم رول درلوده کوم چې له نورو برخو څخه راتښتېدلي وه ځکه هغوی د مسلمانانو په هکله داسې خبرې کولې چې ګوندې مسلمانان انسانان نه .

د بادشاه راډرک د مړينې خبر د اندلس هرې برخې ته رسېدلې وه ، عامو خلکو هغه ډېر باتور ، مېړني او زړور بللو ، د هغه په هکله دا مشهوره شوې وه چې هغه په ماڼۍ کې ظالم خو د جګړې په مېدان کې تر ټولو زړور او باتور انسان دي او هېڅ بادشاه هغه ته ماتې نشي ورکولای ، په همدې خاطر دا خبره مشهوره وه چې راډرک ژوندي دي او بېرته راتلوونکې دي ، داسې هم ويل کېدل چې هغه مړ شويدي خو بېرته به را ژوندي کېږي او بيا به راځي ، دا د ټولو خلکو عقيده نه وه او ځينې ورڅخه منکر هم وه نو هغوی به بيا ويلې چې مسلمانان ډېر خطرناک انسانان دي ځکه چې هغوی نه يوازې دا چې راډرک ته ماتې ورکړه بلکه هغه يې ختم هم کړ .

د جنرال ټیو ډومیر لپاره د خپل پوځ دا ذهنیت او مورالي حثیت ډېر د اندیښنې وړ وو ، هغه خپله هم د مسلمانانو له لاسه دوه ځلې ماتې خوړلې وه او د هغوی زور ورته څرګند وو خو غوښتل یې په څه چل خپله ماتې په برې بدله کړي ، بله دا چې پدې وخت کې هغه د اندلس د بادشاه کېدو تمه هم لرله ، ځکه بل داسې مشهور څوک نه وو پاتې شوی .

تاریخونه لیکي چې جنرال ټیو ډومیر د همدې خوبونو د تعبیر په خاطر خپلو پوځي افسرانو ته ډېره امېدونه او تمې ورکړې وې .

جنرال ټیو ډومیر خپلو پوځي افسرانو ته ویل : اوس په اندلس کې کوم بادشاه نشته ، راتلوونکې حکومت د هغه چا دی چې فتح او برې ومومي ، د افریقا بربریان د شوکې او لوټ تالان لپاره راغلي دي ، که په هر ځای کې هغوی ماتې وخوړه نو تښتي ، بیا به حکومت زمونږ خپل وي ، بیا به تاسې زما پر ځای او زه به د راډرک پر ځای ووم .

زه به تاسې ټولو ته لوړې رتبې درکړم ، پدې شرط چې تاسې ټول همت وکړئ او حمله کوونکې له خپلې خاورې څخه وباسئ .

د پوځي افسرانو لپاره همدومره اشاره بس وه ، هغوی ټول د پریکندې جګړې لپاره چمتو او تیار شول .

جنرال ټیو ډومېر وویل : تاسې ټولو ته څرګنده ده چې هغوی د غرناطې په لورې را روان دي ، هغوی خپله ځانونه کمزوري کړي په درې برخو یې ځان وېشلی او په درې لورو باندې روان شویدي چې په هغې کې یوه برخه زمونږ په لورې را روانه ده ، دا باید مونږ تباه او برباد کړو ، که مونږ دوی دلته تباه او برباد کړل نو بیا به د هغه ګروپ پسې ځو کوم چې په قرطبه کې دي او هغه به تباه کوو .

د هغې د تباه کولو څخه وروسته به طلیطلې ته پسې ورځو او هغه به هم له منځه وړو ، ددې یوه طریقه دا ده چې مونږ په لاره کې هغوی تباه کړو او غرناطې ته یې نژدې راپرې نږدو ، که کوم پوځیان غرناطې ته ژوندي راورسېدل نو هغه باید سمدستي بې وسلې کړو .

یو اعلي پوځي چارواکي وویل : ستاسي پلان ډېر غوره دي ، مونږ به بربریانو ته د غرناطې د محاصرې اجازه نه ورکوو ، د غرناطې څخه لرې به مونږ د هغوی سره جګړه کوو ، تاسې چې د رادرک پر ځای د کېناستو خبره وکړه پداسې حال کې چې هغه یو زوی د رچمانډ په هم نامه لري ، د هغه په ژوندانه به څرنګه تاسې په تخت باندې واک ترلاسه کړی .

تیو ډومیر وویل : رچمانډ خو لیونې او بېړا دی .

پوځي افسر وویل : د هغه مور خو لیونۍ نده ! یو ګوبلیجې خو ستاسې په شان نامتو جنرال دی ، بله دا چې هغه په طلېطله کې اوسېږي ، د رادرک ملکه د تل لپاره هغه د ځان سره ساتل غواړي ، جنرال یو ګوبلیجې په پوځ کې هم ډېر اثر او اغېزه لري .

هغه به ستاسې په خلاف پوځ او ملکه د ځان سره ملګري کړي ، هغه به رچمانډ په تخت باندې کینوي ، که تاسې د هغه په خلاف څه کول غواړئ ، نو هغه به تاسې په پټه وژني او که داسې ونشي نو بیا به کورنۍ جګړه پیل شي ، پداسې حال کې چې بربر مسلمانان پرله پسې فتوحات لاس ته راوړي ایا کورنۍ جګړه مناسبه ده ؟ .

ښاغلي جنرال تیو ډومیر ! تاسې به پخپلو کړو وړو مسلمانانو ته لاره هواره کړئ چې ټول اندلس ونیسي .

جنرال تیو ډومیر پداسې طریقه او شکل سره وخندل لکه چې پوځي آفسر کومه بې عقله او بې ځایه خبره کړې وي او هغه ځواب ورکول نه غواړي .

تیو ډومیر وویل : دا وروسته خبره ده ، لومړې مسئله د پوځ وېشل دي ، راځئ چې لومړي تر غرناطې پورې د کلاګانو او پوستو غم وخورو چې څومره پوځیان هلته واستول شي .

تر غرناطې پورې څلور مهم ځایونه پراته وه لکه : ارچېدونا ، مالاکا ، مورشیا او ایلوېرا ، غرناطې ته تر ټولو نژدې ایلوېرا پرته وه ، تیو ډومېر ددې ټولو مهمو ځایونو طوفاني دوره وکړه ، هلته یې د پوځ کتنه او معاینه وخپله وینا وکړه :

هغه امپراطور اوس مړ شوېدي چې ټول اندلسې ولس يې خپل غلامان ګڼل او هيواد يې خپله شخصي خاوره بلله ، اندلس ستاسې هېواد دي ، ددي هېواد هره دانه او غله ستاسې حق دي ، ستاسې ګټه ستاسې خپله ده .

پس لدي به داسې نه کېږي چې ستاسې نيم فصلونه بل څوک پورته کړي ، ستاسې په لاس جوړ شوې شيان ستاسې حق دي او د هغې قيمت به ستاسې وي .

کوم کسان چې په پوځ کې دي د هغه کورنۍ څخه به ماليات او ټيکس نه اخيستل کيږي ، کوم پوځيان چې معيوب شي ، هغوې ته به په ټول عمر کې تنخواه سره نوره مرسته هم ورکول کېږي ، کوم کسان چې ووژل شي هغوې ته به په يو ځاې دا ټولې مرستې ورکول کېږي .

ددي خبرو په اورېدو سره ټولو پوځيانو په يو اواز سره چيغې کړې : اندلس دي تل وي ! جنرال ټيو ډومېر دي ژوندي وي !

ټيو ډومير پوځيان غلي او چوپ کړل او بيا يې په خبرو پيل وکړ :

د افريقا دا بربري مسلمانان ستاسې د هېواد د لوټولو او خرابولو لپاره راغلې دي ، هغوې ستاسې لورګانې ، خويندې او مېرمنې د ځان سره تښتوي ، هغوې به ستاسې په وړاندې ستاسې مېرمنې بې حيا کوي ، دا لاره شکوونکې د لس ، دولس کالونو انجونې هم د ځان سره وړي ، که خپل ځان، مال ، حيا خوندي او محفوظ ساتل غواړې نو جګړه وکړې ، د دښمن ويره د خپلو زړونو څخه وباسۍ ، هغوې دومره تکړه ندي لکه څومره چې تاسې ته ويل شوېدي ، هغه پوځيانو چې ماتې خوړلې هغه به تاسې ته ووايې چې مسلمانان دا دی دا دی ، دا خبره بالکل غلطه ده ، هغوې ستاسې په شان انسانان دي ، که باتور او زړور څوک وي نو هغه به تاسې ياستی .

دي غرېبو او بې چاره پوځيانو ته دا څرګنده نه وه چې تر ټولو لومړي سړي چې د مسلمانانو له لاسه يې ماتې خوړلې وه هغه همدا ټيو ډومېر وو ، هغه خپل پوځ همداسې مسلمانانو ته پرېښې او خپله يې تېښته کړې وه ، همده بادشاه ته په پېغام کې ليکلي وه چې مسلمانان انسانان نه بلکې .... له نسل څخه دي ، دي پوځيانو ته دا هم معلومه نه وه چې جنرال ټيو ډومير د پولې څخه په منډه ځان طلېطې ته ورساوه ، او هلته يې پناه واخيستله او

له هغه ځاې څخه يې رادرک ته پيغام واستاوه ، چې دا نوې حمله کوونکې لکه پيريانو غوندي دي چې زما نيم پوځ يې ختم کړ او پاتې پوځ څه ونيول شو او څه وتښتېدل .

جنرال تيو ډومير غوښتل پخپل پوځ کې پخپلو خبرو باندي نوې روح او نوې ولولې راپيدا کړي ، او د هغوي مورال راپورته کړي ترڅو د دوې په قرباني سره د اندلس بادشاه وګرځي .

کله چې جنرال تيو ډومير غرناطي ته ورسېده له بلې خوا څخه زيد بن کساده د غرناطي لومړې مهم ځاې ارچېدونا ته راورسېده او خپل پوځ او غازيانو ته يې د دمې وخت ورنکړ او هغه سيمه يې محاصره کړه ، په ديوال باندي غشي او برچې وېشتونکې چمتو ولاړ وه ، هغوې سمدستي د غشو او برچو باران پيل کړ خو د بربريانو ليندې ډېرې سختې او لرې وېشتونکې وې .

د کلا څخه هغوې ته غشي نه رسېدل پداسې حال کې چې د بربريانو غشي د ديوال له پاسه خلکو ته رسېدل او خپل کار يې کولو .

د بربري مسلمانانو د نارو او تکبيرونو څخه د غرناطي په پوځيانو باندي ويره راغله ، بربريان به د کوچينو ګروپونو په شکل د کلا ديوال ته ورنژدې کېدل او د ديوال په سر ولاړ پوځيان به يې پخپلو غشو لاندي راغورځول ، هغوې پدي لوبه باندي غوښتل د کلا په ديوال باندي پورته شي يا دا چې هغه ړنګ کړي .

د غازيانو ځينې ګروپونه دروازو ته هم رسېدلې وه او د هغې د ماتولو کوښښ يې کاوه ، د غازيانو دي نا اشنا جګړې داسې څرګندوله لکه چې هغوې کلا له بيخه وباسي او لرې يې غورځوي .

په اندلسي پوځيانو چې کې کوم هيبت او ويره خپره شوې وه او تيو ډومير هغه پخپلو خبرو له منځه وړله هغې يو ځل بيا سر راپورته کړ او کار يې پيل کړ ، د کلا د ساتوونکو همت ځواب ورکړ ، د غازيانو غشي د ديوال څخه هم تېرېدل او دننه په کلا کې لوېدل چې دي عام خلک هم ورخطا کړل ، د ولسي خلکو حالت پوځيان هم ورخطا کړل او بلاخره د کلا مشر د دروازو پرانستلو حکم وکړ .

د دروازو د خلاصولو سره سم غازيان هلته ننوتل او کلا يې ونيوله چې پدي توګه د نورې وينې توېدنې څخه مخنيوې وشو .

د آرچېدونا څخه وروسته دوه نورې کلا ګانې مالاکا او مورشيا راتللې چې دواړه لوې وې ، د مالاکا پوځ ډېر زړور او باتور وختلو هغوې د کلا پر ځاې په مېدان کې جګړه کول غوښتل او هلته يې صفونه جوړ کړل ، په هغوې باندې د جنرال تيو ډومير خبرو اثر کړې وو او د کلا څخه دباندې راوتلې وه ، خو هغوې ته دا څرګنده نه وه چې د دوې مقابله او جګړه د داسې انسانانو سره ده چې جګړه يې دنده او لوبه ده ، د کوچنيوالې څخه هغوې په جګړو کې رالوې شوېدې او همدا يې کسب ګرځېدلې وو ، زيد بن کساده عربې سالار وو ، کوم چې په ټولو هېوادونو کې د هغوې ويره او رعب ناست وه .

زيد بن کساده د طارق بن زياد په شان چل وکړ او اندلسی لښکر يې داسې شاته کړ چې شاګانې يې د ښار په ديوال پورې ولګېدې ، آسونو خپل خپل سپاره تر پښو لاندې دل کړل ، د بلې خوا مسلمانانو هغوې د ګازرو او موليو په شان پريکول او غورځول .

زيد بن کساده د دښمن ټول پوځ د کلا څخه دباندې راګېر او په جګړه يې بوخت کړ ، بيا يې خپل څه غازيان د دروازو د ماتولو لپاره واستول ، اندلسې پوځ ښه په مېړانه باندې جنګېده خو د کلا د دفاع لپاره يې هېڅ ډول پام نه وو کړې او هرڅه يې همداسې پرېښې وه .

د کلا څخه دباندې په مېدان کې اندلسې پوځ د مسلمانانو په لاسونو ختمېدلو ، بل لورې ته غازيانو د کلا دوه دروازې ماتې کړې او کلا ته ننوتل ، ددې څخه وروسته پوځيانو وسله وغورځوله او تسليم شول ، د جنرال تيو ډومير ټوله خوارې اوبو لاهو کړه .

وروسته د غرناطې مشهور ښار او کلا پرته وه چې جنرال تيو ډومير په هغې کې مورچلې جوړې کړې وې، هغه دا هيله لرله چې دلته به سخته مقابله او جګړه وکړې او خپله ماتې به په فتح بدله کړې ، بله دا چې هغه

پدي توګه غوښتل د اندلس تاج او تخت هم ترلاسه کړي ، هغه مسلمانانو ته د ماتې ورکولو لپاره پوره او مکمل تياري نيولې وو .

جنرال تيو ډومير دا خوښه نکړه چې په کلا کې محاصره شي او جګړه وکړي ، هغه خپل پوځ د غرناطې څخه لږ لرې د ايلوېرا په سيمه کې په جنګي ترتيب او نظم سره ودراوه .

هېڅ تاريخ دا ندي ليکلې چې د جنرال تيو ډومېر او زيد بن کساده لښکريان څومره وه خو دومره هر يو ليکلې دي چې مسلمانانو د کموالې سره سره بله کمزورې دا هم لرله چې دي ځاې ته په را رسېدو باندي ښه ستړې او ستومانه شوې وه ځکه چې هغوې ته د دمې او ارام وخت په لاس نه وو ورغلې ، د هغوې بدنونو د جګړې توان او ځواک نه درلوده ، يوازې په روحانې او معنوې ځواک باندي جنګېدل ، هغوې چې کله دښمن تيار او چمتو په مېدان کې ولېده نو خپله هم جګړې ته تيار شول .

زيد بن کساده چې کله د غرناطې څخه مخکې د تيو ډومير پوځ په جنګې ترتيب او نظم کې وليده نو خپل غازيان يې ودرول او خپله په يو لوړ ځاې باندي پورته شو ترڅو د دښمن ترتيب او د کسانو اندازه وګوري .

تيو ډومير ته دا معلومه وه چې د مسلمانانو د تکبير نارې د اندلسې پوځ حواس او مورال کمزورې کوې نو ځکه هغوې مخکې له مخکې ، چيغې او شور جوړ کړ چې خپل پوځيان يې د مسلمانانو د تکبير ناري وانه ورى او پوځې افسرانو مسلمانانو ته پېغورونه ورکول پيل کړل ، زيد بن کساده پوه شو چې دښمن په جوش او جذبه کې دى او د مقابلې لپاره تيار او چمتو دي ، هغه پدي انديښمن وو چې غازيان ستړې او ستومانه دي خو بل هېڅ لاره او چاره ورسره هم نه وه ځکه دښمن مخامخ ولاړ وو ، زيد بن کساده د هماغه لوړ ځاې څخه خپلو غازيانو ته وويل :

بربري غازيانو ! ستاسې د ايماني غېرت او جذبې وخت اوس راغلې دي ، زه عربې يم ، نن بايد تاسې دا خبره ثابته کړې چې بربريان تر عربانو زړور ، باتور او مېړني دي ، په ياد ولرئ چې ستاسې ملګري د نورو ښارونو په لوري تللې دي ، داسې ونشي چې هغوې بيا تاسې ته دا پېغور درکړي چې

د غرناطې نیوونکي غازیان بې غیرته او بې زړه وه ، لویه خبره خو دا ده که تاسې ماتې وخوړه نو خپل الله تعالی ته به څه ځواب ورکوی .

د همدې خبرو سره جوخت بربري غازیانو خپلې ځانګړې نارې او چیغې پیل کړې : مونږ ستا سره یو ! مونږ به ستا څخه مخکې روان یو ... مونږ شا ګرځوونکې نه یو !

ددې جګړې پوره حال او احوال پروفیسر ډوزې لیکلې دي هغه پخپل تاریخ کې لیکي چې زید بن کساده پخپل آس سپور وو ، هغه د خپل آس مخ د قبلې په لورې وګرځاوه ، سر یې ښکته کړ او د دعا لپاره یې خپل لاسونه پورته کړل ، د هغه شونډې ښورېدلې .

زید بن کساده دلوړ ځای څخه راښکته شو او تر ټولو تکړه او باتور سل بربری غازیان یې د نورو څخه جلا کړل او هغوې ته یې لارښوونې وکړې ، دا سل غازیان په هغه لاره روان شول په کومه لاره چې دوې راغلې وه ، هغوې چې کله ښه لرې ولاړل نو د غونډیو تر شا له سترګو پناه شول بیا بل لورې ته راتاو شول .

جنرال ټیو ډومیر یو ځل مخکې د طارق بن زیاد سره جګړه کړې وه او د هغه د چلونو په اساس یې ماتې خوړلې او لښکر یې ګډوډ شوې وو ، هغه خپلو قوماندانانو ته ویلې وه چې کله مسلمانان شاته روان شي د هغوې پسې به نه ورځې ، بلکې بېرته به شاته راځی ، هغه خپلو پوځې آفسرانو ته ډېر شیان ښودلې وه .

زید بن کساده هم خپلو غازیانو ته وویل چې تاسې خپله سترتیا او ستوماني دښمن ته ښکاره نه کړی ، پدې لښکر کې نیماېي هغه پوځیان دي چې په نورو جګړو کې یې ماتې خوړلې او راتښتېدلې دي ، اندلسې پوځیان د بربریانو څخه ډېره ویره او ډار په زړونو کې لرې تاسې باید پدې ویره او ډار کې زیاتوالې راولی .

داسې نه چې مونږ خپله په ځان باندې ویره خپره کړو .

تاریخ پوه لین پول او متعصب تاریخ لیکونکې ولیم سکاټ دواړو لیکلې دي چې په څرګنده خو د میدان حالاتو او شرایطو دا ښودله چې بربري

مسلمانان به ډېره خرابه او بده ماتې خوري ، د مسلمانانو برې او فتح پدې پوره تړلې وه چې د هغوې سالار کوم داسې جنګې چل پکار واچوې چې جنرال تيو ډومېر پرې ورخطا کړي ، حال دا چې داسې څه هم نه معلومېدل ، جنرال تيو ډومېر پخپله کاميابۍ او برې باندې سل فيصده يقين او باور درلوده .

جنرال تيو ډومېر خپل پوځ پداسې ميدان کې ځاې پر ځاې کړې وو چې ښۍ او چپ لورې ته يې لوړې ژورې وې ، پدې توګه د هغه دواړه اړخونه غونډې او محفوظ وه ، زيد بن کساده خپل غازيان په درې برخو ووېشل ، هغه د خپل لښکر منځنې برخه دښمن ته ورمخکې کړه او خپله شاته پاتې شو ، د بل لورې څخه دوه چنده پوځ را وړاندې شو او خپله جنرال تيو ډومېر شاته ودرېده .

مسلمان غازيان په منډه د دښمن په لورې ورتلل او ډېر سخت تکر سره وشو ، اندلسې پوځيان پدې هېڅ پوه نشول چې مسلمانان کراره کراره شاته روان دي او هغوې هم ورپسې راخوځېږي ، جنرال تيو ډومېر شاته ولاړ وو او چيغې يې وهلې ، د خپلو استازو په خوله يې هغوې ته نارې وهلې چې مخکې او وړاندې ولاړ نشي .

په همدې حالت کې د ښۍ او چپ لورې غونډيو او لوړو څخه د تيو ډومېر په لښکر باندې د غشو او برچو باران پيل شو ، داسې معلومېده لکه چې ټولې غونډۍ د انسانانو څخه ډکې او غشې واروې ، يو دم د همدې غونډيو څخه بربرې سپاره راووتل او په يو ترپ کې يې ځانونه د اندلسې پوځ شاته ورسول او د شا له لورې يې سخته حمله وکړه ، د غشو او برچو په سبب اندلسې پوځيان ګډوډ او بې نظمه شوې وه ، سپرو هغوې نور هم سره خپاره ، بې نظمه او بې ترتيبه کړل .

لين پول او وليم سکاټ ليکلې : په اندلسې پوځ چې د بربرې مسلمانانو کوم ډار او هيبت پروت وو هغه غشو او برچو نور هم زيات کړ ، د دې جګړې په سبب تښتېدلې پوځيان نور داسې ورخطا او بد حواسه شول چې د جګړې پله د مسلمانانو په ګټه واوښتله .

زید بن کساده سل تکړه او باتور غازیان د جګړې څخه مخکې لا پټ کړي وه ، هغه غازیان لرې ولاړل او بیا یې د ښار شاته ځانونه ورسول ، هغوي ولیدل چې د ښار په برجونو او دیوالونو باندې هیڅ پېره کوونکې هم نشته ، هغوي زید بن کساده د همدې کار لپاره لېږلې وه چې کله ټول پوځ د ښار څخه راووځي او کلا خالي شي نو تاسې یا دروازې ماتې کړې یا دا چې د رسیو پواسطه ځانونه دیوال ته پورته کړې او په کلا باندې برید وکړی .

د سربښندونکو دا ډله د ښار شاته ورسېدل ، په دیوال یو ولاړ سړې هغوي ولېدل نو سمدستې راښکته او په خپل آس باندې سپور شو ، جنرال تیو ډومېر ته ورغې چې همدومره بربریان د ښار شاته را روان دي ، جنرال تیو ډومېر درې سوه سپاره د ښار شاتنۍ برخې ته واستول او کوم پوځیان چې په جګړه کې اخته نه وه هغوي ټول یې د کلا منځ ته ولېږل ، کله چې دا ګروپونه د کلا په لورې وخوځېدل ، زید بن کساده د شا له لورې پرې برید وکړ چې اندلسي پوځ ته زیات زیان او تاوان ورسېدلو .

لین پول او ولیم سکاټ لیکلي دي چې اندلسي پوځ په مکمل او پوره ډول ختم شو ، دومره زیان او تاوان په هېڅ جګړه کې مسلمانانو او عیسایانو ته نه وو اوښتي ، جنرال تیو ډومېر چې کوم درې سوه سپاره د کلا شاته استولې وه ، هغوي ټول سل کسه غازیانو ووژل ، کوم پوځیان چې د جګړې څخه ژوندي پاتې شوي وه هغوي د کلا پر ځای د ځنګل لاره خپله کړه ، او هغه لورې ته وتښتېدل .

جنرال تیو ډومیر د جګړې له مېدان څخه لا درکه شو ، د کلا دروازه چې پرانستل شوې وه بېرته وتړل شوه ، د اندلسي پوځ بیرغ پر ځمکه پروت وو ، مسلمانان لا تر اوسه پورې په جګړه بوخت وه ، جګړه ختمه شوې وه خو زید بن کساده حکم کړې وو چې هیڅ اندلسي پوځي باید ژوندي پاتې نشي .

غرناطه ددې مېدان څخه لرې وه ، کله چې پوځ ووژل شو نو زید بن کساده د ښار په لورې وخوځېده ، کله چې هغوي کلا ته نژدې شول ګورې چې ډېر زیات انسانان د کلا په دیوال باندې ولاړ دي ، د محاصرې په وخت

کې به زیات خلک په دیوال باندې ودرېدل خو دومره زیات نه لکه چې دلته ولاړ وه .

د هغوې په سرونو د اوسپنې خولۍ او تر نامه پورې یې زغرې اغوستې وې .

زید بن کساده خپل نائب سالار ته ووېل : تر اوسه پورې نه ، مونږ فکر کاوه چې د غرناطې پوځ مو ختم کړې خو د ښار د دفاع لپاره ډېر زیات پوځ دلته شته دی .

پورتنۍ تاریخونه لیکې چې ددې ورځې لمر په ډوبېدو وو ، زید بن کساده کلا محاصره کړه ، اوس د هغه پوځ کم شوې وو خکه چې څه پکې شهیدان او څه پکې زخمیان شوې وه ، حالات د اندېښنې وړ وه خو بیا هم زید بن کساده د کلا دیوال ته نژدې شو او اعلان یې وکړ :

که خپل خیر غواړې نو خپل پوځ حالت ته وګورې ، که پرته له جګړې څخه ښار تسلیم کړې نو تولو ته به امن او امان ورکړل شي کنه بیا به تول وژل کېږې .

خو د وړاندې هغې لورې خواب نه راتللو ، په عمومې توګه کله به چې محاصره کوونکو داسې اعلان کولو نو د ښار خلکو به خواب ورکولو خو د زید بن کساده د اعلان په خواب کې هېڅ آواز پورته نشو .

د تمې او هیلې په خلاف دروازه خلاصه شوه او جنرال ټیو ډومیر د سپین بیرغ سره د باندې راووت ، د حېرانتیا خبره وه چې خپله جنرال ټیو ډومیر د سولې لپاره را وړاندې شو ، بله د حېرانتیا خبره دا وه چې د هغه سره یوازې یو ساتوونکې را روان وو ، هغه وخت به کوم جنرال یا بادشاه پرته د زیاتو ساتونکو چېرې نه تللو ، د ټیو ډومېر سره چې کوم باډې ګارډ وو هغه پوځې نه بلکې یو خوان نوکر وو ، جنرالانو او بادشاهانو به د ساتوونکو سره سره یو یا دوه داسې نوکران ساتل ، زېد بن کساده د ټیو ډومېر هرکلې ته وړ وړاندې شو او بیا دواړه سره مخامخ شول .

جنرال ټیو ډومیر : زه د خپل خان څخه د ستر جنرال په امر دلته راوتلې یم ، هغه جنرال د دې تولې سیمې د پوځ قوماندان دې ، هغه تاسې ته دا پېغام رالېږلې دې چې په کلا کې دومره زیات پوځ دې که تاسې هغه محاصره

کړي نو تر یو کال پورې به کلا ونشي نیولای ، د ښار دیوالونه وګوري ،
ددې څخه تاسې معلومولای شې چې په ښار کې څومره زیات پوځ دی ؟
زید بن کساده ووېل : چې دومره زیات پوځ ستاسې سره شته نو بیا سولې
ته څه اړتیا ده ؟ تاسې خو ګورې چې مونږ له پخوا څخه کم شوې یو .
جنرال تیو ډومیر ووېل : زمونږ ستر جنرال ډېر نرم زړه سړی دی ، هغه ته
څرګنده شوې چې زیات پوځ یې له منځه تللي دي او ستاسې هم زیان
شویدې ، نو نوره وینه باید توې نشي ، باید سوله سره وکړو ، که تاسې
سوله نه کوې نو بیا خو زمونږ سره ښه پریمانه پوځ شته او تاسې کلا پدې
کم پوځ باندې نشې نیولای .
زید بن کساده پدې اندېښنه کې وو چې کېدای شي دا چل او دوکه وي
خو جنرال تیو ډومیر چې په کوم ډول خبرې کولې د هغې څخه اغیزمن شو
او د سولې خبره یې ومنله .
تیو ډومېر ووېل : د سولې شرایط به زمونږ منل کېږي :
لومړی شرط دا دی چې د ښار د خلکو د مال ، ځان او عزت ساتنه به
ستاسې مسئولیت وي ، ستاسې هېڅ پوځې په ښار کې د چا کور ته نشي ننوتلې .
دویم شرط دا دی چې مونږ به خزانه تاسې ته پخپل لاس تسلیموو .
درېم شرط دا چې زه به جنګې بندي نه وم بلکې ددې مشر به ووم او
همدلته به اوسېږم خو ستاسې اطاعت او مننه به کوم .
د سولې شرایط ولیکل شول او زید بن کساده په هغې خپل لاسلیک او
مهر ولګولو .
جنرال تیو ډومېر ووېل : سهار به تاسې ته د ښار دروازې پرانستل شي ،
او بیا په خپله مخه روان شو ، نائب سالار په غصه سره ووېل : ابن کساده !
تا خو د خپل خان او خپل پوځ د مرګ په دوسیه باندې خپله لاسلیک وکړ ،
یو بل چارواکي ووېل : هو کې ابن کساده ! ته ډېر ستړی شوی یې څکه
خو ستا دماغ سم کار نه کوي .

زید بن کساده وویل : زه په خپل الله پاک باندې پوره باور لرم ، فکر کوې چې کله مونږ ښار ته داخل شو نو ټول پوځیان او خلک به په مونږ باندې حمله وکړي او ټول به ووژني .

چارواکي وویل : همداسې به کیږي !

زید بن کساده وویل : په تا کې د عقل کمي ده ، هیڅ د کلا مشرځوکسه دښمنان هم کلا ته نه پرېږدي پداسې حال کې چې زمونږ سره پوځ او لښکر دې ، هغه پدې ښه پوهیږي چې بربریان سره د کموالې څه ډول کارنامې سرته رسوي ، پدې هکله هیڅ غم مه کوې .

شپه ټوله په اندېښنه کې تیرېدله څکه چې شا او خوا مړي پراته وه او د زخمیانو چیغې او زږېروې هم اورېدل لېدل ، بربرې ځازیانو د اندلسې پوځیانو څخه وسلې راټولولې ، ځناور هم د مړو خوراک پسې رارسیدلې وه او هر لورې ته ګرځېدل .

زید بن کساده ټوله شپه وېده نشو ، هغوې پدې اندېښنه کې وه چې ټول په کوم جال کې راګېر نشي نو خپلو لاندې افسرانو ته ددې هدایت ورکړ سهار چې کله کلا ته ننوځې باید ښه هوښیار او هر لورې تر څارنې لاندې وساتې .

کله چې د سهار روښنائي خپره شوه د کلا څخه یو سړې راغې او زید بن کساده ته یې وویل چې جنرال تیو ډومېر ستاسې لپاره سترګې په لاره دې ، زید بن کساده خپل لښکر ته وویل چې زما تر شا را روان شي ، لښکر تیار او چمتو وو نو پیاده او سپاره ټول پسې روان شول ، کله چې هغوې کلا ته ننوتل په دیوال باندې هیڅ انسان هم نه لیدل کېده .

جنرال تیو ډومېر د کلا د لوې او غټې دروازې په خوله کې د هر کلي لپاره ولاړ وو ، د هغه سره یوازې هماغه نوکر وو کوم چې پرون ورسره راغلې وه ، جنرال تیو ډومیر زید بن کساده ته تود هرکلې وکړ او هغه یې د ځان سره کلا ته ننوېستلو .

زید بن کساده له جنرال تیو ډومېر څخه وپوښتل : ایا زما پوځ هم کلا ته راننوتلې شي ؟

جنرال ټيو ډومېر ورته وویل : هو ! ایا ما په ترون کې دا نه وه لیکلې چې مونږ کلا تاسې ته سپارو ؟

د غازيانو لښکر د زيد بن کساده په اشاره کلا ته ننوت ، د مخکښې لارښوونې په بنسټ ټول غازيان هوښيار او د څارنې په حالت کې ننوتل ، بربريانو هر لورې ته کتل او څارنه يې کوله ، په کلا کې هېڅ لورې ته هم پوځ نه ښکارېدلو ، د کورنو په بامونو باندې مېرمنې او کوچنيان ولاړ وه ، د کورونو مخې ته هم مېرمنې او کوچنيان ګرځېدل ، زيد بن کساده پدې باورې شو چې دا کوم جال او دوکه ده .

زيد بن کساده له جنرال ټيو ډومېر څخه وپوښتل : ستاسې پوځ چيرې دې ؟او د کلا عمومې قوماندان چيرې دې ؟

جنرال ځواب ورکړ : دلته هېڅ پوځ نشته ، تاسې ته به دلته يو سپايې هم تر سترګو نشي ، دلته يوازې زه پاتې يم ، د کلا مشر مشر نشته ، ما تا ته دروغ ويلې وه چې زه بل لوې جنرال را استولې يم ، زما ساتوونکې هم نشته زه يې يوازې نه يم خوشې کړې ، دا کوم سړې چې تاسې ګورئ دا زما نوکر دې ، دا يوازينې سړې دې چې

زيد بن کساده وويل : زه ستا پدې خبرو څه ډول باور وکړم ؟

جنرال وويل : پوځ خو څه داسې شې ندې چې په کوم ځای کې پټ کړای شي ، ما دا ټول ښار تاسې ته سپارلې دې ، تاسې سره لښکر شته د ټول ښار تالاشې واخلې ، زما څخه پرته بل څوک به په لاس درنشې ، زما پوځ ټول ستاسې په لاس ووژل شو ، کوم چې ژوندې پاتې شوې هغه ځنګل ته تښتېدلې دې .

زيد بن کساده وويل : ته درواغ وايې ، زه هغه پوځ ليدل غوارم چې د ديوال په سر ولاړ وو .

جنرال ټيو ډومېر وخندل او لاسونه يې ښخو ، مېرمنو او کوچنيانو ته واړول او وې ويل :

دا دې هغه پوځ چې تا د ديوال په سر باندې ولاړ لېدلې وو ، که تاسې غوارې زه به يو ځل بيا د دې ديوال په سر هغوې ودرولای شم ، ما تاسې ته

دوکه درکړه او د سولې په تړون باندې مې لاسليک در څخه واخيستلو، څرنګه چې زما پوځ ختم شويدې نو ځکه ما د تېښتې پر ځای دا طريقه غوره کړه . مېرمنو ، پيغلو او کوچنيانو ته مې د اوسپنې خولې او زغرې ور واغوستې او د ديوال په سر مې تياري ودرولې ، تاسې فکر وکړ چې په کلا کې ډېر پوځ شته دی .

زيد بن کساده وويل : دې څه اړتيا وه ؟

آيا دوې تاسې په مونږ باندې ختمولې ؟

که مونږ د سولې پر ځای د جګړې لاره غوره کړې وه نو دا بې ګناه ښځې او کوچنيان به په غشو سورې سورې شوې وای ، ته داسې فکر ونکړې چې مونږ دومره زيات پوځ په ليدلو سره ووېريدلو او د سولې تړون مو وکړ .

جنرال ټيو ډومېر وويل : زه پدې ښه پوهېدم ، ما تاسې نه وېرولې زما مقصد دا وو چې تاسې کلا تسليم کړې او نوره وينه توې نشي ، زمونږ او ستاسې تړون به د نورو هغه تړونونو پشان نه وي ، چې د دوو پوځونو تر منځ صورت نيسي ، ما د زړه له تله ستاسې اطاعت منلې دې ، زه خپل پوځ نه جوړوم .

تاريخونه ليکي چې زيد بن کساده د جنرال ټيو ډومېر له هوښيارې څخه دومره اغيزمن شو چې پرته د طارق بن زياد له مشورې او سلا څخه يې هغه د سيمې مشر وټاکلو ، خو تر هغه يې لوې پوړې چارواکې مسلمان وګرځول ، په غرناطه کې د يهوديانو شمير تر نورو زيات وو ، څرنګه چې يهوديان د راډرک څخه په تنګ راغلې وه نو هغوې د مسلمانانو سره ملګرې شول .

زيد بن کساده د غرناطې د ادارې چارو د سمون لپاره د مسلمانانو سره يهوديان او عيسايان هم وټاکل ، د مسلمانانو سره خو دومره چارواکې نه وه چې ټولې چارې په مخ بوزې نو هغوې دا کموالې د د هغوی څخه پوره کاوه ، په راتلوونکې کې همدا ټاکل شوې چارواکې د بغاوتونو او سرغړونو سبب وګرځېدل او اسلامې هيواد او ملت ته يې د زيان په رسولو کې هېڅ کموالې ونه کړ .

***

هغه وخت چې زيد بن کساده او مغيث الرومي د خپلو هدفونو په لوري تلل طارق بن زياد هم د طليطې په لورې پرمختګ کولو ، جولين او اوپاس هم ورسره ملګري وه ، هغوي بايد د طارق سره واي ځکه چې طليطه د اندلس مرکز وو ، دا د بادشاهانو ګدی وه او د هغې دفاع ډېره قوې او کلکه وه .

جولين او اوپاس چې هغه ته د طليطې په هکله څه ويلې وه د هغې سره سم دا ښار د تېګس د سيند په غاړه اباد شوې نه بلکې سيند د هغې شا او خواته روان وو او بيا مخکې تللو ، د سيند سره په خوا کې يو لوې جهيل او تالاب وو چې په هغې کې د سيند اوبه توېدلې ، په يوه کمر کې تونل او سورنګ وېستل شوي وو چې د هغې لارې له سيند څخه اوبه جهيل ته تللې .

دا هماغه جهيل او تالات وو چې د هغې په غاړه مېرنيا د اوپاس سره ليدلې وه ، اوپاس د لېونې او بېړا سرې په شکل هلته ورغلې وو .

د طليطې دفاع له يو لورې د تېګس سيند کلکه کړې وه بله دا چې دا ښار په يو پورته او لوړ ځای باندې ودان شوې وو ، د ښار شا او خوا ديوال د ډېرو غټو او درندو ډبرو څخه جوړ شوې وو ، ځينې دومره غټې وې چې پوره کمرونه هلته اېښودل شوې وه .

د ښار د ديوال شا او خوا ته پلن ، پراخه او ژور خندق اوجر هم کېندل شوي وو چې په هغې کې نېغ او تيره تيره لرګي تومبل شوې وه چې دې لرګيو خلک زخمې کول او بيا يې د تللو څخه وېستل .

هر بادشاه به چې کېناسه نو د طليطې دفاعې حالت به يې نور هم قوې کولو ، کله چې ګوت قوم منځ ته راغې نو هغوي دابښار دومره قوې کړ چې د نيولو امکانات يې ختم شول .

طارق بن زياد په هوارو ځمکو او مېدانونو کې ډېرې جګړې کړې وې ، هغه د دولس زره غازيانو په لاس يو لک منظم پوځ ته ماتې ورکړې وه ، خو ددې کلا او ښار حالت د نورو څخه مختلف وه ، د هغې طريقې بدل وې ، د دې کلا نيول د امکان تر حده پورې سخت وه خو طارق بن زياد د الله پاک د مرستې په هيله او تمه روان وو .

په طلېطله کې د اندلسي بادشاه راډرک ماتم کېده ، یوازې د طلېطلې بادشاهي ماڼۍ غمجنه نه وه بلکې په ټول ښار باندې د غم او ماتم څپې خپرې وې ، پدې ماتم او غم کې وېره او ډار څرګند وو ، د راډرک د یو لک پوځ څخه چې څه پاتې وه هغه هم طلېطلې ته را رسېدلې وو ، پدې راتلوونکو کې هغه د خپلې خوښې پوځیان هم وه چې راډرک سره د ګاډلېت په جګړه کې شریک شرې وه .

د نورو ځایونو څخه هم ځینې خلک طلېطلې ته راغلې وه ، هغوې په طلېطله کې خلکو ته داسې خبرې او پروپاګندونه وکړل چې ګوندې مسلمانان زمریان ، پړانګان ، او د ځنګلې ځناورو پشان ځېرونکې او حمله کوونکې دې او دښمن ټوټه ټوټه کوې .

طلېطله د ګادلیت د جګړې څخه مخکې د انګازو او آوازو ښار ګرځېدلې وو ، دا د هغو ورځو کار وو چې کله راډرک اعلان وکړ چې ولسې خلک هم په جګړه کې باید ګډون وکړې .

راډرک د طارق بن زیاد د شړلو او ختمولو لپاره له پمپلونه څخه د ګادلیت په لورې روان وو ، په همدې وخت کې اوپاس په بدله څېره طلېطله ته ولاړ او هلته یې د جهیل په غاړه له مېرنیا سره وکتل او په خلکو کې یې دا آوازې او انګازې خپرې کړې چې د مسلمانانو وېره او ډار په خلکو کې خپور شې ، ګوتیانو داسې آوازې واچولې چې عام ولسې خلک هم ورخطا شول ، هغوې چې کله د خپل زړور او باتور بادشاه راډرک د وژلو او د هغه د یو لک پوځ د ختمېدو څخه خبر شول نو ډېر ورخطا شول چې په څه ډول دولس زره مسلمانانو یو لک پوځ ختم کړ .

ماتې خوړلې پوځ چې کله طلېطلې ته را ورسېدلو نو هغوې په خلکو کې داسې خطرناکې آوازې او انګازې خپرې کړې چې د ګوتیانو پروپاګند یې تائیدولو .

دا مسلمانان چې هر څوک دې خو انسانان ندې بلکې کوم بل مخلوق دې . یو انسان خو د دوه انسانانو مقابله کولای شي خو هغوې په یو ځل شل شل کسان په توره وژني .

د ځناورو په شان حملې کوې .

دا خبره سمه ده چې هغوې په اوبو د پاسه راغلې دې ، هغوې اوبه نه ډوبوې .

د امپراطور راډرک مړې هم ورک شو ، د هغه آس او اوړېليا حمله کوونکو له ځان سره یوړلو .

وایې چې هغوې د راډرک مړې پخ کړې او خوړلې دی .

دا د هغوې قانون دې چې کوم بادشاه ته هغوې ماتې ورکړې هغه بیا خورې .

که هغوې دلته راغلل نو ډېر ورانې او لوټ تالان به وکړې .

انجونې هم هغوې له ځان سره وړې

دا انګازې او آوازې پداسې خطرناکو او ډارونکو طریقو سره خپرېدلې چې ټول اولس یې بې سده او ورخطا کړې ده ، په هر کور کې ځوانې انجونې وې ، د خلکو په کورونو کې مال او دولت وو ، تر ټولو زیات قیمتې شې د هغوې ځانونه وه ، که غریب وو که شتمن هیچا هم خپل ځان نه ورکولو ، په آوازو کې دا هم وه چې انجونې او میرمنی هم له ځان سره وړې .

دا د هغه وخت قانون وو چې فتح کوونکو به د نیول شویو خلکو هر څه لوټ کول او عام خلک به له خپلو کورونو څخه تښتېدل ، خلکو دا اوازې سمې ګڼلې او له خپلو کورونو څخه وتل او ښار خالې شو، یوازې پوځیان پاتې شول چې هغوې هم د مړو په شان وه .

د پوځیانو څخه سربېره ګوتیان او یهودیان پاتې وه کوم چې د مسلمانانو پلویان وه ، آوازې او انګازې هم همدې دوه ډلو خپرولې .

***

په طلیطله کې ډېرې کلیساګانې وې چې په ټولو کې یوه ډېره لویه او ستره وه ، په کلیساګانو کې راهبانې او دولت زیات وو ، مخکې وویل شول چې د کلیساګانو پادریانو ځانونه د الله استازې او نماینده ګان بلل او دا به یې ویلې چې مونږ دنیا خوشې کړې خو په اصل کې د دنیا وږې او تږې همدې وه او د هغې عبادت یې کولو ، د بادشاهانو څخه یې ځمکې اخیستې وې او اربابان ورڅخه جوړ شوې وه ، هغوې د دې ځمکو د حاصلاتو څخه

/

برسېره د خلکو څخه په ډول ډول پلمو باندې نقدیات اخیستل او هغه به یې د ځان سره ذخېره کول.

ټول پادریان مشر پادرې ته ورغلل او دا ستونزه یې ورته وړاندې کړه چې دا دومره د سرو، سپینو، قیمتي غمیو او ملغلرو کڅوړې به چېرې پټوو؟

مشر پادرې وویل: ځامخا به یې په یو ځای کې پټوو! دومره زیات مال خو د ځان سره نشو ولاړې، که دومره مال راسره خپلو خلکو ولیدلو نو پرې وژني مو.

ټول سره او سپین زر سره د ملغلرو په بکسونو کې بند کړی او دلته یې ماته راوړی، د روپیو کڅوړې هم ورسره راوړی، په تاکاوی کې به یوه کنده جوړه کړو او هلته ته به دا ټول شیان خوندي کړو او له پاسه پرې خاوری بار کړې.

د شپې لخوا د مرکزې او لوې کلیسا تاکاوۍ ته د مال او دولت څخه ډک بکسونه راوړل شو، د تاکاوۍ فرش وکېندل شو، بیا هلته بکسونه ځای پر ځای شول او د پاسه پرې خاورې انبار شوې، یوه بله کنده چې دوه ګزه اوږده او یو ګز پلنه وه همداسې روغه پرېښودل شوه، کنده وېستونکې درې تنان وه، هغوې خپل ټول کار پای ته ورسیدلو نو د مشر پادرې په اشاره درې پادریان هلته راغلل چې د هغوې سره تورې وې.

مشر پادرې کار کوونکو ته وویل: پاتې خاوره د باندې وغورزوې، هغوې بېلچې واخیستلې او د خاورې د راپورته کولو لپاره تیټ او ښکته شول نو هغه درې توره لرونکو پادریانو پرې په ډیره بېړه حمله وکړه او د درې واړو په غاړو یې د تورو ګذارونه وکړل، د هغوې سرونه قلم شول او ولوېدل، د هغوې درې واړو مړې او سرونه په هغه خالې کنده کې واچول او بیا یې خاورې پرې انبار کړې، هلته یې دوه قبرونه جوړ کړل.

مشر پادرې وویل: اوس به ددې خزانې د راز څخه هېڅوک هم نه خبرېږي.

د درې واړو قاتلان پادریان او راهبان وه.

د تاکاوی دروازه د نورو دروازو په شان نه وه بلکې د خونې په فرش کې ورته دروازه پرېښودل شوی وه لکه چې د بکس سر وي، کله به چې د

تاکاوې دروازه بنده شوی وه نو د فرش سره به یو ځای شوه او د پاسه به پرې څه سامان کېښودل شو .

مشر پادرې په تاکاوی کې ټوله خزانه او درې مړې پرېښودل او بیا راپورته شو ، دروازه یې بنده کړه او د هغې په سر یې قالینه خپره کړه ، د قالینې له پاسه یې یو کوچنې میز کېښودلو چې له پاسه یې پرې یو لوی صلیب هم نصب کړ چې حضرت عیسی علیه السلام د اعدام په حالت کې انځور شوې وو .

مشر پادرې نورو ته وویل : اوس باید مونږ لدې ښار څخه ووځو ، فاتحان دې راشي ، کله چې حالات ښه شول نو مونږ به هم بېرته راشو ، تر هغې به مال او دولت خوندې او محفوظ وي .

دا خبره هم واورۍ چې هیڅ ځوانه راهبه او نن باید شاته پاتې نشي کنه مسلمانان به د هغوې څخه وینځې جوړې کړي .

لمر پرېوتې وو ، طارق بن زیاد د طلیطې څخه شل ، دېرش میله لرې تم شوې وو ، هغه ته دا معلومات نه وو چې زید بن کساده او مغیث الرومي په څه حالت کې دي ؟

د طلیطې څخه څوارلس میله شمال ته یو بل کاروان هم اړولې وه ، هغه پوځ نه وو بلکې یو ولسې او پادرې کاروان وو چې نژدې یو نیم سل تنان پکې وه زیات یې مېرمنې او کوچنیان وه ، مشر پادرې د شپږو ، اوو نورو پادریانو سره پدې کاروان کې هم شامل وو ، کاروان د شین اسمان لاندې اړولې او په درانه خوب وېده وه ، د هغوې آسونه ، کچرې او خره جلا ولاړه وه .

د نیمې شپې وخت وو ، د تم ځای څخه لږ لرې د یوې ونې اړخ ته یوه ځوانه انجلۍ پټه ولاړه وه .

د هغې نوم اینا مېرې وه ، وېده کاروان ته یې په خیر سره کتل هغه راهبه وه .

هغه په دیارلس او څوارلس کلنۍ کې په زور سره کلیسا ته راوستل شوې وه ، اوس د هغې عمر دوه ویشت یا درویش کاله وه ، په ښکاره توګه خو هغه راهبه او نن وه چې دنیا یې خوشې کړې وه خو پادرې هغه خپله ملګرې

او معشوقه گرځولې وه او خپل جنسي خواهش يې ورڅخه پوره کولو ، دا ځه پټه خبره نه وه ځکه پادريانو دا خپل حق ګڼلو چې کلیسا ورکړې وو د وېده شوې کاروان څخه يو تور سيورې په کراره کراره د هغې په لورې راروان شو او هغې ته يې ځان را ورسولو .

اينا مېرې وويل : څومره وخت مې درته تېر کړ ، ته څرنګ داسې راغلې جيمې ؟ آسونه چېرې دي ؟ سمدستې آسونه راوله مونږ ددې ځای څخه بيرته ښار ته ځو .

جيم سيبرين وويل : پوره خبره خو وکړه اينا ! تا خو د ورځې همدومره ويلې وه چې د شپې دوه آسونه راوله ، تا يوازې همدې ونې ته اشاره وکړه .

جيم سيبرين چې په هغه کليسا کې نوکر وو په کومه کې چې اينا مېرې نن او راهبه وه ، د هغه عمر پنځه وېشت ، شپږ وېشت کاله وو ، اينا مېرې په هغه باندې بې کچه مينه وه ، جيم سيبرين پدې کليسا کې د شپږ مياشتو راهبسې کار پيل کړې وو او په ه مدې کليسا کې اوسېدلو ، د اينا مېرې چې کله په هغه سترګې ولګېدې زړه يې پرې وبللوده ، پدې کليسا کې درې ، څلور نورې ننې او راهبانې هم وې چې په ټولو کې اينا مېرې زړه راښکوونکې وه ، د پاخه عمر يو پادرې هغه تر خپلو سترګو لاندې کړې او د ځان ملګرې کړې وه ، هغه هم پرې عاشق شوې وو .

د جيم سبرين سره چې د اينا مېرې لومړنې لېدنه وشوه ، نو هغه هم پدې پوه شو چې د ده په زړه کې هم د هغې مينه او محبت پيدا شوې او په هغې بې زړه بايللې دې .

په لومړۍ لېدنه کې اينا مېرې د خپل زړه زخم جيم ته وښودلو ، نو هغه ته يې ويل چې هغه په څه توګه دې ته اړه شوه چې کليسا ته راشي پداسې حال کې چې د هغې عمر ديارلس ، څوارلس کاله وو ، هغې ته به ويل کېدل چې الله پاک دا د خپل عبادت لپاره غوره کړېده او اوس د هغې اړيکې د دنيا څخه شلېدلې دي .

اينا مېرې په لومړنی لېدنه کې جيم سيبرين ته وويل : پادرې چې زما سره کومه لوبه پيل کړې هغې زما زړه د دين څخه تور کړې ، حضرت يسوع

مسیح خو یو ځل په دار شوېدې خو زه هره شپه په دار کېږم ، د یسوع مسیح په لاسونو او پښو کې خو میخونه ټک وهل شوې وه خو زما په زړه او روح کې میخونه ټکوهل کیږي ، هره شپه او هره ورځ زه ګام په ګام مړه کیږم او بیا راژوندي کیږم ، ما خو د خپلې خوښې د یو خاوند خوب لېدلو خو هغه هماغسې خوب ثابت شو .

زه د یو انسان محبت او مینې ته اړتیا لرم خو څوک دي چې زما سره مینه او محبت وکړي ؟

اوس زما له بدن څخه بد بوي ځي ، ته به هم زما څخه کرکه او نفرت وکړي !

جیم سیبرین وویل : زه ستا د بدن او جسم سره هېڅ اړیکې نلرم اینې ! زه ستا زړه غواړم !

جیم په لومړي لیدنه کې اینا مېرې ته د هغه محبت او مینې ډاډ او باور ورکړ د کوم چې د روح او زړه سره اړیکې وې ، پدې توګه اینا مېرې ته هغه مینه او محبت په لاس ورغې د کوم لپاره چې هغه زورېدله ، هغوې دواړو د کلېسا څخه د تېښتې پلان جوړ کړې وو ، راهبانو وتل له کلېسا څخه امکان نه درلوده .

دا انجونې به د کلېسا بندیانې وې ، د هغوې یو ځانګړې ډول جامې وې چې د باندې ټولو خلکو پیژندلې ، په هغوې پېره او څارونکې هم ګمارل کېدل ، چې چیرې تېښته ونه کړي ځکه دا ټول کار او چارې جبرې وې او د چا خوښه پکې داخله نه وه ، حال دا چې دین په زور او جبر زړه ته نه ننوځي .

تر شپږو میاشتو پورې د هغوې محبت داسې درجې او حد ته رسېدلې وو چې د هغې څخه بیرته شاته تلل ګران او ناممکن وه ، جیم پدې ښار کې نابلد او نا اشنا وو نو ځکه هغه د اینا مېرې لپاره داسې ځای لټولو چې هلته دواړه پټ شي خو داسې امکانات ډیر کم لېدل کېدل ، هغوې دواړو یو پر بل باندې ځان قربانول یو عادې خبره ګڼله ، په همدې وخت کې طلېطې ته د مسلمانانو د راتګ او حملې خبرونه راورسیدل .

يوه ورځ جيم سيبرين اينا مېرې ته وويل : اينې ! اوس د دې وخت راغلی دی چې مونږ او تاسې سره وتښتو ځکه د ښار دروازې خلاصې وې ، خلک د کورنيو او کاروانونو په شکل له ښار څخه وځي ، مونږ هم بايد خپله څېره بدله کړو او ولاړ شو .

اينا مېرې وويل : هغه پادرې اوس په ما باندې پوره نظر ساتي کله چې زه بل لورې ته شم نو هغه راپسې ليونې غوندې شي .

جيم سيبرين ورته وويل : کومه بله راهبه هغه ته په لاس ورکړه !

اينا مېرې وويل : هغه د بلې راهبې څېرې ته هم نه ګوري !

جيم وويل : که ستا اجازه وې زه به هغه ووژنم ! بيا به دواړه په اسانتيا سره وتښتو .

اينا ميرې وويل : داسې مه کوه چې ونه نيول شې زه د خپل ځان په غم کې نه يم زما سره ستا غم دی .

بلاخره هغه شپه راغله چې اينا مېرې او جيم د کليسا د پادريانو سره يو ځای د ښار څخه ووتل او د کاروان په تم ځای کې وېده شول ، اينا مېرې د جيم په انتظار کې د يوې ونې تر څنګ ولاړه وه چې هغه راشي او بيا حرکت وکړي .

اينا مېرې وويل : د ورځې خو ما تاته پوره خبره نشوه کولای ! زمونږ مشر پادرې د کليسا په تاکاوي کې تړوله خزانه خښه کړېده ، هغه زما سره دومره مينه او محبت لري چې ماته ئې د خزانې ځای هم په ګوته کړ .

هغه وويل چې کله حالات سم شي نو مونږ به بېرته راشو او خزانه به تر هغې خوندي ساتل شوی وی .

جيم وويل : مونږ ددې خزانې سره څه اړيکې لرو ؟

اينا مېرې وويل : مونږ بايد دا خزانه راوباسو !

جيم وويل : ستا دماغ پر ځای ندی اينې ! مونږ به دا خزانه چېرې د ځان سره په سر ګرځوو ؟ چېرې به يې ساتو ؟

اينا مېرې وويل : جيم ! ټوله خزانه خو نه لړه برخه يې بايد د ځان سره واخلو ! ته زما سره ولاړ شه ، د خپلې اړتيا سره سم خزانه او شيان د ځان سره را اخلو او بيا به هلته په ښار کې زمونږ په خپل کور کې اوسېږو ، په

کلیسا کې نه بلکې زمونږ پخپل کور کې ! زمونږ کورنی لا مخکې تللې ده او کور پوره خالي پروت دی .

جیم وویل : که مسلمانان راغلل نو بیا به څه کوو ؟

اینامهرې وویل : مونږ دواړه به مسلمانان شو ! ما اورېدلي دي چې کله څوک د هغوي دین قبول کړي ، هغوي ورسره ډیر ښه سلوک او رویه کوي او هیڅ ډول زیان ورته نه رسوي .

جیم خو څه پرښتنه نه وه چې د خزانې وړاندیز یې نه منلو ، د خزانې څخه پرته د اینا مهرې مینې هم هغه لیونی او په پښو بندی کړی وو ، اینا مهرې هغه ته شنه باغونه وښودل او هغه سمدستي طلېطلې ته د تللو لپاره چمتو او تیار شو .

دا وخت په طلېطله کې هیڅ واکمن او بادشاه نه وو ځکه چې راډرک وژل شوی او بل څوک نه وو ټاکل شوی ، د راډرک زوي رچماند په خپلو مزو چړچو کې ډوب وو ، نورو درباري چارواکو هم خپل خپل کارونه کول ، د ښار دروازې خلاصې وې او هر څوک په خپل پروګرام او خپل سر له ښار څخه وتل ، حکومتي او دولتي نظم او دسپلین بالکل ختم شوي وو .

طارق بن زیاد د ښار په لوري را روان وو خو ددې حالاتو څخه هیڅ خبر نه وو چې د طلېطلې په ښار کې څه راپېدا شوېدي ، جولین او اوپاس خو د پخوانیو معلوماتو په اساس هغه ته ډیر شیان ویلي وه او د هماغې معلومات په بنسټ په اندیښنه کې وو ، هغه فکر کاوه چې په طلېطله کې به محاصره ډېره اوږده او جګړې به ډېرې خونړې وي ځکه دا د پیړیو څخه د اندلس پلازمینه وه ، د راډرک ځای ناستي به د هغې د ساتنې لپاره هر ډول قرباني ته چمتو او تیار وي .

پدې شپه چې د پادریانو کاروان د ښار څخه ووتلو او په لاره کې تم شو نو جیم په خپو پښو هلته ورغی او یو آس یې راخلاص کړ ، زین یې را واخیستلو او په آس یې برابر کړ او بیا د اینا مهرې په لوري راغی ، اینا مهرې هغه ښکته کېدو ته پرېنښوده او خپله آس ته ورپورته شوه او په آس

شاته ورسپره شوه ، د کاروان خلک پدې خبر نشول چې یو آس او دوه کسان د هغوې څخه پخپل سر د ښار په لورې بیرته ولاړل .

د سهار روښنائي خپرېدله چې کاروان د مخکې تګ لپاره تیار او چمتو شو ، کله چې پادرې اینا مېرې او جیم پیدا نه کړل نو چیغې او نارې یې پیل کړې ، نورو پادریانو په هغه پسې توکې او مسخرې پیل کړې چې دا انجلۍ خو نه ستا مېرمن وه ، نه دې لور او نه دې خور نو بیا دا چیغې او سورې د څه لپاره وهې ، هغه به د خپلې خوښې سره سم د کوم ځوان سره تللې وې همداسې یې له یاده وباسه .

ښه شوه چې ولاړه او د غم څخه خلاص شو ، پداسې خطرناک سفر کې د دومره حسینو او ښکلو پیغلو ګرځول ډېر خطرناک وې ، زمونږ سره نورې انجونې هم شته ، که دا وتښتې نو هم به ډېر ښه وشې .

پدې خبرو پادرې غلې او چوپ او د هغوې کاروان په وړاندې روان شو ، د تاریخې لیکنو سره سم دا کاروان د روم په لورې تللو کوم ځای چې پاپ اوسېده او هغه یې مرکز وو .

څه وخت چې کاروان د شپې له دمه ځای څخه حرکت کولو اینا مېرې او جیم د طلېطې ښار ته ننوتې وه ، هغوې لس ، دولس میله لاره په یوه شپه کې وهلې وه او د کلا د دروازې د خلاصېدو لپاره ولاړ وه ، کله چې دروازې پرانستل شوې هغوې سمدستې کلا ته ننوتل او بیا دواړه د اینا مېرې کور ته ولاړل ، د کور سامان او جامې همداسې پخپل حال پراته وه لکه چې د کور اوسېدونکې هسې د باندې وتلې او بیرته راتلوونکې وې .

دواړو ورځ په همدې کور کې تیره کړه ، خلک یو په بل پسې له ښار څخه تلل ، کورونه خالي کېدل ، که څوک به کوم خالي کور ته ننوتلو پوښتونکې نه وو چې ولې د چا کور ته ننوځې ، هلته داسې څوک نه وو چې اینا مېرې او جیم ته ووایې چې تاسې پدې کور کې څه کوې ؟

د نیمې شپې څخه لږ مخکې هغوې دواړه له خپل کور څخه ووتل او د لوې کلېسا په لورې وخوځېدل ، جیم د آس واګې نیولې وه او دواړه پیاده روان وه ، هغوې فکر کاوه چې ګوندې د کلیسا ودانۍ به تپه تیاره وې ،

څرنګه چې جيم او اينا مېرې هلته ښه بلد وه نو هغوې هر لورې ته په تياره کې هم رسېدلې شول ، هغوې د دې کلېسا د يوې يوې خښتې او يوې ډبرې سره بلد او اشنا وه .

د هغوې سره مشعل وو چې د کلېسا په لاندنۍ خونه کې يې بايد ولګوې ، هغوې لومړۍ عبادت ځاى ته ننوتل چې د هغې په يو کنج کې د تاکاوۍ لاره وه ، د جيم سره کداله وه چې د اينا مېرې له کور څخه يې را اخستې وه ، د جيم سره توره او خنجر دواړه خو د اينا مېرې سره يوازې خنجر وو .

جيم هلته مشعل ولګولو ، هغه په قالينه باندې ولاړ وو چې د هغې لاندې د تاکاوۍ دروازه وه ، اينا مېرې په بېړه هغه ټول شيان يو لورې ته وغورځول چې په قالينه باندې پراته وه ځکه هغې ته څرګنده وه چې همدلته دروازه ده ، هغه څو ځلې دې تاکاوۍ ته ښکته شوې وه ، دواړو دروازه پرانستله او بيا ورښکته شول .

هلته هرې خواته خاوره خپره پرته وه او دوه اوږده قبرونه جوړ شوې وه .

اينا مېرې وويل : پدى قبرونو کې خزانه خښه شوېده ګوره جيم ! مونږ څومره په اسانۍ سره دلته را ورسېدلو .

جيم ورته وويل : خو مونږ دومره مال د ځان سره نشو وړلاى !

اينا مېرې وويل : څومره چې وړلاىٔ شو هغه به يوسو .

جيم په خمار او نېشې حالت کې وويل : زه دلته هيڅ شې هم نه پرېږدم !
زه به دا ټوله خزانه ستاسې کور ته څو څو ځلې وړم تر څو چې ختمه شې ، هلته به دا ټول مال خښ کړو ، کله چې مسلمانان راغلل مونږ به ددې خزانې په خاطر ځانونه مسلمانان کړو تر څو هغوې زمونږ څخه خزانه وانخلې خو پټپل کور کې به همداسې عېسايان وو او خپل عبادت به کوو .

اينا مېرې وويل : زه د دين او مذهب نه پيژنم ، ماته مسلمان او عېسايې يو شانته دې ، ته يو قبر راخلاص کړه چې خپله خزانه ورڅخه واخلو .
کيندلو ته اړتيا نه وه ځکه چې نرمه خاوره راټوله شوې وه ، جيم سيبرين په بېړه خاوره يوې او بلې خواته کړه .

قبر پرانستل شو ، لږ شانته چې هغه نور کار وکړ نو داسې شاته راغې لکه چې کوم خطرناک مار ورباندې حمله او برید کړې وي .
اینا مېرې ورځخه وپوښتل : څه شي دې چې شاته ولاړې ؟
جیم سیبرین په ورخطایې سره وویل : رانژدې شه ته هم خزانه وګوره !
د اینا میرې په لاس کې مشعل وو ، هغه چې کله کندې ته نژدې شوه نو د خولې څخه یې چیغه ووتله ، په کنده کې درې مړې پراته وه چې سرونه یې پرې شوې او په سینه ورته ایښودل شوې وه ځکه نو هغوې دواړه وېرېدل .
اینا مېرې له وېرې او ډار څخه رپېدله او د جیم سره یې ځان نښلولې وو .
جیم سیبرین وویل : د دوې خو لا تر اوسه پورې وینې هم ندې وچې شوې ، داسې معلومېږي چې دوې لږ ځنډ مخکې وژل شوې او دلته خښ شوې دي .
اینا مېرې وپوښتل : دوې ولې وژل شویدې ؟
جیم سیبرین وویل : کېدای شي هغوې ته به معلومه شوې وې چې دلته خزانه خښه شوېده ، هغوې به د خزانې د لاس ته راوړلو لپاره راغلې وې ، دلته به پادرې خپل کسان پرېښې وې چې د خزانې ساتنه وکړې او هغوې به دا کسان وژلې وې ، داسې هم کېدای شي چې زیات کسان د خزانې پسې راغلې وې او د برخې د زیاتوالې لپاره یې دا درې ملګرې خپله وژلې وې .
اینا مېرې وویل : بیا خو خزانه له لاسه ووتله .
جیم وویل : ته لرې شه ! زه دا بله کنده او قبر لټوم ، د هغې څخه باید خاوره لرې کړم .
اینا مېرې لرې شوه او جیم سیبرین په دویمه کنده باندې بوخت شو چې خاوره ورځخه لرې کړې ، د هغه شا د تاکاوۍ د زینو په لورې وه ، ناڅاپه یو سړې په زینو باندې په منډه راښکته شو ، د هغه په لاس کې توره وه او نیغ جیم سیبرین ته ورغې .
هغه سړې وویل : دا زما خزانه ده ! مخکې لدې چې جیم رانیغ شې سړی خپله توره د هغه په شا کې د برچې په شان ومنډله ، حمله کوونکې خپله

توره د جیم سیبرین د شا څخه بهرته را ووېستله او بیا یې وویل : زه د همدې خزانې لپاره شاته پاتې شوې یم !

جیم د خاورو په څلې پرمخ پرېوتلو او سرې اینا مېرې ته مخ کړو ، اوس توره د هغې په بدن کې ننوتونکې وه ، هغې خپل خنجر د کمېس لاندې منډلې وو خو د خنجر وهل یې هم نه وه زده ، د هغې سره په لاس کې مشعل وو چې غټه لمبه یې لرله نو په بیړه مشعل د تورې په شان د حمله کوونکې په مخ باندې ور ووهلو ، د مشعل لمبې د حمله کوونکې پوستکې او سترګې وسوځولې ، هغه د درد څخه خپله توره وغورځوله او لاسونه یې په مخ باندې کېښودل .

اینا مېرې د حمله کوونکی د ختمولو لپاره یو ځل بیا د مشعل لمبه د هغه په مخ باندې کېښودله چې پدې سره د هغه څېره پوره وسوځېدله ، هغه شاته ولاړ او د جیم سره ټکر شو راولوېده او پرمخ پرېوت جیم داوخت اخرې سلګۍ کولې ، د هغه سره نژدې کداله پرته وه ، هغه په بد حالت کې کداله راپورته کړه او حمله کوونکې یې پرې ووهلو ، اینا مېرې هم خپل خنجر را ووېستلو او دوه ځلې یې د حمله کوونکې په سینه کې ورننوېستلو .

جیم په مړ ږوانده آواز وویل : اینې ! وتښته ! پخپل کور کې پټه شه !

اینا مېرې وویل : داسې نشې کیدای ، زه تا یوازې نشم پرېښودلې .

هغه د جیم سره نژدې کېناستله او د هغه سر یې پخپل غېږ کې کېښوده ، جیم آخرې سلګۍ ووهله او سر یې یو لورې ته کوږ شو ، حمله کوونکې هم مړ شوې وو .

مشعل په فرش باندې پروت سوځېدلو ، د تاکاوۍ په دیوالونو باندې سیورې نڅېدل او داسې معلومېدل لکه چې د دې پنځو وژل شویو روحونه ناڅي .

خزانه په دویمه کنده کې پرته وه ، په همدې کنده باندې دوه مړي پراته وه او وینه ورڅخه څڅېدله .

اینا مېرې د وېرې او دار څخه رپېدله ځکه چې هغه د پنځو مړو په منځ کې یوازې ولاړه وه ، د مشعل لمبې هغه نوره هم وېروله ، د هغې په زړه کې ناڅاپې دا ګمان پیدا شو چې کیدائی شې بل څوک هم دلته پټ وې او

هغه حمله وکړي ، هغې مشعل هماغسې لګېدلی پرېښوده او په منډه پورته شوه ، دروازه يې بنده کړه او د خپل کور په لورې روانه شوه ، هر لورې ته تپه تياره وه ، که هغه پدې ودانۍ کې بلده نه واي نو د هر شي سره به ټکرېدله او لاره به ورځخه ورکيداى ، يوازې وېرې او ډار د هغې پښې نيولې وې ، کله چې د کلېسا ځخه ووتله نو په منډه شوه .

د اندلس د پلازمينې او پايتخت شپه په چوپتيا سره تېرېدله خو ډېره وېرونکې وه ځکه د ښار زيات کورونه خالي شوي وه ، د يوې حسينې پيغلې لپاره تر ټولو زيات خطر موجود وو ، هغه په کلېسا کې د پټېدلو ځخه هم وېرېدله ، هغه په منډه خپل کور ته ورسېدله ، له دروازې چې ننوتله هغه يې د ځان پسې کلکه بنده کړه .

***

د همدې شپې ځخه وروسته چې کوم سهار شو ، په هماغه کې طارق بن زياد خپل لښکر ته د طلېطې په لورې د حرکت حکم ورکړ ، دا آخرې او اوږد سفر وو ، طارق بن زياد خپلو مرستيالانو او نور چارواکو ته ويلې وه چې طلېطه په ځه ډول تر محاصرې لاندې نېسو

دا د ۷۱۲ ميلادي او ۹۳ هجري کال د آخرې ورځو پېښه ده ، موسی بن نصير د مصر او افريقا والي د اتلس زره غازيانو سره د اندلس په جنوبي غاړه باندې ښکته شوې وه ، هغه د طارق بن زياد د مرستې او کومک لپاره نه وو راغلې بلکې هغه غوښتل د جنوب له لورې فتوحات پيل کړي او ټول اندلس دواړه په ګډه ونيسي .

موسی بن نصير خپل مشر زوی عبدالعزيز په قېروان کې پخپل ځای پرېښوده او دوه نور زامن عبدالله او مروان يې د لښکر سالاران وټاکل او د ځان سره يې د ملګرې کړل ، د هغه سره د جاسوسي ادارې تکړه سالاران هم ملګرې شول تر څو د دښمن د حالاتو ځخه ځان خبر کړي

طارق بن زياد به چې کله د اندلس ښارونه فتح کول نو د هغې د ادارې او نظم په خاطر يې عيسايان او يهوديان ټاکل ځکه چې د هغه سره ادارې چارواکې نه وه ، يوازې جګړه کوونکې غازيان ورسره زيات وه ، کله چې

موسی بن نصیر اندلس ته ورسېده نو خپلو جاسوسانو خبر ورکړ چې په مېدونه ، قرمونو او سېدونه کې چې کوم عیسایې او یهودیان چارواکي ټاکل شوي هغوي د مسلمانانو په خلاف د بغاوت او سرغړونې لپاره شرایط او حالات برابر کړېدي.

موسی بن نصیر په ډېره بېړه دې ښارونو ته د خپل لښکر سره ننوت او هلته یې ټول چارواکي خپل کسان وټاکل چې پدې توګه د بغاوت او سرغړونې مخه ونیول شوه.

موسی بن نصیر د دی ښارونو د سمبالولو څخه وروسته د اشبیلیه په لورې وخوځېده ځکه چې دا ښار طارق بن زیاد پدې خاطر له پام څخه غورځولې وه چې لومړې پلازمینه طلېطه خالي وه او هېڅ بادشاه او واکمن پکې نه وو ځکه د راډرک تر وژنې وروسته لا هلته څوک په رسمې توګه نه وو ټاکل شوې او دا ډېر غوره او مناسب وخت وو چې له هغې څخه باید کار واخیستل شی.

په هغه وخت کې تر ټولو مهم ښارونه غرناطه او قرطبه وه چې د دې ښارونو په نیولو سره ټولو ښارونو او اندلسیانو ځانونه ناکام او تسلیم بلل.

موس بن نصیر په میدونه ، سیدونه ، او قرمونه کې دا شبیلیه په هکله پوره معلومات تر لاس کړ ، بیا د خپل پوځ سره هلته ورسېده او ښار یې محاصره کړ ، هغه دا هیله لرله چې ښار به زر تر زره تسلیم شي خو د ښار خلکو پوره تیارې نیولې وو او مقاومت یې کولو.

کله چې موسی بن نصیر ښار کلا بند کړ نو د ښار پوځیان په ناڅاپي توګه د ښار څخه راوتل ، د خرب او ترپ جګړه به یې کوله او بیا به بیرته ښار ته ننوتل ، مسلمانانو ته دا نه څرګندېدله چې هغوي څخه وخت راوځې او څه وخت ورته تیارې ونیول شي ، پدې محاصره باندې نژدې یو میاشت تېره شوه.

موسی بن نصیر یو تجربه لرونکې سپه سالار وو خو د هغه عمر نژدې اتیا کالونو ته رسېدلې وو چې نور د خرپ او ترپ څخه وتلې وو ، هغه په خوانی کې ډېر زیات فتوحات کړې وه او داسې ښارونه ورته هیڅ هم نه ښکارېدل خو اوس د هغه عمر داسې شوې وو چې څواک پکې نه وو پاتې.

يوه ورځ د هغه دوه ځامنو عبدالله بن موسى او مروان بن موسى ډېر زړور او ميړنې کار وکړ ، کله چې د ښار څخه سپاره راووتل او جګړه پيل شوه ، مروان او عبدالله خپل ټول سپاره د کلا ديوال ته ورنژدې کړل او د اندلسي سپرو لاره يې ډپ کړه خو هغوې د ديوال څخه په غشو او برچو وېشتل کېدل سره لدې هم هغوې ځان کلک کړ ، کوم اندلسي سپاره چې د کلا څخه د باندې راوتلې وه هغه ټول يې يې ووژل ، پدې توګه درې ، څلور جګړې وشوې چې په هغې کې د کلا پوځ کمزورې شو بلاخره د يوې نيمې مياشتې خونړۍ جګړو څخه وروسته د اشبيليه ښار هم فتح شو .

د اندلس يو بل ښار د مريدا په نامه سره يادېدلو چې د طلېطې په شان يې اهميت درلوده ، موسى بن نصير د خپل وياړلي لښکر سره د مريدا په لورې وخوځېده .

***

مونږ يو ځل بيا د طلېطې په لورې وګرځو کوم چې طارق بن زياد هلته د فتح لپاره روان وو .

بربرې ګربت د دې څخه مخکې دومره فکرمند او اندېښمن نه وو لکه څومره چې دا ځل وو ، هغه ته چې د طلېطې په هکله څه ويل شوې وه هغې اندېښمن کړې وو ، هغه پدې خفه او غمجن وو چې موسى بن نصير ورته زيات کومک او مرسته نه وه رالېږلې ، هغه مرستې او کومک ته زياته اړتيا لرله ځکه چې خپل لښکر يې په درې برخو ويشلې وو او په درې لورو يې بريدونه پيل کړې وه ، د هغه ښه بخت او قسمت دا وو چې زيات بربريان ورته پخپل سر راغلې او د ده سره ملګرې شوې وه ، کنه هغه به د ډېرو ستونزو سره مخامخ شوې واى .

بربرې ګربت ته دا څرګنده نه وه چې موسى بن نصير د اتلس زره پوځ سره اندلس ته راغلې او په جګړه ئې لاس پورې کړې ځکه هغه وخت د اړيکو نيولو لپاره وسايل دومره زيات نه وو .

طارق بن زياد ته دا ويل شوې وه چې طلېطه د اندلس پايتخت او د بادشاهانو د کېناستو ځای دې او د هغې دفاع ښه قوي ده خو د نوې حالاتو او شرايطو څخه هغه خبر نه وو ، چې په طلېطه کې څه ډول حالات پېښ شويدي .

***

د طلېطې په بادشاهي ماڼۍ او قصر کې يو بل ډول ډرامه روانه وه ، هلته کوم بادشاه نه وو بلکې يوازې د بادشاه اولاد وو ، پدې اولادونو کې يوازې يو ځوان وو چې هغه د راډرک سکه او حقيقي زوې وه ، د هغه زوې نوم يې رچمانډ وو ، د رچمانډ عمر اتلس ، نولس کاله وو ، د قانون سره سم هغه د راډرک پر ځای بادشاه وو ، خو هغه په همدې کم عمر کې په مزو او چړچو کې اخته شوې وو ، مور او پلار يې پرې ډېر کوښښ کاوه چې هغه د حکومت او سياست په کارونو کې برخه واخلي خو د هغوې خوارې او کوښښ هېڅ فايده نه کوله ، رچمانډ د ښکار ډېر شوقي وو ، د هغه بل شوق دا وو چې کومه ښکلې او حسينه پيغله به يې ولېدله هغه به يې د ځان سره ملګرې کوله او څو ورځې به يې د ځان سره ساتله ، چې کله به ورته بله ښکلې پېغله پېدا شوه نو مخکنې به يې رخصت کړه ، بس هغه همدا دوه کارونه کول او د بل شي سره يې هيڅ کار نه درلوده .

راډرک د اندلس بادشاه وو ، هغه په خپله ماڼۍ کې د ښځو حرم جوړ کړې وو چې نه يوازې په هغې کې د اندلس ښکلې انجونې بلکې د شا او خوا هيوادونو څخه يې هم ښکلې او حسينې پېغلې راټولې کړې وې ، راډرک په هغې کې دوه ، درې له ځان سره داسې ساتلې لکه چې دا يې قانونې مېرمنې وې ، راډرک يوازې يوه قانونې او نکاحې مېرمن درلوده چې د رچمانډ مور وه ، د دوه ، درې ښځو څخه هم هغه اولاد درلوده خو هغه يې قانونې نه وو .

څکه نو هغوې ته د بادشاه اولاد نه ويل کېده ، د حرم پاتې مېرمنې خو به د څه وخت تېرېدو څخه وروسته شړل کېدلې او نوې ښځې به ورته راتللې خو هغه دوه ، درې پکې راډرک د ځان لپاره خوښې کړې او غوره کړې وې ، نو

څکه هغوئ په پاخه عمر کې هم په ماني او قصر کې اوسېدلې ، د هغوئ اولادونه هم ځوانان شوي وه

کله چې د راډرک پر ځای د کېناستې ستونزه او مسئله راپېدا شوه نو هغوئ هم د خپلو زامنو د بادشاه کېدو په لوبه کې دسېسې پیل کړې خو د راډرک د حقیقي زوي رچمانډ په ژوندانه باندې هېڅوک هم په تخت باندې نشو کېناستلې

په طلېطه کې د پوځ عمومي مشر جنرال یوګو بېلجې وو ، هغه د راډرک ښې لاس وو ، خلک او پوځیان پدې پوهېدل چې یوګو بیلجې دومره تکړه او هوښیار جنرال دې چې راډرک پخپله جګړې ته ځې خو هغه د طلېطې څخه د باندې نه لېږي چې له منځه ولاړ نشي ، بلکې حقیقت دا وو چې جنرال یوګو ب هلجې د ملکې د سترګو تور او ملکه په راډرک باندې پوره زړوره او واکمنه وه ، هغې په راډرک باندې حکم کولو او په هغه یې خپل حکم منلو ، ملکې ددې واکمنۍ او خپل سرۍ په بدل کې راډرک ته هر ډول ښکلې او حسینې پېغلې وړاندې کولې او هغه یې پدې خوشحاله او د لاسه ساتلو

د راډرک زوي رچمانډ به هم هغه دوه ، درې انجونې د خان سره خپلې خونې او کوټې ته بیولې کومې چې د راډرک د ملګرو ښځو لورګانې او د راډرک ناجائز اولاد وې

پدې انجونو کې یوه لیزا نومېده چې نولس ، شل کاله عمر یې درلوده ، د لیزا مشر ورور هم وو چې برګسن نومېده ، د هغه عمر څلرویشت ، پنځه ویشت کاله وو ، هغه هم د راډرک زوي او په مانۍ کې یې ځانګړې اختیارات لرل

جنرال یوګو بېلجې هم ډېر عیاش انسان وو ، کله چې راډرک ووژل شو نو په عملي توګه جنرال یوګو بېلجې د اندلس بادشاه او مشر شو او د ده حکم او امر چلېدلو ، د جنرال یوګو بېلجې لېزا ډېره زیاته خوښېدله ، کله چې راډرک ووژل شو نو جنرال د لېزا د لاس ته راوړلو لپاره منډې ترړې پیل کړې خو هغې خپل لاس جنرال ته نه ورکولو ، هغه لیزا ته ویلې وه چې د

هغې سره د مينې او محبت په خواکې نکاح کول هم غواړي ، سره ددې هم لېزا د هغه څخه ځان ساتلو ، بالاخره لېزا ته جنرال ګوت څنډنه وکړه او سخت اخطار يې ورکړ ، لېزا ورته وويل چې زه به پدې خبره ملکه خبره کړم ، هغه ته ځرګنده وه چې دا جنرال يوګو بېلجې له ملکې څخه ډير وېرېږي ځکه چې ملکه خو ملکه وه او هر څه يې کولای شول ، د جنرال يوګو بېلجې هر څه د همدې ملکې په برکت وه کنه هغه خو دومره سړې نه وو .

د رادرک د وژل کېدو څخه لږ وخت وروسته چې کله طارق بن زياد د طلېطې په لورې پرمختګ کولو نو يوه شپه لېزا د جنرال يوګو خونې ته ورغله

جنرال يوګو بېلجې ورڅخه وپوښتل : څرنګه دې دې لورې ته پښنه راوکړه ؟

لېزا وويل : ستا څنګ ته راغلم ، ولې ته پدې حيران يې ؟

جنرال يوګو بېلجې ورڅخه وپوښتل : کله چې دلته راتللې په لاره کې خو چا ونه لېدلې ؟

لېزا ځواب ورکړ : نه ! هېچا نه يم لېدلې !

لېزا ته ځرګنده نه وه چې کله هغه دې لورې ته راتلله نو هغه يو سړې ولېده او د هغې پسې شاته را روان شو ، دا سړې د رادرک زوې رچمانډ وو .

جنرال يوګو بيلجې وويل : زه ناپوه او بې عقل نه يم لېزا ! ستا څېره او ستا شان دا ځرګندوي چې ته د بل کوم مقصد او هدف لپاره دلته راغلې يې ! ماته خپل مقصد ووايه .

لېزا وويل : زه کوچنۍ او بې عقله يم ! زه پدې نه پوهېږم چې د يو چا د خپلولو لپاره څه ډول خبره پيل کړم ، په همدې خاطر زه ساده او نيغه خبره درته کوم ، که زما په ځاى تاسې هم وايې نو د دې کار څخه به مو انکار کولو ، زما او ستا په منځ کې د عمر توپير ته وګوره چې څومره دې ؟

خو اوس زه ځان تاته تسليموم که د نکاح سره ما خپلوې او که د نکاح څخه پرته ، هر ډول چې ستا خوښه وي .

جنرال ورته وويل : زه د بل شي په هکله درڅخه پوښتنه کوم لېزا ؟ د کوم مقصد او کار لپاره چې راغلې يې هغه راته مخکې ووايه .

لېزا وویل : ته پوهېږې چې برگس زما ورور دې ، پدې هم پوهېږو چې زه او هغه دواړه د بادشاه راډرک اولاد یو . آیا ته پدې نه پوهېږې چې د تخت وارث زما ورور برگس هم دی ؟

جنرال وویل : خو ته پدې ښه پوهېږې چې برگس د بادشاه قانوني او جایز اولاد ندې . مذهب او دین هم هغه د بادشاه زوی نه بولي ، ستا دا هیله د کوچنیانو په شان ده ، دا هیله د زړه څخه وباسه

جنرال یوگو بیلجې شراب څښل چې لېزا د هغه په غېږ کې ور کېناستله ، د کوچنیانو په شان یې د هغه سره لوبې پیل کړ ، په بوډا بدن او ځان کې شرابو او حسینې پېغلې نوې روح او نوې جذبه راپیدا کړه ، د شرابو او پېغلې نشه د هغه په بدن کې راوگرځېده چې په هغې سره بوډا او تجربه لرونکې جنرال ناپوهه او بې عقل انسان وگرځېده

جنرال یوگو بېلجې د لېزا څخه وپوښتل : ښه ته ووایه چې زه ستا ورور برگس په څه ډول په تخت باندې کینوم ؟

لېزا خواب ورکړ : رچمانډ ووژنه څکه چې هغه د تخت او تاج وارث دې ، که اعلان وشي او که ونشي هغه بادشاه دی ، که هغه ووژل شي نو بیا خو پخپله برگس تاسې بادشاه اعلانولې شی

بوډا جنرال د شرابو په نېشه کې په ډوب آواز سره وویل : ایا ته د خپل ورور په سر د بادشاهی تاج د کېښودلو لپاره د مور یوازینی زوی وژل غواړې ؟

لېزا وویل : یوازې د خپل ورور لپاره نه بلکې زه شهزاده رچمانډ ددې لپاره هم وژل غواړم چې هغه زمونږ هیواد ته زیان او تاوان رسوي ، تاسې گورئ چې نیمایې هیواد له لاسه وتلې دی

حسله کوونکې پوځ د سیلاب په شان را روان دې ، د دې شهزاده پلار وژل شوېدې خو هغه د پخوا په شان په مزو او چرچو کې ډوب دې ، پرون شپه زه هغه راونیولم او باغ ته یې له ځان سره بوتلم ، ما د هغه څخه ځان څرنگه خلاص کړای وې ؟ که زما وسه برې ورسېږې نو زه به هغه ته په خپل لاس زهر ورکړم ، ما ډېرې چیغې وکړې چې زه ستا د پلار لور او ستا خور یم ، هغه زما خبری ته هیڅ غوږ نه ایښودلو ؟

جنرال يوګو بيلجې ووېل : هو ! زه هغه ته حق ورکوم ، زه هغه وژلې نشم او نه يې وژنم !

لېزا ووېل ! ته اصلا له ملکې څخه وېرېږې !

جنرال يوګو بېلجې ووېل : داسې نده ! هيڅ پلار خپل زوې نشي وژلې ، رچمانډ زما خپل زوې دې ، دا د رادرک زوې ندې ، ملکه د رادرک څخه هېڅ اولاد نه لري .

د لېزا لپاره دا څه حېرانوونکې خبره نه وه چې څوک د چا اولاد دې او څوک ندې ، د بادشاه په ماڼۍ او قصر کې ډېر همداسې کارونه کېدل چې څوک د چا حقيقي اولاد دې ؟ دا يواځې د اولاد مور ته معلومېدله .

د جرمنې يو تاريخ ليکوونکې ليکلې چې رادرک په حقيقې توګه يو جګړه کوونکې بادشاه وو خو هغه داسې بادشاه وو چې خپل ولس يې نيمه ژوندې ساتلو او مزې چړچې يې خپل قانونې حق ګڼلو .

پوځ د داسې بادشاه ساتل په ځان لازم نه بولې چې د هغوې حقوق نه مراعاتوې ځکه نو رادرک د ډېر کم بربرې پوځ په لاس ماتې وخوړه .

د رادرک خپله مېرمن هم د هغه سره وفاداره او ملګرې نه وه ، کله چې هغه ووژل شو نو ملکې او د ښار ساتوونکې جنرال يوګو بېلجې شراب څښل او ښار د خلکو څخه خالي کېدلو .

لېزا د يوګو څخه وپوښتل : آيا تاسې ښار د مسلمانانو څخه خوندې ساتلې شی ؟

جنرال يوګو بېلجې ځواب ورکولو چې د خونې دروازه خلاصه شوه او يو ځوان هلته راننوتلو .

جنرال يوګو بېلجې په مينه ووېل : رچمانډ ! راځه !....راځه !

دا د بادشاه رادرک زوې رچمانډ وو چې حقيقې او اصلې پلار يې جنرال يوګو بېلجې وو .

رچمانډ هغه ته رانژدې شو ، هغه ليزا د ده خونې ته په راتللو کې لېدلې وه نو د خونې په کړکۍ کې يې غوږ نيولې او د هغوې ټولې خبرې يې اورېدلې وې .

رچماند د جنرال يوګو بېلجې څخه وپوښتل : نو ته زما پلار يې ؟ ما خو تر اوسه پورې ځان د بادشاه زوې بللو .

رچماند په ډېره بېړه خنجر راووېستلو پداسې حال کې چې يوګو بېلجې د شرابو په نشه کې ډوب وو ، مخکې لدې چې يوګو بېلجې ځان وساتې د رچماند خنجر د هغه په زړه کې ننوت ، رچماند يو ځل بيا هماغه خنجر د جنرال په زړه کې ورننوېستلو ، بوډا جنرال يوګو بېلجې راغبرګ شو او بيا پرمخ په ځمکه راپريوت .

لېزا چيغې کړې او د باندې تښتېدله چې رچماند هغه راګېره کړه ، هغه يې هم په خنجر باندې دوه واره ووهله او په ځمکه يې راوليده .

***

طارق بن زياد د خپل لښکر سره د تيګس سيند ته راورسېدلو ، هغه فکر کاوه چې د سيند په بله غاړه د پل هغې خواته به د اندلس پوځ ولاړ وي ، او د پل څخه به څوک نه پرېږدي ، چې بلاخره هلته به خونړۍ جګړه وشي ، خو د سيند په غاړه هېڅوک هم ولاړ نه وه .

طارق بن زياد وويل : ما ددې څخه مخکې داسې کوم چل نه وو لېدلې ، اندلسيان مونږ په خپل جال کې راګيرول غواړي .

سالار ابو زرعه طريف بن مالک وويل : هو ابن زياد ! دا د چل څخه پرته بل شې نه شي کيداى ، دا سيند د ښار څلور لورو ته پروت دې ، که مخکې ولاړ شو نو په سيند کې به راګېر شو چې د کلا پوځ به راباندې حمله وکړي او بيا راوتل به ګران شي :

طارق بن زياد وويل : خو زه ددې ځاى څخه بېرته هم نشم تللې ، مونږ به خامخا مخکې ځو .

طارق بن زياد چې په څه ډول خپل لښکر له پل څخه تير کړ هغه په تاريخونو کې دا رنګه بيان شوي .

لومړې هغه سپاره تېر کړل بيا يې ورپسې پياده روان کړل ، د پل څخه په تيرېدلو سپرو خپل پياده په منځ کې راګېر کړل که چېرې حمله وشي نو هغوې به خپله دفاع کوي ، غشي وېشتونکې دواړو اړخونو ته روان وه .

هغوی ښې او چپ لورې ته څارنه کوله او د ناڅاپي برید په صورت کې د دښمن غښې ویشتونکې په ننبه کول وه .

طارق بن زیاد په پوره احتیاط سره پرمختګ وکړ او څو سپاره یې د کلا نورو لورو او برخو ته هم واستول چې د پوځ او دښمن معلومات راوړي .

په ښار کې یو دم چیغې شوې چې هغه دي راغلل ، دا آواز په ټول ښار کې زر تر زره خپور شو او ټول پاتې خلک پرې خبر شول ، په ښار کې یوازې ګوت قوم او یهودیان پاتې وه نور ټول د ښار څخه تښتېدلي وه .

د طارق بن زیاد استولي شوې سپاره بېرته راغلل ، هغوی وویل چې د ښار په هیڅ اړخ او لورې کې د دښمن هېڅوک هم ونه لېدل شو ، طارق بن زیاد لا مخکې لېدلې وه چې د کلا په دیوال باندې هېڅوک هم نشته

طارق بن زیاد فکر وکړ چې نور احتیاط هم ضروري دي ، هغه خپل سالاران ، جولین او اوپاس د سلا مشورې لپاره راوغوښتل ، هغوی فیصله کړې وه چې ښار باید محاصره شي او تر ډېره وخته پورې باید محاصره دوام وکړي .

د سپرو د ډلې مشر قوماندان طارق بن زیاد ته وویل : مونږ د ښار دروازې خلاصې او پرانستې ولېدلې ، خلک د هغې دروازو څخه وتل ، کله چې هغوی مونږ ولېدلو نو څه د باندې لورې ته وتښتېدل او څه دننه ولاړل .

هغوی پدو خبرو کې بوخت وه چې یو چا وویل : هغه دي د کلا لویه او عمومي دروازه پرانستل شوه ، ټولو هغه لورې ته وکتل ، پنځه شپږ مخور کسان په آسونو سپاره د دوې لورې ته را روان شول .

هغوی پوځیان نه وه خو دې لورې ته راتلل ، طارق بن زیاد او نور سالاران هغې لورې ته ور روان شول نود ښار څخه راتلوونکو خلکو آسونه را په منډه کړل .

د ښار څخه په راتلوونکو کسانو کې یو په لوړ آواز سره وویل : مونږ د سولې او روغې جوړې پېغام راوړې دي ، زمونږ سره ولاړ شي او ښار تسلیم کړي

اوپاس او جولین هغه راتلوونکي خلک وپېژندل ، دوه پکې یهودیان او نور د ګوت قوم وه ، هغوی د آسونو څخه ښکته شول ، د جولین او اوپاس سره یې روغبړ وکړ بیا یې د طارق بن زیاد سره ستړي مشي او روغبړ وکړ

د پلاوې مشر وویل : تاسې لوی او ستر یاستی طارق بن زیاد ! اندلس ستاسې دې .

طارق بن زیاد وویل : زه لوې او ستر نه یم بلکې الله جل جلاله لوی او عظیم دې ، دا زما هېواد نه بلکې د الله جل جلاله ځمکه ده ، ، په اسلام کې هېڅوک بادشاه نشته یوازې الله جل جلاله بادشاه او شاهنشاه دې ، د هغه په هیواد او مملکت کې هر انسان مساوې حقوق لرې .

د ګوت د قوم یو مخور سړې وپوښتل : آیا مونږ دا هیله لرلې شو چې مونږ ته به خپل حق پوره راکول کېږې ؟

طارق بن زیاد ځواب ورکړ : تاسې ته به داسې حق درکول کېږې چې راتلوونکې نسلونه به یې هم یادوې .

وروسته همدا ژمنه په پراخه زړه سره پوره شوه ، د وتېزا او اوپاس اولادونو ته ښه زیاتې ځمکې او جایدادونه ورکول شول چې راتلونکی نسل ته هم پاتې شول .

طارق بن زیاد د پلاوې له مشر څخه وپوښتل : تاسې ولې دلته راغلې یاستی ؟ آیا په ښار کې د پوځ کوم لوړ پوړې چارواکې یا د بادشاهی کورنۍ کوم سړې نه وو چې دلته راغلې وای ؟

طارق بن زیاد ته ځواب ورکړل شو : ښار خالې شویدې ، پوځیان هم له ښار څخه وتلې دې ، یو جنرال یوګو بېلجې وو چې هغه د رادزک زوې رچمانډ ووژلو ، په بادشاهې مانۍ کې به ستاسې هرکلې کیږې .

که چېرې د پلاوې د خلکو سره جولین او اوپاس نه وای نو طارق بن زیاد به دا دوکه او چل بللو ، وروسته ټول د پوځې ګروپونو سره یو ځای د ښار په لورې روان شول

کله چې غازیان د طلیطې مرکزې ښار ته ننوتل نو په ښار کې پاتې اوسیدونکو خلکو نارې او چیغې پیل کړې او مسلمانانو ته یې هرکلې وویلو ، غازیان هغه پوځې بارکونو ته بوتلل شول چېرې چې پخوانې پوځ اوسېدلو ، طارق بن زیاد ، اوپاس ، جولین او نور سالاران بادشاهې مانۍ او سلطنتې قصر ته بوتلل شول .

د دې ښار او پايتخت څخه چې څومره سره ، سپين او نور مالونه مسلمانو ته په لاس ورغلل هغه بې شماره او بې حسابه وو ، هغه کورونه تالاشي شول کوم چې د دولتي چارواکو وو او اوس خالي پراته وه ، د هغې څخه بې شماره ملغلرې ، قيمتي ډبرې ، سره او سپين هم راپيدا شول ، د تراش او توړل شويو ملغلرو او قيمتي کاڼو دوه انبارونه پيدا شول

د طارق بن زياد د حکم سره سم د بادشاهي ماڼۍ او قصر ټول قيمتي شيان سره ، سپين او قيمتي ډبرې يو ځای ته راټول شول ، تاريخونه ليکي چې دومره زيات مال او دولت هلته راټول شو چې يوه لويه خونه ورڅخه ډکه شوه ، پدې سره د طارق بن زياد رنګ تک ژېړ شو ، پدې قيمتي شيانو کې د بادشاهانو هغه تاجونه هم وه چې تر راډرک پورې يې په اندلس باندې بادشاهي کړې وه

هغه وخت به د هر بادشاه لپاره د سرو زرو تاج جوړيدلو چې د مرګ څخه وروسته به هلته د نمونې او يادګار په توګه ساتل کېده ، او د نوې بادشاه لپاره به نوې تاج جوړېدلو ، طارق بن زياد ته د دې ماڼۍ څخه پنځه ويښت د سرو زرو تاجونه په لاس ورغلل چې ټول د خالصو سرو زرو څخه جوړ شوي وه .

تاريخ ليکوونکی پروفېسر ډوزې ليکلي دې چې د هر بادشاه تاج به د نذر په توګه لوې کلېسا ته ورکول کېده

خو نورو تاريخونو ليکلي چې طارق بن زياد ته پنځه ويښت تاجونه د راډرک له ماڼۍ څخه په لاس ورغلل

تاريخ پوه لين پول ليکلي دې چې په طلېطه کې يوازې يو جنرال وو چې هغه هم د راډرک د زوې رچماند لخوا څخه ووژل شو ، بل کوم چارواکې هلته نه وو ، د ماڼۍ مشر هم ورک وو ، په بادشاهي ماڼۍ کې ملکه او د هغې ځوان زوې رچماند وو ، په بادشاهي حرم کې د پاخه عمر مېرمنې او دوه ، درې ځوانې انجونې پاتې وې نورې پاتې ټول تېنتېدلې وې .

د اندلس پلازمينه طلېطه باندې اوس د بربرې ګربت طارق بن زياد واکمنې وه ، ګوت او يهوديان د هغه سره ملګرې شوي وه ، طارق بن زياد د

هغوي څخه ځو هوښيار او تجربه لرونکي خلک غوره کړل او د ښار چارې يې ورته وسپارلې تر څو د ښار اداره او نظم وساتي .

مسلمان غازيان ابادو کورونو ته نه ننوتل او نه يې د هغې تالاشي اخيستله ، يوازې د هغو کورونو څخه سامان راوويستل شو چې د چارواکو وه او خالي پاتې شوې وه .

سبا سهار طارق بن زياد ته خبر ورکړل شو چې يوه پيغله انجلۍ ستاسې سره لېدل غواړي ، طارق هغې ته د لېدلو اجازه ورکړه ، يوه ډېره ښکلې او حسينه انجلۍ پداسې حال کې طارق بن زياد ته راغله چې د وېرې او ډار اثار يې په څېره کې معلومېدل او خپلې پښې يې په ځان پسې راکشکولې .

طارق بن زياد د خپل ژباړونکي په خوله هغې ته وويل : زه هم ستاسې پشان يو انسان يم ، د هغې څخه پوښتنه وکړه چې د څه لپاره دلته راغلې ده ، ايا هغه کوم مسلمان زورولې ده ؟

انجلۍ خپل سر وښورولو او وې ويل : داسې نده ! هيڅ مسلمان ماته کتلې هم ندي ! زما نوم اينا مېرې دې ، زه راهبانو او پادريانو په زور سره نن او راهبه ګرځولې ووم ، ما اورېدلې دي چې ستاسې کسان کلېساګانو ته تللې وه او هلته ورته څه په لاس ندي ورغلي ، تاسې خپل کسان زما سره لوې کلېسا ته واستوی ، د کلېسا خزانه د لوې کلېسا په تاکاوۍ کې خښه شوېده ، که ستاسې له راتګ څخه مخکې هغه چا وېستلې وي نو د هغې سزا ماته مه راکوۍ ، کله چې تاسې هلته ښکته شې نو دومره مرې به د باندې او درې مرې به په يوه کنده کې وګورې ، د هغې کندې په خوا کې بله کنده هم ده چې د خاورو څخه ډکه شويده او د قبر په شان معلومېږي ، خزانه به په همدې کنده کې وي .

طارق بن زياد ځو غازيان د دې انجلۍ سره ملګرې کړل ، انجلۍ هغوې د لوې کلېسا تاکاوۍ ته بوتلل ، هغوې هلته دوه مرې د باندې پراته ولېدل او درې مرې په کنده کې پراته وه .

کومه کنده او قبر چې لا کندل شوې نه وو هغه دې غازیانو راوسپړلو ، د هغې کندې څخه د خزانې ټول بکسونه بند او ډک په لاس ورغلل کوم چې پادریانو د نورو کلیساګانو څخه امانت راوړې او دلته یې خښ کړې وه .

هغه وخت چې د لوې کلیسا د تاکاوي څخه خزانه راوېستل کېده اوپاس د مېرنیا سره د هغې په خونه کې ناست وو ، مېرنیا هغه ښځه وه چې په خوانۍ کې یې د اوپاس سره مینه کړې وو .

هغه وخت د اندلس پاچاه وتېزا وو ، بادشاه پدې خاطر د دې دواړو نکاح او واده سره نه کولو چې مېرنیا یهودنه وه ، بله دا چې اوپاس شهزاده وو او میرنیا یوه عامه ښځه وه ، بله دا چې د دوې په مینه او محبت باندې داسې غر راپرېوت چې رادرک بغاوت او سرغړونه وکړه او وتېزا یې ووژلو ، کله چې د رادرک سترګې په مېرنیا ولګېدې ، نو هغه یې په خپل حرم کې داخله کړه .

اوپاس د مېرنیا سره د هغې په خونه کې شپه تیره کړه ، د اوپاس هیله دا وه چې مېرنیا به په هغه باندې ځان قربان کړې خو په مېرنیا کې بدلون راغلې وه چې هغه یې چوپه او غلې کړې وه ، هغې مسکا هم ونه کړه ، هغې به چې کله خبرې کولې نو یو ډول رهبانیت ورڅخه ځرګندېده ، داسې معلومېده چې میرنیا نن او راهبه شوېده او د هغې د ددې دنیا سره هېڅ مینه او محبت نشته .

اوپاس ورڅخه وپوښتل : مېرنیا ! پاتې عمر زما سره تېرول غواړې ؟

مېرنیا په بوڅه خوله وویل : نه اوپاس ! زما پاتې عمر به اوس په عبادت ځای کې تېرېږي ، کیدای شي زما روح پاک شي ، زه اوس خپل خدای ته نژدې کیدل غواړم .

اوپاس په خندا سره وویل : مېرنیا ! راهبه مه ګرځه ، تر اوسه پورې هم خوانه یې ، د آزاد ژوند خوند هم وګوره .

مېرنیا وویل : داسې نده اوپاس ! په ما چې څه تېر شویدې ، د هغې څخه ته ښه خبر یاست ، ما اوس له خپل زړه څخه اوباسه ! یو کار وکړه اوپاس !

زه دې نوې فاتح سپه سالار طارق بن زیاد ته چې راډرک حکومت یې ختم کړی دی یوه ډالۍ ورکول غواړم ، ما سبا هغه ته ورولېږه
اوپاس وپوښتل : ډالۍ څه شي دې ؟
مېرنیا وویل : یو دروند بکس دې ، درې ، څلور کسان درسره راوله چې هغه راسره ورسوي
سبا چې کله د طارق بن زیاد غازیانو د کلیسا څخه خزانه راوېستله اوپاس یو دروند بکس را روان کړې وو ، خونه د یو کال څخه زیات وخت بنده او قلف وه ، کله چې اوپاس مېرنیا ته ورغې نو هغې دا بنده خونه خلاصه کړه ، اوپاس چې کله هغې خونې ته ننوت نو بېرته پشا راستون شو
اوپاس له مېرنیا څخه وپوښتل : مېرنیا ! پدې خونه کې څه شي دې ؟ دومره بد بوې ؟
ایا پدې خونه کې کوم انسان مړ شویدې او که کوم څاروې ؟
مېرنیا ځواب ورکړ : دا بد بوې د خونې د بندوالي په سبب ده ، دا وګوره چې په خونه کې څه پراته دې ، دا د یهودي ساحر او جادوګر بوسجن خونه ده ، هغه به دلته د انسانانو زړونه ، دماغونه او کوپړۍ ساتلې ، دلته ماران او لړمان هم ساتل کېدل ، داسې بوټې او شیان به یې هم ساتل چې انسان به نې بې سده او بې هوشه کولو
اوپاس وپوښتل : هغه اوس چېرې دې ؟
مېرنیا وویل : هغه تللې دې ، زه اوس د هغه بکس طارق بن زیاد ته ورکول غواړم
اوپاس وپوښتل : په هغې بکس کې څه شي دې ؟ ایا ته پدې نه پوهېږې چې د هغې څخه څومره بد بوې راځې ؟
مېرنیا وویل : اوپاس ! دا به یوازې طارق بن زیاد ګورې چې په هغې کې څه دې ؟ که هغه بده وګڼله نو زه سزا ګاللو ته تیاره یم
اوپاس د مېرنیا سره یو ځای د څلور کسانو د لرګي بکس پورته کړ ، طارق بن زیاد مخې ته ورغې

اوپاس طارق بن زیاد ته وویل : ابن زیاد ! دا د هغه ښځه چې تاسي ته يې په زرګونو ګوتې او یهودي پوځ درکړې وو ، دا د دې مېرمنې کمال وو چې د ګادلیت په مېدان کې د راډرک په زرګونو پوځ د هغه څخه جلا شو او ستاسې سره ملګري شو .

مېرنیا وویل : ای سپه سالار ! ما دا کار د انعام لپاره ندې کړې ، ما د راډرک څخه غچ او انتقام اخیستې دې ، زه ستاسې خوښې هم نه غواړم ، ما خپل روح خوشحاله کړېدې ، ما ستا لپاره یوه ډالۍ راوړېده .

د لرګي بکس د طارق بن زیاد په وړاندې کېښودل شو ، مېرنیا د بکس قلف خلاص کړ او د بکس سر يې پورته کړ ، طارق بن زیاد او نور ملګري چې هلته ولاړ وه شاته شول ، ټولو په خپلو پوزه باندې لاسونه او دسمالونه کېښودل ، د بکس څخه داسې بد بوې پورته شوه چې په خونه کې پاتې کېدل ګران شول .

طارق بن زیاد وپوښتل : پدې بکس کې څه دی ؟

مېرنیا وویل : د یو انسان مړې دې چې د یو کال څخه راپدیخوا پکې بند پروت دې .

جولین وپوښتل : د راډرک مړې خو دا ندی !

مېرنیا ځواب ورکړ : نه د هغه ندې ! راډرک مونږ یوازې د تللو په وخت کې لېدلې وو او بیرته مو ندې لېدلې .

جولین ! تاسې دا مړې پیژنی چې څوک دې ؟ دا د بوسجن یهودې ساحر مړې دې ، د راډرک ګران منلې جادوګر او ساحر ! سپه سالار ته ووایه که دا ژوندې پاتې وای نو تاسې به اوس دلته د فاتح په توګه نوې را رسېدلې ، دلته به اوس راډرک ولاړ او طارق بن زیاد به په زنځیرونو کې تړلې ولاړ وو .

طارق بن زیاد وویل : دې مېرمنې ته ووایه چې پوره خبره څرګنده کړي .

جولین وویل : ابن زیاد ! ددې نوم بوسجن وو، د به راډرک ته د راتلوونکې وخت حالات بیانول ، دا د جدول او نجوم په علم کې لوړه درجه لرله ، راډرک دده وړاندوینې ریښتیا بللې ، راډرک هغه د ځان سره د تل

لپاره ساتلو ، راډرک به دهغه د پوښتنې او مشورې څخه پرته هېڅ کار نه کولو ، بوسجن ساحر ، جادوګر او مدارې وو .

طارق بن زیاد وپوښتل : ایا هغه یهودې وو ؟

جولین ځواب ورکړ : هو !

طارق وویل : جادو او سحر د یهودیانو کار دې ، او همدا خلک پدې کار کې لاس او مهارت لرې .

اوپاس وویل : اوس به مېرنیا ووایې چې هغه په څه ډول ووژل شو .

مېرنیا وویل : کله چې راډرک بادشاه ستاسې مقابلې ته تللو نو د هغه په وړاندې څه بد فال پروت وو ، راډرک بوسجن راوغوښت او هغه ته یې وویل چې دا بد فال د ده په حق کې سم کړې ، تر څو په دښمنانو غالب او برلاسې شې ، ساحر له راډرک څخه شپاړس ، اولس کلنه پېغله وغوښتله ، ساحر ویلې وه چې ددې پیغلې زړه به راوباسې او په هغې به داسې جادو کوې چې ستاسې ماتې په فتح بدله شې او دښمنان دې تباه او برباد شې .

راډرک بادشاه ما ته حکم وکړ چې دا ډول پېغله ساحر او جادوګر ته ورکړم ، زما سره پداسې عمر کې یوه انجلۍ وه ، ما د شپې هغه انجلۍ د ساحر خونې ته وروستله ، هغه انجلۍ د زړه راوېستلو لپاره په مېز باندې څملوله او هغه ورباندې ورکوړ شو ، پدې وخت کې ما د هغه په سر باندې په یو کوتک ګوذار وکړ او دوه ، درې ګذارونه مې ورکړل چې هغه بې سده شو او راپریوت ، بیا مې د هغه ستونې خفه کړ او پخپل لاس مې مړ کړ ، بیا مې راغبرګ کړ او په بکس کې مې بند کړ ، راډرک بادشاه سهار روان شو ، ما هغه انجلۍ د پلار کور ته ورسوله ، د هغې شپې څخه دا جادوګر پدې بکس کې بند دې ، که دې جادوګر خپل جادو کړې وای نو فتح به د راډرک په برخه وای .

طارق ورځخه وپوښتل : تاسې د هغه مردار مړې ماته د څه لپاره راوړیدې ؟

مېرنیا وویل : زما سره ستاسې لپاره دده څخه غوره ډالۍ نوره نه وه ، مړې نشته ، اوس یوازې هډوکې پاتې دې ، هغه یا وسوزوې یا یې خښ کړې ، زه پس لدې آزاده یم .

مهرنیا سلام واچولو او نوره روانه شوه ، هغې له ځان سره وویل : زه اوس آزاده یم ، زه اوس آزاده یم .

اوپاس هغه ډېره ولټوله خو پېدا یې نکړه ، هغه د ښار ښځه وتلې وه .

## ایجیلونا

د طارق بن زیاد سترګې په هغې دروازې نښتې وې د کومې ښځه چې مهرنیا وتلې وه او دا یې ویل : زه اوس آزاده یم ، زه اوس ازاده یم

د طارق بن زیاد په پراخه تندي باندې ګنځې راغلې ، په یقینې توګه چا نشول ویلای چې هغه په څه شي باندې فکر کولو

هغه به شاید پدې فکر کولو چې که مهرمنې دا ساحر او جادوګر نه وای مړې کړې نو څه به کېدل

هغه به دا فکر هم کولو چې نبی صلی الله علیه وسلم چې هغه ته کوم زېرې ورکړې وو د هغې د پوره کولو لپاره الله جل جلاله څومره حېرانوونکې کارونه وکړل ، یوه بې حیا او آبرو بایللې ښځه چې مسلمانه هم نه وه او د اسلام د سر سخته دښمنانو د قوم غړې وه د خپل قوم یو جادوګر یې پدې خاطر ووژلو چې هغه د مسلمانو غازیانو د فتح کولو لپاره کوښښ کاوه

هغه په فکر او سوچ کې ډوب وو چې د باندې یې د څو کسانو آواز واورېده چې ویل یې مونږ د سپه سالار سره لېدل غواړو

پېره کوونکې وویل : زمونږ څو خپل کسان غواړې ستاسې سره وګوری

طارق بن زیاد د فکر او سوچ څخه رابېدار شو او وې ویل : دلته په مانۍ کې چې کوم بادشاه وو هغه وژل شوېدې ، دلته کوم بادشاه نشته چې هغه ته د لېدلو لپاره اجازه اخیستل ارین وي ، هغوې راخوشې کړه چې راشي

کله چې پېره کوونکې د دروازې څخه یو لورې ته شو نو درې کسانو په ګډه یو میز رانیولې او دننه راننوتل ، درې واړه د طاق بن زیاد د لښکر غازیان وه ، چې یو پکې مشر وو ، مېز کوچنې ښکارېده خو وزن یې زیات وو څکه نو درې کسانو په ګډه رانیولې وو

طارق وپوښتل : دا څه شي دې ؟

سرګروپ خواب ورکړ : دا مېز دې سپه سالار ! مونږ په لاره کې خلک له تېښتې څخه منع کول چې باید تول بیرته خپلو کورونو ته ولاړ شي ، ستاسې د مال ، دولت او آبرو ساتنه زمونږ په غاړه ده ، پدې وخت کې د

ښار د شاتنۍ دروازې ښخه يوه بګۍ او ګاډې راووتله ، مونږ ورته د ودرېدو اشاره وکړه خو ګاډي وان هغه په منډه کړه ، زمونږ شک پيدا شو ، مونږ هم وريسې آسونه ورخوشې کړل او په لاره کې مو ګاډې رامنع کړه ، په هغې کې درې داسې کسان ناست وه چې راهبان معلومېدل ، د هغوې سره دا مېز وو چې د سرو زرو ښخه جوړ شويدې .

ما د هغوې ښخه وپوښتل چې ولې په اشاره باندې ونه درېدلی ، هغوې وويل چې د دې ميز د ساتلو په خاطر مونږ نشو ودرېدلای ، ما ورته وويل چې زمونږ سره را روان شی نو هغوې زارې او ننواتې پيل کړې چې دا مېز ډېر مقدس او مبارک دې ، مونږ دا د بل دين خلکو ته نشو سپارلې ، ما هغوې د خان سره دلته راوستې دې .

طارق بن زياد وويل : هغوې دننه راولی !

درې واړه راهبان دننه راغلل

طارق بن زياد وويل : که دا ميز د سرو زرو وې نو بيا خو ډېر قيمتې دې ! زه ستاسې درناوې کوم چې درې واړه راهبان ياستی خو دا ميز بېرته نشم درکولای .

يو راهب وويل : دا مېز د خالصو سرو زرو ښخه جوړ شويدې ، د دې ميز په پښو کې ملغلرې ، قيمتې کانې ، غمې لکه زمرد ، زبر جد او نور قيمتې شيان لګېدلې دې ، مونږ دا مېز پدې خاطر نه تښتولو چې ګوندې تاسې ګورې چې پدې باندې يو راحل هم ايښودل شوې چې هغه ورسره نښتې دې .

دا زمونږ د کليسا مال دې ، تاسې شايد يقين ونکړې چې دا مېز د حضرت سليمان عليه السلام دې ، يو وخت يو بادشاه تيتوس په يرو شلم باندې بريد کړې وو او دا يې تر لاسه کړ ، هر بادشاه چې په تخت کيني نو پدې ميز کې يوه ډېره قيمتې ملغلره او غمې د نښې په توګه ږدې ، مونږ ستاسې ښخه غوښتنه کوو چې مونږ لدې ميز ښخه بې برخې نکړې دا د حضرت سليمان عليه السلام يادګار دې

طارق بن زیاد وویل : اوس خو د اندلس تخت او تاج زمونږ په لاس کې دي ، اوس نو دا مېز باید زمونږ سره وي او مونږ ددې حقدار یو .

ټولو تاریخونو دا لیکلې دي چې ددې میز پښې ورځخه جلا کیدای هم شوې ، او بیا ورسره بېرته یو ځای کېدای هم ، طارق بن زیاد میز راهبانو ته بېرته ورنکړ او د خپل ځان سره یې وساتلو .

طارق بن زیاد خپلو نامتو سالارانو او مشرانو ته وویل : د امېر المؤمنین لپاره به ددې څخه غوره او لویه ډالۍ بل څه وي ؟ زه پخپل لاس دا مېز هغه ته په دمشق کې وړاندې کوم .

یو راهب وویل : مونږ سپه سالار په یوه خبره پوهول غواړو ! تر اوسه پورې هیڅ بادشاه ددې میز دعوه ندې کړې چې دا زما حق دې ، هر بادشاه به ویل چې دا د حضرت سلیمان علیه السلام مېز دې ، سپه سالار باید پدې پوه شي چې حضرت سلیمان علیه السلام د پېریانو او جنیاتو پېغمبر وو ، ددې مېز ساتوونکې پېریان او جنیات دي ، ځکه نو دا په کلېسا کې ساتل کیده ، که سپه سالار یا بل چا ددې دعوه وکړه چې دا زما مال دې نو هغه به پداسې مرګ مړ شي چې خوار او ذلیل به وي .

طارق بن زیاد وویل : دا مېز به د سلیمان علیه السلام په نامه ساتل کېږي ، مونږ مسلمانان یو ، مسلمانان سره او سپین زر د ځان سره نه ساتې ، تاسې ټول اوس تللې شې ، د ښار څخه تېښتې ته اړتیا نشته ، خپلو کلېساګانو او خپل د عبادت ځایونو ته په آزاده ټول تللې شې ، ستاسې او ستاسې د عبادت ځایونو سپکاوې به نشې کېدای .

سبا سهار د ماښم په پراخه میدان او چمن کې طارق بن زیاد د سهار د لمانځه امامت وکړ ، هغه چې کله د لمانځه څخه وزګار شو او د ماښه په لوري تللو نو یو سړې ورته راغې ، هغه یو لوړ پوړې چارواکې وو او د استازې دنده یې سرته رسوله ، د هغه نوم ادرېس ابو القاسم وو ، هغه له لرې څخه راغلې وو .

استازي له طارق بن زياد څخه وپوښتل : ابن زياد ! آيا تا ته څرګنده ده چې د مصر او افريقا امېر ښاغلي موسی بن نصير د اتلس زره لښکر سره اندلس ته راغلي دي ؟

طارق بن زياد په حېرانتيا او تلوسه سره وپوښتل : کله راغلی؟ هغه چېرې دې ؟

زما هيله همدا وه چې هغه به زما مرستې ته خامخا راځي !

ادريس ابوالقاسم طارق بن زياد ته وويل : د يو کال څخه راهيسې دې هيواد ته راغلي دي ، کوم ښارونه او سيمې چې تا له پام څخه غورځولې وې هغه ټولې يې فتح کړې .

طارق بن زياد په خوښۍ سره ناره پورته کړه ! ژوندي دې وي موسی بن نصير ! هغه زما نيمګړې کار پوره کړ ، زه هغه خپل امير نه بلکې خپل مربی ګڼم !

ادرېس ورته وويل : کوم ښارونه چې تا فتح کړې وه هغه له لاس وتل ، که د مصر او افريقا امير ته په خپل وخت معلومات نه وې رسېدلي نو اوس به په سدونه ، قرمونه او ميدونه کې بغاوت او سرغړونې شوې وې ، امېر موسی پخپل وخت حالات سمبال کړل او د سرغړونې مخه يې ونيوله .

د طارق بن زياد له خولې څخه د امېر موسی بن نصير لپاره د افرين او شاباسې کلمات ووتل ، هغه موسی بن نصير د يوې پرښتې په توګه بللو ځکه چې پداسې وخت کې د هغه راتلل ډېر مهم کار وو .

ادريس ابوالقاسم هغه ته د موسی بن نصير د فتوحاتو او برياليتوبونو او حالاتو او کارنامې بيانولې .

طارق بن زياد وويل : هغه زما د مرستې لپاره راغلي دي ! اوس به زه بې غمه پرمختګ کوم ، په لږ وخت کې به ټول اندلس لاندې کوم او د اسلامي هيواد برخه به يې ګرځوم .

هغه وخت چې ادريس ابو القاسم طارق بن زياد ته د موسی بن نصير خبر ورکړ هغه د مريدا په لورې خوشېدلي وو او خپل جاسوسان او څارونکې يې هلته استولې وو تر څو د هغه ځای حالات معلوم کړي .

موسی بن نصیر د اندلس د ادراې او نظم سمبالولو لپاره خپل مشر زوې عبدالعزیز هم اندلس ته راغوښتې وو تر څو هلته یو نظام او حکومت جوړ کړې تر څو سرغړونې او بغاوتونه راپېدا نشې .

کله چې څارونکې او جاسوسان راغلل نو هغوې د ښار پوره نقشه او دفاعې چارې معلومې کړې وې .

مریدا د اندلس لوې ښار او د پلازمینې طلېطې څخه هم ښکلې وو .

ددې د ښکلا او ښاپست لپاره کار کوونکې رومیان تاکلې شوې وه ، هغوې ښې لوی او غتې ودانۍ جوړې کړې وې چې د تعمیرې فن شاهکارونه وه ، په اوسنې وخت کې هم د هغې کنډوالې د لېدلو وړتیا لرې ، د روم امپراطور اګستس ددې ښار په ودانولو او ښکلې کولو باندې دومره کار کړې وو لکه چې دا د هغه پلازمینه وې .

د ښکلا او ښایست څخه برسېره رومې بادشاهانو د هغوې دیوالونه هم قوې او کلک جوړ کړې وو د دې ښار دفاعې ځواک هم ډېر قوې کړې وو ، ، پوځیان یې هم پوره روزلې وه چې کوم ځواکمن دښمن هم هغه محاصره نشې کړای ، د ښار شا او خوا داسې خنډونه لګول شوې وو چې دښمن د ښار دیوال ته نشو رسېدلې ، پوځیانو ته داسې تمرین ورکړل شوې وو چې د دښمن سره د کلا څخه د باندې جګړه وکړې او هغوې ختم کړې .

ګوتیانو هم د ښار په ودانولو کې ډېر زیات کوښښ او خوارې کړې وه .

کوندې تاریخ پوه لیکلې دې چې دا معلوم نشو چې ولې رومې امپراطور دا اعلان کړې وو چې مریدا د روم څخه هم زیات ښکلې کوو ، داسې معلومېدل چې هغوې پدې ضد کې پریوتې وه چې مریدا د روم څخه هم باید مسابقه وګټې ، ددې ښار په څنګ کې د اویا نه سیند تېریدلو ، پدې سیند باندې چې کوم پل جوړ شوې وو د هغې ستنې او پایې د سیند په منځ کې وې ، هغه وخت په سیند کې د ستنو او پایو جوړول هېڅ رواج نه درلوده خو رومیانو دا حیرانوونکې کار کړې وو .

ددې ښار کلېساګانې ډیرې ښکلې او ښایسته وې په هغې کې مال او دولت ډېر زیات راټول شوې وو ، د مریدا لوې پادری ( بطریق ) د طلېطې

مخه هم مهم او لوړ پوړې وو ، د هغه حکم په ټول هيواد کې چلېدلو ځکه نو هغه ته بطريق اعظم ويل کېده .

کله کله به هغه د باندې راوتلو چې د هغه سره به يو زر کسان په يو ډول جامو کې لېدل کيدل چې ځلېدونکي به وې ، تاريخ ليکوونکي وايي چې بطريق اعظم ددې لپاره پدې شان او شوکت د باندې راوتلو چې په خلکو باندې د هغه رعب او دبدبه پريوځي او د دې لامل دا وو چې د ښار خلک شتمن او مالداره وه او بطريق اعظم ددې شتمنو او مالدارو څخه دولت اخيستل غوښتل .

موسی بن نصير د خپلو جاسوسانو څخه وپوښتل : ايا په هغې خلکو کې د جګړې کولو جوش او جذبه هم شته دې ؟ نه به وې ځکه چې د خلکو سره يا جذبه وي يا مال او دولت ، مال او دولت خلک د مزو چړچو په لورې بيايي .

يو جاسوس وويل : داسې نده ښاغلې امېر ! په مريدا کې د خلکو سره دواړه شيان شته ، زه د يو عېسايي سوداګر په شکل هلته ننوتلې او په يو سرايي کې اوسېدم ، زه کلېساګانو ته هم ننوتم ، ما د ډېرو خلکو سره خبرې وکړې ، خو د هغوې سره يوازې يوه خبره وه چې مسلمانانو ټول هيوا نيولي دې اوس به څه کېږي ؟

ښاغلې امير ! ماته د هر چا څخه همدا يو ځواب راکول کېده چې د مريدا په خلکو کې هم غيرت شته هم جذبه ، کوم خلک چې په کلېساګانو کې اوسېږې د هغوې لويو ږيرو او لويو چپنو ته مه ګورې ، هغوې ډير کلک جګړه مار دې او په کلېساګانو باندې ځان قربانوې خو د خپل ځان د قرباني څخه مخکې به يو يو مسلمان هم د ځان سره ختموې .

ټول خلک جګړه کوي او هېڅوک تېښته نکوې ، مريدا ته به مسلمانان هغه وخت داخل شې چې کله په ښار کې يو عيسايي هم ژوندې پاتې نشې .

ښاغلې امېر ! ما په ښار کې هيڅ وېره او دار ونه لېده ، پوځ ښه تيار او چمتو دې ، دا پوځ به د باندې راوځي او جګړه به کوې ، په ښار کې بې کچه مال او دولت شته ، هيڅوک د مزو چړچو نوم نه اخلې ، بطريق اعظم ټول خلک د مسلمانانو په خلاف راپارولي دی .

موسی بن نصیر چې کله د خپل آخري دمه ځای څخه روانېدلو هغه خپل لښکر ته وینا وکړه چې د ولولو او احساساتو څخه ډکه وه ، هغې په لښکر کې نوې روح راپیدا کړ

د حرکت په وخت کې د موسی بن نصیر سره د هغه درې واړه ځامن هم ملګري وه ، هغه خپلو درې واړو ځامنو ته په وار وار سره وکتل

موسی بن نصیر ووېل : زما ګرانو ځامنو ! زما خبرې په غور سره واورئ ، او زما هره خبره وصیت وبولئ ، زما عمر ته وګورئ ، زما بدن نور له کاره لوېدلې دې ، دا یو روحاني او معنوي قوت دې چې زه یې دلته رارسولې یم ، تاسې پوهېږئ چې ما څومره جنګونه کړیدي ، د نیمايي څخه زیات عمر ما د جګړې په میدان کې تیر کړیدې ، داسې فکر وکړئ چې زما د بدن توان او طاقت ستاسې درې واړو بدن ته درغلې دی

کیدای شي چې زه په لار کې مړ شم ، یا په بستره باندې مړ شم ، تاسې درې واړه باید زما نوم او زما کارنامې ژوندې وساتئ

زه تاسې ته یو فتح شوې هیواد په لاس درکوم ، دا زما د ژوند اخري جنګ دې ، کیدای شي زه پدې جګړه کې مړ شم ، زما دا میراث تاسې باید سمبال کړئ

عبدالعزیز ! تاسې د دې نوې فتح شوې هیواد لومړنی امیر یاستئ ! زه به انشاء الله ستا منظوري د امیر المؤمنین څخه اخلم

زه چې په کومو شیان پوهېږم په هغې تاسې نه پوهېږئ ، زما دا خبرې په غور سره واورئ ، په محاصره او جګړه کې هیڅ وخت تېښته ونکړئ

بله خبره دا چې پدې هیواد کې مال او دولت دومره زیات دې لکه چې د سرو او سپین زرو چینې راخوټېږي ، بنایست او بې حیایي دومره زیاته ده چې تاسې به هیڅ نه وي لیدلې ، تاسې خوانان یاستئ او خوانۍ ړوندوالې وي که تاسې یو خل بې لارې شوې نو بیا به نه د کور شئ او نه د میدان ، د هغو شهیدانو روحونه به په تاسې لعنت وایي کومو چې په اندلس کې خپل ځانونه قربان کړي

عبدالعزیز ووېل : همداسې به کیږي ښاغلي پلار !

موسی بن نصیر وویل : اوس پدې فکر وکړه چې مریدا به په څه ډول نیول کېږي ؟

مریدا زمونږ څخه د وینې او ځانونو ډېره قربانۍ غواړي .

درې وارو زامنو یې وویل : مونږ به قرباني ورکوو .

په مریدا کې هم یوه ماڼۍ او قصر وو چې د اندلس د بادشاه نماینده پکې اوسېدلو ، استازې به د بادشاهي کورنۍ غړې وو ، پدې وخت کې چې کوم استازې او لوړ پوړې چارواکې په مریدا کې وو هغه د راډرک نژدې خپلوان چې نوم یې رازیلیو وو .

عمر یې نژدې څلوېښت کاله وه ، د بادشاه نماینده او استازې هم د بادشاه په شان وو خو د راډرک له وژل کېدو څخه وروسته د هغه حیثیت کمزورې شوې وو ، ددې لامل دا نه وو چې راډرک مړ شوې وو بلکې اصلې لامل یې دا وو چې د راډرک یوه ګونډه هلته راغلې وه چې د ملکه حیثیت یې درلوده .

د راډرک د مړینې په سبب د هغه ځو ښځې او میرمنې کونډې شوې ، پدې میرمنو کې یوه ځوانه ښځه هم وه چې ایجیلونا نومیده ، ددې عمر دا وخت د اووه ویشت کلنو په شا او خوا کې وو ، خرنګه چې دا د بادشاهی کورنۍ غړې وه نو کومې سیمې چې لا غازیانو نه وې نیولې په هغې کې د ایجیلونا حکم او واکمنې چلېدله ، ټول چارواکې او پوځې جنرالان د هغې تر لاس لاندې او تابع وه .

څه وخت چې راډرک د ګادلېت د جګړې لپاره تللو ایجیلونا مریدا ته ولاړه ، راډرک پخپل حرم کې ډېرې حسېنې او ښکلې انجونې او ښځې راټولې کړې وې خو په ایجیلونا کې څه داسې راښکون او کشش موجود وه چې په نورو کې نه وو ، د راډرک د مړینې څخه وروسته د ایجیلونا حسن او ښکلا څه داسې اغیزې او اثر وکړ چې ټولو تاریخونو د هغې یادونه کړیده .

تاریخونه لیکې چې د هغې حسن او ښکلا پخپل ځای وه ، خو د هغې ناز ، نخرو ، خبرو او سلوک د جادو په شان اثر او اغیزه درلوده .

تاریخونه دا هم لیکي چې هغه به په ژبه کمه او په سترګو زیاته غږېده ، تر ټولو لرغوونکې شې د هغې مسکا وه چې تل یې په شونډو پاندې موجوده وه

ځینو تاریخونو لیکلي چې د هغې مور یهودنه وه خو ځینو لیکلي چې مور یې یوناني عیسایي وه ، په هر حال ایجیلونا د بادشاهي کورنۍ غړې بلل کېده

د اندلس اصلي ملکه د رچمانډ مور وه خو راډرک ایجیلونا ته هم د ملکې حیثیت او درجه ورکړې وه ، ایجیلونا د سترګو په اشاره خپل حکمونه په خلکو منل خو هیچا ته یې دا دلیل هم په لاس نه ورکولو چې هغه چالاکه او چلبازه مېرمن ده

هغه وخت چې د راډرک د مړینې خبر خپور شو په مریدا کې د راډرک استازي او نماینده رازیلیو طلیطلې ته ولاړ ، هلته د ایجیلونا سره مخامخ شو ، هغه لا مخکې ورسره اړیکې پیدا کړې وې او ملګرتیا یې جوړه کړې وه

رازیلیو هغې ته وویل : ایجیلونا ! تاسې دلته څوک په داد او آرام سره نه پرېږدي ، دلته د پردې تر شا د بادشاهي او تخت لپاره دسیسې پیل شویدې ، د تخت وارث شهزاده رچمانډ دی ، هغه د ملکې زوی دی ، خو راډرک د نورو مېرمنو څخه هم زامن لري ، ستا ښه بخت او قیمت دا دی چې اولاد نه لرې ، ما اورېدلي دي چې ملکې ته دا شک پیدا شوی چې تاسې د لوړ پوړو چارواکو او جنرالانو سره لاس یو کړی او خپل خان د اندلس ملکه جوړوی، زه اوس تا ددې خطر څخه خبروم چې باید له طلیطلې څخه ولاړه شې

ایجیلونا وېوېښتل : چېرې ولاړه شم ؟

رازیلیو ځواب ورکړ : زما سره مریدا ته ولاړه شه !

ایجیلونا وېوېښتل : هلته به څه وشي او زما حیثیت به څه وي ؟

رازیلیو وویل : هلته به ته ملکه وې ، زه به ستا سره ووم ، که کوم بل خوب ګوري نو هغه له زړه څخه وباسه ، د اندلس بادشاهي مسلمانانو ټوټه ټوټه کړېده

زمونږ جنګي ځواک کمزوري شوې ، د مسلمانانو هدف او مقصد اوس طلبطه ده ، اوس چې په مونږ کې هر څوک هر چیرې وې هلته به بادشاه او واکمن وي ، مونږ دواړه د بادشاهي کورنۍ غړې یو نو په مریدا کې به خپلواک حکومت جوړ کړو ، د مریدا دفاع ډیره قوې ده ، پوځ یې ښه ځواکمن او زیات دې ، کراره کراره به د خپلې بادشاهي ساحه پراخوو .

مریدا زمونږ دیني مرکز او د بطریق اعظم هلته د ژوندانه شپې ورځې تیروي ، په تا کې دا ښوالې او ځواک شته چې بطریق اعظم په خپل موټې او لاس کې وساتې ، ته کلیسا د خپل ځان تابع کولای شې ، ، زما سره ولاړه شه هر څه به درته برابر شي .

راتلوونکې ورځ ایجیلونا خپل سامان او اسباب په ګاډۍ کې کېښوده ، هغه هیچا هم منع نکړه چې چېرې ځې ، د راډرک نور وارثان خو خوشحاله وه چې د تخت او تاج یوه دعوه کوونکې کمه شي ، د هغې څخه هېچا هم پوښتنه ونکړه چې هغه چېرې ځې او نه چا دا ولېدل چې هغه د ځان سره کوم شیان وړې ، هغې د سرو ، سپینو زرو او ملغلرو په شکل کې ښه پریمانه خزانه د ځان سره واخیستله ، د هغې سره خپلې خدمت کوونکې او غلامان هم ملګرې وه .

د هغې سره رازیلیو نه وو. ځکه مخکې مریدا ته روان شوې او په لاره کې ایجیلونا ته ولاړ وو ، د هغه سره خپل ساتوونکې هم وه ، کله چې د ایجیلونا کاروان د هغه سره یو ځای شو نو دواړه په ګډه مریدا ته روان شول .

کله چې هغوې مریدا ته ورسېدل نو رازیلیو ، ایجیلونا په بادشاهي ماڼۍ کې ځای پر ځای کړه خو هېڅ چارواکې ته یې ونه ویل چې مونږ اوس یو خپلواک حکومت جوړوو ځکه هلته دا خطر موجود وو چې جنرالان او لوړ پوړې چارواکې به د هغوې د حکم منلو څخه انکار وکړې ، هغوې خلکو ته دا ښودل چې مونږ د بادشاهي کورنۍ غړې یو .

په مریدا کې دوه جنرالان ، درې څلور لوړ پوړې حکومتې چارواکې ، بطریق اعظم او څو لوې او کوچنې پادریان وه ، ایجیلونا چې کله هلته ورسېدله سمدستې یې د مهلمستیا ګانو او موسیقۍ غونډې او مجلسونه

پيل کړل ، په څو ورځو کې هغې پدې خلکو داسې جادو وکړ چې هر چا فکر کاوه چې د راډرک دا ښکلې ، حسينه او هوښياره مېرمن زما ده څکه هغې د ټولو سره اړيکې ساتل او هر يو يې پخپل ځان عاشق کړی وو .

يوه ورځ رازيليو ورته وويل : ايجيلونا ! زه چې دلته هر څوک ګورم هغه په تا باندې عاشق دي ، شايد هر جنرال او هر چارواکې دا فکر کوې چې ايجيلونا زما ده او زه به ورسره نکاح او واده کوم !

ايجيلونا وويل : ايا دا زما کمال او برياليتوب ندې چې دومره عاشقان مې خانته پيدا کړيدي ؟ او هر چاته دا څرګندوم چې هغه به زما راتلوونکې خاوند وي .

رازيليو وويل : آيا زه هم همداسې خوب ګورم او که ريښتيا به همداسې وشي ؟

ايجيلونا په زړه راښکوونکې مسکا سره وويل : ته به ولې خوبونه ګورې ! آيا زه به ددې بوډاګانو جنرالانو مېرمن ګرځم ؟ آيا په هغوی کې زما ور څوک شته ؟ ما په ټولو باندې خپله نشه سپره کړيده ، او ما هر يو د مريدا د ساتنې او خوندې کولو لپاره تيار او چمتو کړيدي ، ته ولې انديښنه کوې ، زه به تا دلته بادشاه ګرځوم او خپله به ملکه کيږم .

رازيليو په احساساتي ډول وويل : ايا زه پدې خبره يقين او باور وکړم چې ته يوازې زما يې ؟

ايجيلونا وويل : زه د زړه يو خبره درته کوم ، زه ځان ملکه ګرځول غواړم ، دا زما هيله او اراده هم ده ، آيا ته ما ملکه جوړه ولې شې ؟

رازيليو وويل : دا ته څه ډول بې ځايه پوښتنه کوې ؟

ايجيلونا وپوښتل : آيا ته پدې خبره يې چې قرطبه او غرناطه دواړه مسلمانانو نيولې دي ؟

ايا ته پدې خبر يې چې د مسلمانانو يو بل لښکر هم اندلس ته راننوتې دی ؟

رازهليو وويل : هو اورېدلې مې دي ، ماته احوال را رسېدلې دي چې د دې نوي لښکر مخه د مريدا په لوري ده .

ايجيلونا وپوښتل : ايا ته به مريدا ددې لښکر څخه وساتلې شې ؟

رازيليو وويل : هو ايجيلونا ! د مسلمانانو لښکر دلته د مرګ او هلاکت لپاره راځي .

ايجيلونا وويل : ما داسې خبرې په طليطله کې هم اورېدلې وې ، خو اوس ما واورېدل چې کله د مسلمانانو پوځ هلته راورسېدلو نو خلکو ورته د ښار دروازې پرانستلې او د هغوی تود هرکلې يې وکړ ، آيا ته داسې زړورتيا او ميړانه ښودلې شې چې د پوځ څه برخه د ځان سره واخلې ، د باندې پر مسلمانانو باندې داسې بريد وکړې چې هغوی ختم او هلاک شي ؟

رازيليو وويل : ته به وګورې چې زه څه کوم ؟

ايجيلونا په مينه ورته وويل : او ته به وګورې چې زه څرنګه خپل ځان او خپل روح تاته سپارم !

حقيقت دا دې چې ايجيلونا پدې ډول خبرې د هر جنرال او هر چارواکي سره کولې ، هغه به د شپې هر يو ته ورتلله خو د هر چا لپاره يو سراب او خوب ګرځېدلې وه ، هغې به هر چاته پخپل لاس شراب ورکول او هغه به يې پخپل حسن او ښکلا کې بې سده کولو او بيا به ورڅخه بېرته تلله .

حمله کوونکې را روان دي ! تيار او چمتو شی ! هوښيار او خبردار شی !

دا يوه چيغې او نارې وې چې د ښار په ديوال باندې پورته کېدلې ، په ټول ښار کې ګډوډي او بې نظمې پيل شوه خو پدې ګډوډۍ کې ويره او ډار نه وو بلکې جوش ، ولولې او احساسات وه ، خلک د پټېدلو لپاره يوې او بلې خواته نه تلل بلکې د جګړې لپاره يې يوې او بلې خواته منډې وهلې .

هغوې وسلوال کېدل ، د ډيرو ورځو څخه غشې او ليندې جوړېدلې ، غورځوونکې برچې تيارېدلې ، ښځو ، انجونو او کوچنيانو هم د غشو وېشتلو تمرين او زده کړه کوله ، ټولو ځوانانو او د پاخه عمر سړيو د څو مياشتو څخه د جګړې لپاره د پوځ سره تمرينونه او زده کړه کوله .

له کومې ورځې څخه چې ايجيلونا دې ښار ته راغلې وه د هغې ورځې څخه جنګې تمرينونه او زده کړې زياتې شوې وې ، ايجيلونا خپله دا تمرينونه او خلک يې هغې ته هڅول .

ځنګه چې د هغې غوږونو ته دا آواز ورسېده چې حمله کوونکې راغلل سمدستي يې توره راوويستله او د آسونو طبېلې ته ولاړه ، د رازيليو آس يې برابر او تيار کړ ، په هغه سپره شوه او په منډه يې کړ.

هغه د ښار په کوڅو کې لوڅه توره په لاس په منډه منډه وګرځېدله او داسې چيغې ئې وهلې : د مرېدا خلکو ! ستاسې د ازمېښت او امتحان وخت راغلى دى ، د بي بي مريم روح ستاسې څخه قرباني غواړي .

په کوم ځای کې به چې خلک راټول شول هلته به ودرېدله او په لوړ آواز به يې خلک داسې هڅول :

هغه بې غيرته او بې زړه وه چې مسلمانانو ته تسليم شول او خپل ښارونه يې هغوى ته وسپارل ، اوس د هغوى غلامان دي ، هغوى خپلې لورګانې او ميرمنې مسلمانانو ته وسپارلې ، ايا تاسې خپلې لورګانی او ميرمنی ځنګلي او وحشي بربريانو ته سپاری ؟

په هر ځای کې به خلکو هغې ته ويل : نه ! نه داسې نشي کيدای ، مونږ پخپل عزت ځانونه قربانوو !

ايجيلونا به ويل : دا قرطبه او غرناطه نده ، دا مرېدا ده ، دا د بطريق اعظم ښار دی ، نن د کلېسا آبرو ستاسې څخه قرباني غواړي تاسې ته صيلب آواز کوي ، په صليب باندې اعدام شوي د عيسى مسيح روح تاسې ګوری چې ايا تاسې په عيسايت باندې خپل ځانونه قربانوي او که خپل ځانونه ساتی !

که تاسې په مريدا کې مسلمانانو ته ماتې ورکړه نو بيا به هغه ښارونه هم لاندې کړې چې مسلمانانو نيولې دي ، دا وياړ او افتخار ستاسې په برخه دي چې مسلمانان له اندلس څخه وشړی ، که تاسې هم د نورو په شان زړونه بايلودل نو ستاسې د کلېساګانو څخه به جوماتونه جوړ شي .

آيا تاسې د کلېسا دا سپکاوی زغملې شي ؟

خلکو به وويل : نه ! نه داسې نشي کيدای ! مونږ دا نشو زغملې .

ايجيلونا پوخ ته ورغله او هلته يې هم همداسې احساساتې وينا وکړه ، ځه وينا او خبرې احساساتي وې خو زياته برخه پکې د ايجيلونا حسن او

ښکلا لرله چې خلک يې د اور غورځوونکې غرونو د لاوا په شان په جوش راوستل ، کله چې کومه پيغله نارينه غيرت او جګړې ته راوبولې نو په نرانو باندې بيا ليونتوب راځي او د ځان پروا نه ساتي .

موسی بن نصير پدې تمه او هيله راغلي وو چې مريدا به محاصره کړي حال دا چې خپلو څارونکو او جاسوسانو هغه ته ويلي وه چې د مريدا پوځيان به د باندې راوځي او ميداني جګړه به کوي ، د ښار څخه د باندې دومره خندونه شته چې غازيان کلا ته نژدې هم نشي ورتللی .

موسی بن نصير ولېدل چې د ښار څخه د باندې د خندونو څخه مخکې د مريدا پوځ تيارسي او چمتو ولاړ دي او خپل ښار يې محاصره کړيدی .

موسی بن نصير خپل پوځ او لښکر لرې ودرولو او تم يې کړ ، لښکر ډېره فاصله وهلې وه او دلته رارسېدلې وه ، هغوی ستړې او ستومانه وه ، موسی بن نصير خپل لښکر ته د آرام کولو حکم وکړ او خپله د درې زامنو او نورو سالارانو سره د کلا لېدلو ته ورغللو ، هغه د ښار دفاع او نور شيان لېدل تر څو د هغې سره سم ورته پلان جوړ کړی .

د ښار شاته لوړی ژوری او شنې غونډۍ هم وې چې د کلا د ديوال په اندازه لوړې او پورته وې ، په غونډيو باندې ونې او بوټې ولاړ وه ، د هغې په منځ کې لارې هم وې ، هلته د ښار ديوال ته رسېدل ګران او ناممکن وه .

موسی بن نصير وويل : مونږ به ددې غونډيو او کمرونو په منځ کې مخامخ دروازې ته ځان رسوو ، دې لورې ته پوځ هم نه ښکارې .

موسی بن نصير خپل آس د غونډيو په لورې روان کړ او د دوه غونډيو تر منځ تېريدلو ، هغه د يوې ونې په خوا کې تېريده چې يو غشې د ونې په تنه باندې ولګېده او بيا وروسې بل غشې راغې او د آس مخې ته پريوت ، موسی بن نصير خپل آس په بېړه راوګرځولو او شاته را روان شو ، کېدای شول چې غشې د لرې څخه وېشتل شوې وې يا دا چې ويشتونکې هغه يوازې دارولو چې وړاندې رانشي .

پدې غرنۍ سیمه کې پوځ پټ شوی وو ، دا پوځ د نورو پوځونو څخه خطرناک وو کوم چې څرګندېدلو ، هلته ځمکه ښکته پورته او شلېدلې وه چې آسونه ورځخه په آسان نشول تېرېدلای .

موسی بن نصیر وویل : زما ګرانو ملګرو ! ستونزې ډېرې دي خو مونږ باید د خپل الله پاک جل جلاله څخه ناهیلې او نا امیده نشو .

د لومړۍ درجې تاریخ لیکوونکو لیکلي چې په طبعي لحاظ مریدا ډېره کلک او قوي دفاع درلوده خو پوځ او خلکو چې کوم جوش او جذبه درلوده د هغې څخه داسې معلومېده چې د مریدا نیول امکان نلري ، د ښار په منځ کې ، د ښار په دیوال او نورو ځایونو کې بطریق اعظم او نور راهبان یوې او بلې خوا ته ګرځېدل او خلک یې جګړې ته هڅول ، د هغې په څنګ کې به ایجیلونا هم لوڅه توره په لاس هر لورې ته ګرځېدله او د ولولو څخه ډکې ویناوې به یې کولې چې خلک به یې راپارول .

موسی بن نصیر د خپلو زامنو او نورو سالارانو سره د کلا شاتنۍ برخه لېدله چې لرې یې شور او غوغا واورېده ، موسی بن نصیر او نور سالاران د دی شور او غوغا څخه ښه خبر وه چې دا د جګړې شور دی ، په لس ګونه آسونه ځغلېدل او ځمکه لړځېدله .

موسی بن نصیر خپل آس راتاو کړ او په منډه شو ، تر شا یې زامن او نور سالاران هم په منډه شول ، هغوی د خپل لښکر په لورې تلل ، هغوی چې کله د کلا څخه وګرځېدل نو داسې حالت یې ولېده چې پخپلو سترګو یې باور نه راتللو ، د ښار څخه د باندې ولاړ د مریدا پوځ پر مسلمانانو باندې حمله کړې وه ، غازیان دې حملې ته چمتو او تیار نه وه ، سپرو د خپلو آسونو څخه زینونه لرې کړې وه او هغوی ته یې د اوبو ورکولو کوښښ کاوه ، پلې او پیاده غازیان پرېوتې وه او د لښکر لپاره ډوډۍ تیاره شوې وه .

کله چې غازیانو عیسایي لښکر ولېده نو په څه حالت کې چې وه وسله یې راپورته کړه ، سپرو ته د زینونو کېښودلو وخت په لاس ورنغې ، هغوی تورې او برچې راپورته کړې او د پیاده پوځیانو مقابلې ته ودرېدل ، تر ټولو مهم کار د آسونو ساتل وه چې تیار ولاړ او تړل شوې وه .

غشي وېشتونکو غازيانو دا کمال وښودلو چې د غشو او لېندو سره سمدستي د مسلمانانو مخې ته سپر شول ، کله چې حمله کوونکې د دوی نښې ته برابر شول ، نو د باران په شان يې غشي وېشتل پيل کړل ، عېسايي سپاره تر تولو مخکې را روان وه ، هغوی په غشو لګېدل او راغبرګېدل ، ځينې د آسونو څخه راپرېوتل خو د آسونو په منډه کې څه توپير نه راتللو .

آسونه دومره رانژدې شول چې غشي وېشتونکې د ځان ساتلو لپاره يوې او بلې خواته شول ، پياده غازيانو مقابله پيل کړه ، په تورو او برچو يې څو سپاره راګذار کړل خو خپله هم د آسونو لاندې شول ، غازيان د سپه سالار څخه پرته جنګېدل .

که هغه واې نو څه به يې کړې واې ځکه پداسې وخت کې کوم چل او دوکه هم نه ورکول کېده پرته له دې چې خپل ځانونه وساتي يا جګړه وکړي پداسې حال کې چې غازيانو دا دواړه کارونه کول .

د مريدا حمله کوونکې د لوی مقابلې لپاره نه وه راغلي ، هغوی دومره خند شول چې غازيانو خند کړل ، د سيلاب په شان راغلل حمله يې وکړه ، او بيا ښي او چپ لورې ته خپاره شول .

ځينې د غازيانو د لښکر په منځ کې بلې غاړې ته ووتل او بيا هماغسې ولاړل ، زيات زخميان د مسلمانانو په تم ځاي کې پاتې شول .

موسی بن نصير چې کله خپل تم ځاي ته راورسېده نو جګړه ختمه شوې وه ، د لښکر حالت داسې شوی وو لکه چې طوفان پرې راغلی وي .

مسلمان او عېسايي زخميان پرېېدل ، د مريدا پوځيان خپل اصلي ځاي ته ورسېدل او هلته يې د پېغور څخه ډکې نارې وهلې .

دا غرناطه او قرطبه نده ! دا مريدا ده ، ددې ځاي څخه بېرته پښا ولاړ شی .

د ديوال په سر ولاړو ښځو او کوچنيانو خپلو پوځيانو ته ددې کار شاباسې او آفرين ورکولو .

دا د لومړۍ ورځې تکر وو ، دا يو اخطار وو چې موسی بن نصير يې محتاط او هوښيار کړ ، ددې ورځې څخه وروسته همدا لړۍ روانه وه .

موسی بن نصیر خپل لښکر په څلورو برخو ووېشلو او د ښار په څلورو لورو کې يې ځاې پر ځاې کړ .

ددې کار سره سم عېسايي پوځ هم په څلورو برخو تقسيم شو .

کله به چې د مسلمانانو د پوځ کومه برخه مخکې تلله د ښار پوځ به د هغې مخه نیوله او پښا به يې تمبول ، د مسلمانانو دومره وسه نه رسېدله چې د ښار دیوال ته ځانونه ورسوي .

هره ورځ د ښار څخه دباندې خونړۍ جګړه کېدله او مسلمانان د ښار د محاصرې په برخه کې ناکام معلومېدل .

پروفېسر ډوزي او ډاکټر کوندې ليکلي دي چې د مريدا پوځيانو او خلکو پخپل ښار باندې ځانونه قربانول ، پادريان هم جنګېدل ، ښځې هم د نرانو په شان دباندې راوتلې ، پوهه او ناپوهه ټول په يو مېدان کې جنګېدل ، د شتمن او غريب ، حاکم او محکوم ، غلام او بادار توپير ختم شوې وو .

تر اوو ، اتو مياشتو پورې د ښار څخه دباندې ټکرونه روان وه چې ځينې پکې لوې او غټې جګړې هم وې .

دواړه لورو ته پوره زيان او تاوان اوښتلو ، موسی بن نصير پرمختګ بند کړ او د خپلو سالارانو سره يې سلا مشورې پيل کړې .

موسی بن نصير خپلو سالارانو ته وويل : زه دا نشم منلې چې په ښار کې دې دومره خوراک وې چې تر اوسه پورې ختم نشو ، ښار ته خامخا دباندې څخه خوراکي شيان راځي ، که مونږ ته څرګنده شي چې ښار ته دباندې څخه خوراکي شيان راځي نو هغه لاره بايد بنده شي ، د هغې څخه وروسته جګړې ته اړتيا نشته يوازې محاصره سختول پکار دي .

عبدالعزيز بن موسی وويل : مونږ خو د ښار څخه شا او خواته ډېر ګرځېدلي يو ، هېڅ لاره مو نده لېدلې چې د هغې څخه خوراکي شيان ښار ته ورل کېږي .

موسی بن نصير وويل : خامخا لاره شته ! مونږ چې په لومړۍ ورځ د ښار شاته تللي وو هلته دوه غشي راغلل .

ټولو وويل : زمونږ په ياد دي .

موسی بن نصیر وویل : هماغه د خوراکي شیانو لاره ده ، د شپې یو ، دوه کسان هغې لورې ته واستوې ، خوراکي شیان د هماغې لارې څخه ښار ته راوړل کېږي ، زه نوره جګړه کول لازم نه بولم ، ځکه چې زمونږ ځواک ورځ په ورځ کمزورې کېږي .

د دښمن یو چل همدا دې چې زمونږ ځواک کمزورې او ختم شي او بیا په مونږ باندې حمله وکړي او مونږ له منځه یوسي .

د موسی زوی عبدالله وویل : زه نن شپه هغې لورې ته خپله ځم !

موسی بن نصیر وویل : خپل څلور غازیان د ځان سره بوځه ! پیاده ولاړ شی ، د آسونو څخه دښمن خبرېداې شي ، یو ژباړونکې هم د ځان سره ملګرې کړی .

په همدې شپه عبدالله بن موسی د څلورو غازیانو سره د ښار شاتنی برخې ته ولاړ او هغه ځاې ته یې ځان ورسولو کوم ځاې چې موسی بن نصیر مخکې تللې وه .

هلته غونډۍ او کمرونه وه ، شا او خوا ځمکې ښکته پورته اوشلېدلې وې ، دا سیمه د جګړې لپاره مناسبه نه وه ، ددې تر شا د اویانه سیند روان وو ، د سیند غاړې د غونډیو په شان پورته او لوړې وی .

عبدالله په ډېر احتیاط سره د سیند په غاړه غاړه روان وو ، هلته ډېرې ونې ولاړې وې ، یوې او بلې خواته جبه او ختې وې ، څو ځلې غازیان او عبدالله په ختو او جبه کې ونښتل خو د یو بل په مرسته له ختو څخه راووتل ، شپه ډېره چوپه او غلې وه ، سپوږمۍ روښانه وه ، یوازې د سیند د اوبو شرهار اورېدل کېده او نور هېڅ هم نه وه .

کله چې هغوې لږ نور وړاندې ولاړل د انسانانو غږونه یې واورېدل چې کراره کراره رانژې کېدل ، جبه او ختې ختمې شوې ، هلته د سیند په غاړه لاره تللې وه ، عبدالله او د هغه ملګرې هلته په وښو او بوټو کې ځملاستل .

دوه ، درې کسانو خبرې کولې او د دوې په لورې رانژدې کېدل ، د هغوې د پښو آواز هم اورېدل کېده ، د عبدالله سره یو اندلسي سړې هم وو چې عربې ژبه یې ویلې شوه .

مسلمانانو اندلسي ژباړونکي ساتل او هغوي ته به يې زيات مال ورکولو ، دوي به د اندلسي خلکو او مسلمانانو ترمنځ اړيکې ساتل .
هغې کسانو خبرې کولې او نژدې راتلل چې بيا ودرېدل ، هغوي پخپل منځ کې خبرې وکړې .
عبدالله په ملاسته د خپل ژباړوونکي په غوږ کې وويل : دوي په خپلو کې څه وايي ؟
ژباړونکي وويل : د کښتيو خبره سره کوي ، هغوي وايي چې نن شپه هم کښتۍ رانغلې نو خلک له لوږې مړه کوي .
ژباړوونکي عبدالله ته وويل چې د راز خبره څرګنده شوه ، ښار ته خوراکي شيان په کښتيو کې راځي ، بيا د همدې خرابۍ او سختۍ لارې څخه د شپې لخوا ښار ته رسول کېږي .
عبدالله ژباړونکي ته وويل : ته کراره کراره په ملاسته شاته ولاړ شه ، زما ملګري شاته پراته دي ، هغوي ته ووايه چې په ملاسته ملاسته ماته ځان راورسوي .
د عبدالله ملګري شاته په وښو او بوټو کې ملاست وه ، هغوي پرته د آواز پيدا کولو څخه راوښويدل او عبدالله ته راورسېدل .
عبدالله خپلو ملګرو او ژباړونکي ته وويل : دا دوه اندلسيان نيول اړين دي ، تاسي داسې په لاره روان شئ چې هغوي فکر وکړي چې تاسي له لرې څخه را روان ياستئ ، کله چې هغوي ته ورنژدې شئ نو د کوم کلي پوښتنه ورڅخه وکړئ ، بيا د جګړې خبرې پيل کړئ ، او دې لورې ته يې راولئ .
اندلسي ژباړونکي ډېر هوښيار سړي وو ، د اندلسي پوځيانو مخه بل لورې ته وه ، کراره پورته شو او د هغوي په لورې ور روان شو .
کله چې هغوي د پښو آواز واورېدلو څک شول او پوښتنه يې وکړه څوک يې ؟
ژباړونکي دوه ، درې ګامه مخکې ولاړ او بيا داسې کېناستلو چې ګوندې ډېر ستړې شوي دي .
ژباړونکي په اندلسي ژبه وويل : د ډېر لرې څخه راغلي يم وروره ! ماته رانژدې شی او لاره راته په ګوته کړی .

هغه دواړه ورنژدې شول ، په خبرو خبرو کې هغوې رانژدې کېدل تردې چې شا يې عبدالله ته شوه ، فاصله څلور پنځه ګامه وه ، هغه دواړه پوځيان وه ، عبدالله خپلو غازيانو ته اشاره وکړه .

هغوې ټول پورته شول او دواړه پوځيان يې مخکې له پام کولو څخه ونيول .

عبدالله دواړه اندلسې پوځيان د ځان سره کړل او خپل تم ځاى ته راغلل .

موسى بن نصير په درانه خوب وېده وو ، عبدالله هغه راپورته کړ او وې ويل چې څه مې له ځان سره راوړې دې ، نور سالاران هم راغلل ، دواړه اندلسې پوځيان يې په منځ کې کينول ، هغوې ډېر زيات وېرېدلې وه .

موسى بن نصير د ژباړونکى په خوله هغوې ته ووېل : تاسى له جامو څخه معلومېږى چې پوځى چارواکى ياستى وېرېږه مه ! تاسې به نه وژل کېږه ، که تاسې د مريدا په فتح کې زمونږ سره مرسته وکړه نو تاسې به آزاد او خوشې شى ، دا راته ووايې چې ښار ته خوراکې شيان د کومې لارې څخه راځې او په ښار کې څومره خوراکې شيان شته دې ؟

يو اندلسې پوځې ووېل : مونږ په سيند کې د خوراکې شيانو د راوړلو کښتيو ته تللې وو ، مونږ دواړه په پوځ کې صاحب منصبان يو ، خوراکې شيان د لس ، دولس ورځو څخه وروسته په کښتيو کې راځې ، بيا هغه مونږ په ګاډيو او بګيو کې ښار ته رارسوو .

همدا شيان بيا د پوځيانو او خلکو په منځ کې وېشل کېږې ، کښتيانې بايد دوه ورځې مخکې راغلې واى خو تر نن شپې پورې رانغلې ، څرګنده نده چې څه خنډ ورته پېدا شوېدى .

موسى بن نصير ورڅخه وپوښتل : په ښار کې د خوراکې شيانو ذخېره شته دې ؟

اندلسې ځواب ورکړ : ډېر کم پاتې شويدې ، که نن شپه کښتى رانشې نو په پوځ او ښاريانو کې د خوراکې شيانو کموالې راپېدا کېږې .

دويم اندلسې ووېل : د شرابو ذخيره بالکل ختمه شوېده ، په ښار کې د شرابو جوړولو هېڅ کارخانه نشته ، شراب ټول دباندې څخه راغوښتل کېږې .

د کومې ورځې څخه چې جګړه پیل شوې ده شراب زیات څښل کېږي ، پادریانو ویلې دي چې شراب باید زیات وڅښل شي ځکه چې هغه وېرې او ډار ته لاره نه ورکوي بلکې زړورتیا راپېدا کوي ، تاسې ګورئ چې ښاریان زمونږ سره په څومره جوش او جذبه ملګرتیا کوی .

لومړي چارواکی اندلسي وویل : تاسې خو پوځیان ولېدل چې څومره په جوش او جذبه سره جګړه کوي .

ددې مطلب دا ندي چې مونږ په شرابو مست یو بلکې په مونږ کې غېرت دې ، او د خپل وطن د ساتلو جذبه راسره ده خو د شراب څښل سره خپل وظیفه په ښه شان سرته رسوو ، اوس حالت داسې شوې دې چې پوځیان د خوراکې شیانو په ځای شراب غواړي او هغې ته لیواله وی .

دویم اندلسي وویل : د غوښې ځاروې اوس ختمېدونکې دې ، خلک د زخمې آسونو غوښې خوری .

موسی بن نصیر ورڅخه وپوښتل : د دې لارې څخه پرته بله لاره هم د خوراکې شیانو لپاره شته دې ؟

اندلسي پوځي ځواب ورکړ : لارې خو ډېرې دې ، اوس یوازې یوه لاره پاتې ده او نورې ستاسې د پوځ په وسیله بندې دې ، دا لاره یوازې پدې خاطر خوندې ده چې هلته سیند دې او تر کلا پورې لاره سخته او ښکته پورته ده ، تاسې شاید پدې خاطر هلته پوځ نه وې ساتلې چې هغه ځای د جګړې لپاره مناسب ندې ، مونږ پدې لاره ګاډی په سختې سره رسولې شو ، که دا لاره بنده شي نو په ښار کې قحطې راپېدا کېږی .

موسی بن نصیر وویل : دوې دواړه بوځی او ښه سلوک ورسره کوی .

کله چې اندلسي پوځیان بوتلل شول نو موسی بن نصیر دباندې راووتلو او آسمان ته یې وکتل ، هغه ستورې لېدل چې وخت معلوم کړي ، د شپې آخرې برخه وه ، هغه حکم وکړ چې پنځه سوه سپاره او یو نیم زر پیاده غازیان دې سمدستې هغه ځای ته ځانونه ورسوي چېرې چې د کښتیو څخه سامان ښکته کېږی .

موسیٰ بن نصیر خپل زوي عبدالله ته وویل : ته د دې سپرو او پیاده غازیانو سره ولاړ شه ، تا هغه ځاې لېدلې دې ، خوراکې شیان باید بند شي ، خپل غازیان پداسې شکل هلته ورسوه چې دښمن درڅخه خبر نشي ، دا غازیان د سیند په غاړه غاړه ځاې پر ځاې کړه .

که پر تاسې حمله وشوه نو د اړخ له لورې زه ستا مرسته کوم ، ته سمدستې هلته ولاړ شه او د سهار څخه مخکې ځان ورسوه .

د هر غازي سره باید غشې او لېنده هم وي ، دښمن باید نژدې رانشي ، د مریدا خلک د خوراک څخه پرته ژوند کولاې شي خو د شرابو څخه پرته ژوند نشي کولاې ، اوس مریدا خپله وګڼی .

عبدالله پنځه سوه سپاره او یو نیم زر پیاده غازیان د ځان سره ملګرې کړل ، هر یو غازي ته یوه یوه لېنده او دوه دوه د غشو کځوړې ورکړل شوې او بیا د مخکې پر ځاې شاته روان شول .

وروسته بیا راتاوْ شول او سیند ته ښکته شول ، هغه خپل غازیان په غاړه غاړه وساتل چې تر زنګنونو پورې اوبه ولاړې وی .

هغه ځاې دومره لرې نه وو چې شپه پرې تېره شوې واې ، دا وخت د ښار په کلېسا کې زنګ او د مسلمانان په تم ځاې کې د سهار آذان وشو ، غازیان ټول خپل هدف ته ورسېدل کوم ځاې کې چې د کښتیو څخه مال ښکته کېده ، هلته د مال ښکته کېدو لپاره ځایونه جوړ شوې وه .

د هغه ځاې څخه به مسافر کښتیو ته پورته کېدل ، پدې سیند باندې پل هم وو چې د غازیانو د تم ځاې په سبب بند پاتې شوې وو او خوراکې شیان نشول راتلاې .

عبدالله په هوښیارۍ سره خپل غازیان ځاې پر ځاې کړل مخکې لدې چې د سهار روښنایې خپره شي .

د اندلسې پوځ دوه صاحب منصبان چې کله تر سهار پورې خپل ځاې ته ونه رسېدل نو بل پوځې پسې واستول شو چې په آس باندې سپور وو ، کله چې هغه د دوه پوځیانو د نیول کېدو ځاې ته ورسېدو نو یو غشې د هغه په اوږه باندې ولګېده ، هغه په منډه بېرته ولاړ او اس یې په منډه کړ ، هغه

چې کله ښار ته ورسېده همدومره یې وویل چې بندر مسلمانانو نیولې دې ، پدې خبره د پوځ یو سپور ټولګی هلته واستول شو ، هغوی چې کله د ښار د شاتنۍ برخې غونډیو څخه په وتلو کې شول نو د غشو باران ورباندې پیل شو ، سپاره پرته له مقابلې وتښتېدل ، موسی بن نصیر ددې ځاې ښې او چپ لوري ته نور غازیان هم واستول .

کله چې بله شپه راغله نو یو په بل پسې څلور کښتۍ راغلې او د بندر سره ولګېدې ، سمدستي پرې مسلمانانو ولکه وکړه ، په یوه کښتۍ کې په سل ګونو وزې او پسونه وه ، په پاتې کښتیو کې اوړه ، غوړي ، ترکارۍ او د شرابو مټکې وه .

د عبدالله په حکم د شرابو مټکې او ډرمونه اوبو ته ګذار او خالي کړې شول ، بیا موسی بن نصیر ته احوال واستول شو چې ددې سامانونو رسولو لپاره غازیان راولېږي .

ددې عملیاتو څخه وروسته اووه ، اته ورځې وروسته په ښار کې قحطۍ او د خوراکي شیانو کموالې پېدا شو ، تر ټولو زیات کموالې او قحط د شرابو وو ، د شرابو کموالې د مریدا خلک او پوځیان ټول د لیونیانو په شان کړل ، هغوی پخپلو کې سره نښتل او جګړې به یې کولې په ښاریانو کې جوش او جذبه په کمېدو شوه .

د مریدا پوځ د بندر د خلاصولو لپاره دوه ځل سختې حملې وکړې خو موسی بن نصیر داسې نظم جوړ کړې وو چې دښمن پرته له تاوان بل څه ترلاسه نشول کړاې .

یوه شپه رازېلیو وویل : اوس ووایه ایجلیونا ! اوس به د خلکو حوصله او همت راپورته کړاې شې ؟

ایجلیونا وویل : هو ! زه پوهېږم چې د ځواکمن دښمن مقابله کېداې شي ، خو د لوړې مقابله ځواکمن دښمن هم نشي کولاې ، خو یو ځل بیا په خلکو کې د مخکې په شان د جوش او جذبې د راپېدا کولو کوښښ به وکړم .

رازېلیو وویل : حقیقت ته وګوره ایجیلونا ! خلک د لوږې سره مخامخ دي ، زه دېر په فکر او غور سره خبرې کوم ، اوس مریدا خوندې نشي پاتې

کېدي ، وړې ولس باغي کېږي ، ولسي خلک وړې ساتل کېږي ، او د پوځيانو ګېډه مړول کېږي ، ولسي خلک پوځيان په ښه نظر سره نه ګوري ، زه دا درته وايم چې راځه د شپې له مريدا څخه وتښتو ، ما هر څه برابر کړيدي ، زمونږ لپاره به د شپې دروازه پرانستل شي .

ايجيلونا وپوښتل : چېرې به ولاړ شو ؟ آيا داسې کوم ښار شته چې د مسلمانانو څخه خوندي پاتې وي ؟

رازيليو ووېل : زه تا فرانسې ته رسول غواړم .

ايجيلونا ووېل : زه پداسې وخت کې تلل نه غواړم .

رازيليو ووېل : ته پوهېږې چې بيا به څه کېږي ؟ د مسلمانانو سپه سالار يا بل سالار به تا خپله وينځه وګرځوي ، په ياد ولره ! وينځه مېرمن نه بلکې خدمت کوونکې وي .

پداسې حال کې چې ته ځان ملکه جوړول غواړې ، راشه ! همدا غوره او ښه مناسب وخت دې ، ددې ځای څخه بايد ولاړ شو .

فرانسې ته چې ورسېدو په خپلو کې به نکاح سره وکړو .

مونږ د بادشاهي کورنۍ غړې يو ، هلته به مونږ ته درناوې او عزت په برخه شي ، کوم مال او دولت چې زه د ځان سره وړم د هغې په لېدلو به ته حېرانه شې .

د ايجيلونا په شونډو داسې مسکا راغله چې طنز پکې څرګنده ښکارېده .

رازيليو وپوښتل : آيا ته ماته ځواب نه راکوې ؟

ايجيلونا ووېل : دوه ، درې ورځې صبر وکړه بيا به ګورو !

سبا سهار چې کله ايجيلونا په آس سپره شوه او دباندې ووتله نو خلکو په منځ کې راګېره کړه ، مخکې به چې کله ولسي خلکو هغه ولېدله نو ځانونه به يې ورڅخه قربانول خو اوس ولسي خلکو د هغې په خلاف ګوت نيونې کولې او سرغړونې ته تيار وه ، خلکو چيغې وهلې او دا يې ووېل :

پوځ دباندې څه کوي ؟

پوځ ولې حمله نه کوي او محاصره ولې نه ماتوي ؟

مونږ خپل کوچنيان په لوږه ساتو خو پوځيان به ګېډه ماره وي .

مونږ وړې يو ، مونږ ته خوراک راکړه ، مونږ جګړه کوو .
همدا چيغې او سورې وې چې په هر ځاې کې ورسره ايجيلونا مخامخ کېده ، هغه جنرالانو ته ورغله ، نو هغوی ورته وويل چې زمونږ خوراکي شيان هم ختم شوېدي ، پوځيانو د لوږې څخه دوه روغ رمټ آسونه وخوړل .
دواړو جنرالانو ايجيلونا ته وويل : تاسې رازيليو ته ووايې چې ښار مسلمانانو ته تسليم کړي .
ايجيلونا خپله رازيليو ته ورغله او هغه ته يې وويل چې د ښار دروازې خلاصې کړې خو هغه دا خبره ونه منله .
ايجيلونا وويل : آيا ته د ولس او پوځ عام وژنه غواړې ؟ که مسلمانان پدې پوه شول چې مونږ د لوږې سره مخامخ يو او د جګړې ورتيا نلرو ، نو هغوی به حمله وکړي ، بيا به ښار ته راننوځي او کورونه به چور او تالا کړي ، انجونې او ميرمنی به د خان سره يوسې او ولسې خلک او پوځيان به ټول ووژني .
تاريخونه ليکې چې يو جنرال سپين بېرغ په لاس کې نيولې له دروازې څخه راووت ، د هغه سره څلور سپاره ساتوونکې هم وه ، يو ژباړوونکې هم ورسره ملګرې وو ، موسی بن نصير په آس سپور شو او د هغه مخې ته راغې د هغه سره هم دو سالاران ملګرې شول او ژباړونکی هم ورسره شو .
موسی بن نصير د اندلسې جنرال سره روغبړ وکړ .
د اندلس تاريخ ليکوونکې ډاکټر کوندې له نورو شرطونو پرته دی شرطونو يادونه کړی ده چې :
لومړې دا چې د مريدا ټول پوځ ته اجازه ورکړل شي چې لدې ځاې بل چېرې ولاړ شي او هېڅوک پکې جنګې بندې ونه نيول شي .
دويم دا چې پوځ ته خوراک ورکړل شي .
موسی بن نصير وويل : آيا ماتې ما خوړلې او که تاسې ؟
شرطونه به زما لخوا وې نه ستاسې لخوا څخه ، که تاسې زمونږ شرطونه نه منی نو ستاسې پوځ به غشې ، برچې او توري خوری .
جنرال وپوښتل : ستاسې شرايط څه دې ؟

موسی بن نصير ورته وويل : ستاسې ټول پوځ به وسله تسليموي ، ټول پوځ به زموږ جنګي بنديان وي ، موږ نه غواړو چې ستاسې ښار محاصره او جګړه کړو .

زموږ چې څومره زيان او تاوان شوی دی ، د هغې تاوان او قيمت اخلو ، په ښار کې چې څومره سره زر دي هغه ټول به موږ ته سپارل کېږي .

څرنګه چې ستاسې نيت روغ او سم نه ښکاري نو موږ ته به د شرايطو تر پوره کېدو پورې څو کسان يرغمل راکوی ، د دې ښار ټول لوړ پوړي چارواکي به زموږ سره يرغمال وي ، بېرته ولاړ شه ، که تاسې دا شرايط قبلوې نو بيا ټول پوځ يو ځای ته راټول کړې او ټوله وسله يو ځای ته راجمع کړې ، ټول لوړ پوړي چارواکي ما ته ژوندي راوله .

اندلسي جنرال ولاړ ، موسی بن نصير خپل ټول پوځ او غازيان د حملې لپاره تيار او چمتو کړل .

لږ څنډ وروسته هماغه اندلسي جنرال يو ځل بيا د کلا څخه راووتلو ، د هغه تر شا نژدې پنځوس تاريته او همدومره مېرمنې را رواني وې ، د هغوی له جامو څخه داسې معلومېدله چې دا د ښار مخور خلک دي .

جنرال موسی بن نصير ته وويل : دا تاسې د ځان سره يرغمال وساتئ ، زه يوازې يو وړاندېز کوم چې ددې کسانو سره بايد د عامو بنديانو په شان سلوک ونشي ، دا ټول لوړ پوړي چارواکي او د بادشاهيئ کورنئ غړي دي ، پوځ وسله يو ځای ته راټوله کړېده ، تاسې اوس ښار ته داخلېدای شی .

موسی بن نصير وويل : دا يرغماليان به موږ ټول په ښه درناوې او عزت سره ساتو ، ته پوهېږې چې موږ يرغماليان ولې غوښتي دي ؟

جنرال وويل : زه د يوې ځوانې مېرمنې په هکله څه ويل غواړم ، د هغې نوم ايجيلونا دی ، دا د بادشاه رادرک کونډه ده ، ستاسې په وړاندې شايد د هغې کوم اهميت نه وي خو زموږ د پوځ او ولس لپاره دا د قدر وړ او د عبادت وړ تيا لري .

موسی بن نصير وويل : ددې لپاره چې ستاسې د بادشاه کونډه ده !

اندلسي جنرال وويل : داسې نده سپه سالار ! څرګنده نده چې رادرک بادشاه تر شا څومره کونډې پرېښې دي ؟

ددې مېرمنې اهميت او حيثيت پدې زيات دې چې د مريدا خلک او پوځ چې څومره قربانۍ ورکړې ، هغه د همدې ايجيلونا برکت او همت وو ، هغې ددې ښار کوچنيان او مېرمنې هم وجنګولې .

که خوراکې شيان بند شوې نه واې نو تاسې دې ښار ته راننوتې کېداې هم نشوی ، دې مېرمنې شپه او ورځ د پوځيانو او ښاريانو همت او حوصله پورته کوله او هغوې يې تازه ساتل .

تاسې شايد هغې ته پدې سزا ورکړې چې ددې په سبب تاسې ته دومره تاوان او زيان ورسېده او هغه جنګې مجرمه وبولی ، زه پر تاسې کوم شرط نه لګوم خو دا وړاندېز درته کوم چې ددې درنې مېرمنې عظمت پايمال نشې او د هغې حيثيت خوندې پاتې شې .

موسی بن نصير ووېل : مونږ هم د داسې مېرمنې عزت او درناوې کوو ، مونږ د عظمت او عصمت ساتوونکې يو ، په مېرمنو کې هغه کومه يوه ده !

زه د هغې لېدل او کتل غواړم !

جنرال د مېرمنو په لورې وکتل او بيا يې په سر سره اشاره وکړه .

يوه مېرمن چې تورې جامې يې اغوستې او په مخ يې تور نقاب او پرده اچولې وه مخکې راغله ، دا يواځنی مېرمن وه چې په خپله څېره يې نقاب او پرده اچولې وه ، د نورو ټولو څېرې لوڅې وې ، دا ايجيلونا وه چې په مخ يې توره جالی راغوړولې وه .

جالی نری او نازکه وه د هغې څخه يې شيتې سترګې او ښکلې څېره څرګندېدله خو په پوره ډول نه ښکارېدله ، د هغې وته لوړه او تک يې دروند وو ، د هغې ټول بدن زړه راښکوونکې وو .

موسی بن نصير ووېل : زه ددې څېره بې نقابه لېدل غواړم !

ايجيلونا ووېل : زه يوازې هغه چاته خپله څېره ښکاره کوم چې زما سره نکاح کوې ، خو زه د هغه چا سره نکاح کول غواړم چې هغه بادشاهي رتبه او درجه ولری ، زه د چا وينځه او ملګرې جوړېدل نه ، بلکې مېرمن ګرځېدل غواړم .

که زما سره څا زور او جبر وکړ دا به زما او د هغه سړي د ژوند آخرۍ ورځ وي ، زه ملکه وم او ملکه باید پاتې شم ، آیا تاسې دا ونه ویل چې مونږ د عظمت او عصمت ساتوونکې یو ؟

موسی بن نصیر وویل : زه په خپله ژمنه اوس هم ولاړ یم ! زه ټول اندلس میرمنو او انجونو ته په درنه سترګو ګورم خو ستا د وقار او زړورتیا پوره پوره درناوی ساتو ، ته به د هېڅا وینځه او ملګرې نه ګرځې .

یو فرانسوی تاریخ لیکوونکي ډان پاسکل لیکلي دي چې د ایجیلونا په حسن او ښکلا کې جادو وو خو د هغې په خبرو او اشارو کې بل شانته جادویي اثر او اغېزه وه ، د موسی بن نصیر سره چې د هغه زامن او نور سالاران وه هغوې ټول ایجیلونا د خبرو ، زړورتیا او رېښتیا ویلو څخه دومره اغېزمن شول چې اثر یې په خبرو کې څرګندېده .

د مسلمانان لښکر د مریدا ښار ته ننوتل د موسی بن نصیر په قیادت کې او هغه لومړي حکم دا وکړ چې د مریدا ټول پوځ او ولسي خلکو ته دې خوراک تیار شي او هېڅوک باید وږي پاتې نشي ، د هغوې خپل ساتل شوي خوراکي شیان دې بازار ته وړاندې شي .

د مریدا فتح څه عادي کارنامه نه وه ، د ډېرو او خښتو په اساس دا ډېره کلکه او قوي کلا وه خو د جوش او جذبې په لحاظ تر ټولو قوي او کلکه وه ، دا یواځنی کلا وه چې د هغې محاصره کولو امکان نه درلود ، مریدا د طلبطې څخه هم ډېر مهم ښار وو ، ځکه چې هغه دیني مرکز او د بطریق اعظم د کېناستو ځای وو .

موسی بن نصیر د ښار او نورو سیمو د سمبالولو لپاره عربي چارواکي او ښکتني چارواکي یې اندلسي خلک وټاکل ، دا یې ځانګړې حکم وکړ چې د هر چا څخه باید دومره مالیات او خراج واخیستل شي چې د هغه وسه او توان رسېږي ، هغه دې ته اړ نشي چې کوچنیان یې وږي پاتې شي .

بطریق اعظم د څو نورو راهبانو سره د موسی بن نصیر لېدلو ته راغې ، دا وخت موسی بن نصیر د ښار لېدلو ته وتلی وه ، په ښار کې یو مېدان وه

چې هلته پوځیانو ته پوځي روزنه ورکول کېده ، او هم د لوبغاړي کار ورڅخه اخيستل کېده ، موسی بن نصیر د دې مېدان کتلو ته وتلی وو .

هغه ته احوال ورکړل شو چې بطریق اعظم د هغه سره لېدل غواړي ، او هغه وايي چې امېر څه وخت مانۍ ته راځي ، موسی بن نصیر سمدستي روان شو .

موسی بن نصیر چې بطریق اعظم د څو پادریانو سره د مېدان په غاړه ولاړ دی نو د سپرلی راښکته شو.

بطریق اعظم وپوښتل : ښاغلي امېر به څه وخت په دربار کې کيني ؟ زه خپل وراندېزونه مخکې کول غواړم .

موسی بن نصیر په خندا وویل : تاسې خو تیار او حاضر یاستی !

همدلته دربار جوړ دی ، مونږ ټول د الله جل جلاله په دربار کې ولاړ یو ، د بندګانو هېڅ دربار نه وي ، همدلته راځی چې کینو .

موسی بن نصیر هلته په ځمکه کېناستلو ، تاریخ لیکوونکې ډان پاسکال لیکلي چې بطریق اعظم په ځمکه پاندی د کېناستلو څخه ځان ساتلو ځکه چې هغه ډېر نوې او پاکه چپن اغوستې وه ، د چپن لاندې یې پتلون اغوستې وه ، د هغه بوټان ځلېدل ، د هغه په څېره باندې حېرانتیا خپره وه چې یو فاتح سپه سالار په سپیره ځمکه کیناستلو .

بله دا چې بطریق اعظم ځان بادشاه بللو نو هغه په ځمکه کېناستل د ځان سپکاوې بللو .

موسی بن نصیر بطریق اعظم ته وویل : راځۍ دلته کینۍ ! زمونږ دستور او طریقه همدا ده ، په هر ځای کې چې څوک شکایت یا وړاندېز وکړي ، مونږ هلته ورته کینو او کار خلاصوو .

که زه تاسې ته وخت او ځای وښایم چې هلته راشې نو ما به پدې کار سره ګناه کړې وي .

د الله جل جلاله حکم دی چې چېرې ماته آواز وکړي په هماغه ځای کې یې زه اورم ، د دې حکم وروسته د بنده څه حیثیت پاتې کېږي چې الله جل جلاله هغه ته درجه او رتبه ورکړي ، او بیا هغه خلکو ته وخت

ورکوي او کارونه څنډوي ، زه فرعون نه یم ! زه بادشاه نه یم ! تاسي خو د خپل قوم او ولس امام او لارښوونکي یاستی ، که چېري ستاسي د ولس یو عادي سړي ما په لاره کي رامنع کړي نو زه ورته ودرېږم او د هغه خبره اورم ، ددي څخه وروسته بطریق اعظم په ځمکه کېناستلو .

بطریق اعظم وویل : تاسي د الهی احکام تابع معلومېږی ! زه ستاسي څخه څه غوښتني لرم ، هغه دا چي زمونږ د کلیساګانو او عبادت ځایونو سپکاوي ونشي او نه په هغوي څه بندیز ولګول شي .

موسی بن نصیر وویل : دا حکم زه نه ورکوم ! دا د اسلام حکم او امر دي ، چي کوم هیواد او کومه خاوره تاسي فتح کړي د هغي د دین او مذهب او د عبادت ځایونو درناوي وکړی ، د خپل دین او مذهب داسي تبلیغ وکړی چي بل چاته پکي زیان او زړه بداوي ونه رسېږي - د اخلاقو نمونه اوسی او په خپلو کړو وړو سره انسانانو ته وړاندي کړي .

بطریق اعظم ! تاسي پوره ډاډه اوسی ، ستاسي د عبادت ځایونو درناوي به کېږي ، خو دا حکم ورکوم چي په عبادت ځایونو کي باید د مسلمانانو په خلاف تبلیغ ونشي او هغه زمونږ په خلاف استعمال نشي .

بله دا چي ستاسي هېڅ پادري په نورو خلکو کي د مذهب تبلیغ نشي کولاي پرته د خپلو خلکو څخه .

بطریق اعظم وپوښتل : آیا تاسي د خپل دین تبلیغ کوی ؟

موسی بن نصیر وویل : شاید هغي ته اړتیا پېدا نشي ، د دومره ورځو څخه چي دا ښار زمونږ په واک کي راغلي دي ، آیا تاسي ته کوم شکایت درغلي یا کومه پېښنه مو لېدلي چي کوم مسلمان سپایي یا چارواکي د چا په عزت او آبرو باندي لاس پورته کړي ؟

بطریق اعظم وویل : نه داسي نه اورېدل شوي او نه لیدل شوي دي .

موسی بن نصیر وپوښتل : آیا کوم مسلمان د چا کور ته تللي او د چا څخه یي څه غوښتي ؟

بطریق اعظم وویل : نه داسي څه ندي شوی .

موسی بن نصیر بیا وپوښتل : آیا بله کومه زړه بدونکي پېښنه شوېده ؟

بطریق اعظم ځواب ورکړ : نه داسې ندې شوې .
بالاخره موسى بن نصير ووېل : دا دې د اسلام تبليغ چې مونږ يې کوو ! ستاسې وعظ او پروپاګند زمونږ د داسې دعوت او بلنې هېڅ نشې کولاې .
زه ستاسې لپاره يو بل حکم هم کوم ، هېڅ عېسايې يا يهودې انجلۍ په زور او جبر سره راهبه نشې ګرځولې .
زه پدې پوهېږم چې ستاسې په عبادت ځايونو کې ددې انجونو سره څه ډول سلوک کېږي .
مونږ د خلکو خولې او ژبې نه بند وو ، بلکې د الله جل جلاله بندګانو ته ژبې او خولې ورکوو ، هغوې ته دومره وخت ورکوو چې که مونږ غلطې وکړو نو زمونږ لاس ونېسې او ماته نيغه لاره وښۍ .
تاريخونه ليکې چې بطريق اعظم نور څه ويل غوښتل خو د مسلمانانو د امېر خبر و د هغه ذهن او دماغ خالي او صفا کړ ، د بطريق اعظم لپاره همدا خبره بس وه چې هغه د يو فاتح سپه سالار په حيثيت د بل چا د خبرې اورېدلو لپاره په ځمکه کې کېناستلو ، ددې څخه وروسته بطريق اعظم پورته شو ، درناوې يې پر ځاې کړ او بيا روان شو .
يوه ورځ عبدالعزيز خپل پلار ته ووېل : ګرانه پلاره ! زما هغه انجلۍ خوښه شوه کومه چې تاسې ته وړاندې شوه ، د هغې نوم ايجيلونا ده .
موسى بن نصير ووېل : د هغې په څېره باندې جالۍ وه خو د هغې لاندې هم د هغې څېره ډېره ښکلې او حسينه معلومېده ، حتمي نده چې هغه دې همدومره حسينه وي .
عبدالعزيز ووېل : ګرانه پلاره ! زه د هغې څېرې ته نه ګورم ، زه د هغې زړورتيا او صداقت اغېزمن کړې يم ، د اندلس هېڅ جنرال ستاسې په وړاندې داسې خبرې نه وې کړې کومې چې هغې وکړې ، ما د هغې په هکله له جنرالانو او نورو چارواکو څخه پوره معلومات کړې دې .
د نورو خلکو څخه هم ماته معلومات شوې دې چې هغه ډېره غېرتې مېرمن ده او د بادشاهي کورنۍ غړې هم ده ، ددې ځاې هر جنرال ، هر چارواکې او هر څوک د هغې سره د واده کولو لپاره خپل پېښې او لاسونه

وهي ، خو هغې به هر چاته همدا ویل چې لومړې مریدا خوندې کړی او بیا د اندلس نور ښارونه د مسلمانانو څخه آزاد کړې ، هغې ددې ځاې په هر نارینه ، ښځې ، کوچنې او ټولو خلکو کې د وطن مینه او محبت پیدا کړې وو .

دا مېرمن به په اس سپرېدله او لوڅه توره په لاس به په ټول ښار کې ګرځېدله ، ماته د داسې مېرمنې اړتیا ده .

موسی بن نصیر وویل : زما ګرانه زویه ! زه تاسې ته د داسې مېرمنې سره د واده کولو اجازه درکوم خو هغه به پخپل کنترول کې ساتې ، دا د بادشاهی کورنۍ غړې او د یو بادشاه کونډه ده .

ته پوهېږې چې د بادشاهي کورنۍ د غړو کره وړه څه ډول وي ، داسې نه چې ددې مېرمنې څخه چې زمونږ کوم نسل پیدا کېږې هغه په راتلوونکې کې زمونږ لپاره د سپکاوې او ذلت سبب وګرځي .

ایجیلونا د مریدا د ماڼۍ په یوه ځانګړې خونه کې ساتل شوې وه ، موسی بن نصیر حکم کړې وو چې هېڅ یرغماله مېرمن به نه زورول کېږې ، د ایجیلونا لپاره ځانګړې خدمت کوونکې هم ورکړل شوې وه ، یوه ورځ هغې ته خادمې وویل چې یو عربې سالار ستاسې سره لېدل غواړې !

ایجیلونا وپوښتل : بوډا دې که ځوان ؟

خادمې وویل : ځوان دې ، ستاسې د عمر سره برابر دې .

ایجیلونا وویل : دلته یې راولېږه .

کله چې عبدالعزیز دننه راغې نو د ایجیلونا په مخ نرې او نازکه جالۍ پرته وه ، هغه د ځان سره یو ژباړونکی هم راوستلې وه ، هغه د ژباړونکې په وسیله د ایجیلونا څخه وپوښتل چې هغې ته خو دلته څه ستونزه او تکلیف نشته ؟ آیا د هغې اړتیاوې پوره کېږې ؟

ایجیلونا ډاډ څرګند کړ او وې پوښتل چې هغه څوک دې او دلته د څه مقصد لپاره راغلې دې ؟

عبدالعزیز وویل : زه د سپه سالار مشر زوې عبدالعزیز یم ! سپه سالار موسی بن نصیر د مصر او افریقا او اوس د اندلس امېر دې ، د هغه څخه وروسته به انشاء الله زه د اندلس امېر ووم .

ایجیلونا ویوښتل : دلته د څه مقصد لپاره راغلې یې ؟

عبدالعزیز وویل : دومره بې پروایي ؟ آیا ته تر اوسه پورې خپل ځان د اندلس ملکه بولې ؟

ایجیلونا وویل : د اندلس ملکه که نه یم نو د خپل زړه ملکه خو یم .

دا داسې حکومت دی چې زما څخه یې هیڅوک هم نشي اخیستلای ، او دا خبره په یاد ولره سالاره ! زه د یو بادشاه کونډه یم ، زه په بادشاهي کورنۍ کې پیدا شوې او لویه شوې یم !

پدې خاطر زما رویه او سلوک د نورو میرمنو سره توپیر لري ، کومې چې زما څخه ښکته دي ، هغوی ستاسې غوندې د سالارانو په وینځې توب او ملګرتوب باندې ویاړ کوي .

عبدالعزیز ورته وویل : زه نه تا وینځه ګرځوم او نه ملګرې ، ته د بادشاه میرمن وې باید د بادشاه میرمن شې ، په مسلمانانو کې بادشاه نشته ، زمونږ یو امیر المؤمنین دی چې د هغې واکمنان امیران بلل کیږي ، د هغې امیرانو حیثیت د بادشاهانو په شان وي خو فکر او خیال یې د بادشاهانو غوندې نه وي .

ایجیلونا ویوښتل : آیا ته زما سره واده کول غواړې ؟

عبدالعزیز وویل : هو ! ما د خپل پلار څخه هم اجازه اخیستې ده ، که ماته وینځه یا ملګرې ګرځولې ته به اوس دلته نه وای ، ته مې دلته د ملکې په څیر نه ساتلې .

ایجیلونا ویوښتل : آیا زه به میرمن ګرځول کیږم که ملکه ؟

عبدالعزیز وویل : که خپل نقاب پورته کړې نو زه ستا د پوښتنې سم ځواب درکولای شم !

ایجیلونا د خپلې څیرې څخه نقاب لرې کړ ، بیا یې د سر څخه رومال هم لرې کړ ، عبدالعزیز چې د کومو خلکو څخه د هغې په هکله پوښتنه کړې وه ، هغوی ورته ویلې وه ، چې ددې میرمنې عمر به اته ویشت کاله وي خو د شل کالو انجلۍ معلومیږي ، د هغې په حسن او ښکلا کې داسې اثر او

جادو دي چې کله يې څوک په ځلومړي ځل وګوري نو په بدن کې يې لړزه راپيدا کېږي .

د هغې په سترګو کې داسې اثر دي چې انسانان تر اغيزې لاندې راولي ، بيا د هغې په خبرو کې داسې اثر او جادو دي چې انسان د غلام په شان د هغې په اشارو باندې نڅېږي .

يو اندلسي جنرال عبدالعزيز ته ويلي وه چې ددې مېرمنې حسن او ټول بدن ډېر زړه راښکوونکې او خطرناک دي ، هغې د راډرک په شان ظالم بادشاه هم نرم کړي وو .

عبدالعزيز چې کله د هغې اصلي څېره ولېدله نو ورخطا شو ، بې سده او بې هوشه غوندې شو .

ايجيلونا پدې وخت کې مسکا کوله ، د هغې سترګو هم خندل .

د عبدالعزيز د خولې څخه بې اختياره ووتل : ته به ملکه ګرځې ، د دې هيواد ملکه ، زما د زړه ملکه .

ايجيلونا وپوښتل : آيا رسمي او قانوني نکاح او واده به وي ؟

عبدالعزيز وويل : نکاح به کېږي ، د اسلامي قانون سره سم ....

ايجيلونا وويل : زه اسلام نه قبلوم خو د اسلامي قانون سره سم نکاح قبلوم .

عبدالعزيز ورخطا شو ، هغې ته يې وويل چې اسلام قبول کړه خو هغې خبره ونه منله .

بالاخره د ډېر تاکيد کولو څخه يې وروسته وويل چې زه څه وخت وروسته اسلام قبلوم ، دا يو حقيقت دي چې عبدالعزيز دا شرط ومنلو او راتلوونکې ورځ د دواړو نکاح سره وشوه .

يو نيم کال مخکې موسی بن نصير د مريدا په شان يو بل ښار اشبيليه فتح کړی وو ، د هغې ځاې د اداري چارو ، کار او د مالياتو لپاره چې کوم عربي چارواکي پکار وه هغه ټول پيدا نشول نو کار يهودي خلکو ته وسپارل شو .

مخکې وويل شول چې د راډرک په حکومت کې يهوديان دريمه درجه ولسي خلک ګڼل کېدل ، د حکومت زيات مصارف د يهوديانو څخه د مالياتو او ټيکس په شکل کې اخيستل کېدل ، هغوي ته په پوځې او اداري

چارواکی کوچنی او ښکته رتبې سپارل کیدې ، تر تولو زیات ظلم دا وه چې کوم پادري به یهودي انجلۍ خوښه شوه نو هغه به یې د خان سره بیوله او هغه به یې راهبه گرځوله .

د یهودیانو سره لوړ پوړو چارواکو هم همدا رویه او سلوک کولو ، لنډه دا چې په اندلس کې یهودیانو هیڅ حیثیت او قدر نه درلوده .

همدا لامل وو چې یهودیانو د طارق بن زیاد سره پټ کومک او مرسته کوله او طارق بن زیاد ددې په بدل کې په فتح شوي ښارونو کې پورته رتبې ورکړې او په هغوې کې چې کوم مالیات او ټیکسونه لګول شوي وه هغه یې ورته معاف کړل ، هغوې ته یې نورې آسانتیاوې هم ورکړې .

کله چې موسی بن نصیر د طارق بن زیاد څخه وروسته اندلس ته ننوتلو یهودیانو د هغه سره هم دومره مرسته او کومک وکړ چې هغه هم له نظره ونه غورځول ، یهودیانو د عیسایانو جاسوسي هم کوله چې پدې سبب د ډېرو دسیسو او سرغړونو معلومات مخکې له مخکې کیده ، په همدې لامل موسی بن نصیر یهودیانو ته لوړې رتبې ورکړلې .

موسی بن نصیر او طارق بن زیاد د یهودیانو څخه دومره زیات اغېزمن شول چې هغوې دا خبره له یاده ووېستله چې د اسلام اصلي او سخت دښمنان یهودیان دي .

یهودیانو نبی علیه السلام ته په غوښه کې زهر ورکړل خو د هغوې دا دسیسه ناکامه شوه او خبره مخکې له مخکې رسوا شوه .

د یهودیانو شیطانت او ابلیست یو ځل بیا راښکاره شو چې دا لمبې په اشبیلیه کې راپورته شوې ، په یو کور کې دوه یهودې ربیان ( لارښوونکې ) د څلورو نورو یهودیانو سره ناست وه .

یو یهودي ربي وویل : زمونږ کار اوس وشو ، د راډرک حکومت ختمول زمونږ مقصد او هدف وو ، مونږ د مسلمانانو سره یو ځاې شو او خپل هدف مو ترلاسه کړ .

اوس باید خپل اصلي مقصد ته راوګرځو ، تاسې ټول پوهېږئ چې هغه هدف څه دي .

یو ځل بیا یروشلم ته تلل او هلته هېکل سلیماني اباد ول ، دا زمونږ مذهبي مسئولیت دي ، مونږ پدې هدف کې هغه وخت کامیابېداې شو چې کله عېسایان د ځان سره ملګرې کړو .

زمونږ اصلي ټکر او مقابله د مسلمانانو سره ده ، تاسې خبر یاستی چې مسلمانان یروشلم ته بیت المقدس وایې ، هغوې لومړې قبله او مسجد اقصی هم ورته وایې ، هغه زمونږ سلیماني عبادت ځاې دې ، مونږ باید بېرته یروشلم ته ولاړ شو .

فلسطین زمونږ وطن دې خو اوس مسلمانانو لاندې کړې دې ، مونږ په اندلس کې د عېسایانو حکومت ختمول غوښتل چې هغه کار د مسلمانانو په لاس پوره شو .

بله ګټه مو دا وکړه چې د مسلمانانو په حکومت کې مو لوړې رتبې او درجې ترلاسه کړې ، اوس د هغوې لوې او حساس رګونه زمونږ په کنترول کې دې .

دا خبره هېڅ وخت له یاده ونه باسی چې مسلمانان زمونږ دښمنان دې ، او دا دښمني هېڅ ختمېدونکې نده ، تاسې ګورې چې مسلمانان په ځمکه کې خپرېږي ، د هغوې سره د اسلام دین هم خپرېږي .

ددې مخه نیول زمونږ مسئولیت دې ، ما تاسې ته وویل چې دا کار به مونږ د عېسایانو په مرسته او کومک سره کوو ، خو دا کار به په پټه طریقه سر ته رسول کېږي ، اندلس به اوس مونږ د مسلمانانو هدیره جوړوو .

یهودیان د سر څخه تر پښو پورې ټول فتنه او فساد وه او د هغوې چالاکې او دوکه ورکول په ټوله نړۍ کې مشهور دې ، هغوې په هر ځاې کې د لستوڼي ماران ګرځي .

هغوې دا خبره ډېر زر له یاده ووېستله چې په اندلس کې مسلمانانو هغوې ته درناوې او حیثیت ورکړ ، اوس هغوې د مسلمانانو لپاره د لستوڼي ماران شول .

***

دا وخت د اشبيليه واکمن او لوړ پوړي چارواکي د دمشق اوسېدونکي ابو البقر وو ، هغه يو ماښام په باغ کې ګرځېده ، چې ناڅاپي يوه حسينه او ښکلې انجلۍ په زړو او خېرنو جامو کې ورته راغله پداسې حال کې چې يو د بل په خبره سره نه پوهېدل .

انجلۍ په اشارو سره ابی البقر په خبره پوهول غوښتل ، هغې خپله لمن بيا بيا هغه ته پورته کوله او ښودله ، شايد هغې به ويل چې زوروول شوې او سختې پرې شوېده .

ابی البقر هغه ځنډ نکړه ، هغه معلومول غوښتل چې پدې باندې چا سختې کړې او چا زوروله ده او ددې کار کوونکې خو کوم مسلمان ندې ؟ انجلۍ ژړا پيل کړه .

ابی البقر د هغې په سر لاس کېښوده او هغې ته يې ډاډ ورکړ ، انجلۍ د هغه لاس په خپلو دواړو لاسونو کې ونيولو او ښکل يې کړ .

د انجلۍ سره يوه ټوکرۍ وه چې په هغې کې څو دانې منې ، انجلۍ يوه منه ابی البقر ته ورکړه او اشاره يې وکړه چې دا وخوري .

ابی البقر د هغه د زړه د خوشحالو لپاره منه وخوړه ، ددې څخه وروسته انجلۍ خپل دواړه لاسونه په تندې کېښودل او روانه شوه ، ماښام ښه تياره شوې وو ، ابی البقر د کور په لورې روان شو خو په سر کې يې درد او دروندوالې پېدا شو .

ترڅو چې کور ته رسېدو حالت يې ډېر خراب شو ، طبيب يې راوغوښتلو ، هغه نبض وکتلو ، د تکليف علامې او نښې يې وکتلې او د ابی البقر حالت يې په غور سره کتلو .

طبيب وپوښتل : لږ مخکې دې څه خوړلې دي ؟

ابی البقر ورته کېسه وکړه چې داسې يوه مظلومه انجلۍ راغله او بيا يې ماته د خوراک لپاره منه راکړه ما هغه وخوړله .

طبيب وويل : په منه کې زهرجن مېکروب وو ، يا په هغې کې زهر ګډ شوې وو .

ابی البقر هغه ته کېسه کوله او حالت يې خرابېدلو ، طبيب ورته دوا او درمل ورکړل خو هغه ژوندي پاتې نشو .

موسی بن نصير ته احوال ورکړل شو ، هغه بل ځوک د اشبيليه واکمن وټاکلو .

د ابی البقر د مړينې څخه دوه ، درې ورځې وروسته د پوځ يو مرستيال سالار په همدې طريقه د همدې انجلۍ په لاس په زهرو باندې ووژل شو .

دوه ، درې ورځې وروسته يو مسلمان چارواکې د شپې له لورې په يوه کوڅه کې تېرېده چې د شا له لورې پرې د خنجر دوه ، درې ګذارونه وشول او سبا سهار په کوڅه کې مړ پروت وو .

دوه ، درې ورځې وروسته به همداسې کارونه کېدل چې پدې لړ کې دېرش عربي چارواکې ووژل شول ،.څه په زهرو سره او څه په توره ، برچه او خنجر باندې ، يو په غشي لګېدلې وو .

تاريخونو د ټول مړه شويو چارواکو شمېر دېرش ليکلې دې .

پروفېسر ډوزي او ډاکټر کوندې ليکلې دې چې موسی بن نصير ته په مريدا کې داسې احوال ورسېدلو :

د دېرشو عربي چارواکو پټ او ناڅرګند وژل کېدل ددې معنا لرې چې دا کومه دسيسه او پټ پلان دې چې د ماتې خوړلې عېسايانو له لورې کېداې شي .

ددې دسېسې يو دليل دا دې چې د مالياتو او محصول په راټولولو کې هم ستونزې او خنډونه راپېدا شوې دې ، خلک د پلمو څخه کار اخلي .

يو خطرناک خبر دا دې چې عامو خلکو او ځينو جنګې بنديان وسلې ترلاسه کړې او چېرې يې پټې کړې دې ، که پدې حالت باندې کنترول رانشي نو د بغاوت او سرغړونې امکان يې زيات دې .

يهوديانو داسی عمل کولو چې شک يوازې په عېسايانو باندې راتللو ، او هغو ته د هېڅا پام هم نه اوښتلو ، د مسلمانانو په خلاف د يهوديانو او عېسايانو پېغلې انجونې استعمالېدلې .

موسی بن نصير ته چې کله احوال ورغې سمدستې يې خپل زوې عبدالعزيز ته وويل چې اوه ، اته سوه غازيان د ځان سره واخلي او سمدستې

اشبیلیه ته ورسېږي ، یوازې د بغاوت مخه نیول اړین ندي بلکې د بغاوت کوونکو نیول او سزا ورکول اړین دی خو د مرګ څخه کمه سزا مه ورکوه .

ماته دا شک پیدا شوې چې دا فتنه او فساد یهودیانو راپیدا کړې دي .

عبدالعزیز په حیرانتیا سره وویل : یهودیان ! یهودیان خو زمونږ سره ملګري دي ؟

موسی بن نصیر وویل : زویه ! یهودیان پرته د یهودیانو څخه د بل سره ملګرتیا نه کوې ، الله جل جلاله هم هغوې فتنه او فساد پیدا کوونکې بللي دي .

ته باید هر چا ته د شک په سترګه وګورې .

عبدالعزیز د خپلې نوې مېرمنې ایجیلونا سره اشبیلیه ته ورسېدلو ، د هغه سره اووه سوه سپاره وو ، هغه یو دم انقلاب راپیدا کړ ، هغه خپل جاسوسان راوغوښتل چې په دوه ، درې ورځو کې معلومات وکړې چې دا کار په څه ډول پیل شوې دې او ددې تر شا د چا لاس دې .

جنګې بندیان د پوښتنې لپاره راوغوښتل او ددې پلټنه یې پیل کړه چې چا چا وسله پټه ساتلې ده ، ټول منکر شول .

عبدالعزیز دوه عربې چارواکې راوغوښتل او هغوې ته یې وویل چې تاسې هر یو جنګې بندې راوغواړی او د خپلو ملګرو په هکله ورڅخه معلومات واخلی .

پدې هکله هغوې ته هر ډول اسانتیاوې ورکړی او هغوې د معلوماتو ورکولو لپاره چمتو کړی .

دا کار بریالې شو ، درې څلور کسان په ګوته شول چې په هغې کې درې عیسایې او یو پکې یهودې وو ، څلور واړه ونیول شول ، هغې څلورو نور دوه کسان هم وښودل چې هغه هم ونیول شول . وسلې په یوه کلیسا کې راتولېدلې .

ایجیلونا لېدل چې عبدالعزیز دومره اندېښمن دې چې د شپې خوب هم نکوې .

یوه شپه ایجیلونا خپل خاوند په اندېښنه کې ولېده نو د هغه څخه یې وپوښتل : عزیز ! ټول چارواکي د بغاوت کوونکو پسې ګرځي نو بیا ته ولې دومره اندېښمن یې ؟ ته چې کوم حکم ورکوې هغه سمدستي عملي کېږي .
عبدالعزیز وویل : د بغاوت او سرغړونې یو بځرکې ټول هیواد تباه کولی شي ، دا زما مسئولیت دی چې هېواد ددې خطر څخه خوندي وساتم ! ته پوهېږې چې مونږ ددې هېواد په نیولو باندې څومره قرباني ورکړېده .
زه الله جل جلاله په وړاندې ځواب ورکوونکې یم ، زه به هغه ورځ ډاډه شم چې کله د بغاوت کوونکو آخري سرې زما په وړاندې ووژل شي .
لږ فکر وکړه ! که دا بغاوت بریالی شوې وای زما او تاسې پای به څه وای ؟ زه به وژل کېدلم او د باغیانو مشر به ستا سره شپې تېروې .
ته خو د ملکه کېدو خوبونه ګورې او حالات بل ډول روان دي !
عبدالعزیز داسې خطرناک او وېرونکې نقشه وړاندې کړه چې د ایجیلونا د وجود وښته ودریدلو او رنګ تک زیړ شو.
ایجیلونا وویل : زه ستا مرسته او کومک کوم ، ماته د جاسوسی کولو اجازه راکړه .
عبدالعزیز ورڅخه وپوښتل : ته به څه وکړې ؟
ایجیلونا وویل : سبا زه لوې کلېسا ته ځم ، او مشر پادري ته وایم چې ما خو د یو مسلمان چارواکي سره نکاح کړې خو خپل دین مې ندې خوشې کړې ، ددې څخه وروسته چې زه څه کوم هغه به تاته بیا څرګند شي .
عبدالعزیز ورته وویل : ډیر ښه خو دا یاد لره چې ستا عزت په دی کې چې د یو انسان د سیوری لاندی شپی او ورځی تیری کړی او په دی خاوری کې امن او امان وی .
سبا سهار ایجیلونا لوې کلېسا ته ولاړه ، مشر پادري چې هغه ولیده نو حېران شو .
مشر پادري وویل : ما اورېدلي دي چې تا د یو مسلمان پوځي سالار سره واده کړې دې اوس ته په کلېسا کې څه کوې ؟

ايجيلونا په مسکا سره ووېل : د کليسا سره زما د زړه تړاو دی ، ما چې
د کليسا د آبرو ساتلو لپاره څومره کار يوازې کړې دې هغه تاسو هم ندي کړې .
بيا ايجيلونا د بوډا پادري لاس په خپلو ښکلو او نازکو لاسونو کې
ونيولو په مسکا شوه .
هغه وخت پادريانو راهبې د ځان سره ملګرې کولې ، ايجيلونا خو بې
کچه حسينه او ښکلې وه ، د پادري د څېرې شکل بدل شو ، د هغه په شونډو هم
داسې مسکا راغله چې د نوې پيغلې راهبې په لېدلو به پرې راتلله .
مشر پادري د ايجيلونا څخه وپوښتل : آيا په بله اراده دې ددې مسلمان
سالار سره واده کړې دې ؟
ايجيلونا ځواب ورکړ : هو ! تر ټولو لومړې زه ستا څخه قسم اخلم چې زما
هره خبره به پټه او راز ساتې ، زه کليسا ته د عبادت په پلمه کتاته راغلې يم !
زما سره د يو ملګرې او دوست په شان خبرې کوه ، ما د بادشاه کونډه او
د مسلمان سالار مېرمن مه بوله .
مشر پادري ووېل : دا څه ډول خبرې کوې ! مونږ خو په کليسا کې ناست
يو ، که ته وايې نو زه د حضرت بی بی مريم د تصوير مخې ته ودرېږم او په
صليب باندې لاس ږدم او تاته قسم خورم چې ته ....
ايجيلونا ووېل : نه پلاره ! ستاسې همدا کلمات زما لپاره د قسم درجه
لري ، اصلا ما ويل چې ما خو د مسلمان سالار سره نکاح کړې خو خپل
دين مې ندې بدل کړې ، هغه په ما دومره مين دی ، چې زما دا شرط يې
ومنلو ، ما د هغه د زړه ساتلو په خاطر ورته ووېل چې زه څه وخت وروسته
اسلام قبلوم .
پادري په خندا سره ووېل : دا ستاسې د حسن او ښکلا کمال دې ايجيلونا !
ايجيلونا ووېل : که دا زما د حسن او ښکلا کمال وې نو زه د هغه څخه
نوره ګټه او کار اخيستل هم غواړم ، زما خاوند دلته د بغاوت او سرغړونې
د ختمولو لپاره راغلې دې .
خو زه د بغاوت او سرغړونې د زياتوالي لپاره راغلې يم ، زه پوهېږم کوم
کسان چې تر اوسه پورې نيولې شوې دې هغه د دريمې درجې مشران او لار

ښوونکې دې ، اصلي مشران د ځمکې لاندې کار کوي ، زه پدې کوښښ کې یم چې هغه معلوم کړم او د هغوی لپاره خوندي ځای پیدا کړم .

مشر پادري وویل : آیا ته د هغوی لپاره له خپل خاوند څخه ښښنه او معافېدل غواړې ؟

ایجیلونا وویل : نه مقدس پلاره ! زما خاوند هیڅوک نه معافوي ، هلته هر څوک د بغاوت په جرم ووژل کېږي ، باید ټول مشران ددې ځاې څخه ژوندي بل ځاې ته وباسم .

ته پوهېږې چې د ښار یوازې یوه دروازه پرانستل کېږي او هلته د هر تلوونکي پلټنه کېږي ، زه به هغوی د سرکارې خلکو په جامو کې د باندې وباسم .

مشر پادري وویل : تر ټولو لومړې ما لدې ځایه وباسه ! د بغاوت یو پټ مرکز دا هم دی .

ایجیلونا په دروا‌غه سره وویل : دا خو ماته لا مخکې معلوم وه ، زه دا مرکز همداسې ساتل غواړم ، ته باید زما په هکله دا ډاډ او یقین ولرې چې ما د سالار عبدالعزیز سره یوازې پدې خاطر نکاح کړې چې د مسلمانانو د حکومت ریښې وباسم ! دا کار چې زه په څه طریقه سره کوم د هغې پوښتنه تاسې مه کوی ، زه یوازې دومره درته وایم چې زه د خپل خاوند د پلار سره اړیکې پیدا کوم بیا به زوې او پلار د یو بل وینو ته تږې کیني .

مشر پادري وویل : زه په تا پوره ډاډ او اعتماد لرم ایجیلونا !

ایجیلونا د خپل حسن ، ښکلا او خبرو جادو استعمال کړ او پادري یې خپل ملګرې کړ .

مشر پادري وویل : که تاسې ددې بغاوت مشرې پخپله غاړه واخلی نو دا حتما بریالې کېږې ایجیلونا !

ایجیلونا وویل : مونږ حتما بریالي کېږو ! مونږ باید کامیاب شو ! که بریالي نشو نو زمونږ ددین د پیروانو پای به څه وي ؟ ما تاسې د خپلو مهمو ملګرو سره مخامخ کړی ترڅو په ګډه په یو لوی کار سرته ورسو ، آیا سبا هغوي دلته راتللې شي ؟

ایجیلونا وویل : زه به هم راشم ، بیا پورته شوه .

پادرې هم پورته شو ، ایجیلونا خپله غېږ خلاصه کړه او خپل لاسونه ورځنې راتاو کړل پادرې دا هیله نه لرله چې هغه به ورسره دومره مینه وکړې نو حېران شو .

بیا ایجیلونا د هغه شونډې ښکل کړې .

ایجیلونا وویل : زه به آخر ددې کلیسا راهبه ګرځم ! خو د اندلس تر آزادۍ وروسته ! دا زما د ژوند مقصد او هدف دې .

ایجیلونا د پادرې د غېږ څخه ووتله او روانه شوه ، هغه د څلور آسونو په بګۍ کې راغلې وه ، پادرې د هغې د آسونو ترپا اوربدله خو بې سده او بې هوشه ولاړ وو ، هغه د ایجیلونا په فکر کې ډوب وه او د هغې د یو ځاې کېدو خوند یې محسوسولو .

په دویمه ورځ بیا ایجیلونا هلته ناسته وه خو دا پرونۍ خونه نه وه ، بلکه د نورو خونو په منځ کې وه ، د کلېسا دباندې څو کسان یوې او بلې خواته ګرځېدل که کوم شکمن سړې هغې خواته راشې نو چې د کلېسا خلک پرې خبر کړې .

دې غونډې ته دولس ، دیارلس کسان راټول شوې وه چې دوه پکې یهودیان وه ، دا ټول د بغاوت مهم مشران او قایدن دی ، تر اوسه پورې د دوې پېژندنه لا نه وه شوې ، یو یهودې داسې خبره پیل کړه :

ملکه ایجیلونا ! مونږ تاته دا خبره کوو که مونږ ونیول شو نو وژل کېږو خو ته هم ژوندی نشی پاتې کېداې چې مونږ ته دوکه راکړې ! مونږ داسې پلان جوړ کړې چې ته به سمدستې نه وژل کېږې ، بلکې تابه تښتوې ، بیا ته پوهېږې چې دا خلک به ستا سره څه کوې ، تا په هغه وخت کې خوشې کوې چې ته به مړه شوې وی .

ایجیلونا وویل : نه به تاسې نیول کېږې او نه به زه تښتول کېږم ! زه فکر کوم چې مقدس پلار تاسې ته زما په هکله پوره معلومات ندې درکړې .

یهودي ووېل : تول شیان یې راته ویلې دي ، کنه بیا مونږ دلته نه راتللو ، بیا هم مونږ تاته ګوت څنډنه کوو ، څکه چې ته د یو پوخې مسلمان سالار میرمنې یې ، ته به د خپل خاوند سره ملګرتیا کوې .

ایجیلونا ووېل : زما ملګرتیا او وفا د کلیسا سره ده ، خاوند زه خپل ملګرې ګرځوم ، هغه په ما دومره عاشق دی چې زه په هغه هره خبره منلې شم .

یو بل ګډون کوونکې ووېل : زما په فکر تاسې خوب ګورئ ! ستا خاوند به وروسته بل ښار فتح کوې او هلته به ورته بله حسینه پیغله پیدا شي او په هغې باندې به عاشق شي بیا به تاسې ورته د یو بې کاره شي په شان ولګرځئ .

ایجیلونا ووېل : د هغې وخت د راتللو څخه مخکې به زمونږ بغاوت بریالې شي ، آیا تاسې پدې خبر نه یاستئ چې په ملاقه او غرناطه کې هم بغاوت پیل شوي دي ، مونږ باید دا بغاوت نور هم خپور کړو .

دا ستاسې کار دي ، زه دا مسئولیت په غاړه اخلم چې خپل خاوند ته په مناسب وخت کې زهر ورکړم .

سمدستې زه د هغه په سترګو کې خاورې اچوم چې مهم کسان ورڅخه خلاص کړم ، سمدستې ستاسې وتل لدې ښار څخه اړین دي ، په نیول شویو کسانو کې کېداې شي څوک تاسې په ګوته کړې ، تاسې چې کله ووتلئ نو باید آرام ونه کړئ او خپل عمل تیز کړئ .

یو یهودي ووېل : مونږ باید دا کار وکړو ، د مسلمانانو سره دومره پوځ نشته چې په تول هیواد کې د بغاوت مخه ونیسي .

دویم یهودي ووېل : زه یوه خبره کول غواړم ! بغاوت چې هر چېرې پیل شوې دې هغه یهودیانو پیل کړې دې ، مونږ د راډرک څخه په تنګ شوې وو ، تاسې ته څرګنده ده چې زمونږ حیثیت څه وو ، مونږ د مسلمانانو سره لاسونه یو کړل او راډرک مو له تخت څخه وغورځولو ، اوس مونږ د مسلمانانو رهبرې راباسو ، مونږ هغوې په کراره نه پرېږدو خو خپله بادشاهي هم نه غواړو ، بادشاهي به د عیسایانو وي ، مونږ یوازې دا غواړو چې زمونږ حیثیت هم د عیسایانو په شان وي .

یو عېسایې مشر وویل : تاسې به ددې ښخه هم غوره حیثیت ولری ، کوم کار چې تاسې کولاې شی هغه مونږ نشو کولاې ، یهودیانو ته به د هغوې د هېلې ښخه زیات انعام ورکول کېږي .

ایجیلونا وویل : تاسې په پوره ډاډ سره خپل کارونه کوی ، حقوق او اسانتیاوې وروستی خبره ده ، اوس تاسې ټول ددې ښار ښخه د وتلو کوښښ وکړې ، زه به تاسې ته وایم چې په کوم شکل کې له ښار ښخه ووځی .

د تاریخې لیکنو سره سم ایجیلونا هغوې ته وویل چې تاسې د سوداګرو په شکل د شل دېرش کچرو سره یو ځاې د ښار ښخه ووځئ او په کچرو باندې څه بار کړی ، په دروازه کې به دا پلمه کوې چې مونږ د قرطبې سوداګر یو چې مال مو راوړې وه اوس بېرته خپلو ځایونو ته ځو .

بله ورځ په لومړی وخت کې د لوبو د میدان خیځ لور ته دا یولس کسان د اتلس کچرو سره یو ځاې ولاړ وه ، د هغوې سره نور درې ، څلور کسان هم ملګرې شوی وه چې په بغاوت کې ورسره داخل وه .

هغوې د هغه څلور مخورو سوداګرو لپاره ولاړ وه چې ایجیلونا ورته معرفې کړې وه ، د بغاوت سرغنو او مشرانو د هغوی لاره ځارله چې له یو لورې څلوېښت ، پنځوس سپاره غازیان راښکاره شول .

باغې مشرانو خپل مخونه بل لورې ته واړول ، پوځیان دوه ، دوه کسان د هغوې سره نژدې تېرېدل ، کله چې نیمایې سپاره تېر شول یو دم راتاول شول او باغې مشران یې راګېر کړل ، د ټولو غازیانو سره برچې وې چې د باغیانو په سرونو باندې یې ونیولې .

د سپرو مشر وویل : تاسې ټول محاصره یې ، په چوپتیا زمونږ سره ولاړ شئ .

دا ټول د عبدالعزیز مخې ته ودرول شول .

عبدالعزیز حکم وکړ : دوې ټول سمدستې ووژنی .

ټول سرغړونکې ووژل شول چې پدې سره د بغاوت خطر سمدستې پای ته ورسیدولو .

ایجیلونا عبدالعزیز ته وویل : اوس ستا باور او اعتبار په ما باندې راغې کنه ؟ ما د خپل قوم مخور خلک په چل باندې راوستل او ستاسې په لاس

مې ووژل ، ما چې خپل دين بدل نه کړ او ستاسې سره مې نکاح وکړه نو څه وشول ، زما دين ستا مينه دی ، زه ستا عبادت کوم .

ددې څخه وروسته ايجيلونا په عبدالعزيز باندې نوره هم ګرانه شوه ځکه چې هغې ډېره لويه کارنامه سر ته ورسوله .

پدې وژل شويو خلکو کې يهوديان او پادريان هم شامل وه ځکه هغوې ددې بغاوت مشرې کوله .

ايجيلونا عبدالعزيز ته وويل چې اصلې بغاوت يهوديانو پيل کړې دې او هغوې مسلمانان خپل اصلې دښمنان بولې .

يهوديانو ته مسلمانانو د مرستې او کومک په بدل کې ډېرې ځمکې او جائيدادونه ورکړې وه ، عبدالعزيز هغه ځمکې سرکارې کړې او رتبې يې هم ورڅخه واخستې او هغوې ته يې پخوانې سرکارې حيثيت ورکړ کوم چې راډرک ورکړې وو ، دا د هغوې د بغاوت او سرغړونې بدله او سزا وه .

عبدالعزيز بيا ټولو هغو ښارونو ته ولاړ په کومو کې چې بغاوت او سرغړونې سر راپورته کړې وو ، هغه ټول ښارونه د بغاوت کوونکو څخه پاک کړل .

## نـادیـه

بربري ګوربت طارق بن زیاد د موسی بن نصیر اندلس ته په راتللو دومره خوشحاله وو چې ویل یې : کله چې زه د امیر موسی له راتللو څخه خبر شوم نو ما پخپل ځان کې نوې روحاني او معنوې ځواک بیاموندلو .

بیا طارق بن زیاد ته احوال ورکړل شو چې موسی بن نصیر د اشبیلیه او مریدا په شان لوې او مهم ښارونه نیولې دي ، نو د هغه په روح او بدن کې تازه والي راغی.

طارق بن زیاد وویل : زه خپل مربی او امیر ته د طلېطې ښار وړاندې کوم او د الله تعالی څخه امید لرم ته نورې سیمې هم وړاندې کړم !

دا وخت طارق بن زیاد په طلېطه کې وو ، هغه د شا او خوا پاتې سیمو په هکله معلومات ترلاسه کړې وو ، هلته درې لوې او مهم ښارونه مائده ، مایه او ګېلبشیا پاتې وه .

طارق بن زیاد د خپلو ملګرو په مشوره د هغې درې ښارونو د فتح او نیولو پلان جوړ کړ ، په کومه لاره چې هغوې هلته رسېدل غوښتل هغه د وادي الحجاره څخه تېرېدله .

جولین وویل : کومه لاره چې تا د پرمختګ لپاره غوره کړې ده د هغې څخه تېرېدل امکان نه لري ، ته دومره آسونه ، کچرې ، سامان او پوځیان په څه ډول له هغې درې څخه تېرولاې شې ؟ تا د هغې درې د حسن او ښکلا انګازې اورېدلې دي .

بربري ګوربت طارق بن زیاد وویل : زه پوهېږم چې آسانه لاره کومه یو ده ؟ خو نه پوهېږې چې هغه لاره څومره اوږده ده ؟ زه په لاره کې دومره زیات وخت ضایع کول نه غواړم ، زما لښکر به د همدې سختې لارې څخه تېرېږي ، زه به انشاء الله ډېرې سیمې فتح کوم ، او بیا د امیر موسی سره مخامخ کېږم ، زه چا ته ددې ویلو وخت نه ورکوم چې تا د آسانه لارو په لټولو کې ډېر وخت ضایع کړ .

اوپاس وویل : زما ګرانه دوسته ! دا لاره دومره خطرناکه ده چې ستا د پوځ زيات سپاهيان به ضايع شي ، او دا خطر هم شته چې په لاره کې به پوځ همداسې ونښلي او پرمختګ به ونشي کړای .

طارق بن زیاد وویل : اوپاس ! هغه کوم خطر نه وو چې زمونږ مخې ته رانغي ، آیا هغه خطر کم وو چې راډرک د يو لک لښکر سره مقابلې ته راووت چې نيمايي پکې سپاره وه ؟

اوپاس ! یوازې دولس زره غازيان ! چې سپاره کم او پیاده پکې زیات وه ، تاته معلومه ده چې کله مونږ د طلېطې د حالاتو او دفاع څخه خبر شو نو ټول په فکر کې ډوب شو او ما ويلې وه چې ددې ښار نیول به آسانه نه وي .

که مونږ هلته وېرېدلي وای او فکر مو کړای وای چې دا ښار نه نیول کېږي او کراره ناست وای نو اوس به طلېطله زمونږ په لاس کې نه وه ، خو کله چې مونږ همت وکړ او مخکې ولاړو د ښار دروازې راته خلاصې شوې .

مونږ د الله جل جلاله منوونکې سرښندونکی یو ! الله جل جلاله هغه چاته لاره خلاصوي څوک چې بې وېرې او ډار په هغې تلل غواړي .

جولين او اوپاس د طارق بن زیاد خبرې ته په حېرانتيا سره کتل او داسې فکر يې کاوه چې ګوندې د طارق بن زياد دماغ خراب شوی دی .

د طارق بن زياد لښکر په وادي الحجاره کې ورننوت ، جولين او اوپاس د هغه سره ملګرې وه ، طارق بن زياد چې په طلېطله باندې کوم چارواکی ټاکلی وه په هغې کې يهوديان هم وه ، طارق بن زیاد تر اوسه پورې يهوديانو ته هماغسې اهميت ورکاوه کوم چې د مسلمانانو وو ، هغه په حقيقې توګه يهوديان د مسلمانانو ملګرې او دوستان بلل ، هغه ته لا دا نه وه څرګنده شوې چې يهوديانو خپل شيطانت او ابلېست پيل کړې او په لويو لويو ښارونو کې يې د بغاوت لپاره کار پيل کړی دی .

کله چې بربري لښکر په الحجاره وادۍ کې داخل شو نو د دښتو او بيابانونو غازيانو ته دا دره د جنت يوه ټوټه ښکاره شوه ، هغوی لکه چې خوب ګوري ، د هغوی سترې او ستومانه بدنونه يو ځل بيا راتازه شول ، آسونه هم مست شول او شوخې يې پيل کړه .

لړ چې مخکې ولاړل نو يو خوړ او سيند راغی چې ډير ژور وو ، اوبه تر نيمايي ملا پورې رسېدلې چې د هغې څخه تېرېدل ګران کار نه وو خو څرنګه چې غرنی خوړ وو نو اوبه يې ډېرې تېزې وې ، دومره تېزې چې قوي غازيانو ته هم ځان سمبالول ګران وه ، بله دا چې اوبه دومره يخې او سړې وې چې ځان کلکول ورته ګران وه .

آسونه هم له يخنۍ څخه رپېدل او لړځېدل .

سامان په کچرو باندې بار وو ، ګاډۍ او بګۍ ورسره نه وې ځکه چې لاره ډېره تنګه او ښکته پورته وه ، څلور سپاره مخکې روان وه خو يو د بل سره يې دومره فاصله ساتله چې د يو بل آواز واورې ترڅو د خطر په وخت کې يو بل خبر کړي ، د خطر په وخت کې به لومړي سپاره شاته آواز کولو او هغه به بل ته چې پدې توګه لومړي ګروپ غازيانو ته احوال رسېدلو .

د لومړي سيند څخه چې تېر شول لړ مخکې بل سيند راغی ، د غازيانو جامې مخکې لا لمدې شوې وې او اوبه ورڅخه څڅېدلې ، دا هم د لومړنی خو او سيند په شان وو خو د اوبو تېز والې يې د هغې څخه زيات وو ، دا هم غازيانو د يو بل د لاس نيولو په طريقه پاس کړ ، آسونه خپله پوريوتل خو کچرې په ټيله ټيله پوريوتلې ، څلور کچرې د اوبو په منځ کې وښوېدې او ولوېدې ، تېزو اوبو هغوې د ځان سره مخکې کړی .

پدې توګه څلور کچرې په لومړي ګام کې له منځه ولاړی .

څومره چې د طارق بن زياد بربرې لښکر وړاندې تللو د الحجاره د درۍ حسن او ښکلا زياتېدله خو وېرونکې ښکارېدله ، په ځينو برخو کې اغزنې ونې وې ، په ځينو ځايونو کې دومره ګڼې او زياتې وې چې د تللو لاره پکې نه پېدا کېده ، دې بوټو او ونو ځمکې ته لمر هم نه پرېښودلو ، ځمکه دومره لمده او جبه وه چې هرې خواته ختې وې ، پياده غازيان په هغې کې په آسانه نشول تللې .

پوره دوه ورځې ددې ګڼ ځنګل څخه په تېرېدلو باندې تېرې شوې ، غازيانو به په دوه ورځو کې تر څلوېښت ميله پورې فاصله وهله خو دلته

يې ايله لس ميله فاصله ووهله ځکه چې لاره ډېره خرابه وه پدې ځنګل کې يوه شپه تم هم شول .

دا يواځې ځنګل نه بلکې غونډۍ او کمرونه هم وه ، ښکته ، پورته ، لوړې ژورې وې ، هلته ښوې ځايونه هم وه چې آسونه پرې ځان نشو ټينګولې ، پياده غازيانو به يو بل سره نيول او مخکې به تلل .

طارق بن زياد په ډېره خطرناکه لاره باندې خپل بربري لښکر روان کړې وو ، هغه خپل لښکر او اسلامي امت ته يوه نوې لاره ښودله ، هغه د لښکر سره غلې او چوپ نه وو روان بلکې په ټول کاروان يې مخکې او وروسته او چکر وهلو ، هغه به چيغو باندې د لښکر حوصله زياتوله دا به يې وويل :

تاسې دا سيندونه او غرونه نشې راتم کولاې !

تاسې د غرونو ځيګر ځېرې کولاې شې !

الله جل جلاله ستاسې ملګرې دې .

د الله جل جلاله زمريانو ! هدف او مقصد نژدې دې !

تاسې د جنت په لاره باندې روان ياستی !

ټول اندلس ستاسې دې ! د اندلس خزانې ستاسی دې !

الله جل جلاله يا دوې او مخکې روان اوسی !

د طارق بن زياد ولولې او احساسات دومره قوې وه چې سره د دومره سختيو د غازيانو په ځېرو کې تازه والې او په شونډو يې مسکا وه ، د طارق بن زياد د نارو په ځواب کې به لښکريانو داسې ويل :

مونږ ستا سره يو طارق ! مونږ تا د الله جل جلاله په وړاندې نه شرموو !

الله اکبر ... الله اکبر... الله اکبر

ددې سفر او لارې په هکله چې تاريخونو څه ليکلې په هغې يو کتاب ډکېږې ، دا دومره خطرناک سفر وو چې که د ټول لښکر د تباه کېدو امکان نه وو نو د نيمايې لښکر تباه کېدل يقينې وه ، دلته د دوه ، درې پېښو يادول بس او کافې دی .

داسې يوه خمکه راغله چې عجيب او نااشنا بوټو او ونو پټه کړې وه خو ونې پکې نه وې ، د تاريخ سره سم دا برخه يو ميل اوږده او همدومره پراخه

وه ، هلته چې کوم واښه وه هغه د يو فټ څخه تر څلورو فټو پورې لوړ او پورته وه ، شا او خوا غونډۍ وې او غونډۍ د ونو څخه ډکې وې .
هلته هېڅ ډول لارې نه وې او لښکر نيغ بوټو او وښو ته داخل شو ، لومړې ګروپ تر ټولو مخکې روان وه چې ټول سپاره وه ، هغوې شپږ شپږ کسان سره يو ځاې روان وه ، د آسونو د پښو سره اوبه پورته الوتلې ، سپرو د اوبو پروا نه ساتله او مخکې روان وه ، د هغوې تر شا پياده غازيان هم وښو ته ننوتل ، په اوبو کې هغوې هم روان شول ، ناڅاپې په مخکنې غازيانو کې شور او غوغا جوړه شوه او بې نظمه شول ، هغوې دا وخت ژورو اوبو ته ننوتې وه ، آسونه داسې وترېدل لکه چې مخکې ورته لوې خطر راغلې وی .
پياده غازيان چې اوبو ته ننوتې وه نو شاته راوتښتيدل او چيغې نارې يې پيل کړې .
څو کسان په اوبو کې هم ولوېدل او نورو چيغې کړې ، ددې بلاګانو څخه ځان وساتۍ .... وتښتۍ ، منډه کړې .
درې څلور آسونه ډېر زيات وترېدل او سپرو چيغې کړې ، نهنګان ..... نهنګان دی .
واښه په اوبو کې راشنه شوې وه او زيات پکې لوخې او کړکې وه ، دا دومره ګڼ او زيات وه چې اوبه ورڅخه نه ښکارېدې ، کله چې غازيان دې اوبو ته ننوتل نو نهنګانو پرې حمله وکړه .
نهنګان په همداسې اوبو کې اوسېږي ، د هغوې شمېر دوه ، دوه نيم سوه ته رسېدلو ، هغوې څو آسونه او څو پياده غازيان ونيول او ژورو اوبو ته يې کش کړل پاتې غازيان بېرته شاته ولاړل .
ترډې وروسته لاره بدله کړاې شوه او غازيان په غرونو کې روان شول .
ترډې وخته پورې څو ځايه لښکر تم شوې وو ، غازيان په روحانې ، معنوې او باطنې توګه روغ رمټ وه خو په بدنې او جسمانې توګه ټوټه ټوټه او په بد حالت کې وه ، دا د قوماندانو د ولولو او احساساتو اثر وو چې لښکر همداسې پرله پسې روان وو ، خو وار په وار د سيمې سختې زغماتېدله .

يوه ورځ لښکر روان وو چې مخکې ورته څلور آسونه راغلل ، په ټولو باندې غازيان سپاره وه خو يو يکې پرمخ پروت وو چې سر يې يو لورې او پښې يې بل لورې ته پرتې وې .

جامې يې په وينو ککړې وې ، په يو آس باندې زمرې پروت وو چې درې غشې يې په بدن کې ننبتې وه ، بيا څرګنده شوه چې دا څلور غازيان د لومړنې ګروپ څخه ډېر مخکې روان وو چې په مخکنې غازې باندې همدې زمرې حمله وکړه ، د هغه آس په منډه شو خو زمرې همداسې ورپسې وو ، آس دومره تېز روان وو چې سپور ورڅخه ولوېده ، نورو غازيانو په زمرې باندې غشې ووېشتل خو هغه سره ددې هم په هغه باندې حمله وکړه او هغه يې ځېرې کړ .

بيا څرګنده شوه چې پدې ځنګل کې دا لومړې انسان وه چې دلته راغلې وه ، ځناور بې وېرې هر لورې ته ګرځېدل ، څرنګه چې د غازيانو لښکر زيات وو نو ځناور نژدې نه راتلل ، سره لدې هم خو کچرې او آسونه د ځناورو ښکار شول ، غازيان پدې پوه کړې شول چې يوې او بلې خواته يوازې ونه ګرځي .

پدې سفر کې څه کمه او زياته يوه نيمه مياشت ووتله خو سيمه لا هماغسې پاتې وه ، په تاريخ کې د يوې تنګې لارې يادونه شوې ده چې يوه تنګه لاره د غره په لمن کې تاوېدله او همداسې پورته تلله چې يو پياده يا يو سپور پرې په يو وخت کې تېرېداې شو ، لښکر په همدې لاره روان وه . دوه ، درې کچر وښوېدل او لاندې ګرنګونو ته ولوېدل .

لاندې داسې ګرنګونه وه چې هغې ته کتل ګران کار وو ، بالاخره غر پای ته ورسيدولو او لاره د يو نيغ غره په سره باندې پرته وه . لښکر ددې غره په سر باندې روان وه ، هر ګام په احتياط سره کېښودل کېده ، پدې ورځ خو کسان يوې او بلې خواته واستول شول چې نورې ګودرې ولټوې خو پرته لدې لارې څخه بله لاره پيدا نشوه ، هغوې دې ته اړ شول چې په همدې لاره ولاړ شي .

غازيانو ته وويل شول چې ښې او چپ لورې ته ونګورې چې سترګې يې تورونه خورې ځکه لاره ډېره تنګه او ډېره لوړه وه او لاندې ګړنګونه وه .

ناڅاپې د دوه آسونو پښې وښوېدې او د سپرو سره لاندې ګړنګونو ته وغورځېدل ، بيا دوه پياده غازيان لاندې ولوېدل او چيغې يې همداسې لرې کېدې او بيا چوپ شوې .

ټولو تاريخونو ددې لارې يادونه کړې او دا يې ليکلې چې دا يوازې طارق بن زياد وو چې خپل لښکر يې پداسې خطرناکه لاره روان کړې وو .

راتلونکې ورځ هم غازيان همداسې روان وه خو د هغوې حالت داسې شوې وو لکه چې په خوب کې روان وې .

له يو لورې هغوې بې خوبه ، له بل لورې ستړې او وېره هم ورسره وه ، تر ټولو لويه خبره دا چې له دوه ورځو څخه غازيان او څاروې ټول وږې وه ، دا خطر هم موجود وو چې څاروې بې کنترولـه نشې خو د سپرو کمال دا وو چې هغوې خپلې سپرلۍ ساتلې وې .

د لمر پريوتو څخه مخکې لاره پراخه او مخ په لاندې روانه شوه ، بيا په خوا کې ورسره غر راپېدا شو .

لږ ځنډ وروسته لاره ښکته کږه شوه او يوې درې ته ورسېده ، هغه دره پراخه وه چې ټول لښکر پکې ځاېدلو ، طارق بن زياد سمدستې ټول لښکر هلته تم کړ ، دره ډېره شنه او آباده وه ، څاروې ټول د ځړ لپاره خوشې او خلاص پرېښودل شول ، پياده غازيان دومره ستړې او ستومانه وه چې څوک چېرې پريوت هلته وېده شو .

د طارق بن زياد د حکم سره سم ټول لښکر پدې دره کې دوه ورځې پاتې شو ، بيا په دريمه ورځ حرکت پيل شو ، مخکې سيمه هواره نه وه خو ډېره سخته هم نه وه له کومې چې غازيان راتېر شوې وه ، يوه ورځ بله هم تېره شوه چې مخکې تلوونکو غازيانو احوال راوړ چې مخکې يو لوې ښار د مايدې په نامه سره پروت دې چې يوه ورځ فاصله ورته پاتې ده .

د کومي لارې چې طارق بن زياد خپل لښکر تېر کړې وو هغې په تاريخ کې دومره اهميت پيدا کړ چې د فتح طارق بن زياد په نامه سره ياده شو او اوس هم د هماغه په نامه سره يادېږي .

بيا طارق بن زياد د خپل لښکر سره مايده ښار محاصره او کلا بند کړ ، مائده هم د اندلس د لويو ښارونو څخه وو ، په شمالي اندلس کې دې ښار خانګړې اهميت درلوده .

د ښار په ديوال باندې غشې او برچې وېشتونکې ولاړ وه او غازيانو ته يې چېغې وهلې ، داسې معلومېده چې هغوې به پدې ښار کې خپل ځانونه قربان کړې ، طارق بن زياد په آس سپور هر لورې ته ګرځېدلو .

ديوال د هر لورې څخه کلک معلومېده . ددې ښار د خلکو په ژبه اعلان وشو چې ستاسې لپاره دا غوره ده چې د ښار دروازې خلاصې کړې .

که دروازې مو خلاصې کړې نو تاسې به د دوستانو پشان وى ، تاوان به درڅخه نه اخيستل کېږي ، خو که مونږ په زور سره دروازې خلاصې کړې ، بيا به ستاسې سره د دښمن په شان سلوک کېږي .

ددې اعلان سره جوخت د غشو او برچو باران پيل شو او دا آواز هم واورېدل شو چې تاسې پخپل زور سره د ښار دروازې خلاصې کړې ، طارق بن زياد د ښار په دروازو باندې د حملې حکم وکړ . ټوله ورځ حملې روانې وې خو هېڅ ونشول .

سبا ورځ بيا هماغسې خونړې پېښه کېدله چې د ښار لويه دروازه خلاصه شوه او څلور آسونه ورڅخه راووتل ، د يو سپاره سره سپين بېرغ وو ، کله چې نژدې راغلل نو وې پوښتل چې ستاسې سپه سالار چېرې دې ، مونږ د سولې لپاره راغلې يو ، هغوې طارق بن زياد ته ورسول شول ، د سولې لپاره راغلې سرې خپله د کلا واکمن وه .

د ښار چارواکې ووېل : اى سپه سالار ! آيا دا خبره سمه ده چې تاسې خپل لښکر د الحجاره له درې څخه دلته رارسولې دى ؟

طارق بن زياد په خندا وپوښتل : ولې ؟ آيا ته پدې حېران يې چې ما خپل لښکر لدې درې څخه راوستې دى .

چارواکي وويل : هو ! نه يوازې زه بلکې هر څوک چې دا اورې هغه به حېرانېږې ، ددې درې څخه يوازې پېريان تېرېدلاى شي ، هېڅ انسان ددې څخه ژوندې نشي تېرېداى ، مونږ څو مياشتې سفر کوو خو ددې لارې څخه نه څو .

طارق بن زياد وويل : وګوره زما دوسته ! زه ستاسې په وړاندې د خپل لښکر سره روغ رمټ رارسېدلي يم ! اوس ته فکر وکړه کوم لښکر چې ددې سختې درې څخه راتېر شوي وې ، د هغه لپاره ددې ښار دروازې خلاصول څه ګران کار نه دى .

خو که ته په وينه تويولو باندې خوشحاله وې نو زه ستا دا هيله پوره کوم ، خو فکر وکړه چې ته به بيا ژوندې نه وې او د ښار په خلکو به درونډ تاوان او جزيه حواله کېږي .

چاروا‌کي وويل : زه وينه تويول نه غواړم ! زه دا خبره منم چې کوم سپه سالار د الحجاره له درې څخه راتېر شوي وې هغه هرڅه کولاى شي .

مونږ د سولې د شرايطو لپاره راغلي يو .

طارق بن زياد وويل : تاسې خپل شرطونه وړاندې کړئ .

د ښار چاروا‌کي وويل : مونږ د خپل ولس د حيا ، عزت ، مال او ځان ساتنه او خوندې توب غواړو ، په کورونو کې بايد لوټ او تالان ونشي .

طارق بن زياد وويل : دا ستاسې شرطونه ندې ، بلکې دا د هغه عظيم او لوى دين شرطونه دي چې مونږ د ځان سره راوړې دې ، مونږ دلته د لوټ ، تالان او آبرو تويولو لپاره نه يو راغلي ، بلکې مونږ انسانانو ته د هغوې د حقوقو ورکولو لپاره راغلي يو کوم چې الله پاک خپلو بندګانو ته ټاکلي دې ، ولاړ شئ او د ښار دروازې خلاصې کړئ ، پدې توګه د مائد ښار د سولې په پايله کې مسلمانانو ته په لاس ورغې .

د مائده ښار د نظم او ادارې تر جوړولو او چاروا‌کو ټاکلو څخه وروسته طارق بن زياد د خپل لښکر سره د ګلېشيا په لورې روان شو ، هغه لږ کوچنې ښار وو ، د لږ کوښښ څخه وروسته هغه ښار هم فتح او ونيول شو .

ددې ځخه وروسته طارق بن زیاد یو بل ښار تلوېرا هم فتح کړ ، دا تولې پېښې په ۷۱۴ مېلادي کال کې وشوې .

طارق بن زیاد ددې فتوحاتو ځخه وروسته پرېکړه وکړه چې غازیان باید پوره آرام او دمه وکړي .

یوه ورځ طارق بن زیاد حکم وکړ چې ټولې هغه ډالۍ ماته را وړاندې کړې چې مونږ راټولې کړې ، هغه ته ټول شیان وړاندې کړې شول ، په هغې کې تر ټولو قیمتي او مهم شې هغه مېز وو چې خلکو د حضرت سلیمان علیه السلام بللو .

طارق بن زیاد وویل : زه به دا مېز خپله امېرالمؤمنین ته وړاندې کوم .

یو سالار وویل : د امیرالمؤمنین لپاره تر ټولو غوره ډالۍ اندلس دې !

طارق بن زیاد وویل : اندلس خو ما د الله جل جلاله په دربار کې وړاندې کړ ،دا هیواد د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره دې ، څه معلومات دې چې کله او څه وخت ما یو غشې الله پاک او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسولې شې ، دا قیمتې کاڼي ، ملغلري ، سره او سپین د دنیا د خلکو او ژوندیو لپاره دې .

بیا طارق بن زیاد ډالۍ جلا جلا کړې او وېل یې : دا د امیرالمؤمنین ولید بن عبدالملک او دا د امیر موسی شوې .

***

طارق بن زیاد ته دا ځرګنده نه وه چې کومې سیمې او ښارونه چې هغه نیولې د کوم خطر سره مخامخ شوې ، په ټولو نیول شویو ښارونو کې د بغاوت لپاره کار پیل شوې وو ، پداسې حال کې چې هغه خپل ټول لښکر په سختو او خطرناکو لارو برابر کړې وو ، خو د الله پاک په فضل او احسان سره دواړه خطرونه ورک او ختم شول .

هغه وخت چې طارق بن زیاد په تلوېرا کې وو او غازیانو ته یې دمه او آرام ورکولو ، په مریدا کې عبدالعزیز خپل پلار موسی بن نصیر ته د اشبېلیه د بغاوت په هکله معلومات ورکولو چې په څه ډول یې هغه ختم کړ او د باغیانو لېدران یې ووژل .

عبدالعزيز خپل پلار ته وويل : دا کمال د ايجيلونا وه چې د بغاوت لېډران يې معلوم کړل او بيا مو ونيول ، که ايجيلونا نه واې نو مونږ ته به هغه وخت څرګند شوې واې چې په ټولو ښارونو کې بغاوت شوې واې بيا به د هغې کنترول او سمبالول آسانه نه وه .

ايجيلونا وويل : ايا اوس تاته څرګنده شوه چې ما ولې خپل دين تبديل نه کړ ، که زه مسلمانه شوې واې نو پدې هکله ما درسره هېڅ مرسته هم نشوه کولاې ، د راډرک د ګونډې توب او عېسايتوب په سبب هغوې زما په جال کې راګېر شول .

بله خبره دا ده چې تاسې بايد نور په يهوديانو باور او اعتماد ونه کړې ، هغوې چې د طارق بن زياد او ستاسې سره کوم کومکونه کړې هغه يې د خپلې ګټې لپاره کړي.

هغوې راډرک ختمول غوښتل ځکه چې هغه يهوديان شيطانان او فساد پېدا کوونکې بلل او هغوې ته يې واک او اختيار نه ورکولو ، هغوې په خپل مقصد کې کامياب شول ، اوس کوښښ کوې چې ستاسې حکومت هم دلته جوړ نشي .

عبدالعزيز خپل پلار ته وويل : طارق بن زياد هم بايد ددې خطر څخه خبر شي ، ترڅو هم پدې جال کې ونه نښلې او هلته هم ستونزې راپيدا نشې ، هغه تر اوسه پورې يهوديان خپل ملګرې او پلويان بولې حال دا چې هغوې د مسلمانانو دښمنان دي .

موسى بن نصير ورته وويل : ما هغه ته احوال ورکړې وو چې نور وړاندې ولاړ نشي او خپل فتوحات بند کړې ، داسې نه چې په جال کې راګېر شي ، اوس زه خبر شوې يم چې هغه د طلېطې څخه هم وتلې دي ، د شمال په لورې روان شوې ، هغه د مائدې ، تلوېرا او ګلېشيا په لورې خوځېدلې ، زه به خپل استازې ور ولېږم .

موسى بن نصير طارق بن زياد ته استازې ولېږلو چې زر تر زره طلېطې ته راشې او زما سره ملګرې شي ترڅو دواړه په ګډه نوې پاتې ښارونه فتح کړو .

يو ماښام ايجيلونا پخپل کور کې د عبدالعزيز سره ناسته وه کوم چې د پخواني والي او ګورنر مانۍ وه .

د هغې خدمت کوونکې ورته راغله او وې ويل : ستاسې يوه پخوانۍ خدمت کوونکې راغلې او ستاسې سره لېدل غواړي .

ايجيلونا وويل : نوم يې څه دې ؟

خدمت کوونکې وويل : خپل نوم نه وايې ، ځکه چې بيا هغه د کتلو څخه انکار کوي ، خو هغه وايي که ملکه زما د لېدلو څخه انکار وکړي نو خپل تاوان يې کېږي .

ايجيلونا وويل : دننه يې راولېږه .

د خدمت کوونکې د وتلو څخه وروسته يو دېرش کلنه لوړه مېرمن خونې ته راننوتله ، ډېر زړه راښکوونکې وه او سر په ځمکه کيښودلو سلام يې پر ځاې کړ .

ايجيلونا په بې پروايي سره وويل : ناديه ! آيا ته پدې هيله راغلې يې چې زه به دې معاف کړم ؟

او زما خدمت کوونکې ته دې ويلې که زه ستا سره ونه ګورم نو زما تاوان کېږي ، هغه کوم تاوان دی ؟

ناديه وويل : زه د ښښنې او معافۍ غوښتلو لپاره نه يم راغلې ، زه يوازې د خپلې وفا ښکاره کولو لپاره راغلې يم ، تاسې لومړې ماته د ځو خبرو اجازه راکړی .

عبدالعزيز وويل : دې مېرمنې څه ګناه کړې وه ؟

ايجيلونا وويل : هغه وخت چې راډرک د ګادليت مېدان ته تللو زه هغه وخت مريدا ته راغلم ، دلته د بادشاهي کورنۍ يو غړې ددې ځاې لوړ پوړي چارواکې وو ، هغه د بغاوت په جرم کې وژل شوې دې ، کله چې د راډرک د مړينې خبر راغې نو رازيليو زما امېدوار شو ، هغه زما په وړاندې داسې څرګندونې وکړې چې ما د هغه محبت قبول کړ خو ما ورته وويل لومړې مريدا د مسلمانانو څخه خوندې وساتی .

دا ښار پلازمینه جوړه کړه ، مسلمانان له اندلس څخه وباسه بیا به زه ستا ووم .

رازیلیو ددې ښار د خوندې کېدو او ساتلو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې ، ما خپله هم خلک د جګړې لپاره چمتو کول ، دا نادیه زما خاصه او ځانګړې خدمت کوونکې وه ، ما دا خپله ملګرې او همزولې بلله ، ما یوه شپه د ښار مخور خلک راټول کړي وه او هغوې ته مې وویل چې په څه طریقه د ښار دفاع وکړو ، پدې غونډه کې رازیلیو نه وو ، هغه د ګېډې د درد څخه شکایت کولو .

کله چې غونډه خلاصه شوه زه د هغه لېدلو ته روانه شوم هلته رسېدونکې ووم چې یوې بلې خدمت کوونکې راته په غوږ کې وویل چې نادیه د ډېر وخت څخه د رازیلیو خونې ته ننوتې او تر اوسه پورې نده راوتلې او دا هم راته وویل چې ما د یو خونې د سورې څخه هغوې دواړه په بد کارۍ باندې ولېدل .

بیا زه د کړکۍ تر څنګ ودریدلم ، رازیلیو او نادیه په لوړ آواز خبرې سره کولې چې دب اندې هم اورېدل کېدې ، دا مهال دواړه په نشه کې وه .

خدمت کوونکې ماته وویل چې رازیلیو نادیه د جاسوسۍ لپاره ټاکلې ده چې هغه د کومو جنرالانو او لوړو پوړو چارواکو سره اړیکې لرې او د چا سره پټ او ښکاره ګورې .

زه خپلې خونې ته ولاړم ، لږ ځنډ وروسته نادیه راغله ، ما د هغې څخه وپوښتل چې چېرته تللې وې ، هغه دروغ راته وویل ، هغه لا په نشه کې وه ، ما هماغه وخت ورته وویل چې سمدستې لدې ښار څخه ووځه او بیا دې پدې ښار کې ونه ګورم ، هغې تلو تلو کې وویل چې رازیلیو زه په زور سره بوتلم او شراب یې راباندې وڅښتل او بیا یې بد کارې راسره وکړه .

عبدالعزیز وویل : په بادشاهی کورنۍ کې خو دا څه حېرانوونکې کار ندې ! که نادیه یې حکم نه وې منلې نو هغه به وژل شوې وای ، نو بیا تا رازیلیو ته څه ونه ویل ؟

ایجیلونا ځواب ورکړ : نه ! هغه ته لا څرګنده هم نشوه چې هغه ما وېستلې ده .

عبدالعزیز وویل : څه چې شوې هغه خو شوی ، اوس ورځخه پوښتنه وکړه چې د څه لپاره راغلې ده

نادیه وویل : زه د خپلې وفا د ښودلو او ثبوت لپاره راغلې یم .

ایجیلونا د نادیه څخه وپوښتل : اوس ووایه ، تا څه ثبوت له ځان سره راوړي دي ، کینه او خبره وکړه .

نادیه وویل : زه ددې لپاره نه یم راغلې چې ما معاف کړه ، او نه زه دا درته وایم چې ما په خپل خدمت کې بیا واخله ، زه دا هم نه وایم چې زه بې ګناه یم ، زه ستا څخه مننه کوم چې زه دې خدمت کوونکې نه بلکې خپله ملګرې او همزولې ګڼلې ووم .

ماته دې ښکلې جامې راکړې وې او د شهزادګیانو په شان مې ژوند کاوه ، تاسې ماته دومره حیثیت راکړ چې د مریدا بادشاه رازیلیو زه خوښه کړم ، هغه زه خپلې خونې ته هر وخت غوښتلم ، هغه ماته ویلې وه چې ستا لیدنو او کتنو په باب ورته راپور ورکوم خو ما هېڅکله هم ستا څه ورته وویلی نه دی له دی امله چې زه ستا د احسان مرهمه وم .

عبدالعزیز له نادیه څخه وپوښتل : څه خبره ده او د څه لپاره راغلې یې ؟

نادیه وویل : د ملکې ایجیلونا د وژلو دسیسه جوړ شوې ده ! او د هغې لپاره زه چمتو کېږم ، زه چې په کومه طریقه چمتو کېږم هغه ډېره حېرانوونکې طریقه ده .

عبدالعزیز وویل : په پوره ډاډ سره خبره وکړه ، مونږ یې په غور سره اورو!

نادیه وویل : زه له مریدا څخه لږ لرې په یو کلې کې اوسېږم ، زه هلته د یو نواب کور ته تللې یم ، د هغوې د کوچنیانو ساتنه او پالنه کوم ، ما خو هغه ته ویلې وه چې زه د ملکه ایجیلونا ځانګړې خدمت کوونکې ووم ، یوه ورځ هغه ماته وویل چې زما پسې راځه !

زه تا یو جادوګر ته رسوم ، هغه به ستا بخت او قسمت بدل کړي او تاته به بیا په ماڼۍ کې دنده پیدا شي ، زه د هغه سره روانه شوم خو په دې حیرانه

وم چې زما بادار زما سره څه زړه سوې لرې چې هغه پخپله راته وويل چې راځه تا هلته بوځم ، چې قسمت او بخت دې بدل شې او يو ځل بيا دې خاصه نوکرې په برخه او نصيب شي .

بله دا چې زه اوس پدې پوهېدلم چې ايجيلونا ملکه نده ځکه چې په ټول اندلس باندې مسلمانانو ولکه کړې او راډرک مړ شوې نو ځان سره مې وويل په نړۍ هم ښه خلک شه او کيداى شي زما بادار يو د هغوى څخه وى چې په ما باندى زړه وسوزيدو .

ساحر او جادوګر په هماغه کلې وه خو هغه ما مخکې پدې کلې کې کله نه وو لېدلې ، هغه نوې نوې راغلې وو ، هغه زه په خپله مخکې کينولم او دا يې راته وويل چې ته څه غواړې ؟

ما ورته وويل چې زه د اندلس د ملکې ځانګړې خدمت کوونکې وم او ملکې په لړ شانته غلطۍ باندې زه له مانۍ څخه وشړلم ، ملکې ماته د خپلې ملګرې په شان حيثيت راکړې وو ، زه غواړم چې ملکه يو ځل بيا ما پخپله دنده باندې واخلې .

جادوګر وويل : د نواب لخوا په تا باندى کومه تنګسيا ده ؟

ماورته وويله : نواب نيک انسان دى ما ته د خدمتګارى په صفت نه ګورى بلکې د خپلې کورنۍ د غړى په صفت .

بيا جادوګر زما رخسارونه په دواړو ګوتو کراره کراره منبل او زما تندې يې هم مږلو ، هغه ماته وويل چې زما عمل او جادو سرچپه کار کوى .

د ملکې څېره په خپل ذهن او خيال کې راوله او زه چې څه وايم هغه ته تکراره وه ، او زما په سترګو کې سترګې واچوه ، ما د ملکې څېره په خپل تصور کې راوستله او د هغه په سترګو کې مې سترګې واچولې بيا راته جادوګر وويل چې زما دا کلمات تکرار کړ : دا ښځه زما دښمنه ده ، او زه د هغې څخه کرکه کوم ، که هغه زما مخې ته راشي نو ستونې به يې خفه کړم .

ما همدا کلمات تکرارول .

جادوګر وويل چې همدا کلمات تکراره وه او دا فکر کوه چې هغه زما دښمنه او زه به يې وژنم .

يو ځل ما ورته وويل چې زه هغه خپله دښمنه نه وبولم چا چې ماته دومره عزت او حيثيت راکړې وو .

جادوګر راته وويل : ما درته وړاندې وويل چې دا کلمات سرچپه عمل کوي .

جادوګر يو ځل بيا زما رخسارونه او تندې په خپلو ګوتو کراره کراره مښلو ، زه بې هوښه غوندې شوم او ستاسې څېره ماته بالکل ځرګنده او روښانه ښکاره شوه ، داسې لکه چې بالکل راته تاسې مخامخ ولاړه وې ، بيا داسې هم وشول چې ته زما په وړاندې ګرځېدلې .

د تصور له نړۍ څخه راووتلم ما جادوګر ته وويل چې پر ما داسې حالت راغلې وو نو هغه وويل که پر تا داسې حالت راغلې وې نو بيا خو زما عمل کامياب دې او ته به هم پخپل مقصد کې بريالۍ شې ، پس لدې به ته پنځه شپې ماته راځې ، بيا به خپله ايجيلونا ستا پسې ګرځې او لټوې به دې ، دا ځل به دې په ډېره مينه او محبت سره ساتي .

خو ماته دا ټول شيان حېرانوونکې ښکارېدل ما په خپل ځان کې بدلون ولېدلو خو پرې نه پوهېدم .

زه خپل بادار بېرته خپل کور ته راوستلم خو بيا دا پوښتنه مې له ځان څخه وکړه چې دا بادار په ما باندې دومره مهربانه او زړه سوانده ولې دې چې زه يې د قسمت بدلولو لپاره جادوګر ته بوتلم .

ما ته شک پېدا شو چې کېداې شي ددې زړه سوې په بدل کې زما څخه څه غواړي خو هغه پرته له زړه سوي څخه بل هېڅ هم زما څخه ونه غوښتل او نه يې راسره بله خبره وکړه .

راتلوونکې شپه بيا زه خپل بادار هغه جادوګر ته وروستم او هغه راباندې هغه عمل او جادو وکړ ، ماته يې وويل چې پرونې کلمات څو څو ځله تکرار کړم ، چې دا مهرمن زما دښمنه ده ، زه د هغې څخه کرکه لرم ، که هغه ماته رامخامخ شي نو زه به يې ستونې خفه کړم .

د جادوګر د وينا سره سم ما ستا څېره په خپل تصور کې راوستله ، دا ځل هم جادوګر زما سر په دوارو لاسونو کې ونيولو بيا يې راته وويل چې زما په سترګو کې سترګې واچوه ، ما د هغه په سترګو کې کتل چې زه پدې پوه

شوم چې زه نور د هغه د سترګو څخه خپلې سترګې نشم لرې کولای او هلته زما سترګې ميخ شوې .

د هغه شونډې ښورېدلې ، د هغه سترګې دوه هنداري شوې او په هغه هندارو کې ماته د ملکې څېره راڅرګنده شوه ، زما په غوږونو کې زما ويل شوې کلمات ننوتل : دا مېرمن زما دښمنه ده ، ددې څخه زه کرکه کوم او که ماته په مخ راشي نو ستونې به يې خفه کړم .

بلاخره دا کلمات زما زړه ته د يوې ارادې او قصد په توګه ننوتل ، بيا هغه خپل کار ختم کړ او ماته يې وويل چې ستا کار به ډېر زر وشي او جادو کامياب دی .

کله چې زه د خپل بادار سره په ګاډي کې راتلم نو ما د خپل بادار څخه وپوښتل چې زما کار به څرنګه وشي ، ايجيلونا خو ما خپله دښمنه ګڼي او له ما څخه کرکه کوي .

بادار مې وخندل او راته وې ويل چې پدې جادو د ځان پوهولو کوښښ مه کوه ، پدې يقين او باور ولره چې ستا سره کومه کرکه او نفرت پيدا شوې دا د ملکه په زړه کې د محبت د پيدا کېدو سبب ګرځي ، زه پدې خبره باندې چوپ او غلې شوم .

تېره شپه زه يو ځل بيا خپل بادار هغه جادوګر ته ورسولم ، زه يې دا ځل بلې خونې ته بوتلم چې هلته د جادوګر دوه ملګرې ناست وه ، هغوې په پراخه تندہ زما هرکلې وکړ او د زړه سوې څو خبرې يې راته وکړې ، جادوګر ماته وويل چې په خوا کې خونه کې کينم ، زه هغې خونې ته ولاړم ، په کومه کې چې پر ما باندې جادو کېده خو د دواړو خونو په منځ کې کيناستم .

هغوې دروازه بنده کړې وه خو پوره بنده نه وه بلکې لږ شانته خلاصه وه چې ما ورڅخه د هغوې خبرې اورېدلې ، هغوې په عبراني ژبه خبرې کولې کوم چې د يهوديانو ژبه ده ، هغوې فکر کاوه چې زه په عبراني ژبه نه پوهېږم ځکه نو هغوې په لوړ آواز خبرې کولې ، ملکه ته معلومات شته چې زه په عبراني ژبه پوهېږم او رواني خبرې هم پرې کولای شم .

هغوې په خپلو کې ډېرې خبرې وکړې خو زه تاته د هغو خبرو ویل غوارم چې کومې ډېرې ضرورې دي .

یو پکې وپوښتل : آیا ته د همدې مېرمنې پوسیله دا کار کول غواړې ؟

جادوګر وویل : زه اوس پدې باور لرم چې د همدې مېرمنې په لاس به دا کار کېږي ، په دوه ځلې عمل باندې هغې اثر قبول کړې دې کوم چې ما اچول غوښتل ، ما فکر کاوه چې دا اثر به ځلورمه ورځ راپېدا شې خو هغه په دویمه ورځ راپېدا شو .

زما بادار وپوښتل چې اصلي کار به څو ورځې وروسته کېږي ؟

جادوګر وویل : اتمه ورځ وروسته .

یو بل وپوښتل : دا کار به څه ډول کېږي ؟

جادوګر وویل : هغسې به کېږي لکه چې ما مخکې درته ویلې وه ، دا مېرمن به ایجیلونا ته ورځې ، او د هغې ستونې به خفه کوی .

یو پکې وپوښتل : که هغه ونیول شې نو خامخا به وایې چې دا کار دې سرې په ما کړې دې ؟

جادوګر وویل : د هغې هوش او حواس به پر ځاې نه وې ، هغه به خبرې هم نشې کولاې ، په هر چا به د زمری په شان حمله کوې ، بیا به خپله هم ووژل شې ، تاسې پدې هکله هېڅ فکر مه کوی .

یو په کې وویل چې مونږ د همدې معلومات لپاره راغلې وو ، زما بادار وویل چې ملکه ایجیلونا باید په هېڅ صورت هم ژوندی پاتې نشې ، هغې زمونږ ډېر مهم ملګرې ونیول او بیا یې ووژل .

جادوګر وویل چې زه په تاسې باندې د احسان بارولو لپاره دلته نه یم راغلې ، زه د غچ او انتقام په اور کې سوزېږم ، مونږ پدې هیواد کې ځانته درجې راکړی وی . مسلمانانو مونږ ته لوړې رتبې او ځمکې او جائیدادونه یې هم راکړې وه خو اوس ټول را څخه واخیستل شو ، دا ټول کار همدې شیطانې ایجیلونا وکړ ، دې بدبختې ته څرګنده نده

چې يهوديان د ځمکې د ټل څخه وار کوي ، مونږ به بريالي کېږو ، دلته به بيا د عيسايانو حکومت راځي .

زمونږ د بريا يو دليل دا دې چې مونږ ته داسې مناسبه مېرمن په لاس راغله ، هغه پرته د کوم ځنډ څخه ايجيلونا ته ځان رسولی شي .

د عبدالعزيز خبره د غصې څخه تکه سره شوه او د ايجيلونا لاسونه او بدن په رېږدو شو .

عبدالعزيز وپوښتل : نور څه وشول ؟

ناديه وويل : يهودي جادوګر زما خونې ته راغې ، زه پدې وخت کې لړځېدم ، مخکې ما فکر وکړ چې د جادوګر د راتللو څخه مخکې تېښته وکړم خو بيا مې فکر وکړ که زه وتښتېدم نو دا شيطانان به هم وتښتي ، جادوګر چې کله راغې بيا يې هماغه کار پيل کړ .

هغه راته وويل چې د ايجيلونا خبره په تصور کې راوله ، ما د ملکه خبره راپيدا نشوه کړای ، ما هماغه کلمات تکرارول خو ځان مې بېدار وساتلو ، څه ځنډ وروسته د هغه عمل او جادو پای ته ورسيدلو .

دا د تېرې شپې خبره وه ، ما سهار د خپل بادار څخه ښار ته د تللو اجازه وغوښتله ، هغه ماته بګۍ او ګاډی راکړه او خپل ګاډي وان يې هم راسره ملګرې کړ .

ما ګاډي وان د ښار له دروازې څخه بېرته خپل کور ته واستولو ، ما ورته وويل چې زه بيا مابښام خپله درځم خو ګاډي وان راته وويل د مابښام څخه وړاندې زه ضرور راځم او ستاسې انتظار کوم .

زه تاسې دواړو ته د همدې خبر رسولو په خاطر راغلم ، زه اوس تاسې ته دا وړاندېز نه کوم چې ما په پخوانۍ نوکرۍ کې بيا ونيسه ، زه تاسی ته د خپل عزت او حيثيت بدله درکول غواړم ، ملکې زما ډېر خدمت کړې ، که زما په غلطۍ هغې زه وژلې واې نو هم چا ورڅخه پوښتنه نشوه کولای خو هغې زه ژوندۍ او روغه رمټه له ښار څخه ووېستلم .

زما په زړه کې چې د ملکې کوم محبت دې ، هغه هېڅ وخت له منځه نه ځي ، هېڅکله کمېدای نشي ، ما خپل مسئوليت پوره کړ .

عبدالعزیز نادیه ته وویل : ته باید د ماښام څخه مخکې مخکې ولاړه شې ، ما به په خپله بګۍ کې استولې وې خو په هغې باندې شک پېدا کېدای شي ، مونږ ته د هغه کور پته راکړه چېرې چې جادوګر اوسېږي ، ته د خپل بادار سره بیا هم هلته ولاړه شه ، نور کار مونږ په خپله کوو .

ایجیلونا وویل : نادیه ! تا زما د مینې حق پوره کړ ، زه به هم ستا حق ضرور پوره کوم .

په همدې شپه نادیه د یهودي جادوګر مخې ته ناسته وه ، د هغې بادار په بله خونه کې د درې نورو کسانو سره ناست وو .

جادوګر خپل جادو کولو چې دروازه په کراره وټکېده ، د کور یو اوسېدونکې دروازه خلاصه کړه او دباندې یې په کتلو سره بېرته بنده کړه خو په دروازه باندې داسې وار او ګذار وشو چې دواړه پټونه یې خلاص شول او د دروازې بندونکې پړمخ په ځمکه راګذار شو .

شل غازیان چې د عبدالعزیز ساتوونکې وه حویلې ته راننوتل او په خونو کې خپاره شول ، په کلې کې دا کور تر ټولو لوې او معتبر وو ، ټول کلې غازیانو محاصره کړې وو ، ددې ټولو عملیاتو مشرې خپله عبدالعزیز کوله .

د جادوګر د بکس څخه د انسانانو کوپړې او هډوکې راووتل ، څه نور شیان هم ورسره وه ، جادوګر ، د نادیه بادار او نور ټول کسان ونیول شول .

نادیه هم ونیول شوه ترڅو چاته شک پېدا نشي چې دا کار ددې په جاسوسۍ سره شوېدې ، د کلې څو مخور کسان هم ونیول شول .

بیا ټول مریدا ته راوستل او په بند ځاې کې واچول شول .

عبدالعزیز د خپلو پولېسو لوړ پوړي چارواکې ته وویل : ابو الحسن ! د یو جادوګر او یو عېسایې ارباب څخه تحقیقات اړین دې ، هغه ته یې ټول شیان بیان کړل چې څه څه یې کول .

ابو الحسن هغوې دواړه د تحقیقاتو خونې او ځاې ته بوتلل په کوم ځاې کې به چې د راډرک چارواکو د خلکو څخه تحقیقات او پوښتنې کولې .

یهودي جادوګر قایل شو خو وې ویل چې زه یوازې عبدالعزیز ته حالات بیانوم او هغه ته څه نورې خبرې کول هم غواړم .

سبا سهار جادوګر د عبدالعزیز مخې ته ناست وو .

جادوګر ووېل : زه یهودي یم ! ما هغه څه کړي چې یهودي یې باید وکړي ، د ایجیلونا جرم او ګناه یهودي قوم نشي معافولی ، هغه زمونږ بغاوت ستاسې په خلاف ناکام کړي .

ددې مېرمنې وژل زمونږ مسئولیت دی ، ددې کار لپاره څوک نه تیارېدل او که تیار شوي وای هم دې کار امکان نه درلوده .

مونږ پدې هم پوهېدلو چې ایجیلونا وېرېږي او هغه د باندې نه راوځي ، دا کار ماته وسپارل شو او زما سره پوخ جادو دی ، ددې کار لپاره داسې چاته اړتیا وه چې پرته له کوم خنډ څخه ایجیلونا ته ورتللی شي .

یهودي جادوګر ووېل چې هغه ته د نادیه معلومات ورکړل شو ، د نادیه د بادار په کلي کې څو کسان داسې وه چې د باغیانو د مشرانو یې سره لاره او اړیکې درلودل او د ارباب سره یې هم مناسبات روغ وه ، ارباب ته څرګنده شوه چې یهودي جادوګر څه شی اړتیا لري ؟

ارباب ووېل چې زما سره داسې مېرمن شته چې هغه ایجیلونا ته هر وخت ورتللی شي ، په همدې خاطر زه دې کلي ته راغلم او نادیه ماته وسپارل شوه .

جادوګر په نادیه باندې هیپونو تېزم کولو او د هغې ذهن یې پخپل کنترول کې راوستلو ترڅو د خپلې خوښې سره سم د هغې څخه کار واخلي .

یهودي جادوګر د ډېرو کسانو نومونه واخېستل چې په بغاوت او دې کار کې یې لاس درلوده .

جادوګر وپوښتل : زما سزا څه شي دي ؟

عبدالعزیز ورته ووېل : وژل .

یهودي جادوګر ووېل : که زه درته څه داسې خبرې وکړم چې راتلوونکې خطر درڅخه لرې شي نو ماته به بښنه وکړې ؟ زه د راتلونکې په هکله معلومات درکولای شم ، او د خلکو څېرې لوستلی شم .

عبدالعزیز ورته ووېل : ستا ژوند پدې پورې اړه لري چې ستا وړاندوینې ایا د مسلمانانو لپاره پکار راځي او کنه ؟

جادوګر وویل : زه ژمنه کوم چې پس لدې به د مسلمانانو او اسلامي هیواد په خلاف هېڅ ډول غلط کار او دسیسه نه کوم .

عبدالعزیز ورته وویل : نو اوس ووایه څه دې چې په زړه کې وې .

یهودي جادوګر وویل : ښاغلي سالار ! لومړۍ خبره دا ده چې هېڅ مسلمان باید په هېڅ یهودي باندې باور ونه کړي .

دلته چې یهودیانو د مسلمانانو سره کوم کومک کړې هغه یې یوازې د خپلې ګټې او مقصد په خاطر کړې دې .

بله دا چې تاسې کومې ځمکې او هیواد ته راغلي یاستی دا ډېره حېرانوونکې او د پټو رازونو ځمکه ده ، ددې تاریخ په وینو لیکلې شوې دې او په راتلوونکې کې به هم په وینو لیکلې کېږي .

عبدالعزیز وویل : دا خو کومه خبره نده ، په کوم هېواد کې چې حمله کېږي د هغې پوځ خامخا مقابله کوي او د دواړو لورو څخه وینه توېږي ، د دواړو پوځونو سرې مړه کېږي .

جادوګر وویل : زه ددې وینې یادونه نه کوم ! دا په خپلو په لاس تویول کېږي .

ډېر لرې مه ځی ، راډرک د یو ګوت بادشاه په خلاف بغاوت وکړ ، هغه یې وژلو او په تخت او تاج یې ولکه وکړه ، راډرک د هرقل برج خلاص کړ ، راهبانو هغه ددې کار څخه منع کړې وو خو هغه فکر کاوه چې هغه یو ځواکمن بادشاه دې او هرڅه باید هغه ته معلوم وي .

بلاخره هغه داسې ماتې وخوړه چې هېچا یې تصور هم نه کولو او د ډېر لږ لښکر په وسیله ختم شو ، تر اوسه پورې د هغه ژوندې او مړې ندې معلوم .

ما هغه یهودې جادوګر پېژندلو چې راډرک د ځان سره ساتلې وه ، هغه نجومې وه چې د پټو خبرو په هکله یې خبرې کولې ، هغه راډرک ته داډ ورکړې وه چې هغه د ماتې په لورې ځې خو جادوګر به هغه په بریالیتوب باندې بدلوې خو ماتې په فتح بدلوونکې جادوګر په حېرانوونکې ډول ووژل شو .

ددې څخه مخکې هم داسې کارونه شوې دې چې تر اوسه پورې یې هېچا ته هم راز ندې معلوم .

بادشاهان وژل کېدل ، زه تاسي ته نصيحت کوم چې په خپل عقل او فکر باندې کومه ښځه سپره نه کړی ، کومه ښځه چې تا خپله مېرمن ګرځولې هغه ډېره حسينه او ښکلې ده .

ما يوازې يو خل لېدلې ده ، د هغې په سترګو کې د جادو اثر دې ، هغه چې هرچاته ګورې د هغې غلام ګرځي ، خو د هغې په سترګو کې وينې نښتې دي ، هغه چې د راډرک مېرمن شوه نو هغه ووژل شو ، د باغيانو مشران چې کله د هغې څخه اغېزمن شول نو ټول ووژل شول ، اوس هغه ستاسي لپاره .....

عبدالعزيز وپوښتل : آيا ته د ايجيلونا خبره کوې ؟

جادوګر وويل : هو ! زه د ايجيلونا په هکله خبره کوم .

عبدالعزيز په کړس کړس وخندل .

عبدالعزيز وويل : ته يهودي يې ! ته چې مرګ ګورې بيا هم د خپلې خبرې څخه نه اوړې .

آيا ته ژوند نه غواړې ؟

جادوګر وويل : زه همدا پوښتنه ستا څخه کوم ، آيا ته ژوندي پاتې کېدل نه غواړې ؟

زه پدې پوهېږم چې ته څواب راکوې خو زه درته وايم چې ته به تر ډېر وخت پورې ژوندي پاتې نشې خو ايجيلونا به همداسې ژوندۍ پاتې وي ، دا هم وايم چې اندلس به د مسلمانانو وي خو بادشاهان به يو د بل وينې تويوې ، که ته پدې خبرو خفه شوې وې نو زما د وژلو فېصله ورکړه .

عبدالعزيز وويل : زمونږ دين د يهوديانو وړاندوينې نه مني ! مونږ الله جل جلاله منو ، د هغه عبادت کوو ، که زه ستا خبرې ومنم نو مشرک به شم .

جادوګر وويل : دا د دين مسئله نده سالار ! انسان چې د کائناتو سره کوم اړيکې لرې هغه د دين معامله نده ، زه پدې ونه توانېدلم چې تا پخپله خبره پوه کړم ، خو زما تا خبره ووم .

عبدالعزيز داسې ګمان وکړ چې يهودي جادوګر غواړي ايجيلونا زما په لاس ووژني يا دا چې هغه خوشې کړم بيا د ټول د ووژل حکم وکړو .

په تلوېرا کې طارق بن زیاد ته د موسی بن نصیر پېغام ورسېدلو چې طلېطې ته راشې.

طارق بن زیاد لکه چې همدې پېغام ته سترګې په لار وی ، هغه سمدستې خپل ساتوونکې د ځان سره ملګرې کړل او د طلېطې په لورې روان شو.

کومې ډالۍ او تحفې چې هغه د موسی بن نصیر او امېرالمؤمنین لپاره برابرې کړې وې هغه یې د ځان سره په کچرو باندې بار او تر شا یې را روان شول.

دا ځل طارق بن زیاد په نېغه لاره طلېطې ته را روان شو او ډېر تېز را روان وو.

هغه په لاره کې ډېر لږ تم شو او طلېطې ته راورسېدلو.

په طلېطه کې موسی بن نصیر او نورو غازیانو د هغه تود هرکلې وکړ او د هغه په ستاینه کې یې ډېر شیان وړاندې کړل.

د تاریخي د لیکنو سره سم موسی بن نصیر طارق بن زیاد ته وویل : ابن زیاد ! یوه ورځ به داسې راشې چې ستا هډوکې به خاورې وی.

کېداې شي ستا د قبر نښه ورک شي خو ترڅو پورې چې اندلس د ځمکې پرمخ موجود وي ستا نوم به ژوندي وی.

یو اروپایې تاریخ لیکوونکې ارد فرنک پخپل کتاب ( د اندلس ګوربت ) کې لیکلې دې چې موسی بن نصیر بربرې ګربت طارق بن زیاد د خپل سکه ورور په شان ګڼلو او هغه داسې سلوک ورسره کولو لکه چې دې خپله دوه بدنه او یو روح وې ، هغه پدې پوهېدلو چې د ټول اندلس فتح کول پرته ددې ګوربت څخه امکان نه لری.

موسی بن نصیر دا پلان هم جوړ کړې وو چې له اندلس څخه وروسته فرانسه هم په اسلامې هیواد پورې وتړې.

بربری ګوربت طارق بن زیاد د هرکلې او نورو خبرو اترو څخه وروسته موسی بن نصیر ته وویل : د قدر وړ آمیر ! ماته اجازه راکړې چې ستاسې په وړاندې خپلې ډالۍ کېږدم.

د موسی بن نصیر په اجازه طارق بن زیاد ډالۍ او تحفې راوغوښتلې ، هغه د تلوېرا څخه دا ډالۍ د خان سره راوړې وې . د اندلس تاریخ لیکلې دي چې کله موسی بن نصیر دومره قیمتي او ارزښتناکې ډالۍ او تحفې ولیدلې نو د هغه په څېره او سترګو کې حېرانتیا راپیدا شوه .

زیات شیان د سرو زرو څخه جوړ شوې وه چې په هغې کې ډول ډول ځلېدونکې ملغلرې او غمې هم لګېدلې وه ، داسې نااشنا او حېرانوونکې شیان یوازې د امپراطورانو په ماڼیو کې لېدل کېدل .

طارق بن زیاد چې کله ډالۍ ښودلې نو ویل به یې : دا ستاسې لپاره دي .... او دا د امیرالمؤمنین لپاره .

بیا یې هغه مېز وړاندې کړ چې په لاره کې د راهبانو څخه نیولې وو او هغوې دا ویل چې دا میز د حضرت سلیمان علیه السلام دي ، د خالصو سره زرو څخه جوړ شوې وو . د هغې په پښو کې نااشنا او نه پیدا کېدونکې غمې ، ملغلرې او نورې قیمتي ډبرې لګېدلې وې .

طارق بن زیاد وویل : ددې مېز په هکله ماته حېرانوونکې خبرې شوې دي ، یوه خبره دا چې یو رومي بادشاه ټېټس په یروشلم باندې حمله وکړه او دا مېز یې د هیکل سلیماني څخه راوړه .

بله خبره دا چې دا مېز د حضرت سلیمان علیه السلام دی .

دریمه خبره دا چې هر چا ددې مېز د خپلولو دعوه وکړه هغه به په سپک ډول له منځه ځي او د خوارۍ مرګ به ورته په نصیب کېږي .

موسی بن نصیر وویل : زه پدې مېز کې یو بل حېرانوونکې شي هم ګورم ، د مېز خو څلور پښې وې خو ددې درې پښې شته او څلورمه یې نشته .

طارق بن زیاد وویل : ښاغلې آمېر ! کله چې ما لیدلی وو هغه وخت ددې پښې پوره وی خو حیران یم چې اوس پوره نه دی .

پدې خلکو کې هغه سالاران هم وه چې دا مېز یې په لومړي وخت کې لېدلې وو او هغوې ته معلومه وه چې دا مېز څلور پښې لري . خو هغوې اوس لېدل چې د مېز څلورمه پښه نشته ، هغوې پدې نه پوهېدل چې د مېز څلورمه پښه چېرې ده .

یو قوماندان وویل : ما دا میز د په کچرو باندی د ټول په وړاندی بار کړل او کومه کچری له غر د سر څخه ولیدل په هغوی کې په یو باندی بار د دی میز پښه هم وه او په دی ټول شاهدان دی .

موسی بن نصیر وویل : زه به ددي سره څلورمه پښه هم نښلوم ! خو د څلورمې پښې لپاره به غمې او ملغلرې پیدا نشي ، څلورمه پښه به د سرو زرو څخه جوړه کړم او دا مېز به امیرالمؤمنین ته وړاندې کوم ، د ښار یو تکړه زرګر راوغواړی چې د نورو په شان څلورمه پښه هم جوړه کړې چې هم ورسره ونښلولې شي او هم ورڅخه جلا کېداې شي .

تاریخ پوه دان پاسکال لیکي چې هلته د سرو زرو هیڅ کموالي نه وه .

هلته هرې خواته سره زر وه ، زرګران هم ډېر وه ، تر ټولو تکړه زرګر یې راوغوښتلو او هغه ته یې د مېز درې پښې وښودلې . څو ورځې وروسته څلورمه پښه هم جوړه شوه او د مېز سره ولګېده .

څو ورځې وروسته د غازیانو لښکر د ارغون په لورې حرکت کولو ، ددې لښکر دوه مشران وه یو امیر موسی بن نصیر او بل د بربری ګوربت طارق بن زیاد ، د موسی بن نصیر عمر په آخرې پړاو کې او طارق بن زیاد د ځوانۍ په پړاو کې وو ، خو د جنګې فراست ، عزم او همت له پلوه دواړه ځوانان وه .

هغوې دواړه چې د لښکر سره په کومه لاره تلل هغه څه آسانه لاره نه وه بلکې هغه ډېر سخته ، لوړه او ژوره دره وه .

دا د ارغون سیمه وه چې مرکز یې د سارګاسا ښار وو ، همدا ښار د موسی بن نصیر او طارق بن زیاد هدف او مقصد وو خو دې ښار ته رسېدل پوره حوصلې ، همت او زغم غوښتلو ، نیغه لاره ډېره اوږده وه ، یوه میاشت فاصله وه خو موسی بن نصیر او طارق بن زیاد خپل لښکر له بلې درې څخه تېرولو چې لنډه فاصله وه .

دا دره هم د الحجاره په شان خطرناکه او تباه کوونکې وه ، هوار ځایونه هم یکې وه خو لورې ژورې یکې ډېرې زیاتې وې . کندې ډېرې او ویالې یکې بې پریسانه وې . ځینې ویالې ژورې او زیاتې اوبه لرونکې وې .

دا ځل بیا د لښکر خوراکي شیان او سامان د ګاډیو پر ځای په کچرو باندې بار وو ، ځکه چې ددې سیمې څخه د ګاډیو تېرېدل آسانه کار نه وو .
د ټول لښکر لپاره د یو ځای خوراک تیارولو ممکن نه وو نو ځکه هر غازي ته یو لوښي ورکړل شوي وو چې باید په هماغې کې خپل خوراک وکړي ، د هر غازي سره د اوبو یو مشک او د وچو خوراکي موادو کڅوړه او بوجی وه .
پیاده غازیانو خو دومره سامان نشو پورته کولای ، د هغوي سره یوازې خپله وسله وه .
سپرو غازیانو ته ویل شوي وه چې پیاده غازیانو ته خوراک او اوبه دواړه ورکوي .
پدې لښکر باندې هم هغه ستونزې راغلي کوم چې د طارق بن زیاد په لښکر باندې د الحجاره په دره کې راغلي وې ، د سیندو او خوړونو په تیریدوکې څو غازیان ډوب او شهیدان شول .
په ځنګل کې چې کله تم کېدل هلته هم څو غازیان مارانو وچیچل او شهیدان شول .
څو غازیان تر ملا پورې په جبو او ختو کې ښخ شول خو د نورو په همت راووتل .
تر ټولو زیاته ستونزه د باد او باران طوفان او سیلۍ را پیدا کړه چې پوره یوه ورځ او شپه روان وو ، د ونو غټې غټې خاښونه او ښانګې ماتېدلې او ښکته رالوېدلې ، څلور پنځه آسونه د ونې لاندې د تندر او برېښنا لوېدلو په سبب مړه شول ، اسماني برق او برېښنا د ټول لښکر لپاره یوه شپه او یوه ورځ خطر ګرځېدلې وو .
هر ځل به داسې چاودنې کېدې لکه چې بمونه الوزي او انفجار کوي .
د لښکر سره خیمې نه وې ، غازیان د تندر له وېرې د ونو لاندې نه کېناستل ځکه هغوي ته څرګنده وه چې تندر په ونو باندې راپرېوځي .
هغوي د غونډیو او کمرونو لاندې پټېدل ، سره ددې هم هغوي ډېر طوفان څخه خوندې نشول پاتې کېدلې ، کچرې او آسونه له یخنې او وېرې څخه رپېدل ، د انسانانو حالت د تصور څخه پورته وو .

په ويالو او خوړونو کې سيلابونه راغلل ، د غونډيو او کمرونو په منځ کې هم اوبه د سيلاب په شان رواني شوې ، د موسی بن نصير ، طارق بن زياد او نورو سالارانو هم همدا حالت وو .

خو هغوی يوې او بلې خواته د پناه ځايونه نه لټول بلکې پخپلو آسونو سپاره يوې او بلې خواته شول ترڅو په ټول لښکر کې وګرځي .

هغوی به د غازيانو ډلې ته ورتلل ، ټوکې او خندا به يې ورسره کوله ترڅو هغوی ورخطا نشي او خپل همت له لاسه ورنکړي ، پدې سبب د هغوی معنويات رابېدارېدل .

موسی بن نصير د غازيانو په منځ کې ګرځېده او دا به يې وويل : تاسې سيلاب او سمندر نشي راتم کولای ، د اندلس سيندونه او خوړونه ستاسې مخه نشي نيولای ، د اندلس د پوځونو ديوالونه ستاسې لاره نشي ډپ کولای ، تاسې دلته لکه د غرونو په شان کلا ګاني ماتې کړې ، دا طوفان هم ستاسې څه نشي خرابولی .

هر سالار د غازيانو حوصله پورته کوله .

موسی بن نصير هر غازي ته ويل : زما حالت ته وګوره ! زما عمر او بوډا توب ته وګوره ! پدې عمر کې د انسان پښې او لاسونه رپېږي ، خو زه پدې سخت طوفان کې هم خپل لاسونه او پښې رپېدلو ته نه پرېږدم .

دا يوازې خبرې وې خو په حقيقت کې هر يو رپېدلو خو هېڅ‌ا هم د خپل همت او زغم لمن نه وه خوشې کړې ، هغوی خپل روحاني او معنوي ځواک رابېدار کړې وو .

د باد او باران طوفاني شپه هم تېره شوه ، سبا سهار د لښکر حالت داسې وه لکه چې په سمندر کې کښتۍ بې کنټروله شوې وي او د کمرونو او غرونو سره جنګېدلې وي .

غازيان د حرکت او تللو وړتيا نلرله ، زيات غازيان ناروغه شوي وه ، لښکر ته يوازې يوه شپه او يوه ورځ دمه او آرام ورکړل شو ، بله ورځ لښکر بيا حرکت پېل کړ .

هغه غازيان چې ناروغه شوي وه هغوي په آسونو سپاره کړای شول .

حرکت د سهار تر لمانځه وروسته پیل شو ، لمونځ په لمده او اوبلنه ځمکه باندې وشو ، د ونو څخه د باران څاڅکي لا هماغسې څڅېدل ، د لمانځه څخه وروسته موسی بن نصیر غازیانو ته لنډه وینا وکړه چې هغه د تاریخ اسلام یوه برخه وګرځېده هغه وویل :

ای د اسلام غازیانو ! الله جل جلاله د باد او باران له طوفان څخه هغه څوک روغ رمټ راباسي چې ورڅخه خوښ او راضي وي ، د طوفان نوح علیه السلام څخه یوازې هغه کسان ژوندي او خوندي پاتې شول چا چې د حضرت نوح علیه السلام پېروي کړې وه او خپل رب يې خوشحاله کړې وو ، پدې کې هېڅ شک نشته چې الله جل جلاله په دنیا او آخرت دواړو کې بدله او انعام ورکوي .

تاسې د کفر دې هیواد ته د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک پیغام راوړې دې ، بېشکه دا ځمکه ستاسې سجدو او د شهیدانو پاکو وینو پاکه او صافه کړه ، ددې ځاې هوا ستاسې آذانونو خوشبویه کړه .

دا د الله جل جلاله وعده او ژمنه ده که تاسې مخلص مسلمانان شی نو لس به په سلو او سل به په زرو برلاسې یاستی ، په تاسې کې نه څوک پورته شته او نه څوک ښکته ، لوړ او پورته یوازې هغه څوک دې چې د الله جل جلاله د رضا په خاطر د الله پاک په لاره کې د ځان او مال قربانې ورکوي او دا احساس ورسره موجود وي !

ای زما ملګرو او دوستانو ! الله پاک ستاسې کومکې او مرسته کوونکې دی .

د غازیانو لښکر د نوې ولولې او جوش سره لاره وهله او د ارغون مرکزي ښار د سا ګارسا ښار ته ورسېدل ، شا او خوا سیمه ډېره ښاېسته او ښکلې وه .

په دفاعي لحاظ ښار ډېر کلک او قوي وه ، موسی بن نصیر د محاصرې څخه مخکې یو سالار ښار ته واستولو چې خلکو ته اعلان وکړې چې پخپله خوښه د ښار دروازې خلاصې کړې او وینه توې نکړې او که مونږ په زور

سره ښار ونیولو نو بیا به هېڅوک هم نه ببنو، که خپله مو دروازې خلاصې کړې نو هر ډول آسانتیاوې به درکول کېږي .

سالار مخکې ولاړ او اعلان یې وکړ .

د ښار د دیوال څخه اعلان وشو ، که د همدې ځای څخه بېرته ولاړ شی نو زمونږ ځواک به ستاسې پسې نه درځي ، ددې کلا او ښار د نیولو خوب له ځان سره یوسی .

سالار وویل : مونږ وینه تویول نه غواړو !

د دیوال څخه آواز وشو ، مونږ وینه تویول غواړو !

موسی بن نصیر خپل سالار ته حکم وکړ : د خپل ځای څخه بېرته را وګرځه !

ددې څخه وروسته ښار محاصره شو

اندلسې پوځیان د ښار څخه به دوه ، درې ټولو راوتل په زړورتیا او مېړانه سره به جنګېدل او بیا به ښار ته ننوتل .

په ټول اندلس کې د پوځیانو د جګړې همدا طریقه وه ، د سا ګارسا پوځ هم همدا طریقه خپله کړې وه ، پدې توګه د غازیانو زیات تاوان وشو .

بلاخره همدې طریقې د سا ګارسا پوځ ډوب کړ خو ځو غازیانو هم خپل ځانونه قربان کړل ، په تاریخونو کې د شهیدانو شمېر د پنځوسو څخه شپېتو پورې ښودل شوې دي ، یو پرتګالي تاریخ د شهیدانو شمېر د سلو څخه زیات لیکلې دي .

که د دوې شمېر پنځوس وو که سل خو هغوې داسې قربانې ورکړه چې د جګړې په اتمه ورځ چې کله د ښار څخه پوځیان راووتل نو غازیانو پرې د غشو باران پیل کړ .

تردې وخته پورې څلور سوه سپاره د ښار څخه راوتلې وه ، د بلې دروازې څخه درې سوه پیاده راووتل او د هغوې تر شا نور سپاره او پیاده هم را روان وه دا لومړې ځل وو چې غشې وېشتونکې غازیان مخکې کړې شوې وه ، د هغوې په غشو باندې زیات سپاره راولوېدل او څه تېښتې ته مجبور شول

ببرته تښتېدونکي په لاره کې سره ونښتل ، هغوی باید بېرته کلا ته ننوتي او دروازې بندې کړې وای په همدې وخت کې پنځوس یا سلو غازیانو حېرانوونکې کارنامه وکړه .

هغوی ددې سپرو او پیاده پوځیانو سره یو ځای کلا ته ننوتل .

پدې وخت کې موسی بن نصیر خپلو دوه ګروپونو ته د حملې حکم وکړ او د دروازو په خوله کې د اندلسي پوځیانو سره مقابله پیل کړه او دروازې یې بندولو ته پرې نښودې ، هغوی ټول شهیدان شول خو د خپلو غازیانو لپاره یې لاره خلاصه کړه او هغه کلا لاس ته ورغلله .

موسی بن نصیر پاتې پوځیان جنګې بندیان وګرځول ، په ښاریانو باندې جزیه او تاوان واچول شو .

موسی بن نصیر زر تر زره د ښار د نظم او دسپلین لپاره مسلمان چارواکي وټاکل ، هېڅ یهودي او عېسایي یې په حکومتي چارواکی ونه ټاکلو .

د ټول ولایت مشر چارواکې یې حسین عبدالله وټاکلو چې د والي او ګورنر حیثیت یې درلوده ، حسین بن عبدالله په سا ګارسا کې یو لوې جامع جومات جوړ کړ په همدې خاطر د هغه نوم تر اوسه پورې ژوندې دې .

موسی بن نصیر چې کله پدې جګړو کې د بربری ګوربت طارق بن زیاد کارنامې ، استعداد او اهلیت ولېدلو نو هغه یې د ټول پوځ او لښکر اعلی قوماندان وټاکلو او بیا مخ په وړاندې روان شول .

د سا ګارسا څخه وروسته یې د قتلونه او وېلنشیا دوه لوې او غټ ښارونه فتح کړل ، د هغې څخه وروسته ګلېشیا او لتیراس پاتې شول .

څارونکو او جاسوسانو وویل چې ددې دواړو ولایتونو والیان خپلواک او آزاد دي او ځانته حکومتونه یې جوړ کړېدي .

پدې دواړو ولایتونو کې د پادریانو حکومت دې او د خلکو څخه یې مذهبي لیونیان جوړ کړي دي .

دې دواړو ولایتونو ته تللې لارې د ارغون او د الحجاره د درو پښان سختي او ستونزمني دي ، په لاره کې کوچنۍ او لوې خوړونه او ویالې هم پرتې دی ، ځنګلونه هم دی ، شلېدلې ځمکې او ښکته پورته کندې هم دی .

په موسم باندې هم څه باور نه وو ، کله کله به تېزې سيلۍ او طوفان د غازيانو مخه نيوله ، کله به باد او باران د هغوې د حوصلې او زغم ماتولو هلې ځلې کولې .

بې کنتروله او سيلابي خوړونو او ويالو به د غازيانو د پرمختګ د مخنيوې لپاره ډېر کوښښونه کول خو د الله اکبر ويونکو غازيانو د آسماني برق او برېښنا پشان هرڅه ځپرول او مخ په وړاندې روان وه .

هغوې د غرونو او دښتو سينې ځېرولې او پرمختګ يې روان ساتلو ، هر ځاې ته چې ولاړل هلته يې د شهيدانو او غازيانو په وينو ځمکه سره کړه او د اسلام وياړلې بېرغ يې پورته کړ .

د موسى بن نصير او بربرې ګوربت طارق بن زياد دا پرمختګ دومره حېرانوونکې وو چې د اروپا متعصبو تاريخ ليکوونکو هم ورته له حېرانتيا څخه ګوته په غاښ کړې او غازيان يې ستايلې دې .

په توله نړۍ کې منلې شوې تاريخ پوه ګبن ليکي چې : مسلمانان پداسې مذهبي او ديني ليونتوب کې اخته وه چې هېڅ ډول طبعي او فلکي افتونو او ستونزو د هغوې مخه نشوه نيولاې او نه يې د هغوې پرمختګ ځنډمن کړاې شو ، ان تردې چې د فرانسې پولو او خاورې ته هم ننوتل .

غازيانو د اندلس دوه نور ولايتونه ګلېشيا او لېتراس هم فتح کړل د هغوې فتح هم د نورو ښارونو په شان وه .

موسى بن نصير بربرې ګوربت طارق بن زياد ته وويل : ګرانه زويه ! ايا په اندلس کې کوم ښار ، کومه کلا يا کومه پوځې اډه پاتې ده چې مونږ نه وې فتح کړې ؟

بربرې ګوربت وويل : نه ښاغلې آمېر : په اندلس کې هېڅ ښار ، هېڅ کلا او هېڅ ځاې ندې پاتې چې مونږ پرې اسلامي بېرغ نه وې رپولې او پورته کړې .

موسى بن نصير وويل : ته به زما تائيد وکړې که مونږ فرانسى ته هم ورننوځو .

بربري ګوربت وويل : اسلامي ملت هېڅ پوله او سرحد نلري ښاغلي آمير ! مونږ بايد د فرانسې هغه بل لوري ته هم ځانونه ورسوو .

د " اندلسي خلافت " په کتاب کې د تاريخي کتابونو په حواله ليکلي شوي دي چې موسی بن نصير او بربري ګوربت طارق بن زياد د فرانسې په پوله خپلو غازيانو ته د دمې او آرام لپاره وخت ورکړ .

پدې وخت کې دواړو وياړلو مارشالانو د ټولې اروپا د نيولو پلان جوړ کړ او بلاخره د خپلو وياړلو غازيانو په ملګرتيا فرانسې ته ننوتل .

د " خلافت اندلس " کتاب ليکلي دي چې غازيانو د فرانسې دوه سرحدي ښارونه بارسلونا او ناربون پرته له مقابلې او جګړې څخه ونيول .

ناربون د طلېطې څخه يو زر او پنځوس ميله لرې پروت وو ، دا دواړه ښارونه اوس هم شته دي ، ځينو تاريخونو ليکلي دي چې فرانسوي پوځيانو سخته مقابله وکړه پداسې حال کې چې هغوي د اندلسي پوځيانو څخه ډېر تکړه او غوره وه .

ددې ښارونو څخه وروسته د فرانسې لوړه غرنۍ پاترينه پرته وه چې غازيانو هغې ته د جبل البرتات نوم ورکړې وو ، پدې غرنۍ سلسله کې ځينې څوکې ډېرې لوړې وې .

تاريخ پوه ګبن ليکلي دي چې موسی بن نصير د پاترينه د غره په يوه څوکه ودرېده او فرانسه يې تر خپلو قدمونو لاندې پرته ولېدله .

هغه هلته وويل چې زه به پخپل پوځ کې نور غازيان هم داخل کړم او اروپا به ونېسم ، قسطنطينه [ ننۍ استامبول ] به لاندې او د هغې لارې څخه به د هيواد مرکز دمشق ته ځان ورسوم .

ګبن ليکي : که چېرې دې مسلمان بربري ګوربت طارق بن زياد ته د پرمختګ وخت په لاس ورغلې واې نو اوس به د اروپا په ښوونځيو کې د انجيل پر ځاې قرآن لوستل کېده ، هلته به د توحيد او محمدي رسالت زده کړې کېدې ، اوس به په روم کې د پاپ پر ځاې د شيخ الاسلام حکمونه چلېدل .

موسى بن نصير د فرانسې درې ، څلور ښارونه ونيول او نور پرمختګ يې ونه کړ.

تاريخونه ليکې چې موسى بن نصير د فرانسې په ليوګو ښار کې اړولې وه او طارق بن زياد د هغو څخه لرې لرې د فرانسې په ښار استورګا کې وو.

يوه ورځ له دمشق څخه د اميرالمؤمنين وليد بن عبدالملک ځانګړې استازې ابو نصير ، موسى بن نصير ته دا پيغام راوړ چې هغوې دې نور وړاندې نه ځې او سمدستې دې دواړه دمشق ته راشې ، د نور پرمختګ لپاره دې د دمشق څخه اجازه واخلې.

موسى بن نصير استازې ته وويل : آيا اميرالمؤمنين پدې خبر دې که چېرې زه او طارق بن زياد دواړه ددې ځاې څخه ولاړ شو نو فتح شوې اندلس به ببرته زمونږ له لاسه وځې ؟

موسى بن نصير وويل : زه پدې نه پوهېږم چې امېرالمؤمنين وليد بن عبدالملک پدې شيانو خبر دې کنه ؟ خو هغه حکم کړې چې هغوې دواړه دې دمشق ته راشى.

ولېد بن عبدالملک مخکې هم موسى بن نصير ته احوال لېږلې وو چې هغه دې پرمختګ بند کړې او دمشق ته دې راشې خو هغه په فتوحاتو کې دومره بوخت وو چې دې لورې ته يې هېڅ پام ونشو کړاې او نه يې دا کار چندان اړين بللو ځکه هغه د وليد بن عبدالملک سره ښه دوستانه اړيکې درلودل.

خو دا ځلې وليد بن عبدالملک سخت او کلک حکم راولېږلو.

کله چې موسى بن نصير د ابو نصر خبره واورېدله نو سمدستې يې بربرې ګوربت طارق بن زياد ته يو تېز استازې ولېږلو چې سمدستې د هغه سره يو ځاې شى.

بربرې ګوربت طارق بن زياد لکه چې را الوتې وې هلته راورسېده ، موسى بن نصير ورته وويل چې امېرالمؤمنين سخت حکم رالېږلې دې چې سمدستې دمشق ته راشى.

بربرې ګوربت طارق بن زياد غوښتل څخه ووايي خو موسی بن نصير ورته ووېل چې ددې څخه نوره هېڅ لاره نشته ، مونږ بايد په هر صورت اوس ولاړ شو ، بيا به راځو او خپل کارونه به سر ته ورسوو .

موسی بن نصير او طارق بن زياد دمشق ته د تللو او حرکت تيارې او چمتوالې پيل کړ .

هغوې خپلې ټولې راټولې شوې ډالۍ او تحفې هم د ځان سره برابرې کړې او بيا د ځلېځې په لورې راوخوځېدل .

موسی بن نصير د اندلس لپاره خپل مشر زوی عبدالعزيز د لوړ پوړې چارواکي په توګه وټاکلو او بيا د مصر او افريقا مرکز قېروان ته روان شول .

د موسی بن نصير سره طارق بن زياد او مغيث الرومي هم ملګرې شول او ټول بلاخره دمشق ته ورسېدل .

هغوې پداسې حالت کې دمشق ته ورسېدل چې امېرالمؤمنين وليد بن عبدالملک سخت او مرګني ناروغ وو .

امېرالمؤمنين وليد بن عبدالملک ددې وياړلو اسلامي قوماندانانو سره د دمشق په جامع جومات کې وکتل او هر يو ته يې د خپل ځان څخه پنځوس پنځوس زره ديناره انعام په ډول ورکړ او د هغوې يې بې کچه او بې حسابه ستاينه وکړه .

د امېرالمؤمنين وليد بن عبدالملک د مړينې څخه وروسته سليمان بن عبدالملک بادشاه شو چې هغه د اسلامي نړۍ وياړلې فاتحان نه کاره ګوښه کړل او د اسلامي فتوحاتو مخه يې ونيوله .

سبحانک اللهم وبحمدک اشهدان لا اله الا انت استغفرک او اتوب اليک .

# يو بل بت ماتوونکی

( د سلطان محمود د وخت حیرانوونکې پیښې )

لیکوال : عنایت الله - التمش

ژباړونکی : عبدالواسع "صابر" - محمد شفیق "مشفق"

* * *

# ایمان پلورونکي

د سلطان صلاح الدین "ایوبي" د زمانې ریښتینی کیسې

( د ښځو او ایمان جنګونه )

لیکوال : عنایت الله "التمش"

ژباړن : عبدالـواسع "صابـر"

* * *

# ویستلې توره

د خالد بن الولید ( رضی الله عنه ) د میړانی کیسه

لیکوال : عنایت الله "التمــش"

ژباړن : پوهمنل ذبیح الله "عطائی"

* * *

# ځلانده ستوري پرېووت

د اسلامی تاریخ

د توی ځوان سر لښکر محمد بن قاسم د قربانی کیسه

لیکوال : عنایت الله "التمــش"

ژباړن : پوهمنل ذبیح الله "عطائی"

* * *